



Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library




Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



د کتاب پیژندنه:

||||||||||||||||||||||||||||||||||||||||||

د کــتـــاب نــــــوم: افغان جنګي جنایتونه (لاسوندونه)

راټولونکی: رحمت اریا

ژبـــــــــــــــاړن: رحمت اریا

خـــپــــرنــــــدوی: بېنوا انټرنیت پاڼه

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



## تاریخي اسناد او لوی جنایتکاران

## د ژباړونکي سریزه

په وروستیو وختونو کې د پخواني شوروي اتحاد د کمونېست گوند د مرکزي کمېټې او دهغه د سیاسي او پوځي لوړپوړو چارواکو له یاددښت لیکونو څخه د پټو لاسوندنو له مخې پرونۍ لېږې شوی چې په افغانستان کې د شوروي اتحاد د لس کلنې ویرلړلې او نېغې ښکېلوالي پټې کېسې راڅرگندوي. گڼ شمیر کتونکي پر یوه غږ دي چې د شوروي اتحاد وروستـنۍ جگړې په خپله په شوروي کې یو کورنی پرغزلړلی (خشن) خوځښت رامنځ ته کړ او پایله یې د دغه هیواد په درې وړې کېدلو واوښتله. هغه لاسوندي چې دلته وړاندې کیږي په افغانستان کې د شوروي اتحاد د جگړې د پېښلیک ، د افغان د دولت د مرستې پرغوښتنو ، د سرتېرو د لېږلو په تړاو د شوروي لومړنی غبرگون ، په مرکزي کمېټې کې د دغې پالیسۍ د غندنې پر سر د یوې کوشنۍ ډلې بیرته راتاوېدنه او پرافغانستان د شوروي د یرغل پراړېنو شېبورنا اچوي ؛ همداشان دلته داسې لاسوندي وړاندې کیږي چې شوروي په لومړیو شېبو کې په پام کې درلودل د افغان مقاومت پروړاندې په افغان پوځ کې لومړی یوازې یو جگړه ییز ځواک په پټه ورگډ او بیا یې لمنه ورپراخه کړي ؛ دلته به د شوروي پر پالیسۍ ، د افغانستان د خلق ډیموکراټیک گوند د رژیم لومړنۍ نېوکې ، او نورهغه لاسوندي را وسپړو چې شوروي خپل ځواک په څه ډول له افغانستانه بیرته په تېښته وایسته. د دغو ټولو لاسوندو پر یو ځاې کولو ، کولای شوپه افغانستان کې د شوروي د جگړې له تجربې څخه ډیر شیان ترلاسه کړو .

افغانستان ته د شوروي د سرتیرو د لېږد پرېکړه د افغانستان د خلق ډیموکراټیک گوند د سرمشرېزې ډلې او د سر وزیر حفیظ الله امین او د وخت د کودتا پر مټ تش پر نامه ولسمشر نور محمد تره کي دغوښتنو له څو څوځله ټینگار اود روسانو له اوږدو سنجونو وروسته ونېول شوه. د ۱۹۷۹ کال د اوړي په اوږدو کې د مرکزي کمېټې لاسوندې څرگندوي چې د شوروي اتحاد مشران د سرتیرو لېږدولو ته زړه نه ښه کاوه او په بدل کې یې د هېواد پلورو خلقیانو او پرچمیانو غوښتنو ته په ځواب کې د سرتیرو پرځاې د پوځي توکو لېږد ته لېواله ول. خو کله چې امین د سپتامبر په مېاشت کې له ماسکو څخه د تره کي له راستنېدلو وروسته نوموړی د واک له گدۍ لېرې او پر بالښت سا ور وایستله نو د امین لېونتوب ته د شوروي د مشرتابه غوږونه بوڅ شول او ویې انگېرل چې گنې سبا ورځ به له امین څخه یو بل سادات جوړ او امریکې ته به مخه کړي. پرافغانستان باندې د یرغل په تړاو د شوروي د پوځ په منځ کې دننه له پیاوړي یوموټي هراړخېز غبرگون او مخالفت سره سره د شوروي د مرکزي کمېټې په منځ کې د یوې کوشنۍ ډلې غړو پرېکړه وکړه او خپله پرېکړه یې د یوه رابري مـُهـُر په توگه پر نورو غړو په وچ زور ور ومنله. د ځمکني پوځ د پلي کولو په اړه د شوروي سوسیالیستي جمهورتیونو د اتحاد د گډ پوځ ستر درستیزمار شال اوگراکوف او د هغه مرستیال ستر جنرال اخریموف په ټېنگه خپل غبرگونونه څرگند کړل او په بدل کې یې د شوروي د موخو د ترلاسه کولو لپاره د څولنډ مهالو کوشنیو پوځي ډلگیود پلي کولو وړاندېز وکړ .

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



شوروي له افغانستانه د لږ شمیر اوښتو یامالوماتو پربنسټ د سرتېرو د لېږلو پرېکړه تر سره کړه. په پېښنو کې د شوروي د را ښکېلو جنګیالیو پروینا چې کې جي بي یوازې د پوځي څارکښو (جي آر یو) پر سرچینو ډاډ درلود او بس. او داپه څنګېزه توګه د کې جي بي د مشر یو .ڤي. اندروپوف د اغېزو د غبرګون د راپاروني څرګندويي کوي چې نومړي د ګوند سکرترجنرال بریژنیف ته چې د ۱۹۷۹ کال په اوږدو کې په مرګوني ناروغۍ اخته وو ، د مالوماتو لېږد د څارنې پازوالي په غاړه درلودله. له افغانستانه د کې جي بي ترلاسه شوي ګزارشونه د داسې پیاوړو ډنډورو بیړني انځورونه را انځوروي چې ګنې امین له سي ای اې سره لاس درلود اوله بله اړخه کې جي بي په سېمې کې د امریکې د ورانکارو کړنو پر چټکتیا هم ټېنګار کاوه. (ولسمشر کارتر لا وختي د ۱۹۷۹ کال د جولای په مباشت کې یو لارښود لاسلیک کړی وو او د امین او تره کي د رژیم مخالفینو ته یې د مرستې د غځولو لارښوونه کړې وه.)

د افغانستان څمک انځور یا نقشه د شوروي اتحاد په ماغزو کې نه شوه ځایدلای او نه دغه هېواد د شوروي د مشرانو په ایدیالوجېکي جوړښت کې ځای پرځای کېدلای شوای. په افغانستان کې د شوروي د پښې راښوییدنه د شوروي د مشرتابه د کورنیو ټولنیزو مفکورو له بنسټه راپاڅېدلې وې چې له مارکسیستي � لیننیستي دکتورینو څخه خړوبېدلې او په خواښېنې چې دغه خړوبوالي د شوروي د مشرتابه سترګې ور ړندې او نه یې شوای کولای د یوې توکمیزې ټولنې ریښتونې جوړښت په رڼو سترګو ووینې. هغوی ګروهن ول چې په نړۍ کې به داسې یو هیواد نه وي چې په هغه کې د سوسیالیزم د زړیو د کرلو لپاره ځای نه وي ، د بېلګې په توګه د ګوند ایدیالوجیست میخاییل سولوسوف او باریس پونوماریوف افغانستان ته د دویمې منګولیا په سترګو کتل. د پېښنو او حقایقـو دغسې انګیرنې او په انګېرنو کې د ډوبوالي ککړیو، پرافغاني ټولنې پرَدیو ناپیژاندل شویو ټولنیزو- اقتصادي نوښتونو په خپله زبرځواکوالې منلو ته لاره را پرانېستله ، د بېلګې په توګه د زبرځواکې څمک- ویشنې نوښتونه او ریفورمونه .

شوروي پرېکړه کوونکو په افغاني ټولنه کې د اسلام پیاوړې اغیزې په پام کې نه وې نېولې. د شوروي په دولت او پوهنتونونو کې یوازې څوتنه ول چې په اسلام کې یې کارپوهیزه پوهه درلودله. د مشرتابه لوړو کړېو ته د افغانستان په وګړو کې د هغوی د ګروهنې او ګروهنیزې تګلارې په اړه لږ مالومات ورکول کېدل. سیاسي او پوځي مشران به هغه وخت هک پک شول کله چې افغانانو دوی ته د پانګوالۍ ضد او پرمختلونکي ځواک پرځای ، د بهرنیو یرغلګرو او " کافرانو" په سترګه کتل. له افغانستانه تر لاسه شوي ګزارشونه د شوروي د پوځ او د سیاسي کاپوهانو د یوې برخې په منځ کې "پراسلام د خبرتیا" د کار پر ودې څرګندونه کوي .

د افغانستان د خلق ډیموکراټیک ګوند هیڅلکه یو یوموټی ګوند نه وو ، دغه ګوند د ټبرنیو او توکمیزو کرښو د بېلوالي په لېکو کې ښوییدلی یو ګوند وو. سره له دې چې د خلق د ډیموکراتیک ګوند په هرې ګوندي او دولتي کړۍ کې د شوروي د سلاکارانو یوه ستره او ښکروره شمېره لېدل کېدله خو د "خلق" او "پرچم" د ډلو کورنیو شخړو او ستونزو د ماسکو لپاره د اکر او حالاتو په څارلو او ننګونو کې ډېرې ستونزې را وپارولې. په افغاني ټولنې کې د توکمیز کړکېچ سیک شمېرلو او د هغه په هیڅ نه بلل د ملي یووالي او پخلاینې د پالیسۍ د پاتې راتګ او ناکامۍ له

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



لاملونو څخه یو لامل ګڼل کېږي. دغه ګوند خپل ناولی او خونړی واک پر کودتا پیل کړ او بېرته پرکودتا را وپرځېد چې هغه هم د ګوند له پلوه یو کورنۍ کودتا وه او ددغه ګوند کرغېړنه واکمني پای ته ورسېدله .

په افغانستان کې جګړې د شوروي اتحاد پرکورنېو سیاسي تګلارو پیاوړې اغېزه وشېندله. د دغې جګړې یوه پیاوړې اغیزه د کمونیست ګوند د واک د ګدۍ په ناقانوني کولو را وڅرخیدله . د شوروي په ملکي ټولنه کې د شوروي د پوځ ښکېل سرتیري د یوه هیواد په کورنیو چارو کې د لاسوهونکو په توګه ګوښي او ورټل شول. پوځ د یوه نیواک ګر ځواک په توګه و پیژاندل شو او خپله روحیه یې له لاسه ورکړه. د بشري حقونو نامتو پـلـوي او د دولت مخالف اکاډیمیسین آندري سخاروف په افغانستان کې د شوروي د پوځ ړنده ترهګري په برالا وغندله. په منځنۍ اسیا کې په افغانستان کې د شوروي د پوځ د ښکېلوالې اسلامي ضد انځور د اسلامي بنسټپالنې لپاره د چټکې ودې لاره پرانېستله او ان دا چې په چیچنیا کې یې د خپلواکۍ غوښتنې غورځنګ را وپاراوه او دغو دواړو لاملونو نن د روسیې لپاره ستره ټېکاویزه ستونزه رامنځ ته کړې ده .

شورویان په لنډ وخت کې و پوهېدل چې دوی د افغانستان د مأموریت لپاره بشپړه تابیا او پراخه تګلاره په پام کې نه وه نېولې. د مأموریت لومړنۍ موخه د ښارونو او پوځي مرکزونو ساتنه وه � او دا مأموریت ورو ورو له ساتنې په جګړې واوښت او د مأموریت خېټه د وخت په تېرېدلو لا نوره و پړسېدله. د شوروي د پوځ ګڼ شمیر سرتیري د زیرمې یا احتیاط د دورې سرتیري ول او ټول یې افغانستان ته را ولېږل شول او دا په خپله دې ته نغوته کوي چې شوروي پوځ د یاغیانو پر وړاندې په ټول ځواک او توان په کار اچول شوی وو ځکه چې د پراخ پوځي دسپلین د نشتوالي او نه ډاډ له امله پرافغاني پوځ زړه نه تړل کېده .

شوروي پوځ په هېڅ ډول د ګوریلایي جګړو روزنه نه درلودله. د سرتیرو رسمي دنده دا وه چې ملکي کسان د دولتي ضد کسانو له تیریو څخه وژغوري، په ریښتوني اړخ کې که څه هم شوروي سرتیرو ته ویل شوي ول چې د دوی دنده د ملکي وګړو ساتنه ده خو هغوی به هره ورځ له ملکي وګړو سره په جګړو کې را ښکېل شول او پایله به یې پرته له توپیره د ملکي وګړو په ټولیزې وژنې را وا واښتله. د ګوریلایي جنګیالیو د جوړښت د نیولو کړاونه (عملیات) به تل ناکامه ول او په څو څو ځله به په وَرته سیمه کې تکرار شول ځکه چې مجاهدین او غازیان به غرونو ته په شا شول او کله به چې شوروي ځواکونه خپلو لښکرکوټونو ته را ستانه شول نو مجاهدین به بیرته خپلو کلېو ته راغلل. د افغانستان له ځکمني جوړښت سره د شوروي پوځي توکو، وسلو، شوبلو ، زغروالو ګاډو او نورو له اره سمون نه خوړ او په آسانۍ تر برېد لاندې راتلل .

همداشان شوروي لښکر د خپلو موخو په څرنګوالي کې په دوه وو کې پاتې ول او د موخو له ناڅرګندوالي ډېر وکړېدل. د هغوی لومړنۍ موخه د افغانستان د خلق ډیموکراټېک ګوند ساتنه وه ، خو کله چې لښکرې پرکابل ورننوتلې هغوی ته وویل شول چې د امین او د هغه د رژیم ټغر ورټول کړي. تر هغه وروسته د مأموریت مخه بلې

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



خوا ته واوښتله اولاسوندي څرګندوي چې د شوروي د مشرتابه سرمشریزې ډلې دا نه منل چې ګنې شوروي لښکرې دې د خلق ډیموکراتیک ګوند لپاره په راپارول شوې کورنۍ جګړه کې ښکیل شي. شوروي هغه انګیرنې او خوبونه چې د شوروي د تش پرنامه لږو (محدودو) ځواکونو د نړیوالې "انترناسیونال" دندې د ترسره کولوتر نامه لاندې لېدل یوازې ایډیالوجېکي بنه درلودله او تر همدغه نامه لاندې شوروي لښکرو ته ویل کېدل چې هغوی به په افغانستان کې له سوسیالیستي انقلاب څخه ساتنه کوي خو د ډیر لږ وخت په تیرېدا د جګړې په ډګر کې د را ګیر پاتې کېدلو سکالو له دغه خوب څخه ځادر لیرې کړ .

د جګړې په هماغو لومړیو شپبو کې د شوروي د پوځ د مشرتابه سرمشریزو ډلو ته څرک ولګېده چې د افغانستان د شخړې لپاره هېڅ راز پوځي حل شتون نه لري. د ۱۹۸۰ کال په هماغو لومړیو کې د پوځ د بېرته را ایستلو سکالو په پام کې ونېول شوه او د سیاسي حل د لارو چارو پر لټولو ټېنګار کېده خو په دغه تړاو هېڅ راز پوخ ګام پورته نه شو او پرته له دې چې د یوې رڼې او څرګندې موخې څرنګوالی روښانه شي د شوروي پر لږو او محدودو لښکرو شخوند وهل کېده او په افغانستان کې یې جګړه په ټول ځواک او وس پرمخ بېوله او هره ورځ یې افغانان په سرو وینو کې لمبول، زندانه ډک او تشېدل او پلېګونونه د غازیان او د خپلواکۍ د پتنګانو په سرو وینو سره کېدل. دغه ټولوژنه پرته له توکمېزه توپیره د هېواد په هر ګوټ کې پلې شوه خو تر ټولو ډیره ستره خونړۍ ورانې یې په پښتون مېشتو سېمو کې تر سره کړه. یوه نا منل شوې انګېرنه وایي چې یوازې په دغو سېمو کې روسانو دومره وسله و کاروله چې په دویمې نړېوالې جګړې کې نه وه کارول شوې. روسانو د افغانستان د خلق د ډیموکراټیک ګوند له واکمنو او څه نا څه له دوه نیم سوه زره پورته خونړي پوځي ځواک سره یو ځاي د افغانستان پر ټولو وګړو سرې خونړۍ مېچنې را وګرځولې او پرته له اټومي بم څخه نوره هر ډول پرمختللې وسله یې په هېواد کې وکاروله .

خو په افغانستان کې د شوروي د جګړې لومړني ګزارشونه د افغانستان د غرونو او ځمکني جوړښت په څرنګوالي او بدوالي ټېنګار کوي او شوروي لښکرو ورته په هېڅ راز چمتو والی نه درلود چې شوروي پوځي افسرانو څو ځله کټ مټ په ویتنام کې د امریکایانو د جګړې په شان ور ته ګوته نیوله او له ټول مډرن تخنېکي ځواک او نړېوال زبرځواکې سره سره یې بیا هم له افغانانو سرونه ټکول .

د افغانستان د خپلواکۍ سپېڅلو شهېدانو اورښتېنو ننګیالیو ته نړۍ په سلامي شوه

رحمت آریا

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



## د شوروي پرسرچينو يادداښت لیک

په افغانستان کې د شوروي د لاسوهنې په تړاو تر ټولو ستره او پیاوړې سرچینه د روسیې د ولسمشرۍ او د شوروي د دفاع د وزارت له آرشیفونو او د شوروي د سیاسي مشرانو او پوځي بولندویانو له خپرو شویو سرچینو څخه را کتـیږي. دغه سرچینې په دغو څانګو پورې اړه لري: د شوروي سوسیالیستي جمهوریتونود کمونیست ګوند د مرکزي کمیټې د غړو د غونډو لمېسنې "مُسَوَدي" چې پر کال ۱۹۹۲ "ز" ولسمشرباریس یالتسین ورته په ټولنیزو خبري رسنیو کې د خپرېدا اجازه ورکړه ، کې جي بي ، د شوروي د پوځ د پوځي ځارکښنې اداري ته له کابله تر لاسه شوي ګزارشونه چې ډيري یې د افغان د جګړې د جنرال ، جنرال الکساندر لیخانوفسکي له پلوه د یوې پراخې څېړنې په ترڅ کې د "کړېدلو افغانانو' د' زړورتیا" تر نامه لاندې خپاره شوي ، یو شمېر سیاسي لیکونه چې په افغانستان کې د شوروي د سفیرانو له پلوه د شوروي د بهرنیو چارو وزارت ته لېږل شوي او په آرشیف کې دي ، د خبرو اترو د لړۍ هغه یادداښت لیکونه چې د سفیرانو او نورو مشرانو ترمنځ چې له افغان مخالفینو سره یې تر سره کړي او په ماسکو کې د معاصرو لاسوندو د ساتنې په مرکز کې ساتل کیږي، هغه څېړنیز لیکونه چې د مرکزي کمیټې او پوځي مشرتابه پرنامه لیکل شوي او هغه هم د معاصرو لاسوندو د ساتنې په مرکز کې ساتل کیږي . په افغانستان کې د شوروي د جګړې د وخت په دغو لاسوندو کې تر ټولو مهم لاسوندي د شوروي سوسیالیستي جمهوریتونو د بهرنیو چارو د پخواني وزیر ګریګوري . ایم ، کرونیکوف او د شوروي د " محدودو؟" لښکرو د وروستني بولندوی جنرال باریس ګروموف یادداښت لیکونه دي. په افغانستان کې د شوروي د ښکیوالي په تړاو یو شمیر اړین لاسوندي په انګریزي ژبه د ۱۹۹٦ � ۱۹۹۷ په ژمي کې د ۸ � ۹ ګڼې په ترڅ کې د سړې جګړې د نړیوال تاریخ د پروژې په بولتین کې خپاره شوي دي .

له دغې لیکنې سره مل لاسوندي پرافغانستان د شوروي د یرغل د پریکړې پرډیرو اړینو او مهمو اړخونو رڼا اچوي چې څنګه لښکرې افغانستان ته ولېږل شوې او څنګه دغه "محدود قطعات" بیرته و ایستل شول .

ډیر پټ (کاملأ سِري)

آړلیک "کاپي"

د کاري غوندي د لړۍ یادداښت لیک

خپرېدنه : ناشونې ده

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



## د شوروي سوسياليستي جمهوريتونو د کمونيست ګوند د مرکزي کميټې غونډه

۱۹۷۹ کال ، د مارچ ۱۷

د غونډې مشر: ملګری ليونېد ايليچ برژنيف

د غونډې ګډونوال:

وای . ژي . اندروپوف ، اې اې ګرومېکو، الکساندر نيکلای کاسيګين ، اې وای پليشي، کې يو چرنېنکو، ډي ايف اوستينوف ، پی ان دميچييف ، بي ان پاني ماريوف ، ايم سي سولومينتيزيف ، ان اې تخنيکوف ، آی ژي کپيتانوف ، وي آی دول ګيخ، ايم ژي زيميانين ، کې ژي روساکوف ، ايم سي ګرباچف

سکالو : د افغانستان د ډيموکراتيک جمهوريت د حالاتو خرابوالی او زموږ له پلوه شونی ځواب

کريلينکو : ليونېد ايليچ [برژنيف] له موږ غوښتي دي چې په دغسې يوې يو ناڅاپه شېبې کې د مرکزي کميټې غونډه را وبـَـلو او پيل يې کړو ؛ هغه به سبا زموږ په غونډه کې ګډون وکړي او د افغانستان په ډيموکراتيک جمهوريت کې د را پورته شويو حالاتو په اړه به خبرې اترې وکړو. حالات بېړني دي. ملګرو ګرومېکو ، اندروپوف او اوستينوف يوشمير وړاندېزونه راټول کړي او بشپړه ټولګه يې ستاسو ترمخ پرته ده. راځـئ چې دغې سکالو ته له نېږدې وګورو او څرک ولګوو چې کومې لارې چارې ولټوو اوکوم ګامونه بايد اوچت کړو. ښه به وي چې ټول يې د ملګري ګرومېکو له خولې واورو .

ګرومېکو: زموږ وروستيو اړيکو ته په کتلو سره چې موږ ته د پټو کېبلونو له لارې له افغانستانه او همدا شان له پوځي سلا کار ملګري ګريلوف او په سفارت کې د لنډ مهالي استازي /شارژدافير ملګري الکسي يف څخه د تيلفوني کنفرانس له لارې تر لاسه شوي ځرګندوي چې د افغانستان حالات په لنډ وخت کې کړکېچن شوي او په اوسني مهال کې د اله ګولې زړه د هرات ښارګوټی دی .

موږ ټول له پخوانيو کېبل شويو مالوماتو څخه پوهيږو چې په هغه ښار کې د افغان پوځ اولسمه فرقه ځای پرځای وه او ټېکاو يې ساتلی وو ، خو اوسني مالومات وايي چې دغه فرقه ټوله په بل مخ اوښتې ده. د فرقې يو توپچي کنډک او يو پلی کنډک تللی او له ياغيانو سره يو ځای شوي دي. له پاکستاني خوا د ورانکارانو او ترهګرو يو شمير ډلې سېمې ته راننوتلي دا ډلې نه يوازې روزل شوې بلکه د پاکستان ، چين ، امريکا او ايران له سرتيرو سره يوځای سيمې ته ننوتلې او په هرات کې ورانکاری کوي. ورانکارې ډلې د ايران او پاکستان له لارې د هرات ولايت سيمې ته ننوتلې

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



او له کورنيو انقلاب ضد ډلو سره يو ځای شوي دي. وروستنۍ پيښې د مذهبي سخت دريځو له لورې تر سره شوې. د پرشاتـګي "مرتجع" ياغي شوې ډلې مشران له مذهبي مشرانو سره په پراخ ډول تړاو لري .

د ياغيانو د شميرې ځرک لګول ګران ښکاري ، خو زموږ ملګري وايي چې شمير يې" په لفظي ډول " زرګونو ته رسيږي .

ستاسو پام تر ټولو اړين ټکي ته را اړوم او هغه دا چې نن سهار مې پر يولسو بجو د تره کي له مرستيال امين سره چې د بهرنيو چارو وزير هم دی خبرې اترې وکړې خو نوموړي د افغانستان د حالاتو په اړه ان د غوږ بوخولو يوې کوشنۍ نښې ته هم ګوته ونه نيوله او په بل اړخ کې په يوې آسماني کرارۍ او ډاډ ينې ځرګنده کړه چې حالات پيچلي نه دي او هر څه د پوځ په څار او واک کې دي ، او دې ورته نورې خبرې . په بله وينا هغه ځرګنده کړه چې د سېمې دريز د دولت تر بشپړ څار و واک لاندې دی .

کريلينکو : په لنډ ډول ، د امين ګزارش ته په کتلو ويلای شو چې د افغانستان مشرتابه د دغو پيښو په تړاو هېڅ راز انديښنه نه لري .

ګرومېکو: چورلټ همداسې ده. امين لا دا هم زياته کړه چې د افغانستان حالات سرترپايه سم دي. هغه وويل چې د والي تر لاس لاندې د يوې کوشنۍ پيښې ګزارش ورکړل شوې او بس او د هيواد ټول واليان د قانوني دولت تر څنګ ولاړ دي . خوپه بل ريښتوني اړخ کې زموږ د ملګرو د ګزارشونو پربنسټ په هرات او په يو شمېر نورو سېمو کې حالات غوږ بوځونکي دي او ياغيان د دغوسېمو څار او اوک په لاس کې لري.

تر هغه ځايه چې پر کابل اړه لري، په کابل کې حالات کرار دي . د افغانستان ليکلې له پاکستان او ايران له کرښو سره تړلې دي ،يا پر بله وينا نيمايي تړلې دي . د افغانانو يوه غټه شمېره چې په ايران کې د کار کولولپاره تللي ول له ايرانه شړل شوي او په ټوليز ډل د هغوی زړه وهل شوی او ګڼ شمېر يې له ياغېانو سره يو ځای شوي دي.

د افغانستان لپاره د مرستو سنجونې د يوه وړانديز په توګه ستاسو تر مخ پرتې دي. بايد پرې ور غبرګه کړم چې د هيوادني کرښو د ساتلو لپاره مو لس ميليونه روبله د نغدو پيسو په توګه هم په پام کې نيولې دي .

ترهغه ځايه چې په پاکستان پورې اړه نيسي ، بنسټېزه خبره دا چې پاکستان د ترهګرو لپاره يوه پخه سېمه ده او له هغه ځايه ياغيان افغانستان ته رااننوځي ، اړينه وه چې د افغانستان چارواکو د يوه غبرګون په ترڅ کې په ليکلي توګه د پاکستان له غوړونو تيرکړي وای ، لنډه دا چې يوه لېکلې خبرتيا بايد شوې وای. خو افغاني مشرتابه دغه کار نه دی کړی. او دا سرې هک پک کوي .

له امين څخه مې وپوښتل چې تاسو له موږ څه ډول کړنې "اقدامات " غواړئ؟ له هغه مې وپوښتـل چې زموږ له پلوه څه ډول مرستو ته سترګه پر لاره ياست . خو امين بل وړانديز نه درلود ، هغه په ساده ګۍ وويل چې زه په افغانستان

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



کې پرډېر ښه باور ولاړه سنجونه لرم او هغه مرستې چې تاسو له موږسره کړې دي ، موږ به په یوه ښه درېز کې ودروي او زیاته یې کړه چې د افغانستان ټول ولایتونه د قانوني حکومت تر بشپړ ځار او واک لاندې دي . ما له امېنه وپوښتل چې تاسو له ګاونډیو هېوادونو او یا له کورنیو انقلابي ضد ستونزو څخه ویره نه لرئ؟ امین پر ډاډه راته ځواب راکړ چې نه ، او زیاته یې کړه چې رژیم ته هېڅ ډول ګواښ نشته. په پای کې هغه نېکې هېلې د مرکزي کمیټې غړیو او لیونید ایلیچ برژنیف ته وړاندې کړې . او دا وې زما خبرې له امین سره .

له یوه لنډ وخته ښایي له دوه یا دریو ساعتو وروسته زموږ د ملګرو له لارې خبراغلی چې په هرات کې حالت کړکېچن دي . یوه کنډک ، څرنګه چې مخکې مې ورته ګوته ونېوله توپچي کنډک پر خپلو سرتیرو مردکي و اورول او د دویم کنډک یوه برخه یاغیانو ته واوښتله . لنډه دا چې د اولسمې فرقې یوه برخه چې د هرات د ولایت د ساتنې پازوالي لرې دولت ته پالیاله ده او بس. زموږ ملګرو دا هم زیاته کړه چې د یاغیانو نوې ډلې چې په ایران او پاکستان کې روزل شوي دي ښایي سبا پر هرات یرغل وکړي .

نیم ساعت وروسته موږ له خپلو ملګرو خبر تر لاسه کړ چې ملګري تره کي د پوځي چارو لوی سلاکار ملګری ګریلوف او شارژدافیر ځان ته رابللي . له تره کي سره هغوی پر کومو اړخونو خبرې وکړې؟ هغه له شوروي اتحاد څخه د پوځي او خوراکي توکو او پوځي اوزارو غوښتنه وکړه او دغو غوښتنو په هغو لاسوندو کې غبرګون موندلی چې موږ مرکزي کمېټې ته وړاندې کړی دي. د پوځي توکو په تړوا باید ووایم چې تره کي د خبرو په ترڅ کې په ګړندۍ توګه د ځمکني او هوایي پوځ اړتیا ته هم ګوته ونېوله. دا په دې مانا ده چې د ځمکني ځواک پلي کولو او هوایي ځواک دواړو ته د اړتیا غوښتنه شوې ده .

زما په اند ، موږ باید افغانستان ته د مرستې له خپل لومړني بنسټېز وړاندېز څخه کارپیل کړواو باید دا ونومونو چې : موږ په هېڅ ډول حالاتو کې نه غواړو افغانستان له لاسه ورکړو. موږله شپیتو کالو راهیسې له افغانستان سره په سوله کې ژوند کړی. او که موږ افغانستان اوس له لاسه ورکړو نو هغه به د روسېې پرړواندې را تاو شي ، او دا به زموږ په بهرني سیاست کې یو ډېر پرېکنده پرشا تګ وي . څرګنده ده چې په دغه منځ کې یو شی بنسټېزې سنجونې ته نغوته کوي او هغه دا چې که پوځ د وګړو تر څنګ ولاړ وی ، نو خبره په بشپړ ډول بله ده ، دویم دا چې که پوځ د قانوني حکومت ملاتړ ونه کړي � او دریم دا چې که پوځ د دولت پرړواندې پاڅون وکړي ، او په پای کې یې زموږ پر پوځونو را واوړي ، نو خبره به لا پسې پیچلې شي. موږ د ملګرو ګریلوف او الکسي یف له خبرو پوهیږو چې د مشرتابه په منځ کې دریزاو روحیه د ملګري تره کي په ګډون په بشپړ ډول ځپل ته نه ده رسېدلې .

اوستینوف : زموږ مشرپوځي سلاکار ملګري ګریلوف او په افغانستان کې زموږ شارژدافیرملګری الکسي یف له تره کي سره ول . ما د ټیلفون له لارې له ملګري ګریلوف سره خبرې وکړې هغه راته وویل چې د افغانستان مشرتابه د حالاتو له څرنګوالې څخه په اندېښنه کې دي او په ځانګړې توګه د هرات حالات ښه نه دي ، او دې ورته د پکتیا

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



حالات هم د اندیښې ورډي. د خبرې تر ټولو بد اړخ دا دی چې د فرقې دنده د هرات ساتنه وه او فرقه بې اغیزې وه، اوپه داسې یوه وخت کې د فرقې بولندوی په هوایي ډګر کې کښېني په بله وینا نوموړی هلته پناه وړي او دولت ته له پالیالو کنډکونوڅخه دهېڅ یوه کنډک د کړنو بولنده نه کوي. باید تاسو ته ووایم چې سبا (د مارچ ۱۸) به د هرات ولایت ته د چاڼیزې کړاونو (عملیاتو) ډلې واستول شي .

موږ ملګري تره کي ته سلا ورکړه په هغو سېمو کې چې یاغیان راپورته شوي دي یو ځل بیا نورې ډلې واستوي . هغه په ځواب کې وویل چې دا به ګرانه وي ځکه چې په نورو سېمو کې هم حالات ښه نه دي . لېده دا چې هغوی له شوروي سوسیالیستي جمهوریتونوڅخه د ځمکنیو او پوځي مرستو د ځواب لویه هېله لري .

اندروپوف: هغوی هېله لري چې موږ دې پریاغیانو یرغل وکړو .

کریلینکو : که موږ خپل سرتیري هلته واستوو ، پوښتنه دا ده چې موږ له چا سره جګړه کوو . د یاغیانو پر وړاندې ؟ او یا د مذهبي بنسټپالو لویو ډلو پر وړاندې چې ټول یې مسلمانان او په منځ کې یې عادي وګړي په پراخه کچه ورګډ شوي له دې امله موږ به اړایستل شو چې د وګړو د غټې شمېرې پر وړاندې د جګړې درونډ پېټی پر اوږو پورته کړو .

کاسیګین : د افغانستان د پوځ کچه او شمېره څومره ده � څوفرقې لری؟

اوستینوف : افغانستان لس فرقې لري ، چې سل زره سرتیري کېږي.

اندروپوف : زموږ څارکښیزې اوڅارنې یا مالومات نغوته کوي چې له پاکستانه څه نا څه دري زره تنه یاغیان افغانستان ته ننه ایستل شوي دي . دا د جګړې د جنګیالیو غټه برخه ده مذهبي بنسټپالان د وګړو له منځه دي .

کریلینکو : که پاڅون ټولنیز وي ، نو د هغو کسانو ترڅنګ چې له ایران او پاکستانه راغلي او ټول یې ترهګر او یاغي دي ، نو پوځونه د افغانستان د ټولو وګړو په ګډون د ټولنې له یوې سترې برخې سره په جګړه کې را ښکېل دي . او دا څرګنده ده چې هغوی مذهبي جنګیالي او د اسلام لارروېان دي .

ګرومېکو: د دولت د پلویانو او د یاغیانو ترمنځ د تړاو خبره لا تر اوسه څرګنده نه ده. هر څه ته په کتلو د هرات پېښې توغمناکي را څرګنده کړه ځکه هلته له زرو تنو څخه ډېر وژل شوي دي خو له دې سره سره حالات لا رانه او روښانه نه دي .

اندروپوف : څرګنده ده هغه یاغیان چې افغانستان ته له سېمې څخه راننوځي د کورنیو یاغیانو له پلوه ورته ښه راغلاست ویل کیږي او له افغانانو څخه به وغواړي چې له هغوی سره یو ځای شي.

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



کاسيګين : زما په اند د راتلونکي په پام کې نېول شوې پريکړې ګارلېک " مسوده " دې له بنسټه سمه شي. ترټولو لومړی موږ بايد د اپريل تر مباشتې پورې د وسلو لېږد ، ونه ځنډوو ، او موږ بايد هرشي په همدغه مارچ کې پرته له ځنډه واستوو . دا لومړنی کار دی.

دويم دا چې موږ بايد په يوه ډول نه په يوه ډول د افغانستان مشرتابه ته د اخلاقي ملاتړ روحيه ورکړو، او د دغو ګامونو د پلي کولو وړاندېز کوم : تره کي ته دې خبروركړي چې موږ د ګازو د هرو زرو کيوبېک مترو بېه له پينځلس روبلو څخه پينځه ويشت روبلو ته لوړوو. د بيې په دغه لوړوالي به هغوی به د وسلو اونورو توکو د ترلاسه کولو په بدل کې د رامنځ ته کېدونکو لښګتونو تشه ډکه کړي . زما په اند دغه وسلې دې افغانستان ته وړيا ورکړل شي او د څېړنو او ارزونې د ۲۵ په سلو کې بيې پوښتنه دې ورڅخه و نه شي .

ټولو : په يو غږ ومنله

کاسيګين : دريم دا چې موږ بايد ۷۵ زره ټــُنه خوراکي توکي هم ولېږو. زه ګومان کووم چې پر دغې شمېرې دې له سره کتنه وشي او دغه شمېره دې سلو زرو ټــُنـو ته لوړه شي. دا هغه ګامونه دي چې زما په اند دې د پرېکړې په ګارلېک کې ورګډې شي او ورزياته دې شي چې موږ دغه مرستې د افغان د مشرتابه د روحېې د پياوړي کولو په موخې تر سره کوو. موږ په دې ټېنګار چې ٦٠ کاله مو څنګ په څنګ په سوله کې ژوند کړی بايد د افغانستان جګړې او ستونزې ته لومړيتوب ورکړو .څرګنده ده چې له ايرانيانو ، چينايانو او پاکستانيانو سره ستونزه او جګړه شتون لري خو له دې سره سره ايران د افغانستان له جګړې سره مرستې او ملاتړنې ته ليواله دی ، ايران ځانته موخې لري اوتر ټولو اړين ټکی د ا چې ايرانيان ډېر مذهبي دي. او دا بايد په پام کې ونيول شي. پاکستان به هم ورته ګامونه اوچت کړي. د چينايانو په اړه د ويلو لپاره څه نه شو ويلای. په پای کې زما پر اند د خپلې پريکړې ليونتوب او پايلې بايد په پام کې ونيسو چې موږ به په پريکنده ډول د افغاني مشرتابه مرسته وکړو. هر ګوره ما د تاديې او جبېرې په تړاو لا وختي خبرې کړې او نه غواړم پر هغې بيا را تاو شم ، او د هغه ترڅنګ هغسې چې دلته په ليکلي ډول ويل شوي ، وړيا تأديات دي؛ او تأديات په وړيا توګه په نغدو اوړېدلای شي . هغه چې هر ډول وړيا نغدي پيسې وي موږ به په هر حالت کې له هغو څخه څه تر لاسه نه شوای کړای .

اوستينوف : افغانستان ته د وسلو د لېږد د خبرلېک په ګارلېک 'مسوده' کې چې هر څه ويل شوي ټول يې وختې (مخکې له پريکړې � ژ) افغانستان ته د لېږد لپاره چمتو او د دغو وسلو او توکود لېږد چارې لا وختي تر لاس لاندې نېول شوي دي. له بده مرغه زه پوهيږم چې موږ به د اپريل له مباشتې مخکې د توکو ليږدونه وشو کولای که نه؛ دا به ډېره ګرانه وي. زه وړاندېرکووم چې د وسلو د لېږدونې پريکړه دې همدلته همدا اوس ونېول شي. تر هغه ځايه چې د وسلو د بيې د ورکړې او تأديې خبره ده ، هغه به زه همدا اوس د ګارلېک له مخه پاکه کړم .

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



کاسیګین : ټول په یوه غږ دي چې سر له سبا دې د وسلو د لېږد چارې پیل شي.

اوستینوف : سمه ده ، موږ دا کوو ، او ډاډ به ترلاسه کړو چې دغه کارونه دې سر له سبا پیل شي .

کریلینکو: راځئ ملګري کاسیګین ته واک او دنده ورکړو چې د شوروي د سوسیالیستي جمهوریتونو د وزیرانو د شورا د پریکړې په ګارلېک دې چې پاڼې زموږ په مخ کې پرتې دي زموږ د خبرو اترو له تل څخه را وړاندېز شوې سمونې ورګډې کړي او سبا به هغه د ګارلېک وروستنۍ بڼه موږ ته راکړي .

کاسیګین : چورلټ . زه به سبا سهار دلته راسم او هر څه به ترسره کړم.

کریلینکو:موږبايد د ډاډ د ترلاسه کولوو هغه لاري چارې هم وپلټو چې دغه پوځي توکي د مارچ په مېاشت کې واستول سي .

کاسیګین :لکه چې ملګري اوستینوف وویل د مارچ په مېاشت کې به د هر څه لېږل نا شوني وي ، نو ښايي د پاتې شویو توکو دوېمه برخه د اپریل په مېاشت کې واستول شي ، خو راځئ چې دغه دوېمه برخه دې ډېره کوشنۍ وي .

غواړم یوه بله پوښتنه راپورته کړم : تاسو هر څه چې وایاست ویې وایاست ، امین او تره کی دواړه د هېواد چارې له موږ څخه پټوي . موږ لا تراوسه په پرېکنده ډول نه پوهېږو چې په افغانستان کې څه پېښېږي . له حالاتو څخه د هغوی ارزونه څه ده؟ تر ټولو مخکې هغوی هڅه کوي چې حالات د یوه خوندور انځور په رنګ کې را څرګند کړي ، خو په ریښتوني اړخ کې موږ په سترګو وینو چې په هېواد کې څه تېرېږي. څرګنده ده چې هغوی ښه خلک دي ، خو په بل اړخ کې هغوی ستره معامله له موږ څخه پټوي. لامل یې څه دی ؟ ګرانه به وي چې څه ووایم. زما پر اند موږ باید هر څومره چې ژر کېږي له خپل سفیر آندری آریوویچ سره د دغې پوښتنې د ګډولو پریکړه وکړو. که څه هم هغه په عملي ډول دغه واک نه لري او نوموړی به هغه څه ونه کړی چې موږ یې ورڅخه غواړو .

ددې ترڅنګ زه به د نورو پوځي کارپوهانو د لېږد خبره په پام کې ونیسم او هغوی ته دنده ور وسپارم چې څرک ولګوي په پوځ کې څه تیرېږي .

د هغه ترڅنګ به د یوې پراخې سیاسي پریکړې سکالو هم په پام کې ونیسم. ښايي د دغې سیاسي پریکړې ګارلېک به زموږ ملګري د بهرنیو او دفاع په وزارتونو او یا د کې جي بي د بهرنیو چارو په څانګه کې جوړ کړي. څرګنده ده چې ایران ، پاکستان او چین به د افغانستان پروړاندې را تاوشي ، او هر څه یې چې په واک وي وبه یې کړي ، د افغانستان له قانوني دولت څخه به سرغړاوی وکړي او د کړنې به یې په هېڅ وشمیري. دلته پرموږ ده چې د تره کي د رژیم سیاسي ملاتړ پراخ کړو. او روښانه ده چې کارتر به د افغانستان د مشرتابه پروړاندې پایځې را بډ وهي .

که دا اړتیا پېښه شي چې موږ خپل سرتیري پلي کړو ، له چاسره باید جګړه وکړو؟ هغه کسان چې د افغانستان داوسني مشرتابه پر وړاندې مقاومت وکړي څوک به وي؟ آیا هغوی ټول تر محمدي بیرغ لاندي راټول دي ، دیوې

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



ګروهنې وګړي دي ، او تر دغې ګروهنې لاندې د دوی ګروهنه دومره پياوړې ده چې ټول په يوه مورچل کې د يوې موخې لپاره راټوليږي ؟ ماته داسې ښکاري چې موږ بايد له امين او تره کي سره د هغو تيروتنو او اشتباهاتو په تړاو خبرې وکړو چې دوی په داسې وخت کې د هغو د پېښېدلو لپاره اجازه وکړې ده. که رښتونې اړخ ته وګورو امين او تره کی دواړه تر همدا نن پورې هغه وګړي له چړو تيروي او وژني يې چې له دوی سره هم غږي نه دي. هغوی ټول مشران ووژل ، نه يوازې د "پرچم د ډلې "د لوړې کچې لوړپوړې مشران بلکه د منځنۍ کچې مشران يې هم ووژل .

څرګنده ده چې د سياسي لاسوندي جوړول به ګران کار وي ، لکه چې تل وايم له دريو ورځو مخکې به د هغه د جوړولو لپاره زموږ ملګري پرې په کلکه کار وکړي .

اوستينوف : دا ټول سم دي . هغه څه چې الکسي نيکولايوويچ وايي بايد ډير ژر تر سره شي .

ګرومېکو: لاسوندی به ډير ژر چمتو شي.

کاسيګين : زه ګومان نه کووم چې له افغان پلوه به پرموږ زموږ له خوا د سرتيرو د پلي کولو په تړاو زور واچول شي . راځـئ هغوی پرېږدو چې خپل ځانګړي پوځي ټولي جوړ کړي چې په ستونزمنو سېمو کې د ياغيانو د ټکولو وړتيا ولري .

اوستينوف : که وغواړو خپل سرتيري پلي کړو نو زما په اند په هيڅ يوه حالت کې دې زموږ پوځونه له افغان پوځونو سره په ګډه چيرې نه ځي .

کاسيګين : موږ بايد خپل پوځونه تيارسئ کړو ، د هغوی د کار په تړاو دې پريوه کاريزه پيام، کار وشي او د ځانګړي استازي له لارې دې ور واستول شي .

اوستېنوف : موږ د پوځي ګام د اوچتولولپاره دوه لارې په پام کې نېولې دي . د لومړۍ لارې په ترڅ کې به موږ په يوې ورځ کې ۱۰۵ (مه) هوايي فرقه په افغانستان کې پلې کړو او په کابل به کې يو پلی موټريزه کنډک بيا پلی کړو؛ د کرښې په اوږدو کې به ٦٨ (مه) فرقه ځای پرځای کړو ، او په کرښې کې به پينځمه موټريزه توپچي فرقه ځای پرځای شي. د دغې تابيا په رڼا کې به موږ د دريو ورځو په ترڅ کې چمتو اوسو چې سرتيري پلي کړو. خو تر ټولو لومړی به هغه سياسي پريکړې چې اوس مو پرې خبرې وکړې په پام کې ونيسو .

کريلينکو: ملګري اوستينوف سکالو په سم ډول را څرګنده کړه. موږبايد په ياغيانو پسې متې رابډ وهو. او په سياسي لاسوندي کې دې دغه سکالو په روښانه او څرګنده ډول وويل شي.

د هغه تر څنګ موږ بايد له تره کي سره له زغمه کار واخلو؛ کله چې موږ لا اوس د پوځي ځواکونو د پلي کولو خبره تر څېړنې او خبرو اترو لاندې نيسو ، نودغه پوښتنه دې هم سرتر پايه په پام کې ونيول شي. د افغانستان له غوښتـنې پرته موږ نشو کولای ځواکونه پلي کړواو موږ بايد دغه خبره د ملګري تره کي له غوږونو تيره کړو. او دا بايد د

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



ملګرب کاسیګین ملګري تره کي ته د کنفرانس په ترڅ کې نېغ پر نېغه ور یاده کړي. د هغه تر څنګ تره کی باید وپوهول شي چې خپلونو چـَلونو 'تاکتېکونو' ته بدلون ورکړي . وژنې ، ځورونې او دې ته ورته نورې چارې باید په ډله ییز ډول باید تر سره نشي .

مذهبي سکالو ، له مذهبي ټولنو سره تړاونه ، په ټولېز ډول دین او دیني مشرانو ته دې ځانګړی پام او مانا ورکړل شي. دا د ټولېزې سکالو یوه تګلاره او پالیسي ده. تره کی باید په پریکړي ډول ډاډ راکړي چې د هغوی له پلوه ددغو ټاکل شویو تګلارو په پلي کولو کې سرغړاوی نه کیږي .

لاسوندی باید ژر تر ژره تر سبا پورې چمتو شي. موږ به له لېونېد ایلییچ سره د دغې تګلارې د پلي کولو په څرنګوالي کې هم سلا وکړو .

اوستینوف : موږ دوېمه چمتو شوې لاره هم لرو. له دغې لارې سره سم موږ په افغانستان کې دوه فرقې پلې کولای شو .

اندروپوف : موږ باید د پرېکړې هغه ګارلېک یا مسوده ومنو چې نن مو پرې خبرې وکړې ، په پرېکړې کې د سماونو په تړاو دې د راتلونکو شمېرنو او سماونو لپاره وروسته خبرې اترې وشي. او د سیاسي پریکړې په اړه موږ باید د سترګو په رپ کې چمتو اوسو ځکه چې له پاکستانه ډلې ټپلې په راخوتـېدو دي .

پونوماریوف: موږباید د ۵۰۰ تـنو په شا او خورا کې یوه ډله د کارپوهانو او سلا کارانو په کچې افغانستان ته واستوو. دغه ملګري باید په هغه څه ښه وپول شي چې وېې کړي .

اندروپوف: د هرات په شا او خوا کې څه نا څه شل زره ملکي کسان دي چې په بلوا کې یې ګډون کړی دی. د تره کي په تړاو خبره چې مخکې مو وکړه ، موږ باید همدا اوس ورته لستونې پورته کړو. زه ګومان کووم ښه به دا وي چې ملګری کاسیګین ورسره خبرې وکړي .

ټولو پر یوه غږ ومنله . ښه به دا وي چې ملګری کاسیګین دې ورسره خبرې وکړي.

اندروپوف: موږ باید سیاسي وینا ته وروستۍ بڼه ورکړو ، په پام کې مو وي چې موږټول به د یرغلګرو پر نامه وپیژاندل شو، خو په پام کې مو وي چې د دغه کار په نه کولو، له هېڅ ډول اړوتې او خنډ 'قید او شرط' پرته به موږ افغانستان له لاسه ورکړو .

پونوماریوف : له بده مرغه د افغانستان په اړه ډېر شیان دي چې موږ پرې نه پوهیږو. ماته داسې ښکاري چې له تره کي سره دې د پرېکړې په ترڅ کې دغه ټولې راپورته شوې پوښتنې را وسپړل شي ، او په ځانګړي ډول هغه پرېږدئ چې په ټولېزډول له ټول هېواد او له پوځ سره د هیواد د حالاتو په اړه پراخه خبرې وکړي. هرګوره موږ وېنو چې پوځ یې سل زره جنګیالي لري او زموږ د سلاکارانوپه مرسته له دغه پوځ سره ډېر شیان تر سره کېدلای شي. پرته له هغې

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



به یوازې همدغه شل زره یاغي جنګیالي بریالي شي. د ټولو په سر کې دي افغان ځواکونه اړین کارونه تر سره کړي او وروسته که په رښتیا اړتیا راپېښه شوه نو موږ به خپل ځواک ور پلی کړو .

کاسیګین : زه ګومان کووم چې د وسلو لېږل اړین بریښي ، خو په دي آړوتي 'شرط' چې د یاغیانو په لاس کې پرېنوځي. که د افغان ځواکونو جوړښت ونړېږي نو لېږل شوي وسله به هم د یاغیانو لاس ته ولوېږي. بله پوښتنه چې را پورته کېږي دا ده چې موږ به نړیوالو ته څه ځواب ووایو. که موږ په رښتیا وغواړو چې خپل ځواکونه پلي کړونو ټولو دغو پوښتنو ته باید لاره ومونډل شي او موږ باید هره خبره او هرڅه په ښه ډول سمبال کړو اوباید هرڅه په پراخه ډول را وسپړو. ښايي زموږ له پازوالو ملګرو څخه یو تن سېمې ته سفر وکړي چې د سېمې له حالاتو څخه پراخه او نېغ پرنېغه جاج اخیستنه وکړي. دغه ملګري کېدای شي ملګرى اوستېنوف یا ملګرى اوګارکوف وي .

اوستېنوف : په افغانستان کې حالات کړکېچن کېږي. په دغه تړاو موږ باید خبرې وکړو ، ماته د سیاسي ارزونو له مخې داسې ښکاري چې موږ تر اوسه څه نه دي پیل کړي. له بلې خوا موږ ته ښايي چې د افغان د پوځ ټوله ورتیا ځانته څرګنده کړو. ماته داسې ښکاري چې په ماکې داسې شی نسته چې افغانستان ته ولاړ شم. زه پکې شک او شوپیان لرم.کېدای شي د دولت یو بل غړی هلته ورشي .

کاسیګین : دیمتري فیدروفوویچه! ته باید هرو مرو ولاړ شـئ. خبره دا ده چې موږ افغانستان ته د وسلو یوه لویه کچه لېږو او باید ډاډه شو چې وسلې د انقلاب ضد وګړو لاس ته نه ورځي. موږ په افغانستان کې ۵۵۰ تنه سلاکاران لرو ، او هغوی باید په پوځ کې د حالاتو په اړه خبر وساتل شي .

اوستېنوف : ان که زموږ له منځه یو تن هم ولاړسي د یوې یا دوه وو ورځو په ترڅ کې به څه ترلاسه نه کړي .

ګرومېکو: زه ګومان کووم چې له تره کي سره دې خبرې اترې اې ان کاسیګین یا ډی ایف

اوستېنوف پرمخ یوسي ، او ډیره شونې بریښي چې ملګرى کاسیګین به دغه چاره تر سره کړي .

کاسیګین : مخکې له دې چې له تره کي سره خبرې وکړم باید د لیونېد ایلیېچ اجاره ترلاسه کړم. زه به سبا له لیونېد ایلیېچ سره لومړې خبرې وکړم او بیا له تره کي سره.

اندروپوف : د دغې پرېکړې تر رڼا لاندې موږ باید له لېونید ایلیېچ سره په پراخه توګه سپړنه وکړو .

ګرومېکو: موږ باید د حالاتو د کړکېچن کېدلو په اړکلښه کې پراخې خبرې وکړو. همدا نن زموږ له منځه د افغانستان له روانو حالاتو څخه څوک په سمه خبر نه دی . یوازېنی یو شی چې څرګند دی دا ده چې موږ نشو کولای افغانستان په دوه وو لاسونو دښمن ته وسپارو. د دغې موخې د ترلاسه کولو لپاره موږ باید په ژوره واندو. کېدای سي د سرتیرو د لېږد خبره یوې خوا ته کېښودل شي .

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



کاسیگین: موږ ټول پر یوه غږ یو چې افغانستان به د دښمن لاس ته نه پرېږدو. له همدغه اړخه موږ باید د سیاسي لاسوندي (وینا-ژ) پر ټولو اړخونو کار وکړو- ټولې سیاسي لارې چارې باید په کار واچول شي چې افغان مشرتابه وکولای شي پرخپل ځان ډاډېنه ترلاسه کړي ، زموږ د په پام کې نېول شوېو مرستو تابیاو لپاره لاره پرانېزي ، او موږ ته په وروستي ګام کې د اړتیا پراټکلېنې دې د ځواک د کارولو کړکۍ پرانیستل شي .

ګرومېکو: زه غواړم پر یوه شي ټینګار وکړم او له ټولو غواړم چې په ځیرېې په پام کې ونیسي ، او ټول باید دغې پوښتنې ته ځواب ولرو چې که حالات کړکیچن شي څه وکړو. تره کي خو لا وختي حالات د غوږ بوخولو وړ بللي او امین له بلې اړخه حالاتو ته له ښې سترګې ګوري. په لنډ ډول افغان مشرتابه زما په اند په ټول هېواد او په پوځ کې دننه د حالاتو له څرنګوالي څخه سمه جاج اخیستنه نه ده کړې .

پونوماریوف: افغان پوځ یوه پوځي کوتاه تر سره کړه زما په اند په دولت کې د کارپوهېزې پوهې تر رڼا لاندې کولای شي خپل دریز د هېواد په ساتنې کې څرګند او وساتي .

کریلینکو: لویه ستونزه دا ده چې د پوځ ګڼ شمېرتکړه بولندویان او کارپوهان یا وژل شوي یا زندان ته ارتـَول شوي دي. او دغه کار پر پوځ ناوړه اغیزه پرې ایستلې ده .

ګرومېکو: زموږ یو له ټولو لویو دندو څخه د پوځ پیاوړتیا ده چې زموږ له کار سره لوی تړاو لري. زموږ د کار ټوله برخه باید پر سیاسي مشرتابه او پوځ نېغه وي . د ټولو په سرکې باید ومنو چې افغان مشرتابه له موږ څخه د چلند یوه لویه برخه پټوي. د ځېنو نا څرګندو لاملونو له امله هغوی له موږ سره روڼ چلند نه کوي او دا لویه بدمرغي ده .

اندروپوف: ماته داسې ښکاري چې موږ باید ټول سوسیالیست هېوادونه له دغه چلند څخه خبرکړو .

کریلینکو : موږ په پراخه په دغې اړه خبرې وکړې ، راځـئ چې پایلې ته ځان نېږدې کړو .

پریکړه :

۱ .ملګري کاسیګین ته دنده ورکول کېږي چې چې موږ ته را کړل شوی لاسوندی دې لا څرګند ،روڼ او روښانه کړي ، او ورکې دې د سل زرو ټنو خوراکو توکو د زیاتولو خبره ورزیاته کړي ، د ګازو بیه دې له ۱۵ روبلو څخه ۲۵ روبلو ته لوړه شي ، او له لاسوندي څخه دې د سلنې ، نغدو پیسو او نور ورته وییکي لیرې شي .

۲ .ملګري کاسیګین ته دنده ورکول کیږي چې له ملګري تره کي سره اړیکه ونیسي ، او څرګنده کړي چې هغوی د افغانستان له حالاتو څخه څه ډول ارزونه او جاج لري او موږ ته څه اړین دي چې تر سره یې کړو. له تره کي سره د خبرو په ترځ کې ملګري کاسیګین ته دنده سپارل کېږي چې د مرکزي کمېټې د اوسنۍ غونډې د پام وړ ټکي له نوموړي سره ګډ کړي .

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



۳ .پرهغه دریم ټکي چې موږ دلته په مرکزي کمیټې کې ورباندې خبرې وکړې دا دی چې ملګرو ګرومېکو ، اندروپوف او پونیماریوف ته دنده سپارل کېږي چې د افغانستان په اړه دې د سیاسي وینا پرچال چلند او د اندونو د راکړې ورکړې په تړاو کار وکړي .

۴ .موږ باید د بهرنیو چارو د وزارت له لارې له پاکستانه وغواړو چې د پاکستان دولت دې د افغانستان په سیاسي چارو کې لاسوهنه ونه کړي .

۵ .موږ باید د افغانستان له پوځ سره د مرستې لپاره د ملګري اوستېنوف هغه وړاندېز ته په یوه غږ شو چې زموږ په پوځي ډلګیو کې د څواک د کارولو په اړه پر راپورته شویو ستونزو لاسبری ومومو .

٦ .باید خپل تر ټولو تکړه کارپوهان د کې جي بي او د دفاع د وزارت له لارې افغانستان ته ولېږو چې په افغان پوځ او په ټولېزه ډول په ټول افغانستان کې د راپورته شویو حالاتو بشپړه ارزونه او څېړنه وکړ .

۷ .زموږ د پریکړې په ګارلېک کې باید داسې آړوتي 'شرایط' ځای پرځای شي چې د افغانستان په کورنیو چارو کې پاکستان ، ایران ، چین او د امریکا متحده ایالات لاسوهنه کوي او دغه ګارلېک دې د خپرولو لپاره چمتو او د دریمګړو هیوادونو د خپرونو له لارې دې خپور شي .

۸ .ملګرو پونوماریيف او زیمیاتین ته دنده ورسپارل کیږي چې د افغانستان په کورنیو چارو کې دې د ایران ، پاکستان ، چین او د امریکا د لاسوهنو په اړه لاسوندي راټول او له چمتو کولو وروسته دې د خپرونو له لارې خپاره کړي .

۹ .کله چې موږ پوځ کاروو ، باید د هغو تورونو منلو ته چمتو اوسو چې نور هېوادونه به یې پرموږ د یرغلګرو په نوم را وتپي .

۱۰ .د دفاع وزارت ته به اجازه ورکړل شي چې د افغانستان او د شوروي د سوسیالیستي جمهوریتونوسره په ګډه پوله کې دې دوې فرقې پلې کړي .

په پای کې موږ ته اړینه ده چې نور سوسیالیست هېوادونه په دغه غونډه کې له وړاندې شویو وړاندېزونو او ګامونو څخه چې په پام کې مو نیولي دي خبر کړو .

ملګرو! بل وړاندېز لرئ؟

ټول! و منل شو

کرېلینکو : زه به همدا اوس له ملګري چرنینکو سره اړېکه ټینګه کړم او هغه به له نیول شوې پرېکړې خبر کړم .

ټول! ومنل شوه!

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



کولای شـئ دمه ونیسـئ

کریلینکو : ما همدا اوس له ملګري چرنینکو سره خبرې وکړې. هغه وویل چې را منځ ته شوي وړاندیزونه ټول سم دي او نوموړی به لیونید ایلیچ له پرېکړې څخه خبر کړي .

راځـئ چې ننۍ غونډه همدلته پای ته ورسوو [غونډه پای ته ورسېدله]

[بله غونډه � ژ]

کریلېنکو : پرون موږ ومنل چې ملګری اې ان کاسیګین به له ملګري تره کي سره اړېکه نیسي . راځـئ چې ملګري کاسیګین ته غوږ شو .

کاسیګین: لکه څنګه چې پرون مو ومنل ، ما له ملګري تره کي سره د تیلفون له لارې دوه ځله خبرې وکړې. هغه زما تر غوږ راتیره کړه چې په هرات کې یاغي سرتیري هغه وګړي چاڼوي چې د دولت ملاتړي دي. په هغه ښار کې حالات پیچلي دي. د ملګري تره کي پروینا که د شوروي سوسیالیستي جمهوریتونه په دغسې شېبې کې له موږ سره مرسته ونه کړي ، موږ واک نشو ساتلای .

د هغه ترڅنګ ملګري تره کي وویل چې ایران او پاکستان یاغیان سمبالوي او له ایرانه د راستـنېدونکو افغانانو په جامو کې ایراني سرتیري افغانستان ته را اوښتي او سرغړاونې او اله ګولې یې راپاروړلې دي . په پای کې د افغانستان په یو شمېر ولایتونوکې په ځانګړي ډول د هرات په ښار کې د پـېښو لړیو څرګنده کړه چې له ځان سره یې ویروونکې پایلې رامنځ ته کړي دي. ملګري تره کي غبرګه کړه چې ستونزه به یوازې په یوې ورځ کې له منځه ولاړه شي. او که هرات له ولکې ووت نو ټوله خبره به پای ته ورسیږي .

وروسته بیا ما له هغه پوښتنه وکړه : په افغانستان کې په افغان پوځ کې سل زره تنه سرتیري دي او ټول یې په هرات کې ځای پرځای نه دي ؛ آیا هلته یوازې اولسمه فرقه دیره او ځای پرځای ده. آیا تاسو ته شوني نه ده چې څو فرقې جوړې او هرات ته یې واستوئ چې د دولت د ملاتړو مرسته وکړي؟ ملګري تره کي ځواب راکړ چې څو فرقې جوړېږي خو تر هغه مهاله چې فرقې رامنځ ته کېږي په هرات کې به دولت ته یو پالیاله غنډ هم نه وي پاتې .

د پوځ د فرقو او غنډونو د جوړولوپه اړکلبنې که هغوی ته ملاتړي ځواک د پوځي توکو، شوبلو او دپلیو ځواکونه لپاره د زغروالو موټرونو په بڼه ور ورسیږي ، په دغه تړاو ما له هغه وپوښتل چې آیا تاسو د شوبلو د چلوونکو لړ لېک برابرولای شـئ چې په ډګرکې ورڅخه کار واخیستلای شـئ؟ هغه وویل هغوی د شوبلو چلوونکي نه لري نو له دې امله ملګري تره کي د تاجیکي شوبلو او زغره والو موټروچلوونکو دغوښتنې وړاندېز وکړ چې د افغانانو په جامو کې دې افغانستان ته را واستول شي. ما ورته بیا ټینګار وکړ چې ملګری تره کي ، هیڅ داسې لاره نشته چې موږ د خپل د پوځ ښکېلېدل د جګړې په ډګرکې پټ کړو ؛ دا به په لنډ وخت کې ټولو ته بربنډه شي او د نړۍ خبریالان به دغه

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



خبره په ټوله نړۍ کې خپره کړي او وبه وايي چې د شوروي شوبلې په افغانستان کې په جګړې کې ښکېل شوي دي . ما له هغه وپوښتل چې ، ملګرى تره کيه ! د کابل د وګړو شمېره څو ده ؟ هغه په ځواب کې وويل چې يو مېليونو او دوه سوه زره تنه . بيا مې له هغه وپوښتل چې آيا تاسو ته به ناشوي وي چې د کابل له وګړو څخه د فرقې يوه برخه جوړه کړئ ، هغوی سمبال او په ورته ډول وُرته وسلې ورکړئ چې د هيواد له نورو ولايتونو سره د مرستې جوګه شي ؟ دې پوښتنې ته په ځواب کې هغه وويل چې د هغوی د روزنې لپاره هيڅ څوک نسته .

بيا مې ورته وويل چې دا څنګه شونې ده چې څومره پوځې کارپوهان د شوروي د سوسياليستي جمهوريتونو په پوهنتونونو کې روزل شوي او له پخواني دولت څخه څومره نور پوځې کارپوهان د دولت تر څنګ درېدلي او تاسو هېڅ څوک نه لري چې نور سترتيري تاسو ته وروزي؟ بيا مې ورڅخه وپوښتل چې موږ له تاسو سره څنګه مرسته کولای شو؟ پرته له دې چې ملګرى تره کی په خپله خبره پوه شي را ته يې وويل چې هېڅ څوک د دولت ملاتړ نه کوي . موږ په کابل کې کارګران نه لرو ، يوازې کسبګر لرو . د خبرو په ترڅ کې خبره بېرته پر هرات را واوښتله او وويل شول چې که هرات له لاسه ووځي نو د انقلاب ستونی هم پرېکېږي. په بل اړخ کې که هرات وژغورل شي نو انقلاب به وژغورل شي . دغه اټکليز اند ته په کتلو پرپوځ ډاډ ترلاسه کېږي او پر هغه زړه تړل کېدلای شي. خو د هېواد په هرګوټ کې پاڅونونه را وپارېدل او پوځ ډېر کوشنی دی او په هرګوټ کې د پاڅون مخه نشي نيولای. ملګري تره کي يو ځل بيا ټينګار وکړ چې ستاسو مرستې ته اړتيا ده .

تر هغه ځايه چې په کابل پورې اړه لري موږ ته د نن ورځې د را رسېدلې ټېلګرام له مخې ښکاري چې حالات د ايران حالاتو ته ورته دي : شعارونه خپرېږي ، او وګړي ډلې ډلې راټولېږي . په ايراني او چينايي وسلو سمبال کسان له ايران او پاکستانه په غټو غټو شمېرو کې بيرته افغانستان ته راستـنـېږي .

کريلينکو : په هرات کې اولسمه فرقه نهه زره تنه جنګيالي لري . آيا دا به رښتيا وي چې يا فرقه لاس تر زنې ناسته ده ، او يا دا چې د دولت له مخالفينو سره به يوځای شوي وي؟

کاسيګين : که څه هم د فرقې نورې څانګې نه دي ياغي شوې خو زموږ د مالوماتو پربنسټ توپچي او يو پلی کنډک ياغي شوی ، ، پاتې برخې يې له دولت څخه ملاتړ ته دوام ورکوي .

اوستېنوف: تر هغه ځايه چې پر تاجيکانو اړه لري ، موږ جلا ځواک نه لرو [پاکه شوه]

کاسيګين : يوه هوايي ضد ليوا چې په هرات کې پرته وه هغه هم ياغي شوه او ياغيانو ته ور واوښتله.

اوستېنوف: کله چې ما له امين سره خبرې وکړې هغه هم د ياغيانو د ټکولو لپاره د پوځونو د پلي کولو غوښتنه وکړه .

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



کاسیگین : ملګری تره کي ګزارش راکوي چې د فرقې پاتې نیمايي برخه هم یاغیانو ته ور واوښتله او د فرقې پاتې کوشنې برخه به هم د دولت ملاتړ ونه کړي .

اوستېنوف: افغان انقلاب د خپلې پیل شوې لارې په اوږدو کې له سترو خنډونو سره مخامخ دی ، ماته امین د خپلو خبرو په ترڅ کې وویل چې د انقلاب ژغورنه او ساتنه یوازې یوازې پر شوروي سوسیالیستي جمهوریتونو اړه لري او بس .

ستونزه څه ده ؟ څه پېښ سوي دي؟ ستونزه دا ده چې افغاني مشرتابه له اسلامي بنسټپالنې څخه هر اړخېزه ارزونه نه ده کړې . او د اسلام تر شعار لاندې ده چې سترتيري د دولت پر وړاندې د توپک خوله را تاووي ، ښايي د یوې کوشنۍ استثنأ په منلو پاتې ټول وګړي پر دین ګروهن وګړي وي. له دې امله ده چې هغوی له موږ غواړي ملایې ور وتړو او یاغیان په هرات کې ورته و ټکوو. امین پر نا ډاډه او نېمکه ژبه راته وویل چې د پوځ لپاره ملاتړ لا تر اوسه شته. او یو ځل بیا کټ مټ د ملګري تره کي په شان یې د مرستې غوښتنه وکړه .

کریلینکو: داسې برېښي چې هغوی پر خپل پوځ ډاډ نه لري . هغوی یوازې زموږ په یوه شي زړه ښه کوي چې زموږ شوبلې او زغره وال موټر بلل کېږي .

کاسیگین : د مرستو په تړاو د دغسې ژمنو د نوم پېژندن په لړ لېک کې د هغو له منځه و راپورته کېدونکو پایلو ته باید په کلکه پاملرنه وکړو. خبره په ډېره کلکه توګه د پاملرنې وړ ده .

اندروپوف : ملګرو ! ما دغه خبري په زغرده او ژوره توګه څیړلې او دې پایلې ته رسېدلای یم چې هغه کسان چې په افغانستان کې د پوځ پلي کولو ته زړه ښه کوي باید له هغه څخه راپورته کېدونکو پایلو ته دې په کلکه او بیا هم په کلکه پاملرنه وکړي. موږ ټولو ته څرګنده ده چې له سوسیالیزم سره مخامخ کېدونکی افغانستان دې ته چمتو نه دی چې خپلې ستونزې په خپل سر حل کړي. د هېواد اقتصاد ډېر وروسته پاتې دی ، د اسلام دین بر لاسی دی ، او په کلیو او بانډو کې نیږدې ټول وګړي لمېسانده 'لېک لوستي' نه دي . موږ د انقلابي حالاتو په تړاو د لینین له لارښوونو پوهېږو. د افغانستان د اوسنیو حالاتو په اړه چې اوس موږ ورباندې خبرې کوو د انقلابي حالت په اړانه کې نه ځایېږي. له دې امله زه ګروهن یم موږ د افغانستان له انقلاب سره یوازې د خپلې شلګرې 'نېزې" په مټ مرسته کولای شو او دماتېدلو مخه یې نیولای شو او دا موږ ټولو ته د منلو وړ نه ده. موږ نشو کولای دغسې غښکه 'خطر' ومنو .

کاسیگین : ښايي موږ وکولای شو خپل سفیر ملګری وینوګاردوف د ایران سروزیر بازرګان ته ولېږو او له غوږه یې ور تېره کړو چې د افغانستان په کورنیو چارو کې لاسوهنه د زغم وړ نه ده .

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



گرومېکو: زه په بشپړ ډول د ملګري اندروپوف د خبرملاتړ کووم او افغانستان ته زموږ د پوځ د لېږلو خبره غندم. د هغه هېواد پوځ د ډاډ وړ نه دی. له دې امله کله چې زموږ پوځ په افغانستان کې پلی شي نو د یرغلګرپه سترګه ورته کتل کېږي. موږ د چا پر وړاندې وجنګېږو؟ په لومړي سر کې به د افغانانو پر وړاندې وجنګېږو او پر مخونو به یې مردکي و اوروو. ملګري اندروپوف په سمه را څرګنده کړه چې د افغانستان حالات د انقلاب لپاره پاخه نه دي. ټولې هغه هڅې به چې په وروستیو کلونو کې مو د وسلو د کچې د راټېټولو او دیتانت په تړاو کړي بې ګټې شي او ډیر شیان به له لاسه ورکړو. څرګنده ده چې چین به یو ښه دریز تر لاسه کړي .ټول غیر ټلوال هېوادونه به زموږ پروړاندې ودریږي . په بله وینا له دغسې کړنې څخه به ویروونکې پایلې را وخوټیږي . د لیونېد برژینیف او کارتر منځ غونډه به له منځه ولاړه شي ، او دمارچ د مباشتې په پای کې به د ګیسکارډ دی ایستنګ ( والري ګیسکارډ دی ایستنګ له ۱۹۷۴ تر ۱۹۸۱ پورې د فرانسې ولسمشر - ژ) کتنه به تر پوښتنې لاندې ونیول شي. یو څوک خو دې پوښتنه وکړي چې څه به ترلاسه کړو؟ د افغانستان اوسنی دولت ، د هغه وروسته پاتې اقتصاد، په نړیوالو چارو کې د هغه بې اغیزه ونډه. له بلې خوا که له قانوني اړخه ورته ځیر شو موږ نشو کولای د سرتېرو د لېږد خبره په قانوني اډانه کې راونغاړو. د ملګرو ملتونو د چارتر پربنسټ یو هیواد هغه مهال له بل هېواد څخه د مرستې غوښتنه کولای شي کله چې تر بهرني یرغل لاندې راسي او بیا موږ کولای شو خپل سرتیري ور واستوو. افغانستان خو تر بهرني یرغل لاندې نه دی راغلی. دا د دغه هېواد کورنۍ چارې دي ، د انقلاب کورنۍ ستونزې ، د وګړو د یو شمیر ډګړه له بلې شمیرې سره. هېښنده خو دا ده چې افغانانو په رسمي ډول له موږ نه دي غوښتي چې موږ خپل سرتیري ورولو .

په بله وینا اوس موږ د حالاتو هغه هېنداره ګورو چې په هغې کې د هیواد د مشرتابه د کلکو تېروتنو له تل څخه کړکېچ را پارېدلی او مشرتابه اجازه ورکړې چې حالات د کړکېچ لوری ته ودرومي او پره یې بیا هم په لوړ پوړو نه پریوزي او بل دا چې د وګړو ملاتړ ورسره نسته .

کریلینکو : کله چې پرون مو پردغو سکالو خبرې کولې افغانانو له موږ څخه د سرتیرو د پلې کولو غوښتنه نه وه کړې ؛ نن حالات پر بل مخ واوښتل. په هرات کې نه یوازې یو کنډک بلکه ټوله فرقه یاغیانو ته ور اوښتې ده. موږ ته له امین سره د پرون له خبرو څرګندیږي چې وګړي د تره کي د رژیم ملاتړ نه کوي. آیا زموږ سرتیري به په رښتیا له هغوی سره هلته مرسته وکولای شي؟ په داسې حالاتو کې شوبلې او زغروال ګاډي نشي کولای هر څه وژغوري. زه ګومان کووم چې موږ باید تره کي ته په برالا ، څرګنده او پریکړې ډول ووایو چې موږ یوازې کولای شو ستاسو د کړنو ملاتړ د هغو خبرو په اډانه کې وکړو چې پرون او نن مو پرې خبرې وکړې ، او په هېڅ حالت کې موږ نشو کولای په افغانستان کې خپل سرتیري پلي کړو .

کاسیګین: کولای شو هغه دلته را وغواړو او ورته ووایو چې موږ به تاسو ته د خپلو مرستو کچه لوړه کړو خو نشو کولای خپل سرتیري در واستوو، ځکه چې موږ به نه یوازې ستاسو د پوځ پروړاندې چې اوس یاغي شوی او سترګې پر لاره دی ، وجنګیږو بلکه ستاسو د ملکې وګړو پر وړاندې به هم په جګړه کې راښکېل شو. زموږ لپاره به ډیرې

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



ناوړه پايلې ولري. د هېواد ټول پوځي غـُندونه به په لنډ مهال کې زموږ پروړاندې توپک را واړوي. او موږته هېڅ مثبتې پايلې نه را په برخه کوي .

اندروپوف: موږباید په ډاګه ملګري تره کي ته ووايو چې د سرتيرو د پلي کولو له سکالو پرته موږ ستاسو هر راز مرستې ته چمتو يو .

کاسېګين: : کولای شو هغه دلته را وغواړو او ورته ووايو چې موږ به تاسو ته د خپلو مرستو کچه لوړه کړو خو نشو کولای خپل سرتيري در واستوو .

کريلينکو: د افغانستان دولت په خپله د حالاتو د کابو کولو لپاره تر اوسه هېڅ نه دي کړي . او د هغه ترڅنګ په پوځ کې سل زره جنګيالي لري. څه يې کړي دي؟ کوم ښه کارونه يې کړي ؟ څرګنده ده چې هېڅ يې نه دي کړي. ملګرو! خبرې ډيرې سر يې يو ، موږ افغانستان ته تر ټولو ډيره ښه مرسته ورکړېده .

ټولو! و منله

کريلينکو: موږ هر څه ورکړي دي. له هغه څه را په برخه شوي دي؟ د هغه په بدل کې موږ ته هېڅ نه دي را په برخه شوي . خبرې ډيرې سر يې يو ، دا دوی ول چې بې ګناه وګړي يې په نه کړې ګناه ووژل او ان دا چې د خپلو کړونو لپاره يې موږ ته دلېلونه را وړاندې کړل ، کټ مټ لکه هغه وخت چې د لېنين په وخت کې وګړي ووژل سول . اوس تاسو ورته وګورئ چې څه ډول مارکسيستانو مو ومونډل .

د پرون په پرتله نن حالات بدل شوي . پرون ، لکه څنګه چې مخکې مې وويل موږ ټولو په يوه غږ ومنله چې موږ به پوځي مرسته کوو خو دغه خبره مو په ډېر ځير وڅېړله او ډيرې لارې چارې مو په پام کې ونېولې ، د سرتيرو د پلي کولو پرځای د نورو لارو چارو د لټون په هڅه کې شوو. زه ګروهن يم چې موږ دې خپل اندونه له ليونېد ايلييچ سره ګډ کړو چې ملګری تره کی ماسکو ته را وبلو او ټول هغه څه ورته په څرګنده ووايو چې موږ ټولو ورباندې په يوه غږ سلا کړېده .

ښايي دا سمه به وي چې موږ په ايران کې خميني اوبازرګان او پاکستان ته ځانګړې خبرتيا ور وليږو؟

اندروپوف: موږ بايد ملګری تره کی دلته را وبلو .

کاسيګين: زه ګومان کووم چې له ليونيد ايلييچ سره له خبرو وروسته ښه به دا وي چې يوه الوتکه نن کابل ته واستوو .

کريلينکو: ملګری کاسيګين دې له ملګري تره کي سره خبرې وکړي. که هغه وغواړي چې د ماسکو پر ځای په تاشکند کې پاتې شي نو ملګری ليونيو ايلييچ به له هغه سره هلته وګوري .

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



گرومېکو: زه گومان کووم چې ښه به دا وي چې د سياسي وينا له چمتو کولو دې وروسته له ملگري تره کي سره خبرې وشي .

اندروپوف: موږ بايد د پاکستان او له ياغيانو څخه د هغه د ملاتړ په تړاو د لیکنو په خپرولو پيل و کړو.

اوستينوف: زماپر گومان موږبايد د مرستو د ورکړې هغې لړۍ ته چې پرون پرې سلاشوو ، دوام ورکړو .

ټولو! ومنله

اوستينوف: يوازينۍ شی چې پاتې کېږي دا دی چې موږ بايد د سترتيرو د ليږلو او پلي کولو خبره يوې خواته پريږدو .

کاسيگين : په لنډ ډول ، د سرتيرو د ليږلو له خبرې پرته د افغانستان د مرستې په تړاو موږ پل هېڅ شي ته بدلون نه ورکوو. هغوی بايد په خپله د دولت دننه او د لارو چارو د موندلو لپاره دې د پازوالی پيتې په خپله په خپلو اوږو پورته کړي. که موږ د هغوی لپاره هر څه وکړو ، د هغوی له انقلابه ساتنه وکړو ، نو هغوی ته د کولو لپاره څه پاتې کيږي؟ هېڅ ! موږ په هرات کې ۲۴ تنه سلاکاران لرو. او موږ بايد هغوی له دغه ولايته را وباسو .

زميانـين : تر کومه ځايه چې د تر لاسه نيولو شويو مرستو په تړاو تبليغاتي کمپاين ته نغوته کېږي موږ د افغانستان په اړه لیکنې چمتو کړې. همدا شان موږ د پاکستان او له ياغيانو سره د چين د پوځي مرستو په تړاو لیکنې چمتو کړې دي . موږ به نن د غه لیکنې په ورځپاڼو کې خپرې کړو .

ټولو! ومنله

چرنينکو: ملگرو! موږ بايد پرېکړه وکړو چې څوک ملگري تره کي ته بلنه ورکړي؟

کريلينکو: دا دې ملگری اې ان کاسيگين تر سره کړي . هغه ته دې تيلفون وکړي او هر ځای چې نوموړي غوره گڼې يا دې ماسکو يا تاشکند ته راوبلل شي .

[ دغه غونډه د مارچ په اتلسمې همدلته پای ته ورسېدله]

برژنف : ملگرو! په افغانستان کې د پېښو له راپورته کېدلو سره سم زه پر هر څه خبرېدلم ، ما ته د هغو په اړه ويل کېدل. ماته له امين سره د ملگري اې اې گرومېکو او د ملگري ډی ايف اوستينوف د خبرو خبر راکول کېده ، د هغو پېښو په اړه چې پرون رامنځ ته شولې او همداشان د ملگري اې ان کاسيگين د خبرو په اړه چې له ملگري تره کي سره يې کړې وې خبر راکړل شو .

ما ټول هغه لاسوندي لاسلیک کړل چې له مخې يې د پوځي اړينو مهماتو په گډون د ځانگړو توکو د لېږدونې چارې تر سره کېږي ، په هغو سکالو اړوند لاسوندي چې له مخې يې د اداري او سياسي چارو د سمبالولو سکالو تر سره کيږي لاسلیک شول ، او ملگري اې ان کاسيگين ته واک او دنده وسپارل شوه چې له ملگري تره کي سره اړيکه ټينگه

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



کړي ، او هغه لاسوندي مې هم لاسلیک کړل چې په ترڅ کې یې رسنیو ته د افغانستان د پېښې په اړه د لېکنو د خپرولو لاره پرانیزي . خبرې ډېرې سرېې لنډ ، زما په اند ټولې هغه لارې چارې چې د شوروي د کمونیست گوند د مرکزي کمېټې د پریکړو په کارلېگ کې د پیلنۍ "شنبې " په ورځ را غونډې شوې وې ، هغه لارې چارې چې د پیلنې او یوه نۍ "یکشنبې" په ورځ د غونډو په ترڅ کې منل شوې وې سمې دي .

اوس به راشو د هغې راپورته شوې پوښتنې اړخونو ته چې په افغانستان کې د راپاڅېدلو حالاتو په تړاو زموږ د پوځ بیړني گډون ته نغوته کوي . زه گومان کووم چې مرکزي کمېټې په څرگنده او سمه توگه ځانته روښانه کړه چې اوس هغه وخت نه دي چې زموږ پوځونه دي په افغانستان کې راښکېل شي .

موږ باید ملگري تره کي او نورو افغان ملگرو ته څرگنده کړو چې په هیواد کې د هر څه د پلي کولو لپاره موږ ستاسو ترڅنگ د مرستې لپاره چمتو یو. خو په افغانستان زموږ د پوځونو ښکېلتیا به تر ټولو لومړی دوی او ورپسې موږ ته ستر تاوانونه را په برخه کړي. د دې ترڅنگ موږ باید د ملگرو اې اې گرومېکو ، ډی ایف اوستینوف ، وای ؤي اندروپوف او اې ان کاسیگین گزارشونو ته غوږ ونیسو چې د هغو په اوربدلو به موږ د لارو چارو د لړۍ منلو ته وروستۍ ټکی کیږدو چې د افغانستان د ستونزې د هوارۍ او د مرستو د پلي کولو لپاره یې وروستني کړي دي .

گرومېکو: نن موږ باید د افغانستان د حالاتو په اړه پر حساسې پوښتنې وغږېږو. موږ په هیواد کې د پېښو د پرمختگ لړۍ له نېږدې څارلې او سفارتي کارکوونکو او سلاکارانو ته لارښوونې ورکړي دي. موږ ، که ووایم ، په سیستماتیک او پرله پسې ډول د ورځې په اوږدو کې په افغانستان کې له خپل استازي څخه پراخ او هر اړخیز مالومات تر لاسه کړي .

تر دغه نن پورې موږ څه په لاس کې لرو؟ په افغانستان کې په یو شمېر ولایتونو کې له ټولو مخکې په هرات کې د یاغیانویوشمیر پاڅونونه راپارېدلې دي. دوی له کوم ځایه راغلي دي؟ هغوی د ایران او پاکستان له خارو څخه را استول شوي دي . هغوی ټول د ملگري تره کي د رژیم دښمنان دي . په افغانستان کې د پلي کېدلو پر مهال دغه دښمنان د دې لپاره چې خپل رښتوني مخونه پټ کړي افغاني جامې یې اغوستلې ، او شمېره یې لس گونور زرو ته رسیږي او سرونه یې په هرات کې را څرگند شوي دي ، بلوا گانو ته یې لمنه وهلې ، او موږ له هراته د دغسې گزارشونو رسیدلو ته سترگې په لار نه وو. هلته یوه دولتي فرقه سته او دنده یې د قانون او ټېکاو ساتل ول. خو رښتیا دا ده چې د دولتي ځواکونو دغه برخه هم له یاغیانو سره یو ځای شوې ، مردکي و اوربدل او ډېره درنده مرگ ژوبله یې رامنځ ته کړه ؛ له زرو زیات کسان ووژل شول .

ما په افغانستان کې د را پورته شویو حالاتو په تړاو د هیواد د سروزیر له مرستیال او د بهرنیو چارو له وزیر امین سره په هر اړخیزه توگه خبرې وکړې. سپینه به یې ووایم چې په لومړیو کې له حالاتو څخه د هغه ارزونه زموږ اندېښنې را غلې کړې ، موږ د هغه د ارزونو تر اغیزو لاندې راغلو ، او بیا په ناڅاپه د امین سترگې پر بل مخ د ورانۍ

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



لور ته واوښتلې او په خپله يې وويل چې په هرات کې ټوله مېشته فرقه له سره تر پايه د ياغيانو خواته ور اوښتې. په هرات کې د پېښو د اخ او ډب له تود والي سره سم ملګري ديمتري فيدرويچ له امين سره خبرې وکړې ، او په پرېکنده او ځرګند ډول يې ورته وويل چې د شوروي سوسياليستي جمهوريتونه دې په هرات کې خپل سرتيري پلي کړي. دا لکه د پوليسي داستان يوه ناول ته ورته کېږي چې افغان مشرتابه په ځانمـنـې غواړي دغسې يوه بڅرکې "جدي" غوښتنه را پورته کړي .

له هغه وروسته ملګري اې ان کاسيګين له ملګري تره کي سره خبرې وکړې او هغه ته هم وويل شول چې په افغانستان کې حالات ډير بد دي ، او په هرات کې يې زموږ د ځواکونو د پلي کولو غوښتنه وکړه. له ايران او پاکستان سره دافغانستان دواړه ګډې پولې پرانيستي دي. زموږ سلاکارانو هغوی ته د بيړنيو وړانديزونو لړۍ وړاندې کړه خو هغوی ور ته غوږ ونه نيو .

نن موږ د هرات په ګډون ګزارشونه تر لاسه کړل چې حالات په ټوليزډول بد نه دي : تر ټولومخکې دوه کنډکونه دولت ته پاليالـه پاتې شوي . دا چې درواغ دي که رښتيا زه څه ويلای نسم خو دا هغه ګزارشونه دي چې موږ ته را رسيدلي دي .

موږ بايد له ټولو بشپړو دلايلو سره وانګيرو چې نه يوازې په افغانستان بلکه د سېمې په ګاونډيو دولتونو کې د چين په ګډون ټولې پاروني د امريکا له خوا تر سره کيږي. او پته دې نه وي چې چين ، پاکستان او ايران په دغو پېښو کې خپله ونډه تر سره کوي .

پرون له کابله يو شمېر زړه هڅوونکې ګزارشونه ترلاسه شوي چې د دولت په ملاتړ يو شمېر لاريونونه وشول. خو لکه څنګه چې بايد وي په افغانستان کې د دولت دريز په ځرګند ډول تر واک او څار لاندې نه دی .

طبيعي ده چې موږ د افغانستان د حالاتو په اړه له راپورته شويو ننګونو څخه مخ نه شو اړولای . خو زما ګومان کوم چې موږبايد خپل دريزونه او خپل سياستونه يوموټې کړو او خپله تګلاره د پيښې هرې خواته په کتلواو څېړلو پلي کړو. د بېلګې په توګه که موږ د ځواکونو د پلي کولو ويره ومنو خوپايله به يې دا وي چې د مثبتو ټکيو په پرتله به موږ ډير منفي ټکي وګټو. موږ لاتر اوسه نه پوهېږو چې د افغاني پوځ غبرګون به څه وي. که افغان پوځ زموږ ملاتړ و نه کړي او يا بې پرې او ناپيېلی پاتې شي ، نو پايله به يې دا وي چې موږ د افغانستان د نيواک لپاره تللي يو. د دغه کار په کولو به موږ خپلې بهرنۍ تګلارې ته د نه منلو سترې او پيچلې ستونزې را وکـټـوو. موږ به هغه لاس ته راوړنې چې په ډيرو خواريو مو ترلاسه کړي، بيرته له لاسه ورکړو ، د ساري په ډول ديتانت ، د دويم سالټ خبرې به يوې خوا ته پرېښودل شي ، هيڅ ډول تړونونه به لاسليک نه شي ( او که تاسو ښه ورته ځير شي دا زموږ د سياست تر ټولو ستر لومړيتوب دی ) ، د ليونېد ايلييچ او کارتر منځ کتنه به ترسره نه شي، او ډير شک او شوپيان به وي چې

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



ګېسکارډ دي ایستانګ به دلته راشي او له موږ سره به وګوري ، او له لویدیځي نړۍ په ځانګړې توګه له ایف آر جي سره زموږ اړیکې به دړې وړې شي .

د افغانستان ستونزمنو حالاتو ته په کتلو سره سره ، موږ نه شوکولای چې د سرتیرو په لیږلو سره په پېښه کې ښکېل شو .

هېښنده ده ، موږهېڅ نه پوهېږو چې افغانستان ولې له پاکستان سره دومره ځېږ چلند کوي او څرګنده ده چې پاکستان د افغانستان په چارو کې لاسوهنه کوي. پرون د افغانستان دولت یو انګروزی (وینا) خپور کړ خو ژبه یې په بشپړ ډول پرېکنده نه وه .

موږ افغانستان ته ستره مرسته ورلېږو. له دغې مرستې څخه به د افغانستان دولت په څه ډول ګټه واخلي ، اټکل به یې ګران وي ؛ د حالاتو رغاونه هم ستونزمنه ده. خو له دې سره سره موږ نه شو کولای پرهغه د پای ټکې کېږدو. زه ګومان کووم چې که افغان دولت خپل ځان په داسې یوه پیاوړي دریز کې ځای پرځای کړي چې خپلې ټولې کړنې له یو بل سره په سمه همغږې کړي ، ښایي حالات ښه والي ته مخه کړي .

کاسیګین : ماپرون له ملګري تره کي سره دوه ځله خبرې وکړې . هغه وایي چې هلته هر څه دړې وړې کېږي او موږ باید خپل سرتیري ور واستوو او په ټول افغانستان کې د هرات په شان حالات کړکیچن شوي دي. نوموړی وایي چې که هرات له لاسه ورکړو نو هر څه به له لاسه ورکړو. د هغه په اند د افغانانو په جامو کې پاکستان غټ شمیر جنګیالي را لیږلي دي. د هغه د شمیرنې پربنسټ ۴۰۰۰ تنه دغسې کسان رالیږل شوي دي. تر اوسه پورې د هرات په هوایي ډګر کې پینځه سوه تنه ځای پرځای شوي دي. ما ورڅخه وپوښتل چې په هرات کې ستاسو ترڅنګ څوک ولاړ دي؟ ملګري تره کي ځواب راکړ چې په بنسټېزډول د هرات ټولو وګړو د مذهبي بنسټپالو خوا نیولې ده . هغه وویل چې په هرات کې یوازې له دوه سوه تردوه سوه پینځوس تنه دي چې د ټولو چارو سمبالتیا کوي. ما له هغه پوښتنه وکړه چې په هرات کې کارګران شته؟ هغه وویل چې هلته تر دوه زره تنو کارګران دي. ما له هغه وپوښتل چې ستاسو په اند آیا د هرات لپاره کومه هېله پاتې ده ؟ هغه په زغرده راته وویل چې هرات به سبا له لاسه ووځي ، خو تر دغه دمه زموږ په لاس کې دی .

هغوی د نویو ټولګیو د جوړلو په لټه کې دي چې هرات ته یې واستوي . د ملګري تره کي په اند هلته د نوي رژیم مخالفین په هره کچه او له هره اړخه له یو بل سره راټول شوي ، له یو بل سره به یو موټي سي او دا به د ده ددولت پای وي. هغه یو ځل بیا زموږ له سرتیرو څخه د مرستې غوښتنه وکړه. ما ورته وویل چې په اوسني وخت کې ستاسو وړاندیز ته ځواب نه سم درکولای. ما وویل چې موږ دغه غوښتنه په ځېر څېړو ، موږ به خپله ارزونه وکړو اوبیا به تاسو ته ځواب درکړو .

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



تاسو گورئ چې د ملګري تره کي له خبرو اترو څخه په هېڅ ډول ښېره وره (حاصلخيزه) پايله را ونه ختله. هغه د هرات له راپرځېدنې خبره وکړه او زموږ د سرتيرو د پلي کولو غوښتنه يې وکړه. ما ورته وويل چې تاسو له موږڅه غواړئ ، تاسو غواړئ چې پوځي او سياسي ګامونه په ګډه راپورته کړو. تره کي راته وويل چې تاسو په خپلو الوتکو او شوبلو افغاني نښې ولګوئ او اجازه ورکړي چې له افغاني کرښې پرهرات را واوړي . ما ورته وويل چې دا به زموږ له خوا د شوروي د سوسياليستي جمهوريتونو له پلوه پرافغانستان يو نيغ پرنيغه يرغل وي .

ما له هغه وپوښتل چې آيا تاسو کولای شي له افغاني اړخه سرتيري ، د شوبلو او زغره والو ګاډو چلوونکې را و غواړئ (راجلب کړئ) ؟ هغه وويل چې دا به وشي ، خو ډير لږ به وي.

ما ورته زموږ له پريکړې څخه وويل چې موږ به تاسو ته پراخه هر اړخېزه مرسته در ورسپارو او نور سلاکاران او کارپوهان به در ولېږو .

په طبيعي ډول موږ بايد افغانستان د خپل ملګري دولت په توګه وساتو. پر هغه سربېره ، داسې ښکاري چې موږ بايد له پاکستان څخه د يوه ګواښلېک له لارې وغواړو چې په افغانستان کې لاسوهنه د زغم وړ نه ده . د ايران په اړه دې هم ورته ګام اوچت شي . پيغام بايد نېغ پر نېغه خميني او بازرګان ته وي . موږ بايد له ايران سره د ورته لاسوندو پربنسټ راوړاندې شو .

ډيره ښه به وي چې له ايران او پاکستان سره کرښې وتړل شي.

ماته دا پرڅای ښکاري چې موږ دې افغانستان ته يو تکړه او ښه سفير واستوو. د ملګري تره کي له خبرو داسې ښکاري چې دې ان لا تر اوسه نه پوهېږي چې څنګه او پرچا دولت وچلوي . هلته ډير سياسي کار اړين دی ، او د دغه په کولو به موږ يوازې دومره و کولای شو چې افغانستان د يوه متحد او ملګري هيواد په توګه وژغورو .

برژنيف : نن دې پاکستان او ايران ته لېکونه واستول شي .

اوستينوف : امين له ما سره پرون سهار خبرې وکړې . مخکې له دې چې له ليونېد ايلييچ سره سلا وکړم ، هغه ته مې د پراخو هر اړخېزو مرستو په اړه وويل او ټېنګار مې وکړ چې موږ به يې در وسپارو. امين وويل چې شوروي اتحاد زموږ پوخ بنسټېز او تر ټولو نېږدې ملګری دی . بيا يې له ايران او پاکستانه سر ټکونه پيل کړه چې ګڼې د چينايي سلاکارانو په لاس روزل شوي غټ شمېر ورانکاران د پاکستان د خاورې له لارې چې په چينايي وسلو او پوځي اوزارو سمبال دي د افغانستان د کرښو له لارې هيواد ته را استول کېږي .

په افغانستان کې د لويو ځمکوالو په پلوي کې ډير پياوړی مخالف ځواک ولاړ دي .

بيا يې خبره پر هرات را واړوله ، او د تره کي په شان يې له موږ د ټانکونو د ور لېږلو غوښتنه وکړه . ما هغه ته د ټاکل شويو مرستو په اړه وويل چې موږ به يې افغانستان ته د وسلو ، خوراکي توکو او مهماتو په توګه در ولېږو. هغه

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



وویل چې زموږ سترګې دغې مرستې ته نېغې وې ، خو هغه څه چې دوی یې په بیړنۍ توګه غواړي دا ده چې موږ خپلې شوبلې ور واستوو .

برژنیف : د هغوی پوځ دړې وړې کېږي ، او له موږ غواړي چې د جګړې ټول پیټی په خپله غاړه واخلو .

اوستېنوف : موږ په افغان پوځ کې د کارپوهانو اوژباړونکو لویه شمېره لرو. ما امین ته وویل چې موږ به نور ژباړونکي درولېږو .

که د سکالو تل او ژورې ته ننوځم باید ورغبرګه کړم چې موږ له افغانستانه هېڅ معلومات نه لرو،د کابل او هرات تر منځ هېڅ اړیکه نسته. هلته یوازېنی کوشنی برېښنا کوټ دی ، په پای کې یاغیانو سېمه ییز دولت نسکور کړ او غرونو ته وختل .

د هرات حالت نن نه تریوه برېده ښه وو. دا یو آرام ښار دی. څرګنده ده چې موږ به هلته په بیړنۍ تخنېکي مرسته ولېږو. موږ به ددغو مرستو یوه ستره برخه واستوو. موږ د ترکستان په پوځي لښکرکوټ کې دوه فرقې او په مرکزي اسیا کې یوه فرقه جوړوو. موږ درې کنډکونه لرو چې د دریو ساعتو په ترڅ کې افغانستان ته رسیدلای شي خو زه یوازې دومره په ټېنګاروایم چې موږ باید د تیارسـئ په حال کې و اوسو. زه د نورو ملګرو په شان په افغانستان کې د سرتیرو د پلي کولو ملاتړ نه کووم. زه د افغانستان له لېکو سره په ګډو پولو کې د تخنیکي تمریناتو د ترسره کولو او د فرقو او کنډکونو د جوړلو د اجازې وړاندېز کووم .

باید ور غبرګه کړم چې افغان دولت ډیري سکالو (موضوعات) په ډېرې بې سېکه او ناسمې توګې تر سره کوي او په دغسې حالاتو کې زموږ د کارپوهانو لپاره ډېره ګرانه ده چې ورسره کار وکړي .

اندروپوف : موږ د حالاتو د ستومنزتیا په پام کې نیولو سره باید د لارو چارو د موندلو لپاره پریکړه وکړو چې څه وکړو. سربیره پرهغه حالات په خپله د ډاډ وړ ندي. موږ باید یوه شو چې په افغانستان کې څه تیریږي. دا ستونزه له مشرتابه سره ده . مشرتابه خپل ملاتړی ځواک په رسمېت نه پیژني او نه پوهیږي چې پر چا ملا وتړي. د بېلګې په توګه نن په کابل او هرات کې ستر لاریونونه وشول خو مشرتابه له هغه څخه په اړېنه توګه ګټه پورته نه کړه . نه یوازې په پوځ بلکه په ټولېز ډول په ټولنه کې ښونیزې او روزنیزې هڅې په ډېرې بې سېکه (ضعیفې) توګې سمبال شوې دي. هغوی خپل سیاسي مخالفین زېندی کوي. ځوک راډیو ته غوږ نه نیسي او خپرونې ډېرې بې سېکه دي. موږته اړېنه چې له هغوی سره د ګرځنډو اړېکتیايي توکو او راډیوګانو په برابرولو کې مرسته وکړو .

سره له دې چې امین ټول واک په لاس کې درلود خو یوازې پرون یې د اعلی سرقوماندان او ددولت د ټولو چارو د پازوال په توګه هم ومانه. دا هغه لاره ده چې غواړي په مشرتابه کې سیاسي واک لا نور پراخه کړي .

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



زموږ له اړخه هلته موږ د ګوند لپاره د لوی سلاکارملګري واسيلوف تر مشرۍ لاندې ډېر سلاکاران لرو. زما په اند هغه (امين) د دغه کار وړتيا نه لري او له حالاتو سره په بد ډول چلند کوي. زما په اند ښه به دا وي چې د مرکزي کمېټې يو شمير فعالين هلته واستوو. ډېر سلاکاران هلته شته. همدارنګه د کي جي بي له څانګې څخه ډېر سلاکاران هلته ځای پر ځای دي .

تر هغه ځايه چې د ځواکونو دېلي کولو خبره ده ، زما په اند دا به موږ ته اړينه نه وي چې د دغسې يوه ګام پورته کولو ته زړه ښه کړو. که سرتيري پلي کړو دا په دې مانا ده چې د وګړو پروړاندې به د جګړې پيټی پر اوږو واخلو، وګړي به له منځه يوسو او مردکي به پرې واورو. موږ به يرغلګر سو او موږ د دغه کار د کولو اجازه نه شو ورکولای .

پونومارييف: موږ په شوروي اتحاد کې ۴٦۰ افغاني پوځي پرسونل لرو. دوی ټول روزل شوي پوځي کارپوهان يا کادرونه دي ؛ دوی بايد افغانستان ته ولېږل شي .

اوګارکوف: افغانانو له موږ غوښتنه کړئ چې د ١٦۰ تنو افسرانو د روزنې چارې ورچټکې کړو .

اوستينوف : موږ بايد له ملګري تره کي سره خبرې وکړو چې دغه کسان د کدرونو په توګه ور ولېږو .

کېټينوف : تر هغه ځايه چې د ګوند ترلوی سلاکار ملګري واسيلوف پورې اړه لري ، هغه ښه سړی دی. هغه له موږ سره د مرکزي کمېټې د پلټونکي په ټوګه کار کړی او په دغو وروستيو وختو کې يې په بشکيرسک کې د ګوند په ټولنيزې کمېټې کې د دويم مرستيال په توګه کار کړی دی . هغه ځوان او تکړه ملګری دی .

اوستينوف : زموږ ټول ګوندي سلاکاران کاری وړتيا په بشپړه توګه نه لري او يوازې څو تنه يې دي چې دغه وړتيا لري ، ګومان کووم پينځه تنه دي ، خو هر څه چې وي ، بايد ژر تر ژره يې تر سره کړو .

کېټينوف : سمه ده ، او رښتيا ده چې موږ د ملګري واسيلوف تر مشرۍ لاندې پنځه تنه کاري او تکړه کسان لرو . خو اوس موږ د نورونويو ملګرو د ټاکلو په درشل کې يو او هلته به يې واستوو .

برژينف : زه ګومان کووم ددغو پينځو ورځو په ترڅ کې مو کومې لارې چارې چې څېړلې ، بايد ومنو اولاسلېک يې کړو .

ټولو : ومنله

برژينف : اړينه ده چې زموږ تر څار لاندې وړ او ټاکل شوي ملګري پورتنۍ پريکړې په رغنده ، کلکه او په خولې تويولو پلي کړي او که د افغانستان په تړاو هرپوښتنه راپورته کيږي نو سياسي بيروته دې وسپاري .

ټولو : ومنله

برژينف : پرهمدغه بنسټ موږ پريکړه کوو چې :

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



سبا د مارچ شلمه نېټه ملګری تره کی راوبلو

خبرې اترې به ملګري ،اې ان کاسيګين ،اې اې ګرومېکو او ډی ايف اوستين پرمخ يوسي.

ټول : ډيرښه

له دغې پريکړې سره سم ، غونډه پای ته ورسيدله

**سرچېنه:**

{ Storage Center for Contemporary Documentation (TsKhSD), Moscow; Fond 89, Prechen 25, Dokument 1, Listy1 , 12-25}

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



## دالکسي کاسيگين او تره کي ټيلفوني خبرې

د الکسي کاسيگين او د افغان ولسمشر نورمحمد تره کي ترمنځ د تيلفوني خبرو اترو لېکل شوې بڼه ۱۹۷۹ کال د مارچ ۱۷ يا ۱۸ [نوټ: د سېمې د واټن پربنسټ او د وختونو په پام کې لرلو سره د مارچ ۱۷ او ۱۸ دواړه يوه نيټه رانغاړي � ژ ]

ژباړه : رحمت آريا

کاسيگين : له ملګري ترکي پوښتم چې دافغانستان د اکر يا حالت په تړاو مالومات راکړي .

تره کي : د افغانستان حالت مخ پر وراپندو دی

کاسيگين: تاسو په هرات کې د کارګرو، د ښار د اوسېدونکو، کوشنيو پانګوالو او سپين ګريوانو کارګرو په منځ کې ملاتړ لرئ؟

تره کي: د وګړو له پلوه فعال يا کارنده ملاتړ نسته. ښارد شيعه ډلې تر شعارونو لاندې راغلي او وايي چې د کفارو په لارپسې مه ځئ او زموږ لار غوره کړئ. دغو ډنډورو او شعارونو حالت تر اغيزې لاندې راوستـئ .

کاسيگين: آيا هلته د کارګرو شميرډيردی؟

تره کي: ډير لږ. د ۱۰۰۰ تر ۲۰۰۰ تر منځ

کاسيگين:له حالاتو څخه جاج اخيستنه مو څنګه ده؟

تره کي: موږډاډه چې ميرڅی به نوي ډلګي جوړکړي او د يرغل لمنه به پراخه کړي

کاسيگين: تاسې ځواکونه نه لرئ چې هغوی دړې وړې کړي؟

تره کي: کاشکې مو درلودای

کاسگين: ددغې ستونزې په تړاو څه وړانديزلرئ؟

تره کي:موږغوښتنه کړې چې تاسودعملي او تخنېکي مرستو لړۍ د وسلو اوسرتيروپه ګډون راوغځوئ .

کاسيگين: دا ډيره پيچلې ستونزه ده.

تره کي: ايران او پاکستان د ورته تابيا يا پلان پربنسټ زموږپروړاندې کارکوي. له دې امله که تاسو پرهرات يو پريکنده يرغل وکړئ نوزموږانقلاب به وساتل شي .

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



کاسیگین: ټوله نړۍ به د سترګو په رپ کې پرې خبره شي. یاغیان د راډیو ګانوګرځنده لیږدونکې دستګاوې لري او دهغه ګزارش به نیغ پر نېغه نړۍ ته ورکړي .

تره کي: ما له تاسو د مرستو د غځولو غوښتنه کړې

کاسیګین: موږباید ددغې لانجې په اړه خپلوسلا مشورو ته دوام ورکړو. تاسو د ایران له پرمختلونکي غورځنګ سره اړیکه لرئ؟ ورته نه ښـئ ویلای چې چې د امریکا متحده ایالات ستاسو اود هغوی ګډه دښمنه ده؟ ایرانیان له امریکا سره ټینګه دښمني لري او په پای کې کولای شو دغه خبره د پروپاګند یا تبلیغ په توګه وکارول شي. تاسو زموږ له اړخه د څه ډول سیاسي بیانیې یاپه بهرنیو چاروکې د څه ډول سیاسي ګام د اوچتولو لپاره سترګې پرلاره یاست؟ د تبلیغاتو له اړخه، ددغې پوښتنې په اړه ستاسو اند (نظر) څه دی؟

تره کي: پروپاګند باید له عملي مرستو سره ملګري وي. زه وړاندیز کوم چې تاسو پرخپلو شوبلواوالوتکو افغاني نښې ولګوئ او هیڅ څوک به پرې پوه نشي. ستاسو سرتیري کولای شي د کوکچې او کابل له لوري پرمخ ولاړسي. زموږ له انده هېڅ څوک به پرې پوه نسي. هغوی به داسې وانګیري چې ګڼې دا دولتي ځواکونه دي .

کاسیګین: زه نه غواړم چې تا ناهیلی کړم خو ددغه کارپلي کول به ناشوني وي. د دوه ساعتوپه ترڅ کې به ټوله نړۍ پوه شي. هرڅوک به ډنډورې پورته کړي چې ګڼې شوروي اتحاد پرافغانستان یرغل وکړ. که موږد الوتکوله لارې شوبلې او اړین مهمات او دټوپونو جوړې شوې ګولۍ درولیږو تاسود دغو وسلو د کارولو لپاره کارپوهان موندلای شـئ چې دغه وسلې وکاروي؟

تره کي: زه دغې پوښتنې ته د ځواب وړتیا نه لرم. شوروي سلا کاران کولای شي دغې پوښتنې ته ځواب ووایي .

کاسیګین: په شوروي اتحاد کې په سلګونوافغان افسران رزول شوي دي. دوی ټول څه سول ؟ چیرې دي؟

تره کي: دهغوی ګڼ شمیر مسلمانان دي. موږ نشو کولای پر هغوی زړه وترو ، موږپرهغوی ډاډ نلرو .

کاسیګین: که موږ شوبلې د الوتکو له لارې د سترګوپه رپ کې درولېږو تاسونسـئ کولای تر ۵۰۰۰۰ (پنځوس زرو) سرتیري راټول کړئ؟ څومره خلک راټولولای سـئ؟

تره کي: بنسټ يې يوازې د منځنۍ دورې د ښوونځیو د ډیرعمرخاوندانو اولږشمیرکارګرانو څخه جوړېدلای سي. په افغانستان کې د کارګرکښه یا طبقه ډیره کوشنۍ ده او ډیروخت غواړي چې هغوی و روزو.خو موږبه د اړتیا پرمهال اړین ګامونه اوچت کړو.
کاسیګین: د الوتکو او چورلکود بیا رغاونې لپاره موږپریکړه کړېده چې په بیړه تاسوته پوځي توکي او اوزار درولیږو. همداشان موږپریکړه کړې چې تاسوته سل زره ټنه خوراکي توکي درولیږو او دهرمترمکعب پرسرد ګازوبیه له ۲۱ډالرو څخه ۳۷ ډالرو ته لوړه کړو .

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



تره کی : دا ډیره ښه ده ؛ خوراځه چې لومړی د هرات په اړه خبرې وکړو. شوروي اتحاد ولې نه شي کولای ازبک، تاجېک او ترکمنان په ملکي جامو کې رالویږي؟ هېڅ څوک یې نه شي پیژندلای. هغوی ټانکونه چلولای شي او موږ له دغو ټولوتوکمونوځخه په خپل هېواد کې کسان لرو. پرېږدئ چې هغوی افغاني جامې واغوندي او په وسلو یې افغاني نښې ووهـئ چې هېڅ څوک به یې ونه پیژني. زموږ له انده دا ډېر آسانه کاردی. ایران او پاکستان چې دغه کار وکړنو تجربه یې درلودله اوداځرګندوي چې دا آسانه کار دی هغوی لا وختې په زباد ورسوله چې دغه کار څنګه ترسره کیږي .

کاسیګین: څرګنده ده چې تاسو ته دغه ستونزه له ساده کارڅخه لا ساده ښکاري.دا یوه نړیواله او پیچلې سیاسي ستونزه ده خوله دې په تېرېدنې او نه په پام کې نېولوسره موږبه یوځل بیا سلا او مشوره وکړو او بیابه درسره خبرې وکړو .

تره کي: موږته د هوا له لارې د پلي ځواک موټرونه راولیږئ .

کاسیګین: تاسوداسې کسان لرئ چې هغه وچلولای شي؟

تره کي: موږبه د ۳۰ تر۳۵ موټرانو لپاره چلونکي ومومو.

کاسیګین: هغوی د ډاډ وړدي؟آیا هغوی له موټرانوسره یوځای دښمن ته نه اوړي؟ ددې ترځنګ زموږچلوونکي پر ژبه نه پوهیږي.

تره کي: موږته له موټروسره یوځای داسې چلوونکي راولیږئ چې زموږ په ژبه خبرې کوي،لکه ازبک او تاجېکان

کاسیګین: ماله تا دهمداسې یوه ځواب هېله درلودله.موږاوستاسوملګري یو اوزموږستاسودواړو پرګډو اوږو د ګډې مبارزې ګډ پیټی پروت دی او له یوبل سره باید نیغې اوسپینې خبرې وکړو.اوهرڅه باید دهمدغې ګډې مبارزې د سیوري تابع وي .

[ د لومړي پاڼې پرلمنلېک پرلاس لېکل شوې یوه کرښه لېدل کېږي: د مرکزي کمیټي د سیاسي بیورو په ناستې کې ملګري کاسیګین ددغوخبرواترولېکل شوې بڼه دمرکزي کمېټې دسکرترانوترمخ ولوستله[

[سرچېنه: ماسکو،په روسیې کې دروسیې ټلویزیونې ځالګی (دځانګړودوسیو)پروګرام]

ژباړه : رحمت آریا

جولای ۲۰۰۸

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



## نورمحمد ترکی په مسکو کي دسياسي بيرو په پټه غونډه کي

دمخکنيو لاسوندو لنډيز :

ژباړه: رحمت آريا

جولای ۲۰۰۸

د۱۹۷۹زکال د مارچ په مياشت کې شوروي مشرتابه په هرات کې د راپاريدلې بلوا له امله چې څوتنه شوروي سلاکاران د بلواکوونکو په لاس پکې ووژل شول، له ډير ستونزمن اکر ياحالت سره مخامخ وه اوداسې برېښېدل چې اوضاع دواکمن گوند خلق دڅارله ولکو څخه د وتلو په حال کې ده. افغان مشرتابه له شوروي پوځ څخه د بيړنيو مرستې غوښتنه وکړه. په ټولېزډول يوازې په ۱۹۷۹ ز کال کې افغان مشرتابه له ۲۰ ځله څخه زيات د مرستوغوښتنه کړې وه. دټيلفون له لارې له تره کي سره دخبرو په ترځ کې الکسي کاسيگين په ډاگه کړه چې شوروي به پوځيان ور ونه ليږي او تره کی يې وهڅاوه چې په سيمه ييزو وگړو خپله ملاوتړي په ځانگړي ډول دهرات په ولايت کې دې پرولتاريا په خوځښت راولي او له هغوی دې کار واخلي، دا په خپله څرگندوي چې شوروي مشرتابه دافغان وگړو په اړه بشپړمعلومات نه درلودل( پرولتاريا، صنعتي کارگران دي او دسوسياليستي انقلاب بنسټيزه ځواک جوړوي او په افغانستان کې له اره پرولتاري ځواک شتون نه درلود). د مرکزي کميټې د سياسي بيرودځانگې غونډه په بيړنۍ توگه راوبلل شوه چې د هرات اکر ترڅېړنې لاندې ونيسي دغونډې د گډونوالو په منځ کې څرگند اختلافات لېدل کيږي: په داسې حال کې چې د سياسي بيروغړي افغانستان ته د سرتيرو له ليږلو سره مخالف ول، يو شمير يې په همدې حال کې ټينگار کاوه چې (موږافغانستان له لاسه نشوورکولای). وروسته له څېړنو اوسنجونو غونډ پای ته نيږدې شوه او د مرکزي کميټې عمومي منشي ليونيد ايليچ برژنيف دغونډې لنډيز راوسپړه او ويې ويل چې اقتصادي اوپوځې مرستې به سره له مهماتو او سلاکارانو چمتو شي خو سرتيري به افغانستان ته ونه لېږل شي. مخکې مو ولوستل چې غونډې پريکړه وکړه چې تره کی به ماسکو ته راوبلي اودشوروي ددريز په اړه به يې ښه پوه کړي. تره کی راوبلل شو او دهغه په سفريوازې دسياسي بيرو غړي خبر ول او بس [دهمدغه لاسوندي په پای کې تره کی په خپله دغې خبرې ته نغوته کوي]. مخکې له دې چې تره کي له برژنيف سره وگوري هغه دسياسي بيرو له يو شمير غړو سره گوري او دغه لاسوندی په پراخه توگه دهمدغې غونډې خبرې څرگندوي.دا غونډه دومره پټه وه چې ان افغان ژباړونکي له تره کي سره نه وو او شوروي پښتو ژباړونکي غونډې ته رابلل شوي ول. ددغې لاسوندي وروستنۍ برخه ډيره هک پک کوونکې ده او دښاغلو لوستونکوپه ځانگړې توگه دافغانستان د پيښو سياسي شننونکو پام ورته را اړوم.

پای

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



د۱۹۷۹ز کال دمارچ په ۲۰ د الف.نون کاسیگین ،الف .الف گرومیکو، د.ف.اوستینوف ، ب .ن. پوني ماریوف او ن. م. تره کي ترمنځ مخامخ خبرې - ماسکو

د لاسوندي پیل

د شوروي د کمونیست گوند مرکزي کمیټې ته د لیږلو تابع

(عمومي دفتر،لومړی څانگه)شمیره پ ۴۹۹

د شوروي د کمونیست گوند د مرکزي کمیټې اصلي او علی البدل غړو ته دې وویشل شي

ډېر پټ (کاملاً سري)

ځانگړې (خاصه) دوسیه

دلاسوندي سرلیک :

د الف.نون کاسیگین ،الف .الف گرومیکو، د.ف.اوستینوف ، ب .ن. پوني ماریوف او ن. م. تره کي د خبرو ریکارډ (نوټ)

]نوټ: دغه لیکنه دغونډې گډونوالو نه ده لیدلې(

د۱۹۷۹ز کال دمارچ ۲۰

الف.نون کاسیگین: سیاسي بیروپرموږ په ډاډ کولو موږته واک راکړی چې له تاسو سره د ټولو هغو پوښتنوپه اړه خبرې وکړو چې تاسو یې د نظریاتو د تبادلې لپاره اړین بولئ. لکه چې مخکې مې تاسوته وویل له ل.الف. برژنیف سره ستاسو غونډه په ۱۸-۱۸,۳۰ (وخت-ژ) کې په پام کې نیول شوې ده .

لومړی مې باید تاسو ته د خبرو د پیل وړاندیز کړای وای خو لدې چې ستاسو له پلوه لومړنی مهمه پوښتنه راپورته شوېده غواړم له همدغه ځایه زموږ دنظریاتو څرنگوالی تاسو ته ووایم او بیا به په ځیرتاسو ته غوږ ونیسو .

لومړی غواړم ټینگاروکړم چې شوروي اتحاد او دافغانستان د ډیموکراتیک جمهوریت ترمنځ ملگرتوب پرته له قید اوشرطه دی،په ځېنولنډو وختونوکې دنظریاتو اختلافات ول خو نه داوړدو وختونو لپاره. موږتاسو ته مرستې درکړې او غواړو دمرستې لړی وغځوو او د خپلو ټولوهغو دښمنانوپه وړاندې وجنگیږې چې نن اوپه راتلونکی کې له تاسو سره جگړه کوي .

موږ ستاسو په هېواد کې د حالاتو د پرمختگ په اړه په ځیر خبرې کړې، موږله تاسو سره دمرستو ټولې لارې چارې لټولې دي چې زموږ د ملگرتوب او له دواړوهېوادونوسره به په اړیکو کې گټورې پایلې ولري. شایي ستاسو په هېواد

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



کې دراپورته شویو ستونزو په اړه د حل ډېرې لارې چارې وي، خوتر ټولو ښه لاره دا ده چې د نړیوالو په سترګو کې ستاسو د دولت واک او صلاحیت خوندي پاتې وي، غواړوستاسواړیکې له ګاونډیو هېوادونو سره خړې پړې نه شي اوستاسود هیواد نړیوال دریځ ته تاوان ونه رسیږي .

موږباید دهغوحالاتو پرمختګ ته اجازه ورنکړو چې پرېنسټ یې تاسو دهغو په کابو کولو کې لا تر اوسه نه یاست بریالي شوي اوپه پای کې دحل لپاره مو بهرني سرتیري راغوښتي دي. غواړم د ویتنام بیلګه راوړاندې کړم. دویتنام ولس له امریکا سره دجګړې دروند پیټی پورته کړاو دا دی اوس د چین له یرغل سره لاس اوګریوان دی خوهېڅ څوک ویتنامیان د بهرنیو سرتیرو په بلنې او کارونې نه تورنوي. ویتنامیان په میړانې له خپلې خاورې څخه د بهرنیو لاس اچوونکوپه وړاندې ساتنه کوي.

زموږګومان کووچې ستاسو په هېواد کې پریمانه پوځي ځواک شته چې دانقلاب ضد کسانو په وړاندې ودریږي. یوازینۍ اړتیا دا ده چې هغوی یوموټې یې کړئ اونوي پوځي جوړښت رامنځ ته کړئ. دتلفوني خبروپه ترځ کې موږاوتاسو دنویوپوځي ډلګیو دجوړولو په اړه خبرې وکړې،په یاد ولرئ چې پوځي چمتوالي او د روزنې لپاره ډېر وخت ته اړتیا شته. خو ان همدا اوس تاسو بشپړ اوپریمانه ځواک په لاس کې لرئ چې د اوسني اکر یاحالت دکابو کولو ورتیا لري. یوازینۍ اړتیا دا ده چې په سمه توګه تر سره شي. راځـئ چې د هرات بېلګه راواخلو. په لومړیو کې داسې ښکاریده چې هر څه به درې وړې سي، دښمن ټېګ مورچلونه جوړکړېدي او ښاربه دانقلاب ضد ډلو زړه جوړ سي. خو کله چې تاسو رښتونی نوښت په لاس کې واخیست نو تاسو وکولای شول چې هر څه تر خپل واک او څارلاندې راولـئ. موږهمدانن سهارپه ۱۱ بجوخبرترلاسه کړچې دهرات پوځي ښارګوټی چې د اووه لسمې پلې فرقې د یاغیګړیوه برخه وه له هوایي بمباریو وروسته دکندهار دشوبلو په مرسته د هوایي لیوا دپاراشوت ځواک له خوا بیرته ونیول شو. دولت ته پاليالہ ځواکونه سیمه خوندي کوي او له دغې بریا څخه په ګټه اخیستې لا پرمخ درومي .

زموږپه نظر،په اوسني وخت کې زموږ دنده دا ده چې ستاسو دفاع په ځو نړیوالو پیچلو پیچوموکې وکړو. موږبه له تاسو سره تر شونې کچې په ټول وس مرسته وکړو، تاسو ته به وسلې او مهمات درولیږو، خلک به در واستوو چې د کورنیو اوپوځي ستونزوپه هوارولو کې تاسو ته ګټور وي، کارپوهان به درواستوو چې ستاسوپوځ دنویو پرمختللیو وسلو په عملیاتي کارَوَنه کې و روزي اوپوځي ماشینري چې د درلېږلو په درشل کې ده. دافغانستان پرخاوره باندې زموږ دپوځ پلي کول به نړیواله ټولنه را ویښه کړي او ډېرې ناسمې څواړخیزې پایلې به را وزیږوي. که داسې وسي نو نه یوازې به له پانګوالو هېوادونو سره سونزه رامنځ ته سي بلکه په خپلو منځو کې به هم ستونزې را پورته سي. زموږګډ دښمن شیبې شماري چې شوروي پوځونه به کله دافغانستان پرخاوره باندې پښه کښیښږدي. دابه هغوی ته هم پلمه په لاس ورکړي اوستاسو دښمنان به هم دافغانستان پرخاوره باندې پلي شي. زه یوځل بیا د سرتیرو دپلي کولو پرغوښتنې په ټینګار را تاویږم او وایم چې موږدغه غوښتنه له ځو اړخونو په ځیر څېړلې ده؛ موږ ددغه ګام ټول اړخونه په ډېر پام او ځیرشاربلې اوزېبښلې او دې پایلې ته رسیدلې یو چې که زموږ سرتیري درهم شي ستاسو

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



دهېواد اکریاحالت به سم نه شي، هغه به له بده پسې بدتر سي. هېڅ څوک انکار نه شي کولای چې زموږ سرتیري به نه یوازې دبهرنیوتاړاکګروپه وړاندې وجنګیږي بلکه ستاسو دوګړو له یوې ځانګړې برخې سره به هم لاس اوګریوان شي. اوخلک دغسې شیان بخښلای نه شي. ددې ترڅنګ کله چې زموږ سرتیري له سرحدي لېکي واوړي نو دسترګو په رپ کې به چین او نوړېول تیري کوونکي ستاسو له دښمنانوځخه ټینګ ملاتړ وکړي .

موږدې پایلې ته رسیدلي یو چې داوسني وخت حالاتو ته په کتنې ،تر ټولو اغیزمنه مرسته چې له تاسو سره یې کولای شوداده چې موږپرګاونډیو هېوادنو باندې خپل سیاسي فشارډېر اوتاسو ته څوارخیزه پراخه مرسته درکړود سرتیرو دپلي کولوپرځای به له دغې لارې ډیرې ګټورې لاس ته راوړنې تر لاسه شي. موږبشپړ داډ لرو چې ستاسو اوزموږ له خوا د سیاسي لارو چارو په کارَوُلو کولای شو پر دښمن برى ومومو. موږ او تاسو لا مخکې خبرې کړې وې چې افغانستان دې له ایران، پاکستان او هند سره په اړیکوکې له سره کتنه او کار وکړي او ټولې هغه پلمې دې له منځه یوسي چې پر دغو اړیکوناوړه اغیزه شیندي. زموږ له خوا ، موږ د ایران او پاکستان مشرانو ته دوه لاسوندي لیږلي او هغوی ته مو په ډېر ټینګار ویلي چې دافغانستان په چارو کې دې لاسوهنه ونه کړي. پرته لدې چې ددغه کار پیټې ستاسو پراوږو در واچوو پازوالي یې موږ اخلو. دا دهغوخبرو تومنه وه چې موږ غوښتل دملګرو په توګه یې له تاسو سره د سپینو اوڅرګندو خبروپه توګه ګډې کړو .

ن.م. تره کی : زه له تاسومننوی یم چې د شوروي د دولت دریز مو راته په پراخه ټوګه چې ماپرې د خبرو کولو لیوالتیا درلودله څرګند کړ. زه هم ستاسو دملګري په توګه سپینې او مخامخ خبرې کووم. موږهم په همدې باوریو چې په افغانستان کې رامنځ ته شوې ستونزې دې د سیاسي لارو چارو له لارې هوارې شي اوپوځي ګامونه دې د سیاسي لارو چارو د پلي کولو لپاره څنګنېزیا فرعي اړخ وګڼل شي. په سیاسي ډګرکې موږشمیرلي ګامونه پورته کړي او ډاډه یو چې دوګړو ډیرکی یا اکثریت زموږ ترڅنګ دریږي. په راډیو کې زما له راڅرګندېدلو یوه ورځ وروسته چې ما د هرات د وضعې ماهیت او تومنه پکې په ډاګه کړه دهېواد په هرګوټ کې ۱۰۲ لاریونونونه تر سره شول اولاریون کوونکو د خمیني د کړنوپه غندنه کې شعارونه ورکړل. موږ په دې هم خوښ یو چې زموږ د پوځ یوه برخه چې له یاغیانوسره یوځای شوې وه ، وسلې پرځمکه کښېښودلې .

زموږ له اړخه غوارم ټینګار وکړم چې زموږ دهیوادونو اړیکې د دوه اړخیزو دیپلوماتیکو اړیکو له کچې پورته اړیکې دي. دا اړیکې دپاړکیزې یا طبقاتي مبارزې اوزموږ دګډې ایډیالوجۍ اوسیاست پربنسټ ولاړې اړیکې دي. زموږ په هېواد کې ستاسو دهېواد په شان دولت دکارګرو او بزګرو په لاس کې دی چې داتوکراتانو او ځمکوالو له منګولو څخه یې اخیستی دی. زموږ انقلاب زموږ دپاړکیزیاطبقاتي دښمن غبرګون را پارولی دی. موږ انقلابي ګامونه اوچت کړي دي ، د ځمکوالو په پورونو کې دډوبو بزګرانو خپلواکول، بې ځمکو بزګرو ته د ځمکو ویشنې اونورو دافغانستان دوګړو په منځ کې ددولت دریز لاخوندي او پیاوړی کړ او دپاکستان او ایران له وګړو مو مثبت غبرګونونه ترلاسه کړل. دغو ګامونو په دغو هېوادونو کې په شا تلونکي ارتجاعي ځواکونه را وپارول اوزموږ دهېواد پروړاندې یې د

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



ورانکارو دعملیاتو ودې ته لا پراختیا ورکړه،پروپاگندونه اوډنډورې یې پیاوړې شوې او زموږهېواد ته یې د ترهگروپه رالیږلو پیل وکړ. زموږ په وړاندې یې ډنډورې پیل کړې او موږ یې د بې دینو اومرتدو په نومونو یاد کړو. بیا یې موږدنورو غیراخلاقي گناه گانو په تور تورن کړو. موږپه هېواد کې دښځود آزادۍ په اړه ښځو ته پرتمین دریز ورکړی اوپاکستاني ډنډورچیانو له دغې آزادي څخه پاروونکې ډنډورې جوړې کړېدي. کله چې موږ دځمکو د اصلاحاتو د ریفرمونوپروگرم تر لاس لاندې ونېول نوپاکستاني واکمنو کړیو ددغو گامونو اغیزې په خپل ولس کې ولېدلې او دغواغیزو ددوی سیاست ته بدلون ورکړاو په پای کې زموږپه وړاندې یې د سبوتاژ او ورانیوعملیات پیل کړل. زموږ په هېواد کې د وگړو لاریونونو پاکستاني واکمن وویرول او لاریون کوونکو د (ژوندی دې وي د افغانستان ډیموکراتیک جمهوریت) او (ژوندې دې وي تره کې) شعارونه وړل. زموږ هېواد ته نه یوازې د اخوان المسلمین د ډلو غړي چې له انقلابه وروسته تښتېدلي ،بلکه د هغوی ټولې لېواگانې [منظوردپاکستان او ایران دول دی �ژ] په افغاني جاموکې هېواد ته را ننوتلي دي. له شوروي اتحاد څخه زما له لېدنې او د دواړو هېوادونو تر ترمنځ د مهم تړون له لاسلېک کولو وروسته امریکایي پانگوالو او نورو مرتجعینو دافغانستان دډیموکراتیک جمهوریت په وړاندې پیاوړې دښمني پیل کړه. هغوی پوه شول چې لوېدیځ افغانستان له لاسه ورکړ.دا دافغانستان او دشوروي اتحاد د ډیرملگرتوب لامل وو چې پانگوال او مرتجعین یې په یوې ضد-افغاني کړۍ کې سره راونغاړل.

نن موږپه خپلو خبرو کې وویل چې افغانستان دې له هند، ایران اوپاکستان سره خپلې اړیکې په ښه چاپیریال کې وساتي. خو دا به ډیره گرانه وي چې ترسره شي ځکه ایران دپاکستان په شان له موږسره ددوستۍ اړیکې نه غواړي .

الف.نون.کاسیگین : له ضیاالحقه یوه لیکلې وینا را رسېدلې اوڅرگنده کړې یې ده چې دافغانستان ستونزه دهغه هېواد یوه کورنۍ ستونزه ده او پاکستان به یکې لاسوهنه ونه کړي. وینا همداسې پرمخ ځي او وایي چې یوازې له افغانستانه پاکستان ته له راغلو ۳۵ زرو کډوالو سره بشري مرستې پدې آړشرط کوي چې دافغانستان اوپاکستان اړیکې خړې پړې نکړي .

ن.م. تره کی : هغوی یوازې له انسانیته خبرې کوي، خوپه بر لاس روزنیز کمپونه اوپنډغالي جوړوي او زموږ په وړاندې کماندو روزي.

الف.نون.کاسیگین :موږهم ساده نه یو چې دضیاالحق دوینا هر توری ومنو، که خبره هر څه وي، له وینا داسې ښکاري چې هغوی یې په تنگې کړۍ کې راتاو کړي دي .

ب.ن.پوني ماریوف: داسې ښکاري چې د ضیاالحق اوسنۍ خبره د 'پراودا' د ورځپاڼې د غبرگون له اغیزو راڅرگندلې وي .

الف.نون.کاسیگین :څرگنده ده چې پاکستان یې په اندېښنه کې اچولی دی. هغوی نه یوازې ستاسو بلکه زموږد فشار احساس یې هم کړی دی .

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



ن.م. تره کی : د پراودا د ورځپاڼې لیکنې چې د افغانستان په وړاندې یې دسیسې څیړلې دي په سم وخت کې خپره شوې ده. لیکنې زموږ پرګاونډیو ژورې اغیزه شېندلې دي. زه په ډاډ له تاسو سره همغږی یم چې عملي سیاسي ګامونه دې پورته شي اوجګړه له خطره ډک یو ګام دی. که دا اندېښنه راوسپړو چې ایران، پاکستان، امریکایان او چینایان ولې زموږ په وړاندې دغسې عملي ګامونه را اوچتوي بې ګټې وي نو هر څه موږ اوستاسوته څرګند دي. خویوازنی ټکی چې پرې ټینګار کول غواړم دا دی چې موږ به له نورو (ګاونډوي هېوادونه �ژ) سره ملګرتوب ته دوام ورکړو خوستاسو په اندازه به له هیڅ چا سره د نیږدې ملګرو په توګه و نه اوسو. موږ له لینن څخه زده کړې او له هغه به یې نور هم زده کړو. موږ دلینن له لارښوونو څخه زده کړېدي چې له ګاونډیو سره اړیکې په څه ډول وساتو. موږ هڅه کوو چې له ګاونډیو هېوادونو سره ښه ملګرتوب ولرو خو امریکا چې له پرمختلونکو دولتونو سره په دښمنۍ کې ده زموږ خنډ ګرځي. هغوی پخوا دې ته وَرته کړنې دځوان شوروي اتحاد په وړاندې کړې وې او اوس یې دکیوبا،ایتوپیا،موزمبیق او سویلي یمن په وړاندې کوي.موږ ددغه خنډ په وړاندې دَرېدلي یو اوغواړو د کارګرو ډلو په ګټه د انقلابي �دیموکراتیکو ریفرمونو له لارې او دوګړو د درناوي او ډاډ په ترلاسه کولو حکومت وکړو نه د وسلو او زور په مټ.د دغې موخې د ترلاسه کولو لپاره موږ تر اوسه ۲۰۰ بیلیونه افغانۍ لګولې دي. خلک ویلای شي چې ددوی ملګري او دښمنان څوک دي. زموږ ددولت په وړاندې ورانکارو ډنډورو د خلکو (منفي �ژ) غبرګون را ونه پاراوه، روحاني مشرانو اوس خپلو چَلونو ته بدلون ورکړی اوچیغې بوغارې یې پیل کړېدي چې ګنې افغانستان د شوروي لاررَوَی او دکمونیستانو پَلَـوی دی او ۱۰ زره شورویان د هیواد په هرګوټ کې پرهرچا باندې واکمنې چلوي .

چې رالندېږ یې کړم غواړم ټینګار وکړم چې موږ له ایران اوپاکستانه افغانستان ته د ممکنه رانوتکوکسانو په اړه په اندېښنه کې یو،څرګنده ده چې له ایراني اوپاکستاني مشرانو سره ستاسو شفاهي مخامختیا به ګټه وره وي او پر هغوی به پیاوړې اغیزې پریباسي .

الف.نون.کاسیګین :یو بل خبر. ایراني دولت یوه لارښوونه خپره کړې ده چې د اپریل تر ۲۰ نېټې دې ټول بهرني ګارګران او د جون دمیاشتې تر۲۱ دې بهرني کارپوهان له ایرانه ووځي. داسې ښکاري چې دایران داقتصاد لپاره د بهرنیو کارپوهانو شتون ډېر اړین دی او له هریوه سره به جلاجلا چال چلند وشي .

ن.م. تره کی :لدې ښکاري چې ددغې لارښونې موخه امریکایان وي. موږ مالومات لرو چې دایران دولت هغه امریکایي کارپوهان چې د چورلکو د بیا جوړولو اودپرزه جاتو د ترلوپه برخه کې کارکوي بیرته ستانه کړي دي .

الف.نون.کاسیګین :هو، موږ هم دغه خبر اورېدلې دی خوموږ په ایران کې دامریکایانو په پرتله ډېرکارپوهان لرو. که دکارپوهانو د ایستلو خبره راپورته سي نود ایران د اوسپنو د ویلي کولو فابریکې او نورې څانګې به کار ونه سي کولای. اوس په ایران کې څومره افغانان کارکوي؟

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



ن.م. تره کی :له ۲۰۰ زرو لږ دي. هغوی ۵-٦ کاله د داؤد او ان دهغه له دوره مخکې وخت کې ایران ته تللي دي. که له هغه ځایه افغاني کارګران وایستل شي نود افغانانوپه جاموکې یو شمیر ګوریلایان هم په همدې پلمه افغانستان ته راننوځي، اوډېره ګرانه به وي چې له مخونو څخه یې پوه سو چې څوک افغان او څوک ایرانی دی. زه غواړم چې دافغان پوځ داړتیاوو پرخبره بیا راتاو سم. موږ غواړو چې زغره والي چورلکې ولرو،د هغه ترڅنګ اضافي زغره والو ترانسپورتي وسایلو اود پلیو سرتیرو موټرانو،او پرمختللیو مخابراتي وسایلو ته اړتیا لرو.همدارنګه د ترمیمولو پرسونل به له موږ سره لویه مرسته وي .

چورلکو په اړه چې زغره والې دي‌MI-24 ف.د.اوستینوف: داسې ښکاري چې موږ د

خبرې کوو.موږبه د جون-جولای په مېاشتو کې دغسې ٦ چورلکې او ددغه کال په وروستي فصل کې ٦ نورې در ولېږو. ښايي موږ د لیږدونې مهال ته چتکتیا ورکړو .

ن.م. تره کی :موږ دغسې چورلکو ته ډېره اړتیا لرو، او دا به ډېره ښه وي چې چورلکې له پیلوټانوسره یوځای راورسیږي .

الف.نون.کاسیګین :موږکولای شو د ترمیم کارپوهان درولیږو چې په هوايي ډګر کې ددغو الوتکو ترمیمات وکړي خو څرګنده ده چې د چورلکې د منځ سپاره جنګیالي نه شو درلیږلای،موږ په دې اړه مخکې خبرې کړېدي .

ف.د.اوستینوف: تاسو باید خپل پیلوټان چمتو کړئ. موږ ستاسو افسران روزو او دهغوی د روزنې لړی ته چټکتیا ورکولای شو .

ن.م. تره کی :ښايي موږ له هانوی یابل هېواد دبیلګې په توګه کېوبا څخه دچورلکو پیلوټان ترلاسه کړو .

الف.نون.کاسیګین : ما مخکې وویل چې موږ له ویتنام سره پراخه مرستې کړېدي خو هغوی هېڅکله له موږ څخه د پیلوټانو د لیږو غوښتنه نده کړې. هغوی یوازې له موږ څخه د تخنیکي مرستو غوښتنه کړېده. موږ۴۰۰ افغان افسران روزو. له دغې ډلې تاسو هغه کسان غوره کړئ چې تاسو یې غواړئ او موږ به یې د روزنو دمهال لړۍ ورلنډه کړو .

ن.م. تره کی :موږ دچورلکو رالیږدونې ته ډیرلیواله یو موږ ورته ډیره کلکه اړتیا لرو .

الف.نون.کاسیګین : موږبه ستاسو غوښتنه وڅېړو اوکه شوني وي نو د لیږلو لړۍ به یې ګړندۍ کړو .

خو په همدې لړکې تاسو باید د پیلوټانو خبره په څېر په پام کې ونیسی ف.د.اوستینوف:

ن.م. تره کی : څرګنده ده چې نیسو یې. که موږیې په خپل هېواد کې ونه مومو، نوپه بل هېواد کې به یې ومومو. نړۍ لویه ده. که تاسو له دغې خبرې سره همغږي نه یاست نو موږ به ستاسو په هېواد کې بوخت دافغان زده

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



کوونکو په منځ کې کسان ولېږو خو موږ د ډاډ ورکسانو ته اړتیا لرو، او هغه افغان زده کوونکي چې ستاسو هېواد ته مخکې د زده کړې لپاره استول شوي دي ډېري يې اخوانيان او يا دچين پلويان دي .

الف.نون.کاسیگین : ښه ده، تاسو دغه خلک چاڼ کړئ موږ به یې ژر ورزو. موږ اخوانیان بیرته درلیږلای شو او پرهغو کسانو چې ډاډ لرئ موږ به یې د روزنې لړۍ ورچټکه کړو .

ف. د.اوستینوف: سږکال ۱۹۰ تنه افغان افسران خپله د زده کړو لړۍ پای ته رسوي، د هغوپه منځ کې ١٦ يې د الوتکو پیلوټان او ١٣ تنه یې د چورلکو پیلوټان دي. ددغوټولو زده کونکو د نومونو لړ لېک به موږ په افغانستان کې د ستر پوځي سلاکار جنرال گورلیوف له لارې تاسو ته درواستوو .

ن.م. تره کی : ډېر ښه! موږبه دا وکړو. خوستونزه دا ده چې موږ دهغوی د نوم له مخې نه پوهیږو چې گڼې څوک له انقلاب ضد ډلو سره تړاولري. موږیوازې دومره پوهیږو چې د داود په وخت کې د اخوانیانو او دچین د پلویانو (شعله جاوید) دټولنو یو شمیر  کسان شوروي اتحاد ته لیږل شوي ول. موږ به په دې اړه کار وکړو .

الف.ن.کاسیگین: داسې ښکاري چې تاسود پوځي ماشینرۍ د لیږدونې په اړه دلارو چارو دموندولو هغه لارښود لېک ته نغوته کوئ چې پرون شپه مو په کابل کې پرې خبرې وکړئ؟ په دغه لارښود لېک کې موږ د ډېرو پوځي وسایلو او د سلو زرو ټنو غنمو د لیږدونې او دافغان د گازو دبیې د لوړ والي په اړه چې هر ۱۰۰۰ مترمکعبه به له ۲۴ ډالرو ۲۳ ډالرو ته لوړه شي خبره کړې، آیاتاسو له دغه لاسوندي سره بلد یاست؟

ن.م. تره کی : نه. داسې ښکاري چې هغوی (ددفتر ملگرویې �ژ) ددغه لاسوندي لنډیز ماته ندی راکړئ .

الف.ن.کاسیگین: ډېره شوني به وي چې دغه لاسوندي، ماسکوته ستاسوله راتگه وروسته کابل ته رسيدلی وي. په لاسوندي کې دغه پریکړې شوي دي: دسږکال د مارچ په مېاشت کې به تاسو ته اضافي ورړیا

همدا رنگه د BMP-1 ۳۳ دانې MI-25 , ۵ دانې MI-8T , ۸ وزره

۵۰ دانې ، ۵۰ دانې زغره وال موټران، دالوتکو ضد ۵۰ گرځنده واحده .BTR-60pb

او د الوتکو ضد (ستریلا) (غیشي) واحده

څلور وزره چورلکې او د مارچ په MI-8T دد مارچ په ۱۸ همدا شان موږ تاسو ته

۲۱ مو ۴ نورې چورلکې درولیږلې. دغه ټول توکي تاسو ته وړیا درکړل شوي دي.

ن.م. تره کی :ستاسو لدې سترې مرستې مننه. زه به په کابل کې له دغه لاسوندي سره نور ځان په ژوره توگه بلد کړم. غواړم ووایم چې اوس موږ ته سل زره ټنه غنم بس ندي. سږکال به موږ ونه شوکولای دخپل حاصل لـَو وکړو،

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



ځکه هغه ځمکې چې موږ پربې ځمکو بزګروویشلي دي ندي کرل شوي او په څو سيمو کې ځمکني حاصلات له منځه تللي دي .

الف.ن.کاسيګين: تاسو ته به سل زره ټنه غنم په دې ډول درولېږل شي چې تاسو يې له سرحدي لېکې څخه د ليږدونې وړتيا ولرئ. داسې ښکاري چې تاسو دغنمو دلېږد په برخه کې ستونزه لرئ، زموږ د کارپوهانو د مالوماتو له مخې ستاسو ترانسپورتي ځانګې يوازې په مياشت کې د ۱۵ ټنو غنمو دلېږد وړتيا لري، حال دا چې دا سل زره ټنه غنم دي. موږ به په راتلونکي کې پرې غور وکړو .

ن.م. تره کی : مخکې پاکستان له موږسره د ۲۰۰ ټنوغنمو دپلورلو ژمنه کړې وه، خو ژمنه يې بيرته واخيستله. ترکيه هم د ۷۰ ټنو له لېږد څخه لاس په سر شوه. موږ لږتره نوور ۳۰۰ زرو ټنو غنمو ته اړتيا لرو .

الف.ن.کاسيګين:تاسو چې له پاکستانه دغنموژمنه درلوده، تاسو پيسې درلودلې؟ موږکولای شو له امريکا څخه غنم واخلو او افغانستان چې ته يې درولېږي. د بيلګې په توګه ،د ۲۰۰ زرو ټنو غنمو بيه ۲۵ ميليونه روبله يا ۴۰ ميليونه ډالره کيږي .

ن.م. تره کی : ددومره پيسو موندل به موږته ګران وي .

الف.ن.کاسيګين: ترخپلې وسې وسې پيسې پيدا کړئ او په هماغو پيسو به تاسو ته غنم واخلو .

ن.م. تره کی : که موږدغه وسيله (پيسې) ونه مومو نو موږ به له تاسو څخه يوځل بيا د غنمو د مرستې غوښته وکړو.همداشان له تاسو غواړو چې د کريدت په سر پرته د سود هغه ګټه چې ځنډېدلې موږ ته دې راکړل شي. زموږ د پوځ دبودجې پلان ددغې ځنډول شوې ګټې ورکړې ته هېله مند دی

الف.ن.کاسيګين: دپوځي تيکنالوجۍ په وړيا لېږدونې موږخو لا وختې ستاسو له پوځي بوديجې سره پراخه مرسته کړېده. موږبه نورهم فکروربانديې وکړو چې پرکريدت د نورو ځنډول شوېو ګټو ورکړو ته لاره ومومو. موږ به دغه خبره وڅيړو او تاسو ته به خبردکړو چې موږ په دې تړاو نور څه کولای شو .

ن.م. تره کی : همداشان موږ يو لوی راډيويي ستيشن ته اړتيا لرو چې له مخ به يې وکولای شو دخپلو پروپاګندونو لمنه د نړۍ تر لېرې ګوټونو پورې ورسوو. زموږ راډيويي ستيشن ډېر ضعيف دی. کله چې دبهرنيو ټوليزو رسنيو له لارې ديو شميرمذهبي مشرانو ځينې خبرتياوې خپريږي د هغه په وړاندې زموږ پروپاګند نه اورېدل کيږي .

ب.ن.پونوماريېف: موږد افغانستان د ديموکراتيک جمهوريت د پروپاګنديزو بريالېو خپرونه لپاره پياوړې اوله انرجې ډک ګامونه پورته کوو. موږ په دې اړه لا وختې د 'پراودا' په ورځپاڼه کې خبره کړېده. د نن ورځ په ګڼه کې ستاسو خبروته ځای ورکړ شويدی. هغه به دپاکستان، ايران او نورو هېوادونو له لارې خپرې شي.لدې لارې موږ ستاسو دراډيو د ضعيفوالي تلافی کولای شو .

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



ن.م. تره کی :دپروپاګند په اړه ستاسو مرسته موږ ته له ارزښته ډکه ده،خو موږ غواړو چې نړۍ زموږپروپاګند زموږ په غږ واوري. لدې امله ده چې موږ له تاسو د ۱۰۰۰ کیلوواټو په کچه د راډیو دستیشن دجوړو لپاره مرسته غواړو .

الف.ن.کاسیګین: موږبه دغه غوښتنه وڅیړو خو تر هغه ځایه چې زه پوهیږم د راډیو دستیشن جوړول ډیر وخت غواړي .

ب.ن.پونوماریيف: موږ به دپروپاګند په اړه تاسو ته یو کارپوه درولیږو. تاسو باید هغه ته ووایاست چې ستاسو دپروپاګند کومه لویه برخه دي د نوروسوسیالیستي هیوادونو له لارې په خونديې توګه خپره شي .

د. ف. اوستینوف: دپوځي ماشینرۍ دلېږد په اړه یوه پوښتنه چې راپورته کیږي هغه د نوروپوځي کارپوهانو او سلاکارانو خبره ده .

ن.م. تره کی : که تاسو ګومان کوئ چې دغسې یوه اړتیا شته، نوموږ به هغوی په دواړو سترګو ومنو. خو سره لدې تاسو بیا هم موږ ته اجازه نه راکوئ چې له نوروسوسیالیستي هیوادونو څخه پیلوټان او دشوبلو چلوونکي په خپل پوځ کې وکارَوو؟

الف.ن.کاسیګین :کله چې موږ پوځي کارپوهانو ته نغوته کوو زموږ منظورهغه تخنیکي کسان دي چې د پوځي ماشینري د ترمیم وړتیا لري. زه نه پوهیږم چې دپیلوټ او شوبلوچلونکو خبره ولې دومره شاربل کیږي او اوړي را اوړي. موږله تاسو د دغسې غوښتنې هېله نه درلوده. او زه بشپړډاډلرم چې نورسوسیالیست هېوادونه هم دغسې یوې غوښتنې ته غاړه نه ږدي. د سرتیرو د لیږلو په خبره ټینګار په خپله یوه ډیره شمیرل شوي سیاسي پوښتنه ده اوداسې مانا لري چې ګنې سرتیري دې په شوبلوکې کښیني او ستاسو پر وګړو دې له ټانکونو په مردکیو اوربل کړي.

ن.م.تره کی: موږ به وګورو چې له هغوافسرانو څخه چې مخکې دلته دزده کړو لپاره رالېږل شوي په څه ډول کار واخلو. موږبه له تاسو وغواړو چې زموږ دخوښې وړ کسانو ته درزونې چټکه لړۍ ومنـئ .

د.ف.اوستینوف: البته چې موږبه یې روزنه ومنو .

الف.ن.کاسیګین: غواړم ددغې غوندې دخبرو لړۍ رالنډه کړم، یوازینۍ پوښتنه چې بې ځوابه پاتې کیږي هغه دیوې پیاوړې راډیو جوړول دي او هغه به وروسته څرګنده کړو. بله پوښتنه چې پاتې کیږي د پوځي تکنالوجۍ دلېږدونې دچټکتیا خبره ده. تاسو به ، لکه څنګه چې موږموپوه کړو، دچورلکوپیلوټان دروزنې لپاره موږ ته غوره کړئ چې ژر یې در و روزو. که تاسو نورې غوښتنې یا هیلې لرئ نودشوروي دسفیر او مشرپوځي سلاکار له لارې موږ ته خبر راکړئ. موږبه یې په پام اوڅیړو وڅیړو او دهغه پربنسټ به خپل غبرګون څرګند کړو .

همداشان موږومنله چې دپانګوالو او نورو په شاتلونکو(ارتجاعي) دسیسو په وړاندې دافغانستان ددیموکراتیک جمهوریت په ساتنه او ننګه کې سیاسي ګامونه اوچت کړو. موږبه پر هغوی خپل سیاسي فشار ته دوام ورکړو.

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



زموږرَسَنی به په نه سترګي کېدونکي اوپرله پسې توګه دافغانستان دديموکراتيک جمهوريت په ننګه اوملاتړ خپرونې وکړي .

موږ ګومان کوو چې تاسو په خپل هېواد کې دټولنيزملاتړ دترلاسه کولو په برخه کې ډېر کار وکړئ، وګړي مو څنګ ته نيږدې کړئ، هڅه وکړئ چې هيڅ شی ونه شي کولای وګړي له دولت څخه پردي او بې لارې يې کړي. په پای کې که څه هم دغه خبره چې اوس به يې وکړم زموږ دغونډې په اډانه کې نه ده خو د يوې هيلې په توګه، غواړم په يوې ډېرې مهمې خبرې خپل نظر څرګند کړم چې د خپلوکارمندانو په اړه له ډېر احتياطه کار اخله. يو تن په بل تن پسې واچوه او له هر يوه سره بيل بيل چال چلند ولره. مخکې لدې چې د چاپرتندي ټاپه ولګيږي ښه اوله سرترپايه علم دې پرې ترلاسه کړه .

ن.م.تره کی: ته د افسرانو په هکله راته وايې يا د جنرالانو په اړه؟

]څوارلسمه پاڼه دملي امنيت دکاپۍ له دوسيې څخه ورکه ده[

الف.ن.کاسيګين: که پرهېواد مو زموږ پوځي يرغل ترسره شي نو دابه يوبشپړ بل اکرياحالت وي. خو موږ تر وسې وسې هڅه کوو چې ددغسې يرغل مخه ونيسو. اوګومان کووم چې ددغه حالت مخه به ونيسو .

ن.م.تره کی: زه داپوښتنه ځکه مطرح کووم چې چين زموږپه وړاندې پاکستان راهڅوي .

الف.ن.کاسيګين: که يرغل ترسره شي نو بل ډول اکرياحالت به را رامنځ ته شي. چين د ويتنام له بيلګې څخه زده کړل او ډاډه شو اواوس دخبرو لپاره موږ ته لاس ښوروي. دافغانستان په اړه بايد ووايم چې موږ د بهرني تيري دمخنيوي لپاره ګامونه پورته کړي دي. ما مخکې وويل چې موږ دپاکستان ولسمشر، خميني او دايران سر وزيرته ليکونه استولي دي .

ن.م.تره کی: زموږ دسياسي بيرو غړي ماسکوته زما له سفره خبردي. کابل ته له رسيدلو سره هغوی به د دغې غونډې له پايلو څخه خبرکړم. آيا اجازه ده ورته ووايم چې شوروي اتحاد به يوازې د افغانستان له ديموکراتيک جمهوريت سره سياسي اونورې (اقتصادي �ژ) مرستې وکړي؟

الف.ن.کاسيګين: هو. سياسي ملاتړ،په پوځي اړخ کې توکي او نورې پراخې مرستې دواړه. دا زموږد سياسي بيرو پريکړه ده. ل.الف. برژينف به له تاسو سره دخپلې غونډې په ترڅ کې درته ووايي چې څه ناڅه لس دقيقې وروسته پيل کيږي. زه ګومان کوم چې ته به افغانستان ته زموږ له ملاتړ او پر خپلو کړنو په لا نور ډاډ ستانه شئ .

ن.م.تره کی: خپله ژوره [ ژباړه] مننه دترسره شويو خبرو اترواو دهغومرستو په اړه چې دافغانستان دکړکيچنو حالاتو په وخت کې به ورکړل شي څرګندوم .

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



شفاهي ژباړه دشوروي سوسیالیستي جمهوریتونو د ایم آی ډي د ډیپلوماتیکې اکاډیمې فارغېدونکي محصل ملګري کوزین .وي.پي. ترسره کړه او دغونډې دشفاهي خبرو لیکونکی دشوروي سوسیالیستي جمهوریتونو د ایم آی ډي دډیپلوماتیکې اکاډیمې دمنځني ختیځ دډیپارټمنټ سلاکارملګري ګاوریلوف ایس.پي، دی .

---

21.III.79

#AK-786ss

۳۰ کاپي

21.III.79

سرچینه :

{Source: Storage Center for Contemporary Documentation (TsKhSD), Moscow, Fond 89, Perechen, Dokument 26}

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



## د شوروي سوسیالیستي جمهوریتونو د سیاسي بیرو پریکړه لیک

پښتو ژباړه: رحمت آریا

جولای ۲۰۰۸

نوټ: ددغه لاسوندي اصلي برخه نه ده ترلاسه شوي دغه برخه د لیاخوفسکي له کتابه 'افغان غمیزه او زړورتیا' رااخیستل شوې

اندروپوف، گرومیکو،اوستینوف اوپونیماریوف دافغانستان پرحالت د شوروي سوسیالیستي جمهوریتونو دکمونیست گوند مرکزي کمیټې ته گزارش ورکوي ۱۹۷۹ جون ۲۸

ډیر پټ (کاملاً سري)

ځانگړې دوسیه

دشوروي سوسیالیستي جمهوریتونو دکمونیست گوند مرکزي کمیټې ته

.....دافغانستان د ډیموکراتیک جمهوریت جوړونه هغه ستونزمنه ننگونه ده چې په عیني توگه ټول وربانديې پوهیږو . دغه ستونزې له اقتصادي وروسته پاتې والي،په هیواد کې دکارگرې پاړکې یا طبقې کوشنی والی او دافغانستان دخلق ډیموکراتیک گوند له زمولتیا یا ضعف سره تړاو لري. خو دځینو ځاني یا (عِـنـدي) لاملونو له امله سختۍ لا نورې هم هغه مهال پیاوړې کیږي چې له عملي ډگره ورته وگورو: دولت اوگوند دواړه د کارپوه اوله یوبل سره د همکار مشرتابه له نشتوالي سره مخامخ دي ،ټول ځواک یوازې د تره کي او امین په منگولو کې رامتمرکزشوی اوښکاري چې دواړه په گډه په خپلو کړنوکې سره لدې چې ډیرې تیروتنې کوی خو تیروتنې نه مني او په دې ډول قانون ترپښولاندې کوي او .....

له انقلاب ضد ډلو سره په ننگونې کې دافغان دولت لپاره د ملاتړ یوازینۍ بنسټیزه سرچینه پوځ دی اوبس. په وروستیو وختونوکې امنیتي او نویو رامنځ ته شویو د ځاني دفاع (دفاع خودي ناحیوي/کمیته های دفاع ازانقلاب)ځواکونو په دغې ننگونې کې فعاله ونډه لوبولې ده. په دغۍ ننگونې کې یوازې دوگړو غبرگون ته لاریونونواوشعارونو کافي نه دي اوځرگنده شوه چې دحالاتو په راکابو کولو کې دافغانستان ډیموکراتیک جمهوریت هڅې بې اغیزې پایلې درلودلې دي ....

ددغو مالوماتوپربنسټ دشوروي سوسیالیستي جمهوریتونو دبهرنیو چاروو وزارت او دشوروي سوسیالیستي جمهوریتونو دکې جي بي او دشوروي دکمونیست گوند دمرکزي کمیټې دنړیوالو اړیکو له څانگې غوښتل کیږي چې لاندیني مصلحتونه په پام کې ونیسي چې:

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



......۳ .دپوځي چارولوی سلاکار ته د مرستې لپاره دي يو پوخ اوکارپوه جنرال اوپاخه او په کارپوه افسران افغانستان ته ولېږل شي چې نيغ په نيغه دې په(فرقو اوغـُنـډونو) کې له سرتيرو سره روزنيزکار وکړي .

۴ .ددې لپاره چې دبا ګرام په هوايي ډګرکې دشوروي د هوايي ډلګي امنيت په خوندي تووګه ونيول شي نو دافغان له دولت سره په همغږۍ کې دې دافغانستان ديموکراتيک جمهوريت ته په بَدَلو جاموکې (په عمومي ډول)دترانسپورتي الوتکو دترميم په جامو کې دپارشوټ يوه امنيتي لېوا واستول شي .

دشوروي اتحاد دسفارت دساتنې لپاره دې کابل ته دسفارت دکارکوونکوپه جامو کې دشوروي سوسياليستي جمهوريتونو دکې جي بي له (۱۲۵- ۱۵۰) تنه ولېږل شي. دآګست دمېاشتې په پيل کې وروسته له دې چې دترتيباتو ټوله لړۍ بشپړه شوه داوضاع د ډيرخرابوالي په صورت کې دامنيت ، په ځانګړې توګه ددولتي ودانيو دساتلو لپاره دې دافغانستان ديموکراتيک جمهوريت د(باګرام هوايي ډګر) ته د جي آريو له عمومي پرسونل څخه يوه ځانګړې ډله واستول شي چې داړتيا په وخت کې ورڅخه کارواخيستل شي.

الف.ګروميکو، آی يو اندروپوف، د.اوستينوف ، ب.پونيماريیف

]سرچېنه : الف.الف.لياخوفسکي،افغاني غميزه او زړورتيا، (ماسکو،جي پي آی 'ايسکان' ۱۹۹۵') پي.۷٦. ليخانوفسکي ليکي چې هغه لاربښوونې چې په دغه لاسوندي کې ويل شوې دي د۱۹۷۹

P.156/XIزکال دجون په ۲۸ دشوروي اتحاد دمرکزي کميټې دسياسي بيرو دڅانګې دغونډې په

پريکړه کې نېول شوې وې[ .

د جرمني مشرانو سره د برژنيف او نورو شوروي چارواکو ليدنه

د ( ختيزجرمني � ژ) د سوسياليست ګوند د يووالي له سکرترجنرال او د هغه هيواد دولسمشرۍ دسرمشريزې ډلې مشر ايريک هونکراو د ګوند دسياسي بيرو له نورو کانديدو غړوسره د شوروي سوسياليستي جمهوريتونو دمرکزي کميتي د عمومي مشرليونيد ايليچ برژنيف او دشوروي اتحاد ددولت دغړو او دګوند د استازو په شته والي کې [د اکتوبرپه ۲۹ نيټې د منځنۍ په ورځ (سه شنبه) ۱۹۷۹زکال] د(ختيز جرمني �ژ) دولسمشر په کورکې د کتنې دغونډې د چټک-ليکنې (ستينوګرافيک) بڼه

[.....]

برژنيف [....]

تاسو په نيږدې تيرو وختونوکې موږته خبر راکړئ چې چانسلر شميديت [ هلموت هينريچ ولاديمار شميديت � د لوېديځ آلمان مشر � ژ] له تاسوسره دلېدلو لېوالتيا لري. موږ له تاسو سره همغږي يو چې د دغسې شيبې له لاسه

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



ورکول به ښه نه وي خو د چمتوالي لپاره به يې لړوخت ته اړتيا وي. دغه غونډه به په خپله ختېه او تومنه کې دفدرالي ټاکنو په درشل کې، دشميديت ، د ټلوالې ددولت او ولسمشرۍ د دريزد ګټلولپاره دډېرو مرستو نښې له ځان سره ولري. دا زموږلپاره هم اړينه ښکاري چې تاسوله دغې غونډې څخه ګټه واخلئ او ان ورته تياری ونيسئ چې د چانسلردريز داسې خوا ته راواړوئ چې زموږ په ګومان په اروپا کې دنورو خبرو په ترڅ کې دامريکا دمنځني واټن ويشتونکو توغنديو د ستيشنونو دځای پر ځای کولو پلان لپاره مهم ښکاري .

ملګری هونکر که تاسو ددغې غونډې په ترڅ کې زموږ سلا ته ليواله ياست نو موږ ورته په ورين تندي چمتو يو .

[.....]

امريکا په پام کې لري چې په ختيزې اروپا کې د امريکا دمنځني واټن ويشتونکي توغندي ځای پرځای کړي او دهرې ورځې په تيريدو زموږ لپاره دانديښنې او ارزښت وړګرځي. داسې ښکاري چې دجرمن فدرالي دولت او دفدرال چانسلرښاغلی شمېديت، ددغو پلانونو په چمتووالي کې ان کوشنۍ ونډه هم نه لوبوي. هغوی (امريکا-ژ) غواړي چې دناټو دټلوالې نورهېوادونه لکه هالند، بلجيم په دغې تابيا کې راګډ او په خاوروکې يې دتوغنديو نوي ستيشنونه ځای پرځای کړي. ددسامبرپه مېاشت کې دناټو د کېدونکې غونډې لپاره دليکل شويو پريکړو دراکړې ورکړې تابيا په پام کې نېول شوې .

دآلمان له فدارلي جمهوريت سره زموږ د نيغو اوله نورو لارو د ګڼ شميراړيکو پربنسټ موږپه نه سترې کېدونکې توګه ددغو پلانونو د پلي کولو په وړاندې دخوځښت هڅه کوو. دا موږ ته مهمه ده چې ټول سيوسياليست هېوادونه په دې اړه ګډ مورچل ولري .

دآلمان په فدرالي جمهوريت کې دې اغيزمنې ډلې پوه کړای شي چې بن اوواشنګتن دواړو يوه خطرناکه لوبه راپيل کړې، او ددغو پلانونو پلي کول به په خپله دديتانت په وړاندې يوه سياسي چاودنه رامنځ ته کړي ځکه بالمقابل سيوسياليست هېوادونه اړايستل کيږي چې په وړاندې يې سياسي اوستراتيژيک ګامونه اوچت کړي چې دا به په خپله د(آلمان-ژ) فدرالي جمهوريت لپاره يوه مخ په ودې ويره را وزيږوي .

زه ګومان کووم چې د پوځې ديتانت په ډګرکې دسوسياليستو هېوادونو ممتم اوګټوردفاعي اقدامات به يو شمير پايلې رامنځ ته کړي .

د دغې ستونزې په اړله زموږله پلټنو، له تاسو او دملګرې ټلوالې هېوادونو له مشرانو سره له سلا او مشورو وروسته د ګټورو اقداماتو په تړاو ، موږ دغه لاندينۍ چارې په پام کې لرو :

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



موربه اعلان وکړو چې که ناتو او دامریکا متحده ایالات په لویدېځه اروپا کې دامریکايي توغندیو ددستګاوو دځای پرځای کولو له پلانونو څخه په بشپړ ډول لاس په سرشي نوموړ به هم دشوروي په اروپايي برخې کې د منځني واټن ويشتونکوتوغندیو کچه راټيټه کړو .

موږ به دشوروي سوسياليستي جمهوريتونو د ښه نيت دنخښو دڅرګندونو لپاره اعلان وکړوچې شوروي اتحاد به د آلمان په ډيموکراتيک جمهوريت کې دوسلو اوځواکونو يوه څرګنده برخه راټيټه کړي او پرنورو لوېدېځو هېوادونو غږ کوي چې دشوروي نوښت ته په کتنې دي وَرته نوښت ته ملا وتړي. ما د[ آلمان د ډيموکراتيک جمهوريت د جوړېدلو د ۳۰ کليزې دلمانځنې په خوښيو کې ] دګډون لپاره دلته برلين ته د خپل د راتګ په مهال غوښتل خپل نظر تاسو ته څرګند کړم .

غوارم ټينګار وکړم چې نوموړي اقدامات به د آلمان د ديموکرايتک جمهوريت په خاوره کې د ديره شويوسرتيرو په ګډون زموږ دوسله والوځوکونو دفاعي وړتيا ته په هېڅ ډول تاوان ونه رسوي او له دې اړخه تاسو ډاډه اوسـئ .

اوس به راشم په امريکا کې ددويم سالت د تړون په اړه دپريکړې خبروته :

زموږ احساس دا دی هرچا چې تراوسه ددغه تړون له پريکړې ملاتړکړی په ډېرولوړو ځايونو کې لاس لري. اوسنې اکر لاپيچلی شوی. دولسمشر کارترد اداري په ښکاره ګډون، دامريکې په متحدوايالاتوکې شديدو چيغو او واويلاو په کيوبا کې د شوروي د يوه پوځي غـُـنـډ دځای پرځای کولو لپاره ټينګ خنډ رامنځ ته کړی دی. موږ دامريکې د تهديد په وړاندې د کيوبا په شان کلک دريز نيولی دی. موږ دامريکايانو داجباري انحصارغوښتنې اويا زموږ او دکيوبا په اړيکوکې دلاسوهنو په وړاندې په ټېنګه درېدلي يو. ولسمشرکارتربيرته په تش لاس په شا شو. ددغې په شا کېدنې په کړس کې غواړي خپل زور اوځواک ښکاره کړي، په ځانګړې توګه دکارابين په سيمه کې .

خو ددغه دريز ناوړه اغيزې لا تراوسه هم شته. ددويم سالت د تړون د پرېکړې حالت چې ولسمشر کارترورته ليواله ښکاري له بده پسې بدتر شوی. د دويم سالت له سکالو پرته په واشنګتن کې د انديښنې د کړکېـ را پرانيستنه هغه مهال په سترګو کيږي چې هغوی( امريکا )او په ټوليز ډول ټوله ناټو د پياوړو وسلوجوړولو ته ليواله ښکاري .

ديوې ګډې دندې په توګه ، موږ اوتاسو بايد سرله اوسه او ان ددويم سالت دتړون له رامنځ ته کېدلو وروسته په يوه پراخ مورچل کې څنګ ترڅنګ په ګډه ودريږو چې د ټولو ديپلوماتيکو،سياسي اوټولنيزو اغيزو له لارې ددغې ليوالتيا په وړاندې جګړه وکړو .

د شوروي اتحاد او نوروټولو سوسياليستي هېوادونو په وړاندې واشنګتن اوس په فعاله او مخ په زياتېدونکې توګه چينايي کارډ لوبوي. امريکايي � چينايي ملګرتوب يوازې نمايشې بڼه لري. دسياسي کوژدې دغسې کرښه پيکينګ په ويتنام لاوؤس او کمبوديا کې نورولاسوهنو ته هڅوي. او دې ته موږبايد ځانګړې ډول پاملرنه وکړو .

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



د چین � شوروي داړیکو د عادي کولو لپاره اوس په ماسکو کې خبرې اترې پیل شوې دي. دخبرو لومړۍ لړۍ داداري چاروتخنیکي اړخونو ته ورکړل شوې وه. له دې امله ګرانه به وي اټکل وکړوچې چینایان به د خبرو د بل پړاو لپاره څه راوړي. زموږ پلاوي ته څرګنده لارښوونه شوې ده هغوی هڅه کوي چې د خبرو اترو مخه رښتوني اړخ ته راتاو کړي. موږ نه غولیږو. موږ له یوې سختې سیاسي جګړې سره مخامخ یو. موږ داړیکو دښه والي لپاره هلې ځلې کوو هغه هم ان که د لږ ترلږه کچې پورې وي. اوګران بریښي چې دغه به هم ترسره شي که نه. دسولې او سوسیالیزم په وړاندې د پیکینګ تګلاره له ژورې دښمنۍ ډکه ده .

اوس په لنډیز دایران اوافغانستان په حالاتو راتاویږم- په وروستیووختونو کې په ایران کې لږ ترلږه حالات دیوې ناڅرګندې مثبتې لیوالتیا په پوښښ کې رادباندې شوې. اسلامي مشرانو د پرمختلونکو ځواکونه مشران دقانوني څار تر غیښې لاندې نیولې. هغوی په بې دردۍ د ملي لرکیو غړ په ستوني کې وچوي. هغوی موږ ددغوفعالیتونو په پاروني تورنوي .

له ایران سره دګاونډیتوب دښه اړیکو دځغلولو او پرمختګ په لاره کې زموږ هڅو په تهران هېڅ اغیزه نه ده شیندلې او موږ په ټولو خبرو ښه پوهیږو .

خوموږپه یوه بله خبره هم پوهیږوهغه دا چې : په ایران کې اسلامي انقلاب ، د ایران او امریکا پوځي ټلواله په بنسټېزه ټوګه له منځه یووړه. دیوشمیر نړیوالو، په ځانګړې توګه په منځني ختیځ کې، د ستونزو په اړه نن سبا ایران دپانګوالۍ ضد دریز غوره کړی دی. پانګواله نړۍ غواړي چې په سیمه کې خپله اغیزه بیا ترلاسه کړي. موږ هڅه کوو چې ددغو هڅو په وړاندې ودریږو. موږ دایران له اوسني مشرتابه سره په ډیر زغم کارکوو او د دوه اړخیزو برابرو ګټو پربنسټ د دوه اړخیزو همکاریو دپراخیتا دچاپیریال خواته درومو .

موږ تاسو ته په وروستیو وختونو کې د افغانستان د نویو پیښو دحالت په اړه لنډ مالومات درکړي. ددې ترڅنګ غواړم دغه ټکي پرې ورغبرګ کړم: موږ له افغانستان سره دپام وړمرسته کړېده. موږهلته خپل پوځي او ملکي سلاکاران لېږلي دي؛ موږ هغوی ته مو دپام وړ اوپریمانه وسله اوپوځي توکي ورکړي دي .

په دغه هیواد کې اوس حالات ښه شوي دي. خو په یو شمیرولایتونو کې له یو شمیر یاغي ډلوسره چې له پاکستان، امریکا او چینه غیرمستقیم او له ایرانه مستقیمه ملاتړ تر لاسه کوي،پوځي ترینګلتیا لا دوام لري. ددې ترڅنګ په افغاني مشرتابه کې یو شمیر کړکیچونه او خرپړتیاوې شته. موږ هڅې کړې دي چې د مشرتابه په منځ کې دیووالي او یوموټیي توب لپاره دهمکاري لاس وغځوو. تاسو پوهیږئ چې امین د تره کي له غیرقاطعیت څخه په ګټه اخیستنې او له ډیرنیږدې ملګرتوب سره سره، نوموړی له منځه یووړاو مشري یې په غاړه واخیستله. تاسوپوهیږئ کله چې تره کی د ناپییلتوب د غورځنګ په کنفرانس کې د ګډون لپاره هاوانا ته تللی وو دخپلې لارې په ترڅ کې ماسکوته راغی. ما له هغه سره ولېدل او سلا مې ورکړه چې په خپل هېواد کې دې د ثبات لپاره کوټلي ګامونه پورته کړي او

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



دنورو خبروترڅنګ دې داساسي قانون او انقلابي قانونيت په منځ ته راوستلو کې کار وکړي. دا دی وينو هغه څه مې چې تره کي ته ويلي ول، اوس يې امين سرته رسوي .

که سپينه ووايم، موږ د امين په تګلارو او اعمالو خوښ نه يو. هغه د واک تږی دی. هغه په ځوځوځله نامناسبه زيږوالی او شدت له ځانه څرګند کړی دی. خو د بنستيزې سياسي کړنلارې په ډګر کې په ډاګه منو چې امين په هوډمنه توګه دانقلاب په لا پرمختګ، له شوروي اتحاد او نورې سوسياليستي ټولنې سره د اړيکو د لاهمکارۍ لپاره کارکوي .

په حقيقي اړخ کې د امين ګڼ شمير لارروبان او پلويان د درناوي وړ خلک دي، هغوی دمارکسيسزم � لينينزم نظرياتو ته پاليالة دي او زموږ په وړاندي د ښه چال چلند دريز لري .

داوسني حالت په پام کې نيولوسره موږ به له افغانستان سره خپل ملاتړ ته دوام ورکړو، يو شميرمرستې به ورسره وکړو،او دبهرني نيواک او انقلاب ضد ډلو په ټکولو به يې ملا ور وتړو .

[....]

سرچينه:

{Source: Stiftung �Archive der Parteien und Massenorganisationen der ehemaligen DDR im Bundesarchive� (Berlin), DY30 JIV 2/201/1342 }

دغه لاسوندی ميرمن کريستين اوسترمن له آلماني انګريزي ته ژباړلی دی

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



# برژنيف ته د اندروپوف ځانګړې ياددښت ليک

پښتوژباړه: رحمت آريا

جولای ۲۰۰۸

برژنيف ته د اندروپوف ځانګړې ياددښت ليک

)۱۹۷۹ کال، ددسامبر پيل)

۱ .له کودتاه او د سږکال د سپتامبر په مياشت کې د تره کي له وژلو وروسته د افغانستان د حلالاتو مخه موږ ته د نه منلو پـلَـو ته نيغه شوې ده. په ګوند کې دننه ، ددولتي کارکوونکو اوپوځ په منځ کې اکرډيرکرکيچن شوی او د امين د ډله ييز فشار اوزورزياتي امله له هرومرو نابودۍ سره مخامخ دي. په همدې ترڅ کې لوېدېځ ته د ممکنه سياسي مخامخ تاوونې مخګواښيزه مالومات هم رارسيږي. [او هغه دا دي]:

-له امريکايي ښارکښ سره د پټوسکالو په تړاو اړيکه چې موږېې پرې نه يو خبرکړي.

-له توکميزو مشرانو سره ژمنه چې ګنې خپل مخ به د شوروي له سوسياليستي جمهوريتونو څخه ا َړوي او يو 'ناپييلی' سياست به غوره کوي.

-د تړلو دروازو ترشا غونډو کې د شوروي پر سياستونو اوزموږ د کارپوهانو په فعاليتونو تيرى.

-له کابله په عملي ډول زموږد مرکزونو ليري کول او نور.

-په کابل کې ميشتې ديپلوماتيکې کړۍ په برالا ټوګه له ماسکو سره د امين پراختلافاتو اود هغه د شوروي ضد ممکنه ګامونو پراوچـَتـَونې خبرې کوي .

په وروستيو وختونو کې له موږسره يوشيمربهر ميشتو افغانو کمونيستانو اړيکه نيولي. له'ببرک' کارمل او 'اسدالله ' سروري سره زموږ داړيکو په لړکې موږ ته په ډاګه شوې ' هغوی موږ ته په خپله ويلي ' چې له امين مخالفت سره کې پريوه پلان يې کارکړی او نوی ګوند اود دولت ارګان به جوړوي. ددغو ګامونو پروړاندې دخنډ کېدلو اوغبرګون په څرګندونه کې امين ډله ييزو نيونو اوبندي کولو ته لاس اچولی'۳۰۰ تنه يې تر اوسه وژلي'

دغو ټولو له يوې خوا د '۱۹۷۸زکال د اپريل' دمياشتې دلاس ته راوړنود له منځه وړلو ويره رازيږولې ده ځکه چې په هېواد کې به(په پسرلي کې دياغيانو ديرغل لړۍ پراخه شي) او له بله اړخه زموږ دريزونه يې په افغانستان کې له ګواښ سره مخامخ کړي (همدا اوس هيڅ ډول ژمنه نه شي کېدای چې که امين پر واک پريږدونو نو په بدل کې به يې ګنې لويديځ ته به مخ نه ورا َ ړوي.)

۲ .په وروستيو وختونو کې له موږسره يوشيمربهر ميشتو افغانو کمونيستانو اړيکه نيولې. له'ببرک' کارمل او 'اسدالله ' سروري سره زموږ داړيکو په لړکې موږ ته په ډاګه شوې ' هغوی موږ ته په خپله ويلي ' چې له امين مخالفت سره

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



په مخالفت کې پريوه پلان پې کارکړی او نوی ګوند اود دولت ارګان به جوړوي. ددغو ګامونو پروړاندې دخنډ کېدلو اوغبرګون په څرګندونه کې امين ډله ییزو نیونو اوبندي کولو ته لاس اچولی '۳۰۰ تنه يې تر اوسه وژلي '.

په دغسې يوه اکر کې پرته له دې چې کارمل او سروري له امين سره خپلو پلانونه ته بدلون ورکړي زموږ په اوږو هغوی ته د مرستې او داړتيا په وخت کې د پوځي مرستې په ګډون د ملاتړ پازوالي په غاړه راپريوزي .

موږ دوه لېواګانې لروچې په کابل کې ديره دي او له هغه ځايه کولای سو ددغسې مرستې لاس ور وغځوو. داسې ښکاري چې 'همدغه دوه لېواګانې به -ژ' د يوه بريالي عمليات لپاره بس وي. خو دنااټکل شويو پيچلتياوو دمخنيوي لپاره ديوه احتياطي ګام په توګه ښه به دا وي چې يوه پوځي ډله دې کرښې ته نيږدې ځای پرځای شي. دپوځي ځواکونو دپلي کولو په صورت کې به په هماغه وخت کې د داړه مارانو دوژلوپه اړه هم د پريکړې وړتيا ولرو .

دپورتني عمليات په پلی کولو موږپريکړه کولای شو چې د اپريل د انقلاب له لاس ته راوړنوڅخه ساتنه وکړو، په ګوند کې مارکسيستي � لينينيستي اصول پلي اوپه افغانستان کې يوه دولتي سرمشريزه رامنځ ته او په دغه هېواد کې خپل درېز خوندي کړو .

سرچينه:

اي پي آر ايف (د امريکا د ټولنيزو اړيکو ټولنې): د اې.ايف دوبرين دياددښت لېکونو له مخې اخيستل شوی چې د ناوري د نوبل انستيتيوت ته يې ورکړی وو، چې سي ډبليو ای ايچ پي ' دسړې جګړې دنړيوال تاريخ پروژې' ته دنوبل انستيتيوت دڅيړنو مشر آد ارنه ويستاد ډالی کړی او ' دسړې جګړې دنړيوال تاريخ پروژې' ته دانيل روزاس راليږلی دی .

{Source: APRF, from notes taken by A. F Dobrynin and provided to Norwegian Nobel institute; provided to CWIHP by Odd Arne Westad, Director of Research, Nobel Institute, trans - for CWIHP by Daniel Rozas }

د لاسوندی دکتلو لپاره دغه ځای کښېکاږئ

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library





په امريکي کې د شوروي سوسياليستي
جمهوريتونو سفير اناتولي فيدرووېچ دوبلين

اناتولي فيدرووېچ: په ۱۹۴۵ کال کې دکمونيست ګوند غړی شو تر۱۹۵۲ کال پورې يې د شوروي د بهرنيوچارو په وزارت کې کار وکړ له ۱۹۵۲ تر ۱۹۵۴ پورې په واشنګتن کې دشوروي کونسل وو. له ۱۹۵۵ تر ۱۹۵۷پورې بيرته ماسکو ته ولاړ او په ډېرو نړيوالو غونډو کې يې ګډون وکړ، له ۱۹۵۷ تر ۱۹۶۰ پورې يې په نيويارک کې دملګروملتونو دسکرتريت دريزيې وساته . په ۱۹۶۲ کال کې نيکيتا خروشچيف نوموړی په امريکا کې د شوروي د سفيرپه توګه وټاکه. د هغه د ډيپلوماتيکي کارلړۍ دسرې جګړې په اوږدو کې د شوروي او امريکا د شپږو مشرانو د مشرۍ په دوره کې تر سره شوی . په ۱۹۸۶ کال کې ميخايل ګورباچف بيرته ماسکو ته راوغوښت او د کمونيست ګوند د نړيوالو اړيکو د سکرتر په توګه يې وټاکه او په ۱۹۸۸ز کال کې له دغه دريز څخه کورناستی شو .

سرچينه:

http://www.britannica.com/EBchecked/topic/167289/Anatoly-Fyodorovich-Dobrynin

د اصلي لاسوندي سرچېنه:

http://www.gwu.edu/~nsarchiv/NSAEBB/NSAEBB57/r7.pdf

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



## پرحفيظ الله امين د روسانو شکمنېدل

يادډښت: پورتنی سرلیک په لاسوندي کې نشته

ژباړه : رحمت آريا

جولای ۲۰۰۸

ټرټولو پټ (کاملأمحرم)

دشوروي اتحاد دکمونيست گوند مرکزي کمېټې ته

د افغانستان اکريا حالت د سرِکال د سپتامبر د ۱۳ � ۱٦ نيټو د پېښوله لړۍ وروسته چې په ترڅ کې يې تره کی دواک له گدۍ راوغورځول شو اوپه جسمي لحاظ له منځه يووړل شو، لا تراوسه په بنسټيزدول پيچلی پاتې دی.

ديوشميرسربېرنو (ظاهري) نښو په راڅرگنديدلو لکه داساسي قانون پر مسودې له سره کارپيل کول، له بنده د يو شمير مخکې نيول شويو کسانوخوشې کول دې ته نغوته کوي چې امين د خپل واک د پياوړي کولولپاره هڅې پيل کړې ؛ په حقيقت کې پرپوځ،دولتي فعالينو، مدني ټولنواو په گوند کې دننه د د زورزياتي او فشار لمنه پراخه شوې ده .

د هغومالوماتو پر بنسټ چې موږ يې په لاس کې لرو ښکاري چې دمگړۍ د سياسي بيرو د يو شميرغړو (زيري، ميثاق او پنجشيري) اعدام چې په افسانه يي تورونو ' گوندي ضد او انقلابي ضد کړنو' تورن دي په پام کې نېول شوی دی. د افغانستان د خلق ډيموکراتيگ گوند د مرکزي کمېټې په پلينوم کې چې په وروستيو وختونو کې جوړ شوی وو امين د گوند په پياوړو واکمنو څانگو کې د خپلو خپلوانو په گډون خپل ځان ته پااليالە کسان ورپيژندلي دي... .

په وروستيو وختونو کې يو شمير د پاموړ حقايق څرگندوي چې د افغانستان سرمشريزه په پام کې لري له لوېديځو ځواکونو سره د 'متوازنه سياست' لاره راخپله کړي. له افغانانو سره د اړيکو د سرچينو پربنسټ لوېديځه نړۍ په ځانگړې ټوگه د امريکا استازي دي پايلې ته رسيدلي دي چې په افغانستان کې د سياست د کرښې د مخې د بدلولو لپاره داسې امکانات رامنځ ته شوي چې لوری يې د واشنگتن خوشالولو ته په اَوړېدو دی .

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



ددې په پام کې نيولو او د ټولو اړينوامکاناتو د کارَونې په پـَيلـَولو بايد په افغانستان کې د انقلاب ضد بريا اويا د لوېديځ په لور د امين سياسي ميلان ته دې اجازه ورنکړل شي او لاندنۍ کرښه دې په ډېر ځيراو پاملرنې په نظرکې ونېول شي :

د هغومالوماتو پر بنسټ چې موږ يې په لاس کې لرو ښکاري چې دمګړی د سياسي بيرو د يو شميرغړو (زيري، ميثاق او پنجشيري) اعدام چې په افسانه يي توررونو ' ګوندي ضد او انقلابي ضد کړنو' تورن دي په پام کې نېول شوی دی. د افغانستان د خلق ډيموکراتيګ ګوند د مرکزي کمېټې په پلينوم کې چې په وروستيو وختونو کې جوړ شوی وو امين د ګوند په پياوړو واکمنو ځانګو کې د خپلو خپلوانو په ګډون خپل ځان ته پاليالـه کسان ورپيژندلي دي... .

١ .له امين اوپه ټوليز ډول د افغانستان د خلق د ډيموکراتيک ګوند او د افغانستان د ډيموکراتيک جمهوريت له مشرتابه سره دې په نه سترې کېدونکي ډول په دې توګه کارته دوام ورکړل شي چې هغه ته څرک ونه لګيږي چې ګڼې موږ پر هغه يا ډاډ نه لرو او يا نه غواړو ورسره راکړه ورکړه وکړو. له امين سره د خپلو اړيکو د کارَولو له لارې خپل مناسب رسوخ ورښکار کړئ او په عين حال کې د هغه حقيقې موخه ځانته راڅرګنده کړئ .

مخکې له دې چې امين د شوروي ضد دريز خواته ور تاوشي د حقايقو له موندلو سره سم زموږ له پلوه ورته زموږ شونواقداماتوپه اړه له اضافي تجويزونو څخه يې خبر کړئ .

الف.ګرميکو، آی.يو.اندروپوف

د.اوستينوف، ب.پونيماريوف

۱۹۷۹اکتوبر، ۲۹

سرچېنه

دالاسوندی دلياخوفسکي .الف.الف په کتاب کې 'د افغانانو غميزه او زړورتيا' په ۱۰۲ پاڼه کې خپور شوی

(Moscow: GPI �Iskon�, 1995)

دلاسوندي دکتلو لپاره دغه ځای کښيکاږئ

http://www.gwu.edu/~nsarchiv/NSAEBB/NSAEBB57/r6.pdf

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



## د امین لخوا د ځانګړو روسي ځواکونو د لیږد غوښتنه

د شوروي اتحاد د کمونیست ګوند د مرکزي کمیټې د سیاسي بیرو دغونډې له پریکړې اخیستل شوې

نېټه : ۱۹۷۹/٦/۱۲

سرچینه: الف.الف.لیاخوفسکي، کتاب: د افغان زړورتیا او غمیزه، ماسکو، جي پي آی، ایسکون، ۱۹۹۵ پ.۱۰۷

پیژندنه: د امین په غوښتنې د شوروي اتحاد د کمونیست ګوند د مرکزي کمیټې د سیاسي بیرو دغونډې له پریکړې رااخیستل شوې چې یوه ځانګړې فرقه دې افغانستان ته ور ولیږل شي

ډیر محرم

ځانګړې دوسیه

ملګرو: برژنیف، اندروپوف، ګرومېکو، سولوسوف، اوستیوف ته

اخیستل شوې له: د ۱۹۷۹زکال د دیسامبر د ٦ نیټې د شوروي اتحاد د کمونیست ګوند د مرکزي کمیټې د سیاسي بیرو دغونډې د پریکړې له ۱۷٦ پرتوکول څخه

### افغانستان ته د ځانګړي پوځ لیږنه

په دې تړاو ټولو منلې او د شوروي اتحاد د کې جي بي او ددفاع وزارت ته لارښوونه شوې او لارښود لېک ورسره مل دی، نېټه ۱۹۷۹زکال د دیسامبر ۴ . شمیره۰۰۷۳/۲/۳۱۲ (مل لېک ورسره دی)

کاپي: سکترجنرال ل. برژنیف

[له مل لېک سره]

تر ټولو محرم

### د شوروي اتحاد د کمونیست ګوند مرکزي کمېټې ته

د افغانستان د خلق ډیموکراتیک ګوند د مرکزي کمیټې عمومي منشي او د انقلابي شورى مشر او د افغانستان د دیموکراتیک جمهوریت سروزیر ح. امین په ډیرټینګار د خپل استوګنځي د ساتنې لپاره کابل ته د یوه موټوریزه غونډ د ور لیږلو سکالوراپورته کړېده. د مخ په ودې اړوپیچ اود ح. امین د غوښتنې په پام کې نېولو سره مصلحت وګڼل شو چې د جي.آر.یو او د ستردرستیز د ډلې له ځانګړو سرتیرو څخه دې یوه ګډه ډله چې د همدغې موخې لپاره چمتوشوې، او په افغاني جامو کې دې ۵۰۰ نور مرستندویه سرتیري افغانستان ته ولیږل شي خو د شوروي اتحاد

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



پوځي ځواکونو ته دی څرګنده نه شي چې ګنې دوې زموږ سرتيري دي. د افغانستان ديموکراتيک جمهوريت ته د دغې ډلې دشوني ليږد سکالو د شوروي اتحاد د کمونيست ګوند د مرکزي کمېټې د سياسي بيرو د ۰٦/۲۹/۹۷ پروتوکول شميره پ. ١٥٦ / ای ايکس کې غبرګون مونډلی دی .

کابل ته دپوځي ډلو د استولو په تړاو موږ له افغان خوا څخه همغږي ترلاسه کړېده، موږ وړانديزکړی چې سرتيري د پوځي ترانسپورت د الوتکو له لارې د سږکال د ديسامبر د مباشتې په لومړۍ نېمايۍ کې کوزولای شو. ملګرى د.ف. اوستينوف له موږ سره همغږی دی .

يو.اندروپوف ، ن. اوګراکوف

شميره: ۰۰۷۳/۲/۳۱۲

۱۹۷۹ دديسامبر ۴

اخځ:

دلاسوندو راټولوونکي: په منځني ختيځ کې سره جګړه

جوړونکی:اوګراکوف

دلاسوندي ورکوونکی: يوري. ی. اندروپوف

بڼه: ګزارش

سکالو:پرافغانستان د شوروي يرغل

لېک بڼه: له روسي ژباړل شوی

سرچينه:

[Source: As cited in A.A. Liakhovskii, The Tragedy and Valour of the Afghani (Moscow: GPI "Iskon", 1995), p. 107.]

د ژباړې سرچينه:

http://www.wilsoncenter.org/index.cfm?topic_id=1409&fuseaction=va2.document&identifier=5034DDFA-96B6-175C-97451DDBC39B5A35&sort=Subject&item=Ogarkov

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



## پرافغانستان د شوروي د یرغل پریکړه او د لیاخوفسکي لیکنه

پښتوژباړه: رحمت آریا

جولای ۲۰۰۸

دالکساندرلیاخوفسکي له پلوه

دافغانانو غمېزه او زړورتیا

GPI Iskon, Moscow, 1995, pp.109-112

برېد جنرال الکساندرلیاخوفسکي � دروسېي د ځمکني پوځ جنرال.

دافغانستان د جګړې په مهال یې په افغانستان کې دشوروی سوسیالیستي جمهوریتونو ددفاع دوزارت د عملیاتي ډلې دبولندوی وي.آی.واریکنوف دمرستیال بولندوی په توګه کار کاوه .

د۱۹۷۹ کال د دیسامبر په اتمه نېټه د لیونید ایلیچ برژنیف په ځانګړي دفتر کې د شوروي سوسیالیستي جمهوریتونودمرکزي کمیټې دسیاسي بیرود یوې کوشنۍ کړی په ګډون یوه غونډه جوړه شوه: یو.اندروپوف، الف. ګرومیکو،م.سولوسوف او د.اوستینوف له لیونیدایلیچ برژنیف سره په غونډه کې راټول شوي ول. هغوی په سیمې کې دشوروي د سرتیرو دپلي کولو دګټو او تاوانونوپه څیړلو دافغانستان اوورڅیرمه سیمې داوسني اکر په تړاواوړدې خبرې ترسره کړې. یو.اندروپوف او د.اوستینوف ددغسې یوه ګام د پورته کولوداړینتوب پرهمجولیزوالې 'هماهنګي' اودفاع کې خبرې وکړې او ویې ویل: د شوروي د سویلي جمهوریتونودخاوروپه ګډون د'نوې عثماني ستروا کۍ' دجوړولولپاره دامریکا دمتحده ایالاتو دسي آی اې د اداري دیوه کارکوونکي (په انقره کې میشت امریکایي پاول هینز) هڅې؛په سویل کې دیوه ډاډمن دافع هواجوړښت نشتوالی چې له امله یې که امریکایان په افغانستان کې د 'پیرشینګ' ډوله توغندي ځای پرځای کړي نود شوروي د ژوند اومرګ ګڼ شمیراهداف به په نښه کړای شي او په دې کې به دبینکونور فضایي مرکزهم ګډون ولري؛دا ویره شته چې پاکستان او عراق به دافغاني یورانیمو سرچینې په کار یوسي؛[ښایي]پاکستان دافغانستان په شمال او دهغه ترڅنګ په څیرمو سیموکې مخالف رژیمونه ځای پرځای کړي ، او دې ته ورته .

دغونډې په پای کې هغوی د یوه لومړني پلان پرجوړولو پریکړه وکړه چې په دوه وو پړاوونوکې باید ترسره شي: ۱- د کي.جي.بي د ځارکښو په لاس دې حفیظ الله امین لیرې او پرځای دې ببرک کارمل کښېنول شي؛ ۲- دهمدغې موخې لپاره دې دافغانستان خاورې ته یو شمیر سرتیري واستول شي .

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



د۱۹۷۹ کال د دیسامبر په لسمې نېټې د شوروي سوسیالیستي جمهوریتونو ددفاع وزیر د.ف. اوستینوف، ستردرستیز ن.وي.اوګراکوف ته لنډه لارښوونه وکړه او ورته ویې ویل چې سیاسي بیرو خپلې لومړنۍ پریکړې ته رسیدلې او دلنډمهال لپاره به په افغانستان کې خپل سرتیري پلي کړي او هغه ته یې بولنده ورکړه چې له ۷۵ تر ۸۰ زروتنو سرتیري دي چمتو کړي .

ن.وي.اوګراکوف ددغسې پریکړې له امله هک پک او په قهر شو او ویې ویل چې ۷۵ زره تنه سرتیري به د اکرد کابو کولو وړتیا نه لري نو له دې امله نوموړی د سرتیرو دپلي کولو پلوی نه وو او هغه یې 'بې پروایي' وبلله. ددفاع وزیر په قهرژلې توګه دهغه خبرې ودَرَولې:' ته غواړې چې سیاسي بیرو ته درس ورزده کړې؟ستا دنده یوازې د بولندې پرځای کول دي.....' په همدغې ورځ نیکلای واسیلیویچ 'اوګراکوف' په ناڅاپه د لیونید ایلیچ برژنیف دفتر ته راوبلل شو چې خوشې په نامه کوشنۍ سیاسي بیرو(یو.اندروپوف،الف.ګرومیکو او د. اوستینوف) غونډه جوړه کړې وه .

ستردرستیزیوځل بیا هڅه وکړه چې په غونډه کې ناستوکسانو ته قناعت ورکړي، هغه ټینګار کاوه چې دپوځ د کارَولو پرځای دې دافغانستان د لانجې پر سر د سیاسي لارو چارو د موندولو په اړخونو پریکړه وشي. هغه وویل چې افغانان هېڅکله د پردیو شتون نه شي زغملای اوهغوی ته یې زموږد ممکنه پوځي عملیاتو په اړه اخطار ورکړ- خو هر څه بې ګټې ول .

خودخبروپه پای کې هغوی په ازمایښتي توګه هوډ وکړچې د اوسني وخت لپاره به د پوځي بیړنې مرستې په اړه پریکړه ونه نیسي، هرګوره پریکړه وشوه چې سرتیري دې هرومرو خپل چمتووالی ونیسي .

ماښام وو چې اوستینوف ددفاع وزارت ډله راوبلله او هغې ته یې دپوځي مشرتابه د لوړپوړوچارواکو کوشنۍ کړۍ ته خبروکړچې په نیږدې راتلونکي کې به دافغانستان پرخاوره دشوروي دلښکر دپلي کولوپه اړه پریکړه ونیول شي او له دې امله هغوی دې دلښکرچمتووالي ته ملا وتړي. له همدې امله ووچې ۰۰۱۳۳/۱۲/۳۱۲ شمیره لارښود لېک سرتیرو ته واستول شو.د دیسامبر له لسمې نېټې وروسته اوستینوف دترکستان په سېمه کې ستردرستیز ته دنوي لښکردجوړولو په اړه شفاهي لارښوونې ورکولې. د دغو لارښوونو پربنسټ دغوره شویو سرتیرو خوځښت ترلاس لاندې ونیول شو او دهوایي پوځ او دپوځ نورې څانګې دترکستان پوځې سېمې ته واستول شوې.دچمتووالې ټولې تابیاوې په پټه ترسره شوې او دځمک انځورو یانقشوپرمخ ولیکل شوې .

څرګنده ده چې دافغانستان له حالت څخه په کابل کې دیره د کې جي بي د استازي تورنجنرال ب.ایوانوف دارزونې پربنسټ وروستنۍ پریکړه ونیول شوه. کله چې د دسامبر په ۱۲ نېټه ددفاع وزیر د شوروي سوسیالیستي جمهوریتونو د کمونیست ګوند د مرکزي کمیټې غونډې ته روان وو د ایوانوف ګزارش دهغه د میز پرسرپروت وو. سترجنرال وي.پ. پلاتین چې په یوه وخت کې د افغان پوځ د ادارې لوی سیاسي سلاکارو،پورتنۍ ګزارش لېدلی

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



او دغه خبره مني. یوه ورځ مخکې د شوروي د سوسیالیستي جمهوریتونو دفاع وزیرنوموړی ماسکو ته رابولي اوغواړي هغه ته چې دافغانستان په ډیموکراتیک جمهوریت کې په پوځي چارو کې له ترټولو ښه خبر سړي دی د را رسیدلي ګزارش په اړه مالومات ورکړي څکه چې اصلي پوځي سلاکارس. ماګومیتیف نوی افغانستان ته رسیدلی وو اود افغانستان د حالاتو په اړه یې ژور مالومات نه درلودل. خو کله چې دڅارکښو ادارو له خوا دافغان پوځ په اړه دراليږل شوي ګزارش په وړاندې جنرال خپله ناهمغږي او غبرګون څرګند کړ اودشخړو په ترڅ کی یې وویل چې دابه په افغانستان کې اوضاع له بده پسې بدتره کړي او ډیرې دراماتیکي پایلې به ولري، نو د.ف. اوستینوف دکي.جي.بي د استازي ته [کوډ/شفر/محرم] تیلیګرام وروښود چې پکې وویل شوي ول: ' که تاسو هلته 'په ماسکو کې �ژ' له له یو بل سره پریکړه نه شي کولای نوموړبه هرومرو'دلته' ' په کابل کې �ژ' پریکړه وکړو'.

ددیسامبر په ۱۲ د شوروي سوسیالیستي جمهوریتونو د مرکزي کمیټې سیاسي بیرو' په بله وینا دغورو شویو غړو ډلې' د یو.وي.اندروپوف،د.ف.استینوف اوالف.الف.ګرومیکو په نوښت په همغږې توګه وروستۍ پریکړه وکړه چې � افغانستان ته دې سرتیري واستول شي، او د خبرې د پټ ساتلو لپاره دغه پریکړه 'اقدامات' ونومول شوه. شوروي مشران ګروهن ول چې دغه ګامونه به، پرته له دې چې نورې موخې ولري، یوازې دهېواد د حالاتو پیاوړتیا اوښه کولوته ګټور وي. دغونډې ترونلیک چې تر ډیرې مودې پورې ترټولوپټ لاسوندی ګڼل کېده اود ک.یو.چرنینکو په لاس لیکل شوی وو، هېڅ چا ان د مشرتابه لوړپوړو چارواکوته ونه ښودل شواو په ځانګړي صندوق کې وساتل شو او د شوروي سوسیالیستي جمهوریتونو د کمونیست ګوند دمرکزي کمیټې په ځانګړې دوسیه کې بندي خو ژوندی پاتې شو.

دغه لاسوندی په ډاګه څرګندوي چې افغانستان ته د شوروي د سرتیرو د لیږد پیلوونکي او پریکړه کوونکي څوک ول. ترونلیک د شوروي سوسیالیستي جمهوریتونو دمرکزي کمېټې د سیاسي بیرو ټولو هغوغړوچې په غونډې کې یې برخه درلودله لاسلیک کړ. په دغووختونوکې د هغه 'ترونلیک' 'په وړاندې' چاخبرې نه شوای کولاې.د سیاسي بیرو هر غړی پوهېده چې ناموافقت به یې څنګه د سترګو په رپ کې د ګوند سکرترجنرال ته و رسول شي او له همدې امله ول چې هر وړاندیز په پټو سترګو 'دټولو غړو له پلوه' په ټولیزډول منل کېده. د هغې ورځې تګلاره او پرنیسپ دا وو چې ټولیزاومجموعي پټپټاني واک چلاوه. د یادولو وړده، الف.ن.کاسیګین چې د دغې سکالوپه اړه یې منفي دریزدرلود، په غونډې کې ګډون ونه کړ. په ترونلیک کې د 'الف' له توري څخه موخه 'افغانستان' اوله 'اقداماتو' څخه موخه دغه هېواد ته د سرتیرو د لیږنې معنې را څرګندوي. له دې امله افغانستان ته د سرتیرو د لیږلو د پریکړه کوونکو پازوالو 'مسوؤلینو' په اړه د ناسمو ډنډورو اوناهمآهنګیو لمنه ورټوله شوله .

له افغانستانه ' دکي جي بي له پلوه � ژ' را رسېدلي پټ (محرم) تیلیګرامونه داسي منښته څرګندوي چې د افغانستان په اړه د شوروي د مشرتابه له پلوه نیول شوي ګامونه ګنې سم اوپرځای ګامونه ول .

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



د سرتيرو دلېږد په تړاو داسې يو حکم نه وو چې د شوروي سوسياليستي جمهوريتونو د رئـيسه هيئـت د عالي شورى له خوا دې صادر شوى وي.ټول امرونه په شفاهي ډول ورکول کيدل. دا ددې لپاره شوې ول چې ګنې محرميت په پام کې ونيول شي او امين غافله راچاپير کړي .

د شته سياسي دودونو اوتګ لارو پربنسټ په هغووختونوکې د مهمو سياسيي پريکړو په اړه ددغسې اعمالو ترسره کول ممکن ول:په رښتوني اړخ کې، دشوروي سوسياليستي جمهوريتونو دکمونيست ګوند د مرکزي کميټې د سياسي بيرو په منځ کې چې 'د واکمن ګوند ترټولو لوړه او پياوړې ځانګه وه' يوه ټوليزه دوديزه پاليسي داوه چې ددولت ټولو ارګانونونو به هره پريکړه په 'رسمي' اوساده ډول منله او پريکړه به دخلکو خبرتيا تهوررسيدله.له همدې امله که هرڅومره دليل راوړلو نو بيا هم دې پايلې ته رسيږو چې که دغه سکالو د شوروي د رئـيسه هيئـت عالي شورى ته د خبرو اترولپاره راوړاندې شوې وه نو ټولو به 'دويل شوي دود پربنسټ �ژ' په يوه غږپه پټو سترګو منلې وه. ځکه هغه وخت د 'متحده نظر' دَوريا پـَير وو او ديوه ډير سختچارى يا مقيده سيستم تر سيوري لاندې چې د ګوند د ځانګنومونو 'نومينکليچر' په پوړيوکې يې جوړ کړى وو، ان يوه ګام ته يې اجازه نه ورکوله چې د ګوند د سياسي بيروله پريکړواو کړښو څخه دې هاغه غاړه واخيستل شي؛ هغه کسان چې د دولت په لوړو پوړونو کې ټاکل شوي ول د همدغسې يوه سياسي جوړښت تر بشپړ ځارلاندې ول .

له روسي انګريزي ته ژباړه : دواشنګتن په پوهنتون کې د ملي امينت له آرشيف څخه ميرمن سويتلانا سارانسکايا

له انګليسي پښتو ته ژباړه: رحمت آريا

سرچينه :

http://www.gwu.edu/~nsarchiv/NSAEBB/NSAEBB57/soviet2.html

اتم لاسوندى کښيکاږي. دا لاسوندى په مايکروسافټ ورډ کې ليکل شوى. چې انګليسي بڼه يې دا ده:

From: Alexander Lyakhovsky,

The Tragedy and Valor of Afghan

GPI Iskon, Moscow, 1995, pp.109-112

Alexander Lyakhovsky�Major General, General Staff of the Russian Army. During the war in Afghanistan served as assistant to Commander of Operative Group of the USSR Defense Ministry in Afghanistan General V. I. Varennikov.

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



On December 8, 1979, a meeting was held in L. I. Brezhnev�s private office, which was attended by the narrow circle of the CC CPSU Politburo members: Yu. Andropov, A. Gromyko, M. Suslov and D. Ustinov. They took a long time discussing the present situation in Afghanistan and around it, considered all the pros and contras of introducing the Soviet troops in the area. Yu. Andropov and D. Ustinov cited the reasons justifying the necessity of such step, such as: the efforts, undertaken by the CIA of the USA (U.S. resident in Ankara--Paul Henze), for creating a �new Great Ottoman Empire,� which would have included the Southern republics of the USSR; the absence of a reliable air defense system in the South, so that in the case of stationing of the American missiles of the �Pershing� type in Afghanistan, they would threaten many vital Soviet objects, including the space center Baikonur; the danger that the Afghan uranium deposits could be used by Pakistan and Iraq for building nuclear weapons; [possible] establishment of opposition regimes in the Northern areas of Afghanistan and annexation of that region by Pakistan, and so on.

At the end of the meeting they have decided, as a preliminary plan, to develop two options: (1) to remove H. Amin by the hands of KGB special agents, and to put Babrak Karmal in his place; (2) to send some number of Soviet troops on the territory of Afghanistan for the same purposes.

On December 10, 1979, the Defense Minister of the USSR D. F. Ustinov summoned Chief of General Staff N. V. Ogarkov, and informed him that the Politburo had reached a preliminary decision of a temporary introduction of the Soviet troops into Afghanistan, and ordered him to prepare approximately 75 to 80 thousand people. N. V. Ogarkov was surprised and outraged by such a decision, and said that 75 thousand would not be able to stabilize the situation, and that he was against the introduction of troops, calling it �reckless.� The Minister of Defense cut him off harshly: �Are you going to teach the Politburo? Your only duty is to carry out the orders . . .� On the same day, Nikolai Vasilievich [Ogarkov] was promptly summoned to L. Brezhnev�s office, where the so-called �small Politburo� (Yu. Andropov, A. Gromyko and D. Ustinov) was in session.

The Chief of General Staff once again tried to convince those who were present, that the Afghan problem should be decided by the political means, instead of relying on using force. He cited

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



the traditions of the Afghan people, who never tolerated foreigners on their soil, warned them about the possible involvement of our troops in military operations, -- but everything was in vain. However, in the end of the conversation they tentatively determined that for the time being they would not make the final decision on the immediate military assistance, but, in any case, the troops should start preparing.

In the evening, D. Ustinov gathered the Ministry of Defense Collegium and informed the narrow circle of officials from among the highest military leadership that possibly in the near future the decision would be made to use the Soviet troops in Afghanistan, and that they had to start preparing the appropriate forces. For this purpose Directive # 312/12/00133 was sent to the troops. Beginning from December 10, D. F. Ustinov started giving oral instructions to the Chief of General Staff regarding formation of a new Army in the Turkestan military district. On the basis of these instructions, selective mobilization of troops was carried out, and airborne and other military units were transferred to the Turkestan military district. All arrangements were carried out in secret, and noted on the maps.

Apparently, the final step was made after they received the report from the KGB representative, General-Lieutenant B. Ivanov, stationed in Kabul, with his evaluation of the situation in Afghanistan. This report was on the table of the Defense Minister at the moment when he was leaving for the CC CPSU Politburo meeting in the morning of December 12. General-Major V. P. Zaplatin, who was at that time adviser to the Chief of Political Administration of the Afghan army testified about it. The day before, the USSR Defense Minister summoned him to Moscow to report on the situation as the man with the most thorough knowledge of the state of affairs in the army of the Democratic Republic of Afghanistan, since principal military adviser S. Magometov, who had just arrived [in Afghanistan], did not fully grasp the Afghan situation yet. However, when the General expressed his disagreement with the assessments of the Afghan Army provided by our special services, and presented his arguments to the effect that they had dramatized the situation developing in Afghanistan excessively, D. F. Ustinov showed him a coded telegram signed by the KGB representative, and said, �You cannot come to an agreement there, but we need to make a decision [here].�

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



On December 12, at the session of the CC CPSU Politburo (or rather its elite), on the initiative of Yu. V. Andropov, D. F. Ustinov, and A. A. Gromyko, the final decision was made unanimously�to introduce Soviet troops into Afghanistan, although in the interest of secrecy, it was called �the measures.� The Soviet leaders believed that that step was intended to promote the interests of strengthening the state, and pursued no other goals. The protocol of that session, handwritten by K.U. Chernenko, which for a long time was super secret, was not shown to anybody, not even those among the highest leadership and was kept in a special safe, survived in a special folder of the CC CPSU.

This document to a large extent clarifies who were the initiator and executor of the introduction of Soviet troops into Afghanistan. The protocol was signed by all the CC CPSU Politburo members, who were present at the session. In those times nobody spoke �against� [it]. Every Politburo member knew how a disagreement with the opinion of General Secretary would be received, and therefore all proposals were �received with unanimous approval.� The principle of collective cover-up ruled the day. It is significant that A.N. Kosygin, whose position on this issue was negative, did not attend the session. In the document, the letter �A� signified Afghanistan, and the word �measures� signified the introduction of Soviet troops into that country. Therefore, all the false rumors, and inconsistencies regarding who was responsible for making the decision to introduce troops into Afghanistan have been removed.

The coded telegrams coming from Afghanistan looked as if they provided confirmation that the steps undertaken by the USSR leadership in regards to Afghanistan were the right ones.

There was no Decree of the Presidium of the USSR Supreme Soviet on the issue of the introduction of troops. All orders were given orally. That was justified by the need to ensure secrecy and the need to confuse H. Amin.

In those times, such actions were possible as a result of the existing practice of making important political decisions: in reality, after their adoption by the CC CPSU Politburo (the highest organ of the ruling party), they were, for the main part, simply formally �approved�

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



by the state organs, and were announced to the people. Therefore, there is every reason to believe that if that issue was raised at the Supreme Soviet, it would have been decided unanimously positively. Because that was the era of �unified thinking,� and the strict system of hierarchy created by the party nomenclature did not allow even one step outside the line determined by the CC CPSU Politburo; the people who occupied the key posts in the government, were under the total control of that system.

Translated by Svetlana Savranskaya, The National Security Archive.

دپښتو ژباړونکي څېړنه او یادَونه:


پورته مووویل چې دبرژنیف ترمشرۍ لاندې دګوند سیاسي بیرو یوه پټه پریکړه وکړه او دپریکړې مسوده چرنینکو په خپل لاس ولیکه او په هغې کې 'الف' افغانستان او 'اقدامات' پرافغانستان د یرغل د امر مانا راښندي. اوس دلته تاسو ته همدغه لاسوندی له انځور او ژباړې سره ړالی کوم او سرچینه یې هم لیدلای شي :

http://www.gwu.edu/~nsarchiv/NSAEBB/NSAEBB57/r9.pdf

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library





ОСОБАЯ ПАПКА

پښتو ژباړه: رحمت آریا

جولای ۲۰۰۸

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



ترټولو پټ (محرم)

[ټاپه:] ځانګړې ډوسیه

دغونډې مشر: ملګر'ی' ل. الف. برژنیف

همدارنګه، حاضر ول: سولسوف م.الف، ګریشین وي.وي، کریلینکو الف.پ، پیل شي الف.یا، اوستیوف د.ف، چرنینکو ک.یو، اندروپوف یو.وي، ګرومیکو الف.الف، تخنیکوف الف.الف، پونوماریيف ب.ن

د ' الف ' د حالت په اړه ، د شوروي سوسیالیستي جمهوریتونو دکمونیست ګوند دمرکزي کمیټې دسیاسي بیرو پریکړه

۱ -دهغو څیړنواوګامونو داوچتولومنل ، چې د اندروپوف یو.وي او ګرومیکو الف.الف له پلوه رامخته شوي دي. هغوی ته واک ورکول کیږي چې ددغوګامونو د اوچتولو په لړۍ کې دې دغیرضروري کرکټرپه اړه اصلاحات راولي .

هغه پوښتنې او اړخونه چې د [مرکزي کمیټې] پرپریکړو پورې تړلې دي په بیړنۍ اوبشپړه توګه دې سیاسي بیرو ته ورسپال شي .

۲ -ملګرواندروپوف یو.وي، اوستیوف د.ف او ګرومیکو الف.الف ته دنده ورسپارل کیږي چې د'ګوند �ژ' دمرکزي کمیټې سیاسي بیرو دې دپورتنیو ویل شویو ګامونو د پورته کولو د اکر په اړه خبرکړي.

دمرکزي کمیټې سکرتر ' ل. برژنیف '

شمیره (صفر) ۹۷۷ (وپ) (۱) (پاڼه)

پروتوکول) ۱۷٦(

۱۲۵ له ۱۲/۱۲/۱۹۷۹

]لاسلیکونه چې په ربونده یا ربښنده ډول له کینې ښۍ خواڅخه دلاسوندې له پورتنۍ کینې برخې پیل کیږي په دې ډول دي : اندروپوف، اوستینوف، ګرومیکو،پیل شي،سولوسوف، ګریشین،کریلینکو،تخنیکوف، 'نه لوستل کېږي' ، ۱۲/۲۵ [ددسامبر ۲۵]، 'نه لوستل کېږي' ۱۲/۲۵/ [ددسامبر ۲٦]، او شچربیتسکي،۷۹/۱۲/۲٦[

اصلي سرچینه:

{Source: TsKhSD, F.89. Per. 14.Dok.31}

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



## [افغانستان ته] د سرتيرو دليږدپريکړه کله او ولې ونيول شوه

پښتو ژباړه: رحمت آريا

جولای ۲۰۰۸

پرافغانستان ولې او څنګه يرغل وشو

### پېژندنه:

د ګريګوري کورنينکوځرګندونې

ګريګوري.م. کورنينکو(دشوروي دبهرنيوچارو دوزيرپخوانی مرستيال انځور يې دلاسوندي په پای کې وګورئ - ژ)

د ګريګوري.م. کورنينکوله پلوه : سره جګړه: دګډونوالو مـنـَښته 'شهادت '

'ماسکو،ميژدونـَروني اتنـَشينې "نړيوالې اړيکې - ژ" ۱۹۹۴" پ پ. ۱۹۳-۱۹۵

دليخاوفسکي له کتاب او د ګريګوري.م. کورنينکو له څرګندونوڅخه غوره شوي برخې :سره جګړه: دګډونوالو منښته 'شهادت''ماسکو،ميژدونـَروني اتنـَشينې "نړيوالې اړيکې" په پراخه توګه هغه پريکړه څيړلې چې افغانستان ته دسرتيروپريکړه څنګه ونيول شوه. يوازينی لاسوندېزيا مستند ثبوت چې په ډيرمحرم ډول ټرډيرووختونوپورې پټ ساتل شوی وو په لاس لېکل شوی هغه لاسوندی دی چې د 'الف' حالت نوميږي او د۱۹۷۹ کال دديسامبرپه ۱۲ نېټه دسياسي بيرو غړو لاسليک کړی وو او په مخکيني لاسوندي کې وژباړل شو .

### دلاسوندي پيل

[افغانستان ته] د سرتيرو دليږدپريکړه کله او ولې ونيول شوه.

د[د ګريګوري.م. کورنينکوله پلوه : سره جګړه:دګډونوالو منښته 'شهادت''ماسکو،ميژدونـَروني اتنـَشينې "نړيوالې اړيکې -ژ" ۱۹۹۴" پ پ. ۱۹۳-۱۹۵]

د۱۹۷۹ کال د مارچ او اکتوبردمباشتو [په اوږدکې] ما او الف.الف ګروميکوډيري وختونه د شوروي سرتيرو داستولو په اړه د افغان د دولت پرغوښتنې له يوبل سره خپل اندونه ګـډَول او هرکله موچې د نظرياتوراکړه ورکړه کوله نو يوه ګډ نظر ته رسيدلو چې دغه به يو ناشونی کار وي. د دغې سکالوپه تړاو ما د اکتوبرترمباشتې پورې پر يو.وي.اندرپوف يا د.ف.اوستينوف، پريوه هم شک نه درلود. هرګوره، يووخت د اکتوبرپه مباشت کې، کله چې امين، تره کی له واک څخه راوپرځاوه، د ګروميکو ' لاس اوپښې وتړل شوې' � هغه نور له ماسره په خپلوخبرو اتروکې افغانستان ته د شوروي د سرتېرو د لېږو په اړتيا ' يا نه اړتيا ' خبرې نه کولې. کله چې سرتيري ولېږل شول

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



زه ور سره د خبروپه ترڅ کې دې پايلې ته ورسيدم چې ګرومېکو د 'الف' په اړه د سرتيرود لېږد پريکړه منلې، خو نومړی د دواړو اندروپوف او اوستينوف له پلو تر'فشار' لاندې نيول شوی وو. دا چې له دغودواړو کوم يوېې له خپل لومړی نظرڅخه اوښتی او د سرتيرو د ليږد په ملاتړېې خبرې کړې څرګنده نه ده او يوازې انګيرنه کولای شو اوبس.

هغه نوي لاسوندي چې په دغو نيږدې وختونو کې زمالاس ته راغلي دې ته نغوته کوي چې همدغه اوستينوف دد غه غم لړې ' الف' يرغل وروستنی تائـيد پې وکړ. افغانستان ته د شوروي سرتيرو د ليږد په اړه دهغه نظر [له ( نه اړتيا) څخه (اړتيا) ته � ژ)هغه مهال بدلون مومي کله چې د ۱۹۷۹ کال په منې کې امريکايي سمندري بيړی د فارس په خليج کې ودرېدلې او موړته را رسيدونکو مالوماتو راڅرګندول چې امريکا چمتو اوپرايران يې ممکنه يرغل ته ملا را ترلې او دغه به د سېمې د حالت په پوځي ستراتيژيکې معادلې کې د بدلون د ګواښ په رامنځ ته کولو د شوروي ګټو ته تاوان ورسوي. که امريکا له خپلې خاورې څخه په زرګونوکيلومتره ليرې ځان ته اجازه ورکولای شي چې د شوروي سوسياليستي جمهوريتونو تر زنې لاندې کرښوته رانيږدې شي نو په ګاونډي افغانستان به کې موږ ولې د خپلودريزونو په ساتنه کې وويريږو؟ دا د اوستينوف تقريبي نظر وو. او اندروپوف چې په هغه وخت کې د شوروي سوسياليستي جمهوريتونو د کې جي بي مشروو د خپلو لوړپوړو چارواکوپه لاس کې يو يرغمل ووچې له يوې خوا يې د امين انځور د يوه امريکايي څارګښ (جاسوس) په توګه راکښلی وو او دهغه د واکمنۍ دوام يې په ښنديز يا مبالغوي ډول شوروي ته يو ګواښ باله او له بلې خوايې دشوروي په ګټه د حالت په بدلون کې د شوروي د پياوړتيا په اړه ډېره مبالغه کړې وه. د کې جي بي د کارکوونکوپه منځ کې زه د دغسې حالت او باور له شته والي څخه خبروم .

او اندروپوف چې په هغه وخت کې د شوروي سوسياليستي جمهوريتونو د کي جي بي مشروو د خپلو لوړپوړو چارواکوپه لاس کې يو يرغمل ووچې له يوې خوا يې د امين انځور د يوه امريکايي څارګښ (جاسوس) په توګه راکښلی وو او دهغه د واکمنی دوام يې په ښنديز يا مبالغوي ډول شوروي ته يو ګواښ باله

زما د مالوماتو پربنسټ افغانستان ته د سرتېرو د لېږد سکالو، په پوځ کې د يوشميرکسانو په منځ کې لکه د پوځ ستردرستيز ن.وي اوګراکوف، دهغه لومړي مرستيال س.ف. اخريموف او دعمومي عملياتو د څانګې مشر وي.آی. وارنيکو،لېوالتيا را ونه وپاروله. هغوی د سياسي اړخونو په پرتله د دغې لېږدونې په وړاندې خپل غبرګون او نيوکه يوازې په کارپوهيزه برخه کې راڅرګنداوه او په ويتنام کې له امريکايانو سره په نښته کې (په نغوتې) يې خپل ملاتړکاوه:پرته له دې چې په اروپا او له چين سره په لېکوکې د شوروي د ميشتو سرتيرو په شميره کې د پام وړلږوالی او ضعف رامنځ ته شي له افغانستان سره جګړه ناشونې وه، او په هغه وخت کې په دغو ځايونوکې د پوځ د شميرې راټيټونه د منلو وړنه وه. خوپه پای کې اوستينوف د هغوی نظر وغانده. ترهغه ځايه چې زه پوهيږم، د شوروي د

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



سوسياليستي جمهورتيونو د کمونيست ګوند د مرکزي کميټې نړيوالې څانګې افغانستان ته د سرتيرو لېږنه يوه تيره وتنه اواشتباه وبلله او هڅه يې وکړه چې دغه خبره د مشرتابه دلوړپوړوچارواکو ترغوږونو ورسوي خوبريالۍ نه شوه .

ما وروسته هڅه وکړه چې د پيښو د پرمختګ لړۍ اواړيکې له يو بل سره وترړم او په دې توګه ماته د سرتيرو د ليږد په اړه د دغو درېواړو د دريزونوسنجونه ستونزمنه برېښېدله او دغې سنجونې د اکتوبر،نوامبر او د دسامبردمېاشتې تر لومړيوپورې دوام درلود. د۱۹۷۹ کال د دسامبر په ۱۰ نېټه اوستنيوف ستردرستيزته شفاهي امرورکړچې د ترکستان په پوځي سيمه کې دې يوه پارا شوتي فرقه، پنځه پلې فرقې چې دالوتکو له لارې دليږدولو لپاره چمتو وي پلې کړي او همدلته دې دوه سپکې موترورېزه فرقې د ليږلولپاره برابرې کړي اود کوشنيوپوځي بيړيوغُـنـډ دې پرته له دې چې په کومې دندې وګومارل شي د بشپړتيارسي حالت کې ودرول شي .

د ديسامبر په ۲۴ نېټه اوستينوف د دفاع د وزارت لوړپوړي چارواکي پرته له دې چې د دغه مأموريت موخه ورڅرګنده کړي په يوې غونډه کې راټول او هغوی ته يې د شوروي سرتيرود ليږد پريکړه اعلان کړه.

افغانستان ته د شوروي سرتيرو وروستنۍ سياسي پريکړه د ديسامبرد مېاشتې په نېمايي کې د ۱۹۷۹ کال د ديسامبرپه ۱۲ نېټه د شوروي د مشرانو د يوې کوشنۍ کړۍ له پلوه ونېول شوه: برژنيف، سولوسوف،اوستينوف او ګرومېکو (يو شميرورځپاڼې د کاسيګين نوم هم اخلي خو زما د مالوماتو پربنسټ هغه په دغه غونډه کې حاضرنه وو، ځکه چې ناروغه وو). له دې امله د برخلېک دغه پريکړه د شوروي سوسياليستي جمهوريتونو د کمونيست ګوند د مرکزي کميټې د سياسي بيرو د يوې کوشنۍ ډلې له پلوه ونيول شوه خو د سياسي بيرو دغه په لاس لېکل شوې پريکړه وروسته له اصلي پريکړې وليکل شوه او بيا د سياسي بيرو پرټولو غړو لاسلېک شوه.

له هغه وروسته د (پوځي) ډلګيو چمتووالي اوجوړولو ته لا اوږه او چټکتيا ورکړل شوه او له پوځي سيمو څخه ګاونډې هيواد ته په پوله کې پرتوډلګيو ته د ننوتلو (دنده) وسپارل شوه. د ديسامبر په ۲۴ نېټه اوستينوف د دفاع د وزارت لوړپوړي چارواکي پرته له دې چې د دغه مأموريت موخه ورڅرګنده کړي په يوې غونډه کې راټول او هغوی ته يې د شوروي سرتيرود ليږد پريکړه اعلان کړه. په همدغې ورځ د دفاع د وزير په لاس لومړی چاپ شوی لاسوندی لاسلېک او چمتو شو � چې لاربښود لېک نومېده � په لاربښود لېک کې ويل شوي ول پريکړه شوې چې (دهېواد په سويلي برخوکې د افغانستان په ډيموکراټيک جمهوريت کې دې د شوروي څو څانګې پلې شي چې موخه يې له افغان وګړو سره د نړيوالو مرستو ترسره کول دي او د وړندو يا مساعدو حالاتو په رامنځ ته کولو دې د دواړوهېوادونو په سرحدي برخوکې د شونواوممکنه افغاني ضد اقدماتومخه ونيول شي.)

ژباړه: سويتلانا ساورنسکايا، دملي امنيت آرشيف

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library





له کنفرانس وروسته د ډوډۍ په وخت: (له کېڼې - ښۍ خوا ته) د کي جي بي پخوانی مأمور نیکلای س. لیوانوف، دملي امنیت د آرشیف غړی سویتلانا سارانسکایا، دامریکې پخوانی سفیر ریموند ل. گراتفورد، د شوروي د بهرنیوچار د وزیرپخوانی مرستیال گریگوري م. کورنینکو او د امریکا ددفاع پخوانی وزیرمک نامرا

دانځورسرچېنه :

http://www.gwu.edu/~nsarchiv/nsa/cuba_mis_cri/McNamara%20lunch.JPG

د ټول لاسوندي سرچینه:

http://www.gwu.edu/~nsarchiv/NSAEBB/NSAEBB57/soviet2.html

لسم لاسوندی

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



له دې چې لاسوندی میرمن سوتیلانا ساورنسکایا په مایکروسافت آفیس کې په انګریزي ژبه ژباړلې اولاسوندی یوازې د لیکوال لیاخوفسکي له کتاب څخه په اخځ را غوره شوی نو که لوستونکي لاسوندی راخلاص هم کړي لاندینی انګریزي متن به په لاندې ډول وګوري:

When and Why the Decision to Send Troops [to Afghanistan] Was Made.

[from Georgy M. Kornienko, The Cold War: Testimony of a Participant, Moscow, Mezhdunarodnye otnosheniya, 1994, pp. 193-195]

[In the period] from March to October 1979, A. A. Gromyko and I often exchanged opinions regarding the requests from the Afghan government to send in Soviet troops, and every time we came to a shared understanding that such a step would be impermissible. I have not noticed any doubts on that issue on the part of Yu. V. Andropov or D. F. Ustinov either until October. However, some time in October, after the physical removal of Taraki by Amin, Gromyko became �locked in��in his conversations with me he no longer touched upon the issue of the expediency (or inexpediency) of sending Soviet troops into Afghanistan. From my conversations with him, already after the introduction of troops, I concluded that it was not Gromyko who said �A� in favor of such decision, but that he was �pressured� into it by Andropov and Ustinov together. Which one of those two was the first to change their initial point of view and spoke in favor of sending the troops, one may only guess.

Additional evidence that became available to me recently, leads me to suggest that it was Ustinov after all, who said �A� in this sad affair. The push to change his former point of view of inexpediency of sending Soviet troops in Afghanistan came from the stationing of American military ships in the Persian Gulf in the fall of 1979, and the incoming information about preparations for a possible American invasion of Iran, which threatened to cardinally change the military-strategic situation in the region to the detriment of the interests of the Soviet Union. If the United States can allow itself such things tens of thousands of kilometers away from their territory in the immediate proximity from the USSR borders, why then should we be afraid to defend our positions in the neighboring Afghanistan?�this was approximately Ustinov�s reasoning. As far as Andropov is concerned, who at that time was Chairman of the

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



USSR KGB, in this situation he was a hostage of his own apparatus, which on the one hand exaggerated the danger for the USSR of Amin�s continuation in power, because he was being portrayed as an American agent, and on the other hand, exaggerated the power of the USSR to change the situation in the desirable for the USSR direction. I was aware of the existence of such mood and perceptions in the KGB apparatus.

Among the leadership of the General Staff, people like Chief of General Staff N. V. Ogarkov, his First Deputy S. F. Akhromeev, and Head of Main Operations Department V. I. Varennikov, the idea of sending troops to Afghanistan did not inspire any enthusiasm, according to my information. For understandable reasons, they justified their objections against it by professional rather than political considerations, supporting them by [referring to] the American experience in Vietnam: the impossibility to cope with Afghanistan with the forces that could be used [for it] without substantially weakening the Soviet groups of forces in Europe and along the border with China, which was not acceptable in those years. However, in the end, Ustinov disregarded their opinion. As far as I know, experts of the International Department of the CC CPSU regarded the decision to send troops to Afghanistan as a mistake as well, and tried to let their considerations on that issue be known to the highest leadership, but without any success.

As far as I was able to reconstruct the development of the events later, the difficult deliberations of the �three� over the problem of whether to send the troops or not continued all through October, November, and the first part of December. On December 10, 1979, Ustinov gave an oral order to the General Staff to start preparations for deployment of one division of paratroopers and of five divisions of military-transport aviation, to step up the readiness of two motorized rifle divisions in the Turkestan Military District, and to increase the staff of a pontoon regiment to full staff without setting it any concrete tasks.

However, the final political decision to send Soviet troops into Afghanistan was made in the second part of the day on December 12, 1979 by a narrow group of Soviet leaders: Brezhnev, Suslov, Andropov, Ustinov, and Gromyko (some publications also mention Kosygin, but according to my information, he was not present there because he was ill on that day). Thus

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



the fateful decision was made by not even full CC CPSU Politburo, although a handwritten Resolution of the Politburo was prepared after the fact, which was signed by almost all the members.

After that, accelerated preparations of [military] units and formations that were assigned [the task of] entering the neighboring country began in the military districts on the border with Afghanistan. On December 24, Ustinov convened the highest leadership of the Defense Ministry and made an announcement of the decision to send Soviet troops into Afghanistan without explaining the purpose of that mission. On the same day, the first printed document signed by the Defense Minister was prepared�the directive, which said that the decision was made to �send several contingents of Soviet troops deployed in the southern regions of the country into the territory of the Democratic Republic of Afghanistan for the purposes of rendering internationalist assistance to the friendly Afghan people, and also to create favorable conditions to prevent possible anti-Afghan actions on the part of the bordering states.�

Translated by Svetlana Savranskaya, The National Security Archive.

مرکزي کميټې ته دافغانستان د پېښو په تړاو گزارش

گرومېکو،اوستينوف، اندروپوف او پونيماريف د شوروي اتحاد د کمونيست گوندمرکزي کميټې ته دافغانستان د پېښو په تړاو گزارش ورکوي

ديسامبر ۲۷-۲۸- ۱۹۷۹ اوديسامبر۳۱ � ۱۹۷۹

په دغه گزارش کې له يرغله وروسته د ديسامبر په ۳۱ نېټه دشوروي اتحاد دکمونيست گوند دمرکزي کميټې ته سياسيي بيرو هم د افغانستان د پيښو په اړه گزارش له دغه لاسوندي سره يوځای ورکړی دی

گرومېکو،اوستينوف، اندروپوف او پونيماريف د شوروي اتحاد د کمونيست گوند مرکزي کميټې ته د افغانستان د پېښو په تړاو گزارش ورکوي

گرومېکو،اوستينوف، اندروپوف او پونيماريف د شوروي اتحاد د کمونيست گوند مرکزي کميټې ته د افغانستان د پېښو په تړاو گزارش ورکوي

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



دیسامبر ۲۷-۲۸- ۱۹۷۹

نېټه: ۳۱ � ۱۹۷۹

ډيرمحرم

د شوروي اتحاد د کمونيست ګوند مرکزي کمېټه

د۱۹۷۹ کال د ديسامبر په ۲۷ او ۲۸ غونډوکې دافغانستان په اړه ګزارش

له کودتا اود افغانستان د خلق ډيموکراتيک ګوند د مرکزي کميټې د عمومي منشي او د انقلابي شورا د لوی مشرن.م. تره کي له وژلو وروسته چې د سږکال د سپتامبر په مېاشت کې دامين له پلوه ووژل شو په افغانستان کې اړوپيچ په لنډ وخت کې له بده پسې بدترشواود کړکېچ لورته يې مخ ور واړاوه .

د افغانستان په ډيموکراتيک جمهوريت کې ح.امين په هېواد کې د شخصي د يکتاتورۍ پربنسټ ولاړ يورژيم رامنځ ته کړ، د افغانستان د خلق ډيموکراتيک ګوند مرکزي کميته اوانقلابي شوری

يې د تش په نامه د يوې کوشنۍ ځانګې کچې ته راکښته کړه.د مشرتابه ترټولو لوړدريزونه يا څوکۍ د کورنيواړيکود لرونکو او يا ح.امين ته د پاليالو ګومارل شويو کسانو له پلوه ډکې شوې. د افغانستان د خلق ډيموکراتيک ګوند د مرکزي کميټې ،انقلابي شورى اود افغان دولت غړي شړونې ته اړيا و نيول شول. ځېل اوله منځه وړنه په ټوليزډول دهغو کسانو په لورنيغه شوې وه چې د اپريل په انقلاب کې يې کارَنده ونډه لوبولې وه، هغه کسان چې په برالا له شوروي اتحاد سره ګډ اندي (سمپاتي) ول او هغه کسان چې په ګوند کې دننه له لينينيستي ټاکلوتګلاروڅخه يې ننګونه کوله ټول د دغې ځپنې او له منځه وړنې بلهاريان شول. ح.امين د خپلوخبـرتياوو له لارې ګوند او وګړي دواړه په دې وغولول چې ګنې د شوروي اتحاد له دولت اوګوند څخه يې دتره کي د ليرې کولو اجازه ترلاسه کړې .

د افغانستان په ډيموکرايتک جمهوريت کې د ح.امين په نيغه لارښوونه، د شوروي اتحاد د ککړوالي او په افغانستان کې د شوروي اتحاد د کارکوونکو د کارونو له انځورونو څخه د تورو سيورو په جوړولو، په برلاس ګنګوسې خپرې شوې، د شوروي اتحاد د کارکوونکوپرهڅو بنديزولګول شو او ورته وويل شول چې له افغان استازو سره دې د تړونليک يا قرار داد په اډانه کې پاتې شي .

په عين وخت کې ح.امين هڅه کوله چې " په بهرنۍ تګلاره کې د "ځواک انډوله يامتوازن سياست " په راخپلولو، له امريکا سره اړيکې ورَغـَوي. ح.امين په کابل کې د امريکا له شارژد افيرسره پټې غونډې جوړې کړې وې. د افغانستان ډ يموکراتيک جمهوري دولت دامريکا فرهنګي مرکزلپاره وړنده يا مساعده تشيال 'فضا' رامنځ ته کړی ووه؛ د ح.

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



امین تر لاربښوونې لاندې د افغانستان ډیموکراتیک جمهوریت څارکښو ادارو د امریکا د سفارت په وړاندې ټول عملیات بند کړل.

ح.امین هڅه وکړه چې د کورنیو انقلاب �ضد ډلو د مشرانو په منځ کې د جوړجاړي له لارې خپل دریزته لا اوږه ورکړي. د خپلو د ډاډ ورکسانو له لارې یې له اسلامي بنسټپالو مشرانو سره اړیکه ټینګه کړه .

د سیاسي ځَپـنو لمنه ورځ په ورځ پراخېدله. د سپټامبر له پېښې وروسته یوازې د لنډې مودې په ترڅ کې له ٦۰۰ تنو څخه زیات د افغانستان د خلق ډیموکراتیک ګوند غړي،پوځي کارکوونکي،او دامین په وړاندې یو شمیرنور شکمن کسان امین ته دپالیالو پلویانو په لاس پرته له پلټنو او محکمې ووژل شول حقیقي موخه دا وه چې د ګوند لمنه ورټوله کړي .

په لاس یو کولو دغو ټولو ،عیني ستونزو او د افغانستان ځانګړو پیچلوحالاتو یو بل سره

د انقلابي پرمختګ لړۍ له ډېرو ستونزمنو کړاوونو سره مخامخ او انقلابي ضد ځواکونو ته یې لا پیاوړتیا ورکړه او د هیواد په ګڼ شمیرولایتونو کې یې دهغوی اغیزمن څاراوواک ته لاره پرانیستله. دامین په لاربښوونه د مخ په ودې بهرنۍ مرستې ترسیوري لاندې هغوی هڅه کوله چې دهېواد په سیاسي � پوځي اړوپیچ کې بنسټیز بدلونونه رامنځ ته کړي اود انقلابي لاس ته راوړنو ټغرورټول کړي.

د زورځواکۍ د چال چلند تر سیوري لاندې د هېوادنیو چارو پرمخ بېونې، ځینې ،ډله یزې وژنې،او د قانون له ټاکلې کچې څخه پښې اوږدې غځونې په ټول هېواد کې پراخه ناخوښۍ را خپره کړه. په پلازمېنه کې شپې پاڼویا شبنامو سرونه راپورته کړل چې داوسنې رژیم وګرنیزضد چال چلندیې را انځوراوه او د هیواد پر وګړو یې غږ کاوه چې د امین د ډلې پروړاندې دې د ولسي یووالي په ګډ مورچل کې راټول شي. د ناخوښیو لمنه پوځ ته هم وغځېدله. د پوځ د بولندویانو یوې غټې شمیرې د امین د ناوړې یا بې کفایتې اداري په وړاندې خپله ناخوښي اونالیوالتیا را څرګنده کړه. دغه اړوپیچ په خپله تومنه کې د امین پر وړاندې په هېواد کې دننه یوپراخ مورچل راوزیږاوه .

د انقلاب د برخلیک او د هیواد د خپلواکی په اره غورږ بوڅوونکي اړوپیچ، ډلې په وړاندې د زور اخیستونکو غیرګونونو په رڼا کې ببرک کارمل او اسدالله سروري چې اوس په بهرکې د کډوالو په توګه ژوند کوي د انقلاب او د پلرنې ټاټوبي د ژغورلو په موخه یې دامین د ډلې د ټولو مخالفینو د یو والي نوښت په لاس کې راواخیست. د هغه ترڅنګ اوسنی ترځمکي لاندې پټې د 'پرچم' ډلې، د غیرقانوني مرکزي کمیټې ترلاربښووني لاندې، نه ستړې کېدونکی کار ترسره کړ اوهڅه یې وکړه چې ټول پرمختلونکي ځواکونه د خلق په پخوانۍ ډله کې د تره کي د پلویانو په ګډون په یوه یوموټي دریز کې له یو بل سره څنګ ترڅنګ ودروي.

د امین او د هغه د د انقلاب د برخلیک او د هېواد د خپلواکۍ په اړه غورږ بوڅوونکي اړوپیچ،

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



ډلې په وړاندې د زور اخیستونکو غبرګونونو په رڼا کې ببرک کارمل او اسدالله سروري چې اوس په بهرکې د کډوالو په توګه ژوند کوي د انقلاب او د پلرني ټاټوبي د ژغورلو په موخه یې دامین د ډلې د ټولو مخالفینو د یو والي نوښت په لاس کې راواخیست. د هغه ترځنګ اوسنۍ ترځمکې لاندې پټې د 'پرچم' ډلې، د غیرقانوني مرکزي کمیټې ترلارښوونې لاندې، نه سترې کېدونکی کار ترسره کړ اوهڅه یې وکړه چې ټول پرمختلونکي ځواکونه د خلق په پخوانۍ ډله کې د تره کي د پلویانو په ګډون په یوه یوموټي دریز کې له یو بل سره څنګ ترځنګ ودروي .

د افغانستان د خلق په ډیموکراتیک ګوند کې د ټولو پخوانېو ناخوالو اود بیلتون د اوسنېو شته کرښو لمنه ورټوله شوه. خلقیانو (چې سروري یې استازیتوب کوي) او پرچمپانو (چې ببرک یې استازیتوب کوي) د ګوند د یووالي وروستنۍ خبرتیا یې خپره کړه. ببرک د نوي ګوند د منځمهالی مشر او سروري د هغه د مرستیال په توګه وټاکل شول .

په دغسې یوه سخت اړوپیچ کې د اپریل د انقلاب لاس ته راوړنو ته د ګواښ د مخنیوي او زموږ د هېواد د ولسي ټیکاو اوامنیت د ګټود ساتلو په موخه اړینه وبلل شوه چې افغانستان ته دې لا زیاته پوځي مرسته ورکړل شي په ځانګړې توګه چې دغسې پوځي غوښتنې د افغانستان د ډیموکراتیک جمهوریت د پخوانۍ واکمنې اداري له خوا را وړاندې شوې وې. دافغان � شوروي د ۱۹۷۸ کال د پخواني تړون په رڼا کې پریکړه وشوه چې افغانستان ته دې د شوروي د پوځ یو شمیر اړین ډلګي واستول شي .

د هېواد پالو د څپو په راپاڅېدلو چې د افغان ولس یوه لویه برخه جوړوي ټولو د افغان � شوروي د ۱۹۷۸ کال د ځرګند تړون په رڼا کې د شوروي ځواکونورا پلې کېدلو ملاتړ ته ښکاره او د امین مخالفینو یو سمبال شوی پوځي عملیات تر سره کړ چې پایله یې د امین د رژیم په راپرځولو را ووښتله. دغه عملیات ته د کارګرپاړکې یا طبقې، روڼ اندو، د افغان پوځ یوې لویې برخې

او دولتي کارکوونکوټولو اود افغانستان د خلق نوي ډیموکراتیک ګوند او د افغانستان د ډیموکراتیک جمهوریت د نوي دولت جوړونې ته ښه راغلاست ووایه .

نوی دولت او انقلابي شوری د پراخ بنسټه استازیتوب په اډانه کې د خلق او پرچم د پخوانیو ډلو، د پوځ د استازواو غیرګوندي کسانو په ګډون رامنځ ته شوي دي .

نوي مشرتابه د خپلې کړنلارې په خپرونو کې ژمنه کړې چې د ولسپالې � ډیموکراسۍ د خپرولو ، د ځمکوالۍ د او پانګوالۍ � ضد د انقلاب د بریا لمنه به تر وروستي ګوټ پورې ورسوي او د افغانستان له خپلواکې او ځمکنۍ بشپړتیا څخه به ساتنه وکړي. د بهرنۍ تګلارې یاسیاست په څانګه کې هغوی ژمن دي چې له هرې شونې لارې د شوروي اتحاد له سوسیالیستي جمهوریتونو سره دهمکارۍ او ملګرتوب په پیاوړي کولو کې کاروکړي. د پخواني رژیم له تیروتنو څخه په زده کړه کې نوی دولت په پام کې لري چې د خپلو کړنلارو په پلي کولو کې د ټولنیز ژوند

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



په ولسواکه کولوکې، دقانون په متږه د ولاړې ټولنې په رامنځ ته کولوکې،د ټولنيزبنسټ په پراخولوکې، د هېواد په هرګوټ کې ددولتي واکمنۍ په خپرولوکې، له مذهبي، توکميزو او ټبرنيو لړکيو سره ديوې د زغم وړ کړنلارې په راخپلولو کې کوټلي ګامونه را اوچت کړي .

يو له دغو کوټلو ګامونو څخه چې د افغاني ټولنې پام يې ځانته را واړاوه، د يو شمير سياسي اوپوځي مخکښه فعالينو په ګډون د سياسي بنديانو د يوې غټې شميرې آزادول ول. دهغوی ګڼ شمير( لکه قادر،کشتمند،رفيع او نورو) په فعاله او لېواله توګه د نوې انقلابي شورى او دولت د کارونو له لړۍ سره يو ځاى شول .

د وګړو غټې شميرې د ح. امين د راپرځولو خبرتيا د ښکاره خوښيو په زوړ کې ولوستله او واورېدله او د نوي دولت له کړنلارو سره يې خپل ملاتړ په ليوالتيا څرګنده کړ. د افغان پوځ د ټولو څانګو او ډلګيومخکښو بولندويانولا مخکې نوي ګوندي او دولتي مشرتابه ته خپله پاليالي اعلان کړه. په ټوليزډول له شوروي سرتيرو اوکارپوهانو سره اړيکې د دوستۍ او ملګرتوب ترسيوري لاندې پراختيا مومي. په هيواد کې حالت عادي کېدلو ته مخه کړې.

د کابل په سياسي کړيوکې انګيرل کيږي چې د ببرک حکومت به په ښکاره او بايد توګه د اقتصادي اوکورنيو ستونزو د نويو تګلارو په رڼا کې له پخواني رژيم څخه پر راپاتې شويو ستونزو او ننګونو بريالى شي؛ خو هغوى هېله څرګندوي چې د افغانستان خلق ډيموکراتيک ګوند به د شوروي سوسياليستي جمهوريتونو په مرسته پردغو ستونزو لاس برى ومومي. ببرک کولاى شو د افغانستان د خلق ډيموکراتيک ګوند د تيوريکي مشرانو په ډله کې يو پوخ مشر وبولو چې په هوښيارۍ او موخيزې 'هدفمندې' توګې يې د افغانستان اړوپيچ را څيړلى دى؛ هغه تل د ګوند په پاکزړو پلويانو کې شوروي اتحاد ته ديوه مخښکه رښتوني پااليال 'وفادار' په توګه پيژندل کيږي چې د ګوند د پراخوکړيوپه منځ او هېواد کې له ځانګړي درناوي څخه برخمن دى. په دې تړاو ويلاى شوچې د ګوند په غاړه درونډ پيتې پروت دى او دافغانستان د ډيموکراتيک جمهوريت مشرتابه به اغيزمنې لارې چارې ومومي چې په هېواد کې په بشپړه توګه اړوپيچ کابو کړاى شي .

]الاسلېک[

يو. اندروپوف

]الاسلېک[

د.اوستينوف

]الاسلېک[

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



الف.گرومېکو

]لاسلیک[

ب.پونیماریوف

۱۹۷۹

د دیسامبر ۳۱

لومړنې سرچېنه

{Source: TsKhSD, f.89, per 42, dak.10 provided by M. Kramer; trans by D. Roza}

ددغه لاسوندي د اخځ او د لاسوندي روسي او انگریزي سرچینې لپاره همدغه ځای کښېکاږئ

http://www.gwu.edu/~nsarchiv/NSAEBB/NSAEBB57/r11.pdf

دلاسوندي پای

د ژباړونکي شننه:

لکه څرنگه چې تاسو ولېدل، شوروي مشرتابه د خپل هیواد او گوند د غولولو لپاره له سیاسته بې خبراو ناپوه ببرک د مرکزي کمېټې سیاسي بیرو په خپل گزارش کې چې د وخت د یو پیاوړي زبرځواک تر ټولو لوړه او د ډاډ وړ ځانگه وه، یوه ښایسته او غولوونکې ناوکۍ جوړه کړه. اوس به ستاسو هېوادوالو پام د ببرک د هغې مرکې ژباړې ته را واړوم چې د خپل له شرمه ډک ژوند په پای کې یې دبي بي سي له خبریال مصطفی دانش سره ترسره کړې ده. هغه په خپله ویلي: (په ژوند کې مې چې ترټوله ستره زده کړه ترلاسه کړه دا ده چې هېڅ هېواد نه شي کولای د پردي ځواک په مټه خپلواکي ترلاسه کړي یا پرمختگ وکړي. باید د وگړو وېلاړ 'اراده' ته درناوی وشي او له خپلواکۍ دې ساتنه وشي. هر ولس باید په خپلو پښو په خپله ودرېږي).

که څه هم دطالبانو له غیرولسي تگلارو سره هموغمره په ټکر کې یم چې د خلقیانو او پرچمیانو له هغو سره. خودهغو شاه زلمیو پر مټ دي برکت شي چې د ببرک د مړي پاتې شونې یې د افغانستان له سپیڅلې خاورې څخه را وایستلې او بیرته یې د شوروي په لور د آمو په مست سیند کې د تل لپاره لاهو کړې اود هېواد له تاریخ څخه یې دغسې تورټکی د تل لپاره ورک وکړ. د سپیڅلې مور په سپیڅلو شیدو مو دلوی څښتن برکت

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



له ببرک کارمل سره د وروستنۍ لېدنې یادونه

بي بي سي

مصطفی دانش

د ختيز د چارو کارپوه



ښی خوا مصطفی دانش له ببرک سره د کتنې پر مهال

له ببرک کارمل سره زما د کتنې وروستنۍ نېټه چې ښه مې په یاد ده ۱۹۹۵ز کال ته ورګرځي .

د هغه لېدنې ته دافغانستان په شمال کې د حیرتانو کوشنۍ ښارګوټي ته ورغلی وم. تر دغه دمه درې کاله کېدل چې مجاهدینو په افغانستان کې حکومت کاوه او هېواد کې په کنډوالو اړولی وو.هېواد په څېڅپانده اړوپیچ کې ډوب وو خو کارمل له یادونو لیرې د هیرونې په نړۍ کې ژوند کاوه .

کله چې د پخواني ولسمشر مخ ته و درېدلم نو په لومړي سرکې مې و نه پیژانده. یو زوړ، دړې وړې بوډا سړی مې ترمخه راښکاره شوچې د سرطان ناروغۍ پرژوند یې منګولې ښخې کړې وې. په تیرو کلونو کې مې د ارګ په ماڼۍ کې له لس ځله زیات ورسره خبرې کړې وې. هغه په سرې جګړې کې د ختیزې ټلوالې په کړیو کې د یوه مخورسړي په توګه مخوریزه نوم درلود. په تیرو کتنو کې یې پرخپل ځان د بې پایه ډاډ ، ولولواو احساساتو په ځپو کې دخپلو موخو په اړه خبرې کولې .

کارمل ماته په کتلو ډیر خوښ سو. مخبنه یې وغوړېدله او د یوه ورک شوي ملګري په توګه یې په غیږ کې ونیولم. ګومان کووم زه یوازینی خبریال وم چې د هغو تورو ورځو په تورتم کې لېدنې ته یې ورغلی وم. ټول ورڅخه تللي ول. نه ورته ځانګړی روس ډاکټر وو،او نه هغه په سل هاوو بولندویان او جنرال چې یو وخت تر ده را تاو ول. ټول شیان یې له لاسه ورکړي ول او په سپکاوي او بې وزلي یې په دغه لیرې ښارکې په شړونې 'تبعید' کې ژوند کاوه .

د شوروي اتحاد جمهوریتونو تر خپلې وسې له هغه ګټه پورته کړه. خو نن چې شړل شوی ان هغه ته د ویزې له ورکولو ډه ډه کوي. هغه اجازه نه لري چې د درملنې او د خپلې کورنۍ د کتنۍ لپاره روسیې ته سفر وکړي .

له ۱۹۸۰ تر ۱۹۸٦ کال پورې له کارمل سره د خبرو اترو په ترڅ مې کې تل روسي لوی سلاکارویکتور پیتروویچ پلیچکا د هغه ترڅنګ ولاړ لېده. هغه په ظاهري توګه د کارمل مخ ته سرټیټاوه خو په حقیقت کې یې پر هغه واک چلاوه او دهغه له لارې یې پر ټول افغانستان واک واکمني خپره کړې وه .

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



د هغه د واکمنۍ پـَيريا مهال هماغسې پای ته ورسيده چې پيل کړی وو: د شوروي په لاسوهنې او مټ. يوه ورځ ويکتور پيترووېچ پليچکا د 'افغانستان د خلق ډيموکراتيک گوند' له دوه غړو سره يوځای کارمل ته ورغلل او له هغه يې وغوښتل چې د ځان د گوښه کېدلو 'استعفی' په لیک دې لاسليک وکړي. کارمل ښه پوهېده چې که پښې ټينگې کړي نو د پخواني ولسمشر حفيظ الله امين برخليک به چې په ۱۹۷۹ز کال کې د روسانو په نغوته ووژل شو، ورپه برخه شي.



په ۱۹۹۱ز کال کې د نجيب الله د حکومت له را پرځېدلو يوکال مخکې دکارمل (کيني خواته) لېدني ته ورغلی وم.

په ياد لرم چې په ۱۹۹۱زکال کې د نجيب الله د حکومت له راپرځېدنې څه ناڅه يوه کال مخکې په کابل کې د هغه لېدنې ته ورغلی وم. هغه ماسکو ته له شړونې وروسته نوی افغانستان ته راغلی راستون شوی وو. شوروي خپلې وروستنۍ سلگۍ ايستلې.کارمل خپلوپخوانيو خانواکو 'اربابانو' ته يو پالياله مريي 'مريد' نه وو. هغه اوس د روسانو پر (شيطاني) سياست کلکې نيوکې کولې. له خپلواکې او د هيواد له ساتنې يې ټېرواهه. د افغانستان د يوځ گڼ شمير لوړپوړي چارواکې تر هغه راتاو شوي ول. د هغوی يو شمير په ۱۹۹۲ کال کې د نجيب الله د حکومت په راپرځولو کې ونډه دردلودله .

## د شړل شوی واکمن د ژوند پای

بيرته به د ۱۹۹۵ کال حيرتان ته راسو. کارمل د مجاهدينو له منگولو ژوندی پاتی شوی وو خو له سياسي اړخه مړ وو. په حيرتان کې زما ترمخ د يوه دړې وړې سړي په توگه ناست وو.هېڅ مخه او ارزښت يې نه درلود. کارمل يو تريخ اوسوړ ياد وو چې ډير نېږد به د هيرَونۍ خاورو ته وسپارل شي .

آيا دغه زده کړه د داسې يو چا لپاره چې له سياسي چاپيرياله څخه رټل شوی او پرتندي يې د 'هيواد پلوري او چوپړمار' ټاپه وهل شوې او اوس د مړېنې په درشل کې دې کېدای شوای گټه ولري؟

د خدای پر امانۍ په مهال يې د سترې ستومانه او خوړلن غږ په ازانگو کې د ټول ژوند يبـره يا حاصل يې داسې را ته ووايه: (په ژوند کې مې چې ټېرټوله ستره زده کړه ترلاسه کړه دا ده چې هېڅ هېواد نه شي کولای د پردي ځواک په مټه خپلواکي ترلاسه کړي يا پرمختگ وکړي. بايد د وگړو وېلاړ 'اراده' ته درناوی وشي او له خپلواکۍ دې ساتنه وشي. هر ولس بايد په خپلو پښو په خپله ودريږي) .

آيا دغه زده کړه د داسې يو چا لپاره چې له سياسي چاپيرياله څخه رټل شوی او پرتندي يې د 'هيواد پلوري او چوپړمار' ټاپه وهل شوې او اوس د مړېنې په درشل کې دې کېدای شوای گټه ولري؟

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



په ۱۹۹۵ کال کې د شوروي اتحاد له پرځېدلو وروسته کارمل بريالی شو چې د روس ويزه ترلاسه کړي او ماسکو ته ولاړ شي. يوکال وروسته هماغلته مړشو. خو کله چې په ۱۹۹۸ کال کې طالبانو حيرتان کلابند کړدهغه په قبرپسې گرځېدل او قبرېې ور والوزاوه. مجاهدينو د هغه د مړي پاتې شونې را وايستلې او وگړو ته يې وښودلې. په دې توگه هغه بدبخته سياستپوه چې تل يې د خپل هېواد له ښيرازۍ او آباتۍ خبرې کولې او د هغه د ورانۍ لا مل دی په خپله وو، د قبر په زړه کې آرامه شيبه ونه لېدله.

اخځ:له بي بي سي په ځانگړې توگه له مصطفی دانش څخه په مننې

http://www.bbc.co.uk/persian/afghanistan/story/2004/12/041220_aa_mdanesh.shtml

پښتو ژباړه: رحمت آريا

جولای ۲۰۰۸

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



## د ۱۹۸۰ � ۸۲ زو کلونو په اوږدو کې په سویل لویدیزه آسیاکې د کې جې بي فعاله اقدامات

پښتو ژباړه : رحمت آریا

سپتامبر ۲۰۰۸زکال

د ۱۹۸۰ � ۸۲ زو کلونو په اوږدو کې په سویل لویدیزه آسیاکې د کې جې بي فعاله اقدامات

سرچینه د واسیلي میرتوخین د لاسوندونو آرشیف نېټه اپریل ۲۰۰۴

د لاسوندي پیژندنه :

د غه توکي د کې جي بي د آرشیفي لاسوندونو پخواني راټولونکي میتروخین، [ د خپل کتاب" کې جي بي په افغانستان کې " ډبلیو پي ۴۰ له خپرولو وروسته] د سړې جګړې د نړیوال تأریخ د پروژې لپاره را برابر کړي دي. د آسیا په سویل او سویل لویدیزکې د شوروي د" فعاله اقداماتو" په اړه د میتروخین د یادښت لیکونو ټولې ټولګې د چاقاق شویو او په پټه را ایستل شویو توکو پربنسټ ولاړې دي اوپه ځانګړې توګه د سړې جګړې د نړیوال تأریخ د پروژې لپاره په درنښت ورکړل شوي دي او غوښتنه کیږي چې د دغو لاسوندونو د سرچینو په اړه د محدودیت د څرنګوالې یادَونې ولولې.

الف :

د شوروي لاسوهنې په افغانستان کې د ۱۹۷۹ زکال د دیسامبر له مباشتې را وروسته د نړیوالې ټولنې پریکنده او خوځنده غبرګون را وپاراوه. د دې لپاره چې کې جي بي په افغانستان کې د شوروي اتحاد د سوسیالیستي جمهوریتونو او د هغه د ځواکونو د کړنو په تړاو د منفي غبرګونونو را ټوکېدلې لړۍ راشنډه کړي نو د نا سمو اوغلطو مالوتو د خپراوي په ګډون یې ګڼ شمیر اقدامات تر لاس لاندې ونیول .

کې جې بي نوي دکتورین را وزیږول چې له مخې به یې ویل : کې جې بي له دښمن سره د جګړې لاره نه ده غوره کړې بلکه جګړه د دښمن د کړنو پربنسټ وربانډې تپل شوې نو له دې امله د کې جې بي ټولې کړنې په فرضي توګه قانوني او پر ځای وې .

]،، [دغلطو او بې لارو کوونکو مالوتو خپـَرَونه د شوروي د کمونیست ګوند د لاس اوزار ول، دا د څارکښیزو کارونو یوه بشپړونکې ، اړینه ، حتمی او پټه برخه ده. دا نه یوازې زموږ وګړو ته ګټه رسوي بلکه د نړۍ په هر ګوټ کې د کارګرې پاړکې "طبقې" لپاره هم ګټور دي؛ دا په خپله د پرمختلونکي انسان لپاره د نړېوالې مرستې یوه بنه ده او د لویدیزو کمپنیو له هغو بې لارو کوونکو مالوماتو څخه په بنسټیز ډول توپیر لري چې په خپله تومنه کې یې د وګړو د ټولنیزنظر د راخپلولو لپاره پټ ساتلي دي. د کي جې بي د ناسمو مالوماتو علمیات پرمختللي دي؛ هغه په برلاس

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



د بې لارې کولو لپاره را جوړ شوي خو د بې لارې کولو موخه يې دښمانان دي نه کارګري وګړي، دا مالومات يا د پانګوالو واکمنو کړيو د بې لارې کولو لپاره دي چې په بل ډول او په بې لارۍ کې عمل وکړي ، يا د شوروي سوسياليستي جمهوريتونو د ګټو د خونديي ساتلو لپاره دې چې له مخې يې د هغوی [د پانګوالو � ژ] د کړنو مخنيوی وکولای شي؛ اويا د سولې د ټينګښت او ټولنيز پرمختګ لپاره دي. دا مالومات د نړيوال ديتانت "بې وسلو کولو" لپاره دي، دا مالومات انساني دي اوپربنسټ به يې داسې يو سپيڅلي چاپيريال رامنځ ته شي چې په ختې کې به يې د انسانيت ځلانده راتلونکې نغښتې وي] ،، [

]،، [د ټولو فعاله اقداماتو ټولېزه ارزښت په دې کې دی چې د ليبرل شويو او خپرو شويو مالوماتو درښتونولۍ او د هغود رښتونې سرچېنې موندل ګران خواغيزمنتوب يې د ګټې د ضريب په توګه هغه مهال ځرګنديدای شي چې په لږ لګښت اولږو هڅو ستري پايلې او ګټې را وزيږوي. د بې لارو کوونکو مالوماتو بنې په ټوليز ډول په دربو ډولونو دي � (ليکلې) لاسوندې، (شفاهي) غيرلاسونديز، نندازيز (نمايشي)] ،، [

]،، [د کې جي بي په استوګنځايونو [په بهرنيو هيوادونو کې د سفارت ځانګړې کارکوونکي، سوداګران، سلاکاران او نور- ژ] کې په فعالو اقداماتو پورې اړوند استوګن کسان په خپلو اړوندو کارونو کې د خپلو کړنو پازوالي "مسؤوليت" په خپله په غاړه لري. په لويو استوګنځايونو کې د ځارکښيزو "جاسوسي" کارونو په اډانه کې فعاله اقدامات د اړوند سرې له پلوه په خپله سر ترسره کيږي او لارښوونه ورته نه کيږي؛ له دې امله د دغسې کارونو د سرته رسولو لپاره کارپوهان او ازمويل شوي کسان ګومارل کيږي. د کې جي بي د سر مشر د ۱۹۸۲ز کال د اپريل د مباشتې ۰۰٦ لارښود لېک حکم کوي چې د ديپارتمنتونو ايف سي ډي [ د لومړي لاس لوی مشران] ګان او د هغه پرسونل بايد او په هرو مرو توګه د فعالو اقداماتو په تر سره کولو او په هغو کې د ګډون کولو دنده په غاړه راواخلي؛ ددغسې کارونو په ترسره کولو کې ځوان افسران بايد له يوې آزموينې څخه راتير شي اودا په خپله د فعالو اقداماتو يا ځارکښيزو فعاليتونو د يوه ډول په توګه پيژندل کيږي. هغه افسران چې د [الف] ډوله خدمتونه ترسره کوي بايد د نوښتونو د رامنځ ته کولو وړتيا ولري او د ساده او پيچلو کارونو په تر سره کولو کې له ځانه رَڼه وړتيا راځرګنده کړي. هغه کسان چې د ورځنيو اړوندو کارونو په ترسره کولو کې لارښوونو ته اړتيا ولري، هغوی د دغسې کارونو لپاره وړ نه بلل کيږي] ،،[

ب:

د ۱۹۸۰زکال د فبرورۍ په مباشت کې اندروپوف د کې جي بي لپاره د پاکستان په تړاو د اقداماتو يوه تګلاره و منله چې لاندينۍ ځانګړتياوې يې درلودلې:

]،، [۱ . کې جي بي بايد د ايس سي دي [په دويمه کچه د لويو کاري مشرانو- ژ] له لارې په ماسکو کې مېشت پاکستاني سفارت او مأموريت ته مخګواښنه (اخطار) ورولېږي که چيرې د [پاکستاني مشر] ضياالحق په سياسي دريز کې روښانه او اغيزمنې کرښې راځرګندې نه شي، او پاکستان د امريکا او چين لارښوونو ته غاړه کښيږدي چې

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



له مخې يې د پاکستان خاوره د افغانستان په وړاندې د يوې مُـداميزې (دايمي) اډې په توګه را وکارول شي نو د شوروي سوسياليستي جمهوريتونو د ختيزپيژندنې اکاډمي ته به لاربشوونه وشي چې د افغانستان د ډيموکراتيک جمهوريت د پولو د خوندي ساتلو په ګټه په پاکستان کې د بلوڅي او د پـښتـني زبيښاک ضد غورځنګ او همدا رنګه د پوځي رژيم د کورنيو مخالفينو په تړاو دې د لارو چارو د لټونې او څيړنې کار راپيل کړي .

۲ .د عملياتي چـَلونو يا تخنيکونو د کارَوَنې له مخې دې په مرکز کې را جوړې شوې شپې پاڼې يا شبنامې اسلام آباد او کراچۍ ته ولېږل شي؛ دغه شپې پاڼې دې د پاکستاني پوځ د يو شمير افسرانو د نامه له پلوه ولېکل شي او په هغو کې دې ددولت کورنۍ او بهرنۍ پاليسۍ په کلکه وروغندل شي چې له پايلو يې دغه هيواد ته د شتمنيو يا ماديانو د لويو تاوانونو د رسولو هېله کيږي .

۳ .د " سردار" تر سرلیک لاندې دې درې سوه شپې پاڼې راجوړې شي او په هغه دې کې پر دولت کلکې ګوت نيونې وشي او څرګنده دې شي چې وګړي ددولت له ټولنيزې تګلارې او پوځي کړيو څخه په ټينګه سرټـکاوی لري.

۴ .د پاکستان په سيمه يزو رسنيو کې دې داسې جړې ور وکـَړل شي چې ګنې پوځي رژيم په درواغو د افغانستان په تړاو له حالاتو څخه د ګټو د را پورته کولو په پلمه غواړي خپله پوځي ورتيا لا پياوړې کړې او له دې لارې غواړي په ټول هېواد کې د خپلې واکمنۍ اغيزو ته لا اوږد ژوند او پراختيا ورپه برخه کړي اوپه دې پلمه غواړي تر يوه ناڅرګند وخت پورې د سياسي ګوندونو او ډلو ټپلو پرفعاليتونو بنديز ته دوام ورکړي .

۵ .په بنکاک کې د پاکستاني مأموريت له غوړونو دې ور تېره شي چې د ضياالحق د رژيم په وړاندې د راکېږدلو ټولنيزو - سياسي ناخوښيود څپو په پام کې لرلو، د کارتر په اداري کې پاکستان ته د پوځي مرستو د ورکړود ګټو په اړه شکونه راپارېدلي دي. د امريکا د بهرنيو چارو وزير [سايروس] وينس او دهغه مرستيال دواړوپه پام کې نيولې چې د امريکا د سياست د يوې بلې سترې تيروتنې د مخنيوۍ لپاره دا اړينه بولي چې په پاکستان کې د پوځي رژيم پرځای دې داسې يو رژيم راوستل شي چې د پاکستان ټيکاو او امن ډاډ من کړای شي .

٦ .په هندوستان کې سروزيرې ګاندهي ته دې مالومات ورکړل شي چې پاکستان د امريکا له لږې پوځي مرستې څخه خوښ نه دی ځکه چې امريکا پر پاکستان داسې اَړونه ( شرايط ) را منلي چې ګنې امريکا به په دې اَړ د مرستې د ورکړې لړۍ ور وغځوي چې پاکستان د اټومې سرګلولې له چـَولو څخه لاس پرسر شي. پاکستاني مشران په بيړه هرلورې ته لاس اوپښې اچوي چې د افغانستان له حالاتو څخه په ګټې اخيستنې له امريکاڅخه ډيره وسله تر لاسه کړي او تر څنګ يې د پاکستان د اتومي بم د جوړولو په وړاندې را ولاړ شوي بنديزونه ليرې کړي .

۷ .د ملګرو ملتونو د مشرتابه له لارې دې د ايران استازو ته خبر ورکړل شي چې پاکستان ته د پوځي مرستو په را ډېريدا اوس امريکا د بلوڅستان په ګډون د پاکستان په خاوره کې د ايران د خاورې د سرحدي پولو په ورڅېرمه سيمو کې د پوځي اډو د جوړلو په لټه کې ده. پاکستاني مشران امريکا ته د دغه انحصاري حق د ورکړې لېواله دي .

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



۸ .د ناپیيلتوب د غورځنګ د هیوادونو په ټولو کړیو کې دي د پاکستان د بهرنۍ پالیسۍ د سپکولو اوبې اعتباره کولو لپاره ګامونه رااوچت شي او ټینګار دې وشي چې پاکستان د ناپیيلتوب د غورځنګ د کړنلارو له کرښو څخه اوښتی ځکه چې پاکستان دوه وو سترو ځواکونو امریکا او چین ته اجازه ورکړې چې هیواد یې په آسیا کې د هغوی د لاس د اوزارو په توګه را وکارول شي .

۹ .په هندوستان، سیریلانکا، بنګله دیش، نیپال، اندونیزیا، اُردن، ایتالیا او فرانسه کې دي د خَپـرَونو د خپراوي لړۍ نوره هم را وغځول شي او ټینګار دې وشي چې د پاکستان د څارکښیزې اداري او دهغې اداري اړوند کسان نیغ په نیغه د افغانستان په کورنیو چارو کې د وسله والې لاسوهنې په سمبالولو کې را ښکېلې دي] .،،[

د ۱۹۸۰زکال د سپتامبر په دویمه کرچکوف [ولادیمیر د کې جي بي مشر] د پورتني پلان د مودې را غځېدنه ومنله. د کې جي بي د مرستیال وي الف چوخروف ترمشرۍ لاندې د[ ایف سي دي] تر کچې یوه کاري ډله راجوړه شوه چې د [ک] او [آر تي] د ادارو د لومړیو درجو خدماتو [الف ]او د ۸، ۱۷ او ۲۰ دیپارتمنتونو استازو په کې ګډون درلود. ډلې ته دنده ورپه غاړه شوه چې جاسوسي اقدامات دې تر لاس لاندې ونیسي او د ټولو [ایف سي دي] ګانو ګډ او را اوچتېدونکي ګامونه دې له یو بل سره همغاړې او ترڅنګ دې د پلي کولو څارنه هم وکړي. د [ الف ] د خدماتو د دریم دیپارتمنت مشر ډګروال وي ریخلوف، د چوخروف د کاري ډلې دغړي په توګه وټاکل شو او دنده وروسپارل شوه چې د فعاله اقداماتو د پلي کولو څارنه دې وکړي او دهغو له پایلو څخه راټول شوي مالومات دې د همغاړي کولو په موخې په یوه ټکي کې راټول کړي .

د ۱۹۸۱ زکال د فبرورۍ په مباشت کې کاري ډلې د " تورخم" تر پورَني (مستعار) نامه لاندې د عملیاتي پلان ډېرې برخې را جوړې کړې. دغه پلان باید په ګڼ شمیر هېوادونو کې تر سره شواى واى، او د همدغه پلان تر رڼا لاندې نورو جلا جلا او ځانګړو بشپړونکو پلانونو باید لاندینۍ ځانګړتیاوې درلودلاى:

-د ضیاالحق له رژیم سره سوله؛

-په پاکستان کې د امریکا او چین د دریزرا کمزوره کول؛

-له ایران سره د اړیکو بـدَولو ته ملا راتړل؛

-د پاکستان او هندوستان ترمنځ د روانو شخړو پرسر اور را تازه کول؛

-دهند-پاکستان په اړیکوکې نوېو پارونو ته لاس اچول؛

-شخصاً د ضیا الحق پروړاندې د اندیرا ګاندهي او د هندوستان د نورو مشرانو په زړونو کې د کرکې او شکمنۍ د احساس را پیاوړي کول؛

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



-د هند او د نړۍ د نورو هېوادونو د مسلمانانو په سترګو کې له هغه (ضياالحق � ژ)سره زموږ د رغښتې يا سازش د احساس راژوندي کول؛

-د هندوستان دولت دې را وهڅول شي چې پر پاکستان زور واچوي او اړ دې باسي چې د افغان له ياغيانو څخه لاس په سر شي؛

-د پاکستاني کډوالو" مهاجر قومي غورځنګ �ژ" او د ولسپالو د غورځنګ فعاليتونه دې را سمبال شي؛

د افغان مهاجرو تنظيمونه دې له يو بله را جلا کړای شي -

د افغان کډوالو په وړاندې دې د سيمه ييزو وګړو کرکه او دښمني نوره هم پياوړې شي .

-د ايران او هندوستان له غوړنو دې ور تيره شي چې د پاکستان د پوځي ورتيا د پياوړي کولو موخه نه يوازې د افغانستان په وړاندې دښمنۍ ته د چمتوالي لپاره بلکه دغه دښمني د هندوستان او ايران په وړاندې هم ده.

هندوستان په دې را و توانېد چې ضياالحق ته ور څرګنده کړي چې د افغان کډوالو په سترګو کې د هندوستان ضد حساسات را ژوندي کوي او په هندوستان کې د پاکستان په ګټه افغان پټ مأمورين په کار اچَوي. همداشان پلان :

-د هندوستان او نورو هېوادنو له پلوه د پاکستان په وړاندې د تبليغاتو په پياوړي کولو او هندوستان ته د پاکستان له پلوه د نيول شوي کشمير د بيرته ور ګرځولو د يوې کمېټې په جوړولو ټينګار کوي.

-بې لارې کوونکي مالومات دې د ګاندهي له غوږونو ور تيرشي چې امريکا ، پاکستان او د چين د وګړو ولسي جمهوريت د جمو او کشمير د اړوپيچ د بې ثباته کولو لپاره غواړي په ګډه پوځي عمليات ترسره کړي .

په بنګله ديش کې زموږ ټوليزه وګرنيزه موخه دا وه چې د ضياالرحمن رژيم دې د افغان انقلاب ضد ډلو ټپلو له ملاتړه لاس په سرشي، د بنګله ديش او پاکستان ترمنځ دې د شخړو وړ د سکالو اورته لا لمن ووهل شي؛ د بيلګې په توګه د پاکستاني کډوالو بيرته راګرځېدنه، د بانکي شتمنيو ويشنه او دغو ته ورته نورې، او تينګار دې وشي چې د بنګله ديش په اقتصادي بيرته پاتې کې د پاکستان واکمنې کړۍ پخه ونډه لري. لومړنۍ موخه دا وه چې د افغانستان د والي ډيموکراتيک جمهوريت په وړاندې د امريکا، پاکستان او د چين د وګړو د ولسي جمهوريت د فعاليتونو مخه را ونيول شي. په ۱۹۸۱ او ۱۹۸۲ زو کلونو کې د "تورخم" د عملياتو په اړانه کې د لاندينيو فعاله اقداماتو را پورته کول په پام کې را نيول شوي ول:

لومړۍ :

-د شيعه د مذهبي ډلو له اړخه او نامه دې شپې پاڼې ور جوړې اوپاکستانی رژيم او له امريکا سره د هغه همکاري دې پکې په کلکه ور وغندل شي. په شپې پاڼو کې دې د ايران د لاس لرلو نښې نښانې ورڅرګندې کړای شي او په

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



لېکنه کې دي د آیت الله خمیني له خولې پرضیاالحق نیوکې وشي. د شپې پاڼو د شیندلو لارې چارې: شپې پاڼې دې د ګڼ شمیر ودانیو پردیوالونو ونښلول شي، په اسلام آباد کې په ورځپاڼو او د بهرنیو هیوادونو په مأموریتونو " سفارتونو" کې دې خپرې شي او په کراچۍ کې دې وشېندل شي .

-( د "سردار" د لړۍ د یوې برخې په توګه په انګلیسي ژبه دې) په پاکستان کې د وسله والو بیلتون پالو له پلوه شپې پاڼې ور وشیندل شي، او په هغو کې دې ور څرګنده شي چې د افغانستان د ډیموکراتیک جمهوریت او هندوستان په وړاندې د ضیاالحق د را خپلو شویو پالیسیو په اړه د پاکستان په پوځې کړیو کې عمومي مخالفت مخ په را کـتېدلو او ډېرېدلو دي او رژیم د پردیو د ګټو لپاره لکه د امریکا او د چین د مریېتوب پړی په خپله غاړه کې اچولی دی. دغه شپې پاڼې دې په اسلام آباد او کراچۍ کې ور خپرې شي .

-پورتنۍ شپې پاڼې ته وَرته یوه بله بېلګه دې د یوه شخصي لیک په توګه د پاکستان د کورنیو چارو د وزیر محمد هارون په نامه چې په دولت کې د لړکې شیعه استازیتوب کوي د ایراني مشر امام خمیني په لارښوونه ولېکل شي. په لېک دې راڅرګنده شي چې ضیاالحق په پام کې لري په پاکستان کې د شیعه په وړاندې ټینګ بندیزونه را منځ ته کړي او له دې امله دوی [شیعه وګړي- ژ] له خپلو ایراني ورونړوڅخه غواړي چې ددغې ویرې مخه راونیسي. ددغه لېک یوه کاپي دې د پاکستان د پوځي ځانګړو استخباراتو یوه مشر ته د یوه " خیرغوښتونکي " له پلوه ور ولیږل شي .

د افغانستان په ډیموکراتیک جمهوریت کې د بلوڅو او د مېشتو پاکستانې مخالف ځواکونو د په کار اچولو د وړاندیزبرخې یا جیزئـیات رابشپړې کړئ .

د سولې ټول لاسوندي د ګڼ شمیر هېوادونو په رسنیو کې خپاره کړئ] ،، [

دویم] ،،[

په ټول زور او ځواک د پاکستان په وګړو کې د افغان مهاجرینو په وړاندې دښمنۍ را سختې کړئ او پاکستان ته د افغانانو د راکډوال کېدلو د بهیر په وړاندې شوني خنډونه رامنځ ته کړئ .

د پاکستاني ټولنې په منځ کې له ډنډورو ډک مالومات را خپاره کړې او ټینګار وکړئ چې د ضیاالحق رژیم په خپل رښتوني اړخ کې نه غواړي د افغان کډوالو ستونزې راحل کړي او له کډوالوپه ګټې اخیستنې غواړي دغه ستونزه په یوې تل پاتې یا دایمي نه حل کېدونکې ستونزې راواړوي. د افغانستان له ډیموکراتیک جمهوریته د را کډوال شویو افغانانو شمیره او شتون پاکستان ته دا وسه وربخښي چې په لویه کچه مرستندویه توکي د هغوی په نامه له نورو راټولې کړي، دولت غواړي چې د بلوڅانو او پښتنو ولسپاله غورځنګونه یوې ګوښې ته کړي او د هغوی په سیمو کې خپله واکمنۍ نوره هم پخه او پراخه کړي.

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



-د پاکستان دولت او د خبریالانو کړیو ته مالومات ورسوئ چې د افغان کډوالو مشران د بېلګې په ډول [بنسټپاله اسلامي مجاهدین د (اسلامي ګوند) لارښود] ګلبدین حکمتیار او ن. محمد [ښايي نبي محمدي وي � ژ] هڅه کوي چې پښتانه تېرونه تر خپلې اغیزې لاندې راولي او له هغوی سره ژمنه کوي چې د افغانستان او پاکستان په خاوره کې یو نوی دولت د خپلواک پښتونستان تر نامه لاندې رامنځ ته کړي.

د پاکستان د څارکښو ادارو د څانګو له غوږه ور تیره کړئ چې افغان کډوالوته د را رسیدونکې وسلې ستره برخه د هغومخالفو سیاسي ګوندونو پر پلویانو اورسمي چاړواکو پلورل کیږي چې په پاکستان کې مېشت له افغان انقلاب ضد مخورو سره دایمي نا څرګندې اړیکې ټینګې کړې دي.

د هېواد د رسنیو له لارې ډنډوري راخپرې کړئ چې په پاکستان کې د مېشتو افغان مشرانو په منځ کې یووالی او یو موټی والی نسته، هغوی د ضیاالحق له اداري څخه خوابدي شوي او غواړي چې د امریکا له څارکښو ادارو، د چین د وګړو له ولسي جمهوریت او له سعودي عربستان سره د پاکستان له څارنې او منځګړتوب پرته اړیکې راټینګې کړي .

ددې لپاره چې په افغان کډوالو کې ګډوډي رامنځ ته شي نوپه خپله د افغانانو د مرستې له لارې د افغانستان د ډیموکراتیک جمهوریت له څارکښو ادارو څخه دې په دغه اړه کارواخیستل شي] .،،[

]،، [دریم

د پاکستان د اټومي بمب په تړاو د واشنګتن، پیکنګ او د ضیاالحق درژیم تر منځ د اړیکو د خرپړ کولو لپاره د فعاله اقداماتو د کارونې چارې تر لاس لاندې را ونیسـئ .

-د هندوستان، بنګله دیش او د نورو هېوادونو له غوږونو دا مالومات ورتیر کړئ چې د شوروي سوسیالیستي جهموریتونه غواړي تاسو د هغو هېوادونو په کتار کې راودروي چې غواړي شوروي پلوه وي. یو شمیر اقدامات دې د شوروي سوسیالیستي جمهوریتونو د ټولو ځواکونو له ستر درستیز سره په ګډه تر لاس لاندې ونېول شي .

-د آسیایي هېوادونو رسنیو ته په ډیلي ، ډاکه ، کولمبو او په دغو هیوادونو کې د پاکستاني مأموریت سفارتونو ته دا مالومات له غوږونو ورتیر کړي چې د امریکا او پاکستان ترمنځ د پوځي همکاري له پایلې څخه به د پاکستان په خاورې کې د امریکا د پوځي اډې جوړېدنه هرو مرو را وزیږیږي، د هغه هېواد د پوځي سلاکارانو بې شمیره ډلې به راشي او د پاکستان د خاورې په سمندري څنډو کې به امریکایي بیړۍ را تمې شي او د دې ترڅنګ به د پاکستان اړیکې له اسلامي او د ناپییلتوب د غورځنګ له هېوادونو سره خرې پرې او د شوروي سوسیالیستي جمهوریتونو اتحاد، هندوستان او ایران به د پاکستان په وړاندې د یوې ګډې لیکې په راجوړولو کې له یو بل سره را همغاړې شي او دا به د ضیاالحق د رژیم مخالفینو ته ښه پیاوړې پلمه په لاس ورکړي او په ټینګ درېز به په پښو را و دریږي .

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



-د هندوستان او د ملګرو ملتونو د سکرتر جنرال د همکارۍ په شوني والي کې امریکا ته دا مالومات ور تیر کړئ چې پاکستان ته د پوځي مرستو د پراخېدنې په اړه د ریګن د اداري پلانونه به د ضیاالحق د رژیم په وړاندې د مخالفو ډیموکراتیکو کړیو تېنګ غبرګونونه را وپاروي. که د ضیاالحق کم پاینښته د یکتاتور او ځانغوښتونکی رژیم را وپرځیږي نو په دغه هېواد او په ورته کچه په ایران کې به امریکایي ضد احساسات را وپاریږي .

-د هنګریانو له لارې د ناتو د چارواکو کړیو له غوږونو د ضیاالحق د رژیم ضعف او بې وسۍ او په پاکستان کې د پاکستان د پوځ په ګډون د مخالفینو د ځواک د وَدې راچَـتَـکېدنه ور تیره کړئ او ټینګار وکړئ چې هېواد د بې ثباتۍ پر لور درومي .

په ډاکه کې په ولسي جرګه کې د ولسي جرګې د غړو له پلوه پوښتنې او خبرې را تودې کړئ، د وګړو، مخورو سیاسي کسانو او د لویو مخالفو ګوندونو له پلوه خبرتیاوې را خپرې کړئ ، پردولت دې زور راوستل شي چې د " بیهاري" کډوالو د بیرته راستندیدونکو د ستونزو په هوارۍ کې دې له ځیر او احتیاطه کار واخلي اوبنګله دیش ته د ملګرو ملتونو د منځګړي کمیسیون لپاره دې لاره هواره کړي او پرپاکستان دې زور واچوي چې د پاکستاني کډوالو را ستنېدا دې په ډېرې بیړنۍ توګه تر لاس لاندې ونیسي او د ضیاالحق رژیم دې را اړباسي چې د سعودي عربستان له پلوه ورکړل شوې وړیا بسپنه دې د افغان انقلاب ضد کړیو د مرستې لپاره نه بلکه د همدغو کسانو په بیرته راستنېدا کې ولګولي .

-په ډیلي کې مالومات راخپاره کړئ چې امریکا او ناتو غواړي د هندوستان پروړاندې په سویلي آسیا کې یوه ټلواله رامنځ ته کړي چې په هغې کې به پاکستان کارنده او څرګنده ونډه ولوبوي. لویدیز هېوادونه نه یوازې غواړي چې پاکستاني پوځ راپیاوړي کړي بلکه د هندوستان په وړاندې د پاکستان ورانکارو فعالیتونو ته لاټینګه اوږه ورکړي او غواړي د هندوانو او مسلمانانو ترمنځ د شخړو لمبو ته لا لمن ووهي او د سیکهه د بیلتونپالو ملا ور و تړي چې یو خپلواکه خالسلیستان " (خالستان ـژ) رامنځ ته کړي .

-په ډاکه کې میشتو هندي دیپلوماتانو ته د هندوستان په وړاندې د پاکستاني مشرتابه د تیري ګرو موخو او د جَـنَـتـا " پتهو ګوندونو �ژ" د ستراتیژیکو پلانونو په اړه راکاږه شوي مالومات خپاره کړئ چې ګنې ددغو ستراتیژکو پلانونو موخه د هندوستان په لوېې نیمې وچې کې د هندوستان د هر اړخیزه دریز راټیټول دي چې د امریکا او د چین د وګړو د ولسي جمهوریت له پلوه ترلاس لاندې نیول شوي او پایله یې د پاکستان د پوځي ورتیا په پیاوړي کولو ور اوړي .

-په تهران کې په پرله پسې توګه بې لارې کوونکي مالومات را خپاره کړئ چې ګنې پاکستان له افغان کډوالو څخه په کاراخیستنې غواړي بلوڅو او عربو بیلتونپالو ډلو ته په ایران کې وسلې ورتیرې کړي چې د خوزستان [د ایران په

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



سویل لویدیز کې]، سیستان [د ایران په ختیزکې] او د بلوڅستان په ولایتونو کې د ګډوډۍ ډله یزې دولتي ضد پیښې را وپاروي] ،، [

د ۱۹۸۱زکال د مارچ په مپاشت کې د "تورخم" پر عملیاتي اقداماتي پلان سربیره د "ګوادر" تر نامه لاندې یو بل څنګیز پلان را وزیږول شو او موخه یې د بلوڅانو له ستونزو څخه په ګټه اخیستنې پرپاکستان د اغیزو شیندل او پیاوړي کول ول. د ایف سي دي [الف] د مشرمرستیال ډګروال م. الف کراپیوین ددغې تابیا د پلي کولو پازوالي په غاړه درلودله .

د "ګوادر" عملیاتي پلان د لاندینیو ځانګړتیاوو په لرلو داسې دی :

]،، .[د افغان د استخباراتو او په اسلام آباد او کراچۍ کې د کې جي بي د میشتو څانګو له لارې د بلوڅانو مشرانو ته د پاکستاني چارواکو د موخو په اړه را کاره شوي مالومات ورتیر کړئ چې ګنې پاکستاني چارواکي غواړي په بلوڅستان کې د افغاني کډوالو شته والی را قانوني کړي او هغوی ته حق ورکوي چې دایمي استوګنځي را جوړ کړي او هغوی به حق ولري چې پووندې او باړې په کار یوسي او خپل څاروي به پکې وپیایي .

-له افغاني وسله والو ډلو سره د یو شمیر بلوڅي ډلو د نښتو را پارولو ته اوړه ورکړئ .

-اروپا ته د بلوڅانو له ټاکلي استازي سره د اړیکو د ټینګولو او ساتلو شوني والی تر آزمایښت او څیړنې لاندې ونیسئ چې له هغې لارې په بلوڅي غورځنګ کې دننه حالات وڅیړل شي، پرهغو اغیزه وشیندل شي او داسې ژمنې پکې راژوندۍ شي چې ګنې د شوروي اتحاد سوسیالیستي جمهوریتونه به ددوی غورځنګ ته پراخه مرسته وربرابره کړي .

-په افغانستان کې د بلوڅي راډیو د ستیشن د جوړولو د تخنیکي اړخونو شونتیا په پام کې را ونیسئ چې پربلوڅي وګړو د یوه خپلواکه هېواد د را جوړولو په موخه د جګړې کولو غږ وکړا ی شي .

-د افغانانو له لارې دشپې پاړو د شیندلو لړۍ را پیل کړئ چې له مخې یې د بلوڅي وګړو او افغان کډوالو ترمنځ اړیکې لاپسې اور واخلي .

د پاکستاني مشرانو له غوړونو کاره مالومات ورتیر کړئ چې امریکا د بلوڅانو له ستونزې څخه په ګټه اخیستلو ځانګړې موخې لري او په پام کې لري چې د ضیاالحق پر رژیم زور واچوي چې له پاکستانه د افغانستان په وړاندې د نا اعلان شوې جګړې د سمبالولو لپاره د یوه پیاوړي مورچل په توګه کار واخلي .

-د سي آی اې په اړه بې لارې کوونکي عملیاتي مالومات را خپاره کړئ چې ګنې د غې اداري په غیر مستقیم ډول د یو شمیر سیاسي مخورو کسانو ،د بیلګې په ډول[ شاپي د ایران پخوانی سر وزیر شاه پور] بخیتار او [پخوانی ایرانی جنرال غلام علي] اویسي له لارې اویا نیغه په نیغه بهرته د را کډوال شوی او یا په کور کې دننه د بلوڅانو له یوشمیر

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



مشرانو سره اړيکې را ټنيګې کړي دي. ددې لپاره چې باور يې راشي نو د بلوڅانو له پلوه يو شمير ظاهري ليکونه راټول کړئ چې په امريکا کې د پاکستان سفارت او يا په آسيايي هېوادونو کې پاکستاني سفارتونو ته يې ورليږلي وي او په لېکونو کې دې ضيااالحق او په پاکستان کې نورو دولتي او پوځي مشرانو ته ګواښونه شوى وي. دا دې هم روښانه کړاى شوى وي چې بلوڅي مشران د امريکا له چارواکو څخه مالي مرسته ترلاسه کوي او د يوه خپلواک بلوڅستان د راجوړلولو په بدل کې ځانګړې خدمات او مرستې تر لاسه کوي .

-د ايراني مشرتابه له غوړونو کاږه مالومات ور تيرکړئ چې امريکا ځانګړي موخې او اقدامات په پام کې لري ددغو اقداماتو له لړيو څخه يوه يې د "ساواک" [د ايران د څارکنېې اداري] د پخوانيو څارکښانو ګومارل دي او ګڼې امريکا په پام کې لري چې له ايرانه ايراني بلوڅان راټول اوله پاکستاني چارواکو سره له غاړه غړى کېدلو وروسته د پاکستان په خاوره کې يو يوموټى خپلواک بلوڅستان را منځ ته کړي .

-په کولمبو کې د پاکستاني ديپلوماتانو له غوږونو ورتيره کړئ چې د ليبيا له مشرتابه څخه په را اخيستل شويو خبرو کې پاکستاني بلوڅو مشرانو له ليبيا څخه د يوه خپلواک هېواد په راجوړولو کې د مرستې غوښتونکي شوي او د ليبيا لوړپوړي چارواکي په دغې غوښتنې غور کوي. د پاکستان د بلوڅانو وسله وال اقدام هغه مهال بيرته په شا کيدلاى شي چې په هيواد کې ولسي ژوند خونديږ او ډيموکراته لاره راخپله او له بلوڅستانه افغان کډوال بيرته خپلو کورونو ته ورستانه کړاى شي .

-له افغانانو سره يوځاى او په ګډه په دولتي ضد پارونو کې د بلوڅانو رانښلول تر پام لاندې ونيسـئ او څرګنده کړئ چې څه ډول مرستې دې ورته ورکړل شي .

-د [فلسطين د خپلواکۍ د اداري مشر] ياسر عرفات او د ګڼ شمير هېوادونو رسنيو ته دا مالومات ورسوئ چې پاکستان غواړي پر اسرائـيلو د يورشلم پرسرد اسلامي هېوادونو د قهر ملا راماته او ددغې سکالو پر سر د هغوى يو موټى والى را درې ورې کړي. که د اسلامي هېوادونو د اسلامي کنفرانس بيرنۍ غونډه را وبلل شي نو امريکايانو پاکستان ته دنده ورسپارلې چې د ټولو پام د افغانستان سکالو ته را واړوي او د يورشلم په تړاو پراسرئـيلو د اسلامي کنفرانس د پريکړو را ماتول به د امريکا او اسرائـيلو له پلوه وستايل شي] .،، [

د چوخروف کاري ډلې د يوې نوې قهرراپارونکي خبرې د اړخونو راجوړول په پام کې ونيول � دا د هندوستان او پاکستان ترمنځ د خپلواک کشمير پرسر د ستونزې لا پراخول او په افغانستان کې په پرديس کې د يوه خپلواک او آزاد بلوڅستان دولت را جوړول ول. خو د ددغې سکالو د څو اړخيزه نا ډاډ والي او د حالت د پيچيلتيا په پام کې نېولو سره د دغې ستونزې له را کـتـرَول څخه لاس واخيستل شو .

دې ته ورته ډېرې اقدامات تر لاس لاندې ونيول شول او د پاکستان د ډيموکراتيکو ځواکونو د پياوړې کولو لپاره شرايط رامنځ شول. د پاکستان د خلق د ګوند يا پيپلزپارټي له استازو، تحريک استقلال ، د مسلم لېګ د ګوند له

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



ټولو ځانګو ، د مساوات له ګوند، د پاکستان د نشنل ډيموکراسي له ګوند، د پاکستان له نشنل ګوند او د هېواد له نورو ولسي � ولسپالو ځواکونو سره کارونه ترلاس لاندې نيول شوي ول .

د فعالو اقداماتو د پلي کولو لپاره په بهر کې د کې جي بي د ميشتو ځارکښو"جاسوسانو" او د کې جي بي د قرغزيا، تاجکستان، ترکمنيا او آزربائـيجان دغړو د په کار اچولو شونتيا را ډګر ته شوه .

ج

د فعاله اقداماتو ډيرې برخې په اسلام آباد کې د " نوا" تر نامه لاندې په خپريدونکې مهالنۍ کې چې د مېشتې کې جي بي له لوره ځارل کېدله ځای پرځای شوې وې.

په ۱۹۸۰زکال کې ۲۳۹ مقالې د "الف" د ډلې اقداماتو پورې اړوند خپرې شوې، د ۱۹۸۰زکال په لومړۍ نيمايۍ کې، د ټولو خپرو شويو شميره ۲۱٦ ته را ورسيدله. کله چې د افغانستان په اړه د پاکستان � افغانستان اړيکې تر شننې لاندې نېول کېدلې، مهالنۍ به ګڼ وختونه د افغاني ضد او شوروي ضد دريزونو په راخپلولو کې خپلې شننې کولې. د همدغې مهالنۍ لسمه ګڼه د امريکا له رسنيو څخه په را اخيستنې د ضياالحق وينا را اخلي اوڅرګندوي چې د شوروي اتحاد سوسياليستي جمهوريتونو غوښتل د خليج فارس له لارې ځان ته د ننوتلو لاره را پيدا او د پاکستان لاس د شا له لورې ورو تړي. د مهالنۍ ٤٦ ګڼې د " نوای وقت " لېکنه د دويم ځل لپاره را خپره کړه او شننه يې وکړه چې دغه ولس ولې د شوروي پوځ د ملګرو او خپلواکۍ بخښونکو په توګه ګڼي او ټول کيڼ اړخي يې ويرولي ول چې که شوروي سرتيري راسي نو نه به دوی او نه به ددوی کورنۍ په کرار پريږدي .

په ۱۹۸۱زکال کې د مهالنۍ ډيري برخې د افغانستان په اړه د کنفرانس او ناپييلتوب د غورځنګ پردريز خپرونې کولې .

په ۱۹۸۱زکال کې په پاکستان کې د [ک ر] د کرښو ۱۲ فعاله اقدامات پلي شول چې په هغو کې د " ليو" سولې او د سي آی اې په اړه د پوسترونو ويشنې ګډون درلود. د امريکا د بهرنيو چارو د وزارت چارواکو، د امريکا د سفارت قونسلګرۍ او "ليو" بلوڅستان ته سفر وکړ او د ولايت د بيلتونپالو د پلويانو له سياسي مشرانو سره يې وکتل چې د هغوی له سفرڅخه ګټه را واخيستل شوه. له همدغه ځايه ول چې امريکا په ايران کې د را پورته شويو انقلابي ريفورمونو په وړاندې د شخړو د رامنځ ته کولو او سمبالولو ته ملا را وتړله او له دغو مشرانو سره يې ژمنه وکړه چې د ايران په وړاندې د خنډ په را پورته کولو به د ولايت کورواکي دوی ته ور وګرځول شي .

په سيمه يزې ورځپاڼې کې يولنډ خبر خپور شو او پکې ويل شوي ول چې يو پوليس د امريکا د سفارت د يوه غړي موټر دَرَوي او د [چيکيستو] مأمورينو تر اغيزې لاندې د امريکايانو په قاچاق کې راښکېل شوی وو او ورځپاڼې له پښتـنـو بيلتونپالو سره د نومړې مأمور د اړيکو په منلو ټينګار کاوه .

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



## څرګندونه :

د شوروي ]چيکستчрезвычайная комиссия Chrezvychaynaya Komissiya, [tɕɛka]) ::

د جاسوسۍ له لومړنيو ادارو څخه وه . دغه اداره د ۱۹۱۷ زکال د ولادیمیرلینن له پلوه د دیسامبر په شلمه نېټه رامنځ ته شوه او لومړنی مشر يې کمونيست فليکس اندماندوويچ ځرژینسکي وو. دغه اداره وروسته په يوه پوځي ځواک واوښتله او د شوروي د رژيم د ساتلو دنده يې په غاړه درلوده. � ژ [

په هماغه وخت کې يوه طرح يا دسيسه د فعاله اقدام په اړانه کې را پلې شوه. خبره دا وه چې د امريکا د سفارت د سياسي برخې د سکرتربکس ورک شو. په بکس کې داسې لاسوندي ول چې په خپله تومنه کې يې پاکستاني ضد مواد درلودل. بکس د يوه پاکستاني له پلوه په يوه ګنه ګوښې ډک ځای کې وموندل شو او پوليس ته ور وسپارل شو. د ۱۹۸۰زکال د اپريل د مياشتې په ۵ نېټه په ډيلي کې د کې جي بي تر ځارلاندې ورځپاڼې " پتريوت � هيوادپال" يوه لېکنه را خپره کړه چې سر لېک يې وو:" د ضياالحق په وړاندې د امريکا د څارکښې اداري سي آی اې تر چپنې لاندې چاره په لاس جګړه ". ليکنې د دولتي ضد مأمورينو په دسيسو کې د سي آی اې پرښکيلوالي ټينګار کاوه .

همدغې ورځپاڼې د ۱۹۸۱زکال د اپريل د مياشتې په څلورمه " په پاکستاني فرقو کې د پوځي پاڅون " ' ۷ تنه اعدام شول ' تر سرلېک لاندې يوه بله لېکنه خپره کړه. لېکنې د پاکستان په سمبال شوي پوځ کې د راولپنډۍ ، پيښاور او کراچۍ په بارَکونو کې د ميشتو ځواکونو په منځ کې د ګډوډې د راپارېدنې په تړاو خبرې کولې. د کې جي بي د ايف سي دي د " الف" د خدماتي څانګې د هېلو برخلاف له تاس پرته بلې هېڅ ورځپاڼې ددغو بې لارې کوونکو معلوماتو په وړاندې غبرګون راڅرګند نه کړ .

د ۱۹۸۱زکال د جولای د مياشتې په شپږمه نېټه شوروي پوه او ختيز پيژندونکي چې د کې جي بي څارکښ هم وو په شوروي اتحاد کې د پاکستان له شاژدافير سره يوه غونډه درلوده. د پټو خبرو په ترڅ کې نوموړي شوروي پوه امريکا ته د پاکستان د بهرنيو چارو د وزير آغاشاهي د سفر په تړاو په اړوندو پياوړو ايجنسيو کې د واکمنو او اکاډيمکيو کړيو د نظر د غبرګون څرنګوالی وریاد کړ .

په خبرو کې په ځانګړې توګه ټينګار وشو چې امريکا افغان ياغيانو ته د پاکستان له لارې د وسلو مرسته کوي؛ په دغو وسلو نه يوازې افغانان وژل کيږي بلکه شورويان هم وژل کيږي؛ او دې ته په کاتو د شوروي اتحاد سوسياليستي جمهوريتونو اړ کيږي چې نه يوازې خپله پوځي مرسته به را ټيټه نه کړي بلکه دهغه په بدل کې به د خپلې پوځي مرستې کچه نوره هم را لوړه کړي. که پاکستان وغواړي چې د امريکا له پلانونو سره د يوه ملګري او همغاړي په توګه په ځانګړې ډول د آسيا په اړوپيچ اړوندو چارو کې ونډه ولوبوي، نو شوروی لوری به ونه شي کولای چې د يوه بيکاره په توګه ددغسې يو پرمختګ پرمخ راو نه دَريږي. شارژدافير د خپل دولت له کړنو څخه د ننګې په کولو

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



ټینګار وکړ او د خپل دولت له خولې یې ورته وویل چې د پـــښـتـنـو په تـَـبـرنیو سیمو کې د اړوپیچ " حالت" او فعالیتونو مخنیوی ناشونی کار دی .

شارژدافیر وپوښتل: موږ څه کوو؟ "

جاسوس ځواب ورکړ. " زه خو واک نه لرم، زه نه شم کولای د پاکستان د دولت لپاره پریکړه وکړم، خو زه غواړم ستاسو پام دغه ټکي ته را واړوم چې زموږ د خبرو پر ختې او تومنې ټینګ فکروکړئ"

شارژدافیر په لوړ غږ وویل : " مګر دا خو تاوتریخوالي ته لا پونده ورکوي "!

جاسوس د شارژدافیر خبره وروغندله او ور غبرګه یې کړه: " آیا باندیستانو او یاغیانو ته د شوروي د سرتیرو د وژنې لپاره امریکایي وسله ورکول تاو تریخوالي ته پونده ورکول نه دي؟ پاکستان خو اوس د یاغیانو د سمبالولو په یوې لویې اډې اوښتای دی او د وسلو د تیرولو او برابرولو یو لوی سورى (تونل) شوی دی. اوتاسو ګومان کوئ چې شوروي اتحاد به په چوپه خوله کرار کښېني او دې ته به سترګه په لار وي چې څه ورپښیږي؟

شارژدافیر په دغو خبرو داسې د پای ټکی کښیښود: " دا مهم معلومات دي. که څه هم لیواله نه یم چې دا کار وکړم، خو غواړم دغه ګزارش اسلام آباد ته ورکړم ".

په افغانستان کې د شوروي د وسله والو ځواکونو په اړه ایرانیانیو ته د ناسمو مالوماتو د ورکولو په مهال د [چیکا ][� د کې جي بي له جوړیدلو مخکې د شوروي لومړنې څارکښه اداره، چې پورته یې څرګندونه وشوه �ژ] څارکښان وروسته له یو څه وخته دې پایلې ته را ورسیدل چې که په افغانستان کې امریکا ته نیږدې سیاسي کړی واک په لاس کې را ونیسي او د واک پرګډیو کښېني، نو له خمیني سره به د غورځو پرځو او دښمنۍ د کړس په کړاو کې د هغه په وړاندې د هغه خپله وسله � اسلام � ور وکاروي. له دې امله هغه [خیمني � ژ] باید د نوي رژیم د رښتوني دښمن ورانکاریو ته ټینګه پاملرنه راواړوي چې نوم یې لوېدېز او ګاوندې عرب هېوادونه دي .

ددې لپاره چې د ایران � پاکستان په اړیکو کې نور تاو تریخوالي ته لمن ور ووهل شي او د افغان کډوالو په وړاندې د ایرانیانو کرکه نوره هم را وپارول شي نو د سیمه یزو چارواکو په مرسته ددغه کار لپاره یو شمیر تر لاسه شوي مالومات په کار واچول شول، خبره دا وه چې سي آی اې په عـُمان او پاکستان کې د پوځي روزنې یو شمیر رونځایونه جوړ کړي ول چې په پوځي روزنه سمبال شوي جنګیالي په ایران کې د نوي رژیم او ایراني انقلاب په وړاندې د ورانکارو عملیاتو لړۍ تر سره کړي. روزنه د سي آی اې د مأمورینو، د ساواک د پخوانیو څارکښانو او افسرانو او په پاکستان کې مېشت د افغانو تنظیمونو له پلوه ترسره کېدله .

د ۱۹۸۰زکال د نوامبر د مباشتې په لسمې نیټې د ایران د ولسي جرګې مرستیال د زاهدان [د ایران په سویل ختیځ کې] له ښارګوټي څخه په ولسي جرګه کې د ایران په وړاندې د پاکستان، عـُمان او په سیمه کې د نورو لاسپوڅو

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



دولتونو له دښمینو ډکو کړنو ته په کلکه نغوته وکړه. هغه په خپلو خبرو کې وویل موږ ځرګند مالومات په لاس کې لرو چې: " تش په نامه ملګری خو پټ دښمن یعنې پاکستان د ایران د اسلامي جمهوریت په وړاندې غواړي ورانکارې کړنې تر سره کوي" مرستیال په خپلو خبرو کې د کي جي بي له ورکړل شویو مالوماتو څخه یادَونه وکړه او ټینګار یې وکړ چې د ورانکارۍ په یوې برخې کې د پاکستان له خاورې افغان کډوال لاس لري او نوموړي د ایران له دولته په ټینګار وغوښتل چې ددغو ورانکاریو په وړاندې دې کوټلي ګامونه را اوچت کړي او د ایران په خاور کې دې د افغان کډوالو حالت دې ور معنی کړي ځکه چې له هغوی څخه د ایران دښمنو ځواکونو له خوا د سیاسي موخو په پلي کولو کې ګټه اخیستل کیږي .

د "توکیسک" 'زهر �ژ' تر نامه لاندې یو بل فعاله اقدام تر لاس لاندې ونیول شو چې په ایران او پاکستان کې د افغان کډوالو د ژوند د حالت د لا تریخولو په موخه راجوړ سو. ددغه اقدام په سرکې دا پوښتنه را برسیره شوې وه چې د افغان جنګیالیو ستره ستونزه د پیسو نشتوالی دی. او ددې لپاره چې جنګیالي خپله پوځي بودیجه را سمبال کړای شي نو پر لوېدیز باندې د نیشه یې توکو په پلورلو کې راښکیل شوي دي .

یوازې د ۱۹۸۰ز کال د جنورۍ او فبرورۍ په مېاشتو کې د افغان د سکالو په اړوند ٥٦ لېکنې وکـَرل شوې؛ په افغانستان کې د شوروي ځواکونو د یرغل په پلوي ۱۲ سرمقالې ولېکل شوې. سرمقالو ټینګار کاوه چې دغه تیری د افغانانو د ۱۹۷۹ ز کال د انقلاب په وړاندې یوازې د امپریالیزم د هغې نا اعلان شوې جګړې په ځواب کې دی چې د شوروي سوسیالیستي جمهوریتونو اتحاد یې له افغانستان سره د ملګرتوب د تړون تر سیوري لري او د افغانستان د قانوني دولت د غوښتنې پربنسټ دغه هیواد ته راغلي او دهمدغه ملګرتوب په رڼا کې به خپله دنده تر سره کوي .

له دې چې دغو لېکنو د ټولنې د وګړو په اندونو کې د هېلې وړ اغیزې ور ونه شیندلې او د ټولنې سترې برخې د شوروي یرغل وغانده، نو په بهر کې د کي جي بي میشتو څارکښو د سیمې په ګوندونو کې د [اغیزمنو سیمه ییزو] جاسوسانو له لارې وغوښتل چې د وګړو نظر د شوروي د یرغل له سکالو بل لوري ته را تاو کړي اودنده ورکړل شوه چې د افغانستان د نیواک پرځای دې د امریکا او بنګله دیش د ارتجاعي سیاست د تومنې را بربنډولو او د بنګله دیش په کورنیو چارو کې د امریکا لاسوهنو ته راواړوي. که دغې خبرې اغیزه نه درلودله نو د وګړو د ټولنیز نظر د حالت په پام کې نیولو سره دې په افغانستان کې د شوروي د یرغل د غندنې پرځای دې په عین وخت کې هم د شوروي یرغل او هم د امریکا امپریالیزم دې دواړه له یو بل سره پرتله کړي .

د کې جي بي په مرکزي کمېټه کې یو ډېره پټه پریکړه وشوه چې د جاسوسانو له لارې دې د [سرکار دعملیاتي پلان د ډلې څانګې] د سي بي پي [د بنګله دیش کمونیست ګوند] اود همدغه سي بي پي ګوند د [ ایم او ایچ آی � موهي] څانګې ته دنده ورکړل شوه چې د ګوند د غړیوپه زړونو کې د شوروي ضد روحیه مړژواندې کړې او د هغوی

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



پام دې د هنداو چين ترمنځ د هند په شمال ختيز ايالت کې د امريکا او د چين د وګړو د ولسي جمهوريت موخو ته را تاوکړي چې غواړي د سيتاګانګ د غـَرَنـۍ ولسوالۍ ، تيري پوره ، ميزورام او مانيپور له سيمو څخه جوړ يو نوی دولت د يوه بفر ستيت يا حايل په توګه رامنځ ته کړي .

يوه بله شخړه ور پلې شوله : د افغانستان د پېښې په اړه امريکايانو خپله پاملرنه د ټولنو په ځواني برخې ورنېغه کړې وه او له بلې خوا په ګڼ شمير ټولنو کې د زده کوونکو ټولنو هم خطرناکه دنده په غاړه درلودله او دا ټولنې د همدې برخې لپاره جوړې شوې وې چې د ايران له انقلاب سره ډغرې ووهي خو امريکا هم دغه ټولنې او هم د ټولنو ځوانه برخه د افغانستان د پېښې په تړاو را پارولې. په دې اړوند په اندونيزيا کې ټولنيزو ډلو، ماليزيا او پاکستان ته شپې پاڼې ور ولېږل شولې. د "ګونوکونغ" ، "جونپود"، سندباد"، نوتو بنګله" او " ډيموکرات" په خپرونو کې ليکنې خپرې شوې .

لاندينۍ ليکنه د ايف سي دي د الف د خدماتي څانګې له پلوه جوړه شوې يوه کوښنۍ برخه ده چې د بنګله ديش په خپرونو کې خپره شوې وه :

سره له دې چې له افغانستان را کډه شوي کډوال روسي ضد روحيه لري خو په وروستيو وختونو کې راغلي کډوال وايي چې افغان وګړي د شوروي سرتيرو له سم چال چلند څخه به هک پک کېدل، او ددی زړونو به نه منله چې يو نيواک ګرځواک دې داسې يو چال چلند وکړي او دا له يو بل سره هېڅ نه جوړيدل. رښتيا دا ده چې شورويان له ۱۹۲۰زکال وروسته، د شلمې لسيزې له کلونو څخه ترلاسه شويو تجربو ته ورګرځي. په هغو وختونو کې دوی د منځنۍ آسيا مسلمان هېوادونه ونيول او اوس غواړي همدغه آزموينه په افغانستان کې را پلې کړي .

د شوروي د منځنۍ اسيا اړوپيچ په هغو وختونو کې کټ مټ په افغانستان کې د ۱۹۷۸زکال د اپريل د مېاشتې له انقلابه را ورسته اړوپيچ ته وَرته وو: پولې ته نيږدې د پرتو ټبرونو په منځ کې ټبرنۍ شخړې، د لويو ځمکوالو ډير قهرنۍ دريز، د پووندګرو او شپنو پر ټولنو د مذهبي کړيو پياوړې اغيزې چې له لېک لوسته بې برخې ول، د بريتانيا تر مشرۍ او لاربښوونې لاندې په بهر کې (ايران، پي آر سي) کې له مخالفو ډلو ټينګ ملاتړ.

په هغه وخت کې روسانو له ځانه د نه منلو نرمښت را څرګند کړ او دا وړتيا يې ومونده چې پوځې او سياسي تګلارې دواړه سره راګډې کړي، دا په حقيقت کې هغه کار وو چې وروسته يې بايد کړی وای خو دوی هغه وروستني کار "نرمښت" ته په لومړي سر کې لومړيتوب ورکړ. په افغانستان کې د شوروي د پوځ شتون په ورځني ژوند لږ اغيزه راشيندلې ده. د ورځني ژوند د يوه قانون په توګه هغوی په داسې ځايونو کې لښکرکوټونه راجوړ کړېدي چې د وګړو له منځه ليري دي او هر څه يې چې په وس کې وي هڅه به وکړي چې د سيمه ييزو ميشتو کسانو پام ځانته را وا نه ړوي. څرګنده ده چې سرتيري او افسران نه شي کولای له خپل لښکرکوټه د باندې را ووځي او يا دې له افغان وګړو سره اړيکه را ټينګه کړي .

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



د افغان کډوالو له خبرو داسې څرګندیږي مخکې له دې چې روسان افغانستان ته را ولیږل شي هغوی ته په ځانګړې ډول لارښوونه شوې وه چې که څوک کډوال کیږي یا دباندې ځي هېڅ څه دې ورته ونه ویل شي ځکه دا به د مسلمانانو پر احساساتو تیری وبلل شي او یا به برعکس د ګڼ شمیر تېرونو پردودونو چې په لسګونو ډولونه یې په هېواد کې میشت دي تیری وبلل شي. د پاملرنې وړ خبره خو دا ده چې د شوروي هر سرتیرى له ځان سره د چال چلند ځانګړى لارښود لېک لري چې له افغانانو سره د چال چلند په مهال دې په پام کې ونیسي. په څو ځله ټینګار شوی چې له مؤمنانو سره دې هېڅکله د مذهبي سکالوپه اړه خبرې ونه شي او پر دغو خبرو بندیز لګول شوی؛ لارښوونه شوی چې دا ډول خبرې د ټولو افغانانو له پلوه د یوه قانون په توګه ګڼل کیږي او هرڅوک دې باید په ورځ کې پینځه ځله لمونځ وکړي او کله چې څوک پر لمانځه ولاړ وي هم دې درناوی وشي او نه دې لاس ورنه وړل شي. د مسلمانو تر مخ دې هغه کارونه چې په قرآن کې منع شوي دي و نه شي او په ټینګه ورباندې بندیز لګول شوی او دې ته وَرته نور. کډوال وایي چې د شوروي په لښکرو کې شوروي بولندویانو ته اخطار ورکړ شوي که ددوی تر لاس لاندې کسان د سیمه یزو وګړو په منځ کې ناخوښی را منځ ته کړي او یا د سیمه ییزومېشتو وګړو په تړاونامطلوبې پیچلتیاوی رامنځ ته شي نو دوی به سخته جزأ ووینې. د لمانځنو په وخت کې کله چې افغانان له روسانو سره په اړیکه کې راځي او له یو بل سره ګوري او یا افغانان غواړي چې په روسي لښکرکوټونو کې د سرتیرو له ژوند څخه لېدنه کتنه وکړي، هغوی ته په ټینګه امر شوی چې که زړه یې وغواړي یا ونه غواړي باید له ځانه خوښي او خوشحالي را څرګنده کړي دغه امر نه یوازې په سرتیرو پلی کیږي بلکه د هغوی افسران دې هم ورته کار وکړي او یادې په چوپه خوله د خپل دسپلین په اړانه کې پاتې شي ".

په ۱۹۸۱ او ۱۹۸۲ زکلونو کې د [تورخم] د عملیاتي پلان په اړانه کې د پاکستان په اړه ایراني مشرتابه ته په پرله پسې توګه بې لارې کوونکې مالومات ورکول کیدل چې پاکستان د افغان کډوالو له لارې بلوڅي او عربو بیلتونپالو ته ورسلې ورلیږي چې د خوزستان، سیستان او بلوڅستان په ولایتونو کې دولتي ضد پیښې او وسله والې پاړَونې رامنځ ته کړي .

د افغانستان په ملاتړ یوه شپې پاڼه په هېوادنۍ او پراخه کچه د ایران د ملت د غیږ نیونکو د ملي اداري له خوا وګرځول شوه او ویل یې چې د افغانستان په وړاندې دې د ایران او پاکستان پاړَوونې بندی شي .

د ۱۹۸۲زکال د مې د مباشتې په دویمه نیمایي کې د " زهر" د شپې پاڼې عملیات په پاکستاني بلوڅستان کې تر لاس لاندې ونیول شول چې د ضیاالحق پر راپرځولو یې غږ کاوه. د افغان د ځانګړواستخباراتو د څانګې [ایس جي ای � سګي] د جاسوسانو له لارې ۹۹۰ شپې پاڼې خپرې شوې. د بلوڅانو د یوه تېرد مشرانو په منځ کې د سګي یوه جاسوس وکولای شول چې د یوه مشر د ډاډ وړیو سرې راخپل کړي او د ایراني ریال د ورکړې په بدل کې د کویټې او ایرانې پولې تر منځ د زاهدان د ریل په پټلیو کې شپې پاڼې وشیندي. جاسوس وویل چې د نوموړي سرې کسانو د شپې پاڼو عملیات پلې کړل او دوی د یوه سړي له پلوه دغه کار ته را ګومارل شوي ول چې غه سړی د ایران په سیستان

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



کې د بلوڅانو له توکم څخه د یوه مشر ملګری وو او دغه سړي شپې پاڼې او پیسې خپلې عملیاتي ډلې ته ورکړې او ورته ویل شوي ول چې چوپه خوله دې پاتې شي او دغه خبره دې خپلو افغانو ملګرو ته ونه کړي. د سګي یو بل جاسوس چې پټ نوم یې " محمد خانو" وو او د "فدا" د یوې کوشنۍ ډلې مشري یې کوله، خپل دوه تنه د ډاډ وړملګري استوي چې د کویټې د سکرکورټ [سَـکَـر] په سیمه کې شپې پاڼې وشیندي.هغه د لګښت لپاره ایراني ریال ورکړل او ویې ویل چې پیسې یې د ' یوه ایراني په غوښتنه' اخیستلې دي ، او څرګنده موخه یې دا وه چې د نورو بخششونو هیله هم وکړي'. په دې توګه د عملیاتو د اصلي مخ لا پټېدلو ته ښه لاره ومونډل شوه او په حیقیت کې د بهاندو اوبو مخ ته داسې ډنډ را جوړ شو چې څاڅکی به هم ورڅخه بې ځایه ونه بهیږي ځکه که د عملیاتو پلې کوونکي ونیول هم شي هغوی د زیاتولو لپاره څه نه لري او د سپنسیو د جړشوي غونډارې د تار د سر را مونډل نا شونی کېده .

په ۱۹۸۰زکال کې د افغان کډوالو پروړاندې د کې جي بي د لاندینۍ شمیرې جاسوسان په عملیاتو کې را ښکېل ول: په پاکستان کې ۸، په بنګله دیش کې ٦، په هندوستان کې ۱۲، په افغانستان کې ۱۲ .

په بریتانیا کې کې جي بي د پاکستاني کډوالو د یوه مشرپه لټه کې شوه، په فرانسه کې دغې اداري یو بلوڅی مشر لټاوه او موخه دا وه چې د هغوپه مرسته په ګډه عملیات را پلې شي .

د کې جي بي د فعاله اقداماتو په لړ کې یو پلان ترلاس لاندې ونیول شو او موخه یې د هند � پاکستان د اړیکو په پرمختګ کې د خنډ رامنځ ته کول ول او کره موخه دا وه چې د پاکستاني مشرتابه په هغې هڅې کې ناکامۍ رامنځ ته شي چې غوښتل یې له هندوستان سره خپلې اړیکې پراخه او له هندوستان سره په ګډه پوله کې د تاو تریخوالی کچه راټیټه کړي .

د خنډ د رامنځ ته کولو موخه وه چې که پاکستان یوه شیبه وخت ترلاسه کړي نو په هوساینې به خپله مخه افغاني لانجې ته را واړوي او په نړیواله کچه به د افغانانو په لانجه کې د شوروي اتحاد د لاسوهنې په تړاو شوروي ضد ګامونه را اوچت کړي. په ۱۹۸۱زکال کې [ د فبرورۍ له ۹ تر ۱۳ نېټې پورې د ناپییلتوب د غورځنګ په غونډه کې ] د [افغان د بهرنیو چارو وزیر "دوست" محمد] دوست سفر نوي ډلي ته په ناکامۍ پای ته ورسېد؛ [په همدغه کال کې د جون په مپاشت کې اسلام آباد ته د هندوستان د بهرنیو چارو د وزیر پ. وي. نارا سیما [شرما �ژ] سفر پایلې را ونه زیږولې. مهمه دا وه چې هندي سیاستمداران دې ته را ډاډه شي چې له هندوستان سره د اړیکو پرمختیا ته د پاکستان لیوالتیا یوازې یوه تاکتیکي مانور یا خوځښت دی، ځکه پاکستان په هندوستان کې د خپلې خوښې وړد بې ثباتۍ د رامنځ ته کولو په موخه د ورانکارو په راټولولو او وسله والو کولو غوښتل وخت تر لاسه کړي اوبیا له همدغه رامنځ ته شوي اړوپیچه وکولای شي د کشمیر د ستونزې د حل لپاره د هوارۍ لاره را پیدا کړي .

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



په ملي کچه يو لاسوندی چې سرلېک يې د " هېګ ميمورندم يا د هاګ يادښت لېک" وو راجوړ شو. ددغه لاسوندي پاخه ټکي دا ول :

]،، � [امريکا په پام کې لري چې پاکستان د ايران په بندرونو، د افغانستان په ډيموکراتېک جمهوريت او د هندوستان په سمندرکې د نړيوالې آزادې سوداګرۍ لپاره په يوه پاخه مورچل را واړوي ترڅو د هند په سمندر کې د هندوستان د زبرځواکۍ د مخکښې ټېروهنې مخه را ونيسي .

-امريکا چمتو ده چې پاکستان ته الوتکه وړونکي بېړۍ ورجوړې کړي (يوه يا دوې الوتکه وړونکې بېړۍ به په پور ورته ورکړي) چې د تم کېدلو ځايونه به يې په ګوادر کې وي او د کراچۍ د بېړيو د لنګر اچولو ځنګيز بندر به نورهم ورته وروغځوي .

-د ريګن اداره د ضياالحق د هغو هڅو هرکلی کوي چې له مخې به يې د هندوستان په وړاندې د ښه چال چلند چاپيريال رامنځ ته شي، خو له دغې په وريځو کې پټې اورښتونې خبرې څخه هېڅوک سترګې نه شي پټولای چې تر هغه مهاله چې انديراګاندهي د واک پرګدۍ ناسته وي نو ډيلی به د شوروي پلوي سياست کرښې ته لېواله وي .

-پايله دا سوه چې: د واشنګتن � پيکينګ � اسلام آباد د درې ځنډيز په ګډو هڅوکې د هندوستان ددولت په بې ثباته کولو کې د يوې شيبې لپاره هم دَرېدنه يا بَسېدنه دې منځ ته رانه شي .

-امريکا چمتو ده چې پاکستان ته د اې ډبليو اې سي ايس [په هوا کې د خبرداری او په خپل سر چلېدونکې څارونکي جوړښت لرونکو] پوځي الوتکو په برابرولو کې د پاکستان پرغوښتنې غور وکړي چې له نوموړو الوتکو څخه د هندوستان په پوله کې ګټه واخلي او له هغه څخه پخه موخه دا وه چې د نوموړو الوتکو په ورکړې به د امريکا، چين او پاکستان ترمنځ د مالوماتو د راټولولو او د يو بل ترمنځ د مالوماتو ګډولو ته لاره را پرانيستل شي] .،، [

په ډيلي کې د کې جي بې ميشتې څانګې ومونډل چې د ۱۹۸۱ زکال د فبرورۍ د مباشتې له ۹ تر ۱۳ پورې د ناپييلتوب د غورځنګ د بهرنيو چارو د وزيرانو په کنفرانس کې، د غورځنګ د ښې لاس برخې غوښتل او هڅه يې کوله چې شوروي ضد شعارونه راپورته کړي او په برلاس د افغانانو لانجه او د کمپوچيا ستونزه د دغو شعارونو تر متركولاندې ښه و تِـکـَـوي .

]،، [هڅه وشوه چې د سوسياليستي هېوادونو په تړاو هغه پوهـَـنـلېدتـوګه ( تيزس) چې ګنې هغوی د ناپييلتوب د غورځنګ طبيعي ملګري دي را بې اعتباره کړي او شعارونه راپورته شول چې د ناپييلتوب غورځنګ پنځدوی يا طبيعي ملګري او ټلواله نلري خو پنځدويه دښمنان لري او هغه نوې � نيواک (نيو کلونياليزم) ،توکمپالنه ( ريسيسم)، پانګوالي ( امپرياليزم) او لوړتياپالنه (هژمونيسم) دي. يوګوسلاويا او شمالي کوريا د غورځنګ په ښې اړخ کې ډه ډه ولګوله. د ناپييلتوب د غورځنګ يوازيني رښتوني او پرمختلونکي جنګيالي ځواکونه کيوبا او ويتنام ول .

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



د غورځنګ د ښي لاس څانګې د يوه ډونډ يا اعلاميې د لېکنې په راکاړلو له افغانستانه د بهرنيو ځواکونو دوتلو پرسرتېنګار کاوه (دا يې منلې وه چې د شوروي د ځواکونو نوم به په ډونډ کې نه اخلي). افغانستان ، انګولا، ايتوپيا او د يمن د وګړو ديموکراتيک جمهوريت سم چمتوالی نه درلود او له ځانه يې د غورځنګ د جنګيالي مخ سم راڅرګند نه شواى کړاى] .،، [

په ډيلي کې مېشتې د کې جي بي د څانګې غړي پروخوروف چې [ د ګينادي افاناسييچ واومين تر نامه لاندې په ډيلي کې کار کاوه وروسته د تورنجرالۍ په رتبه د ايف سي دي د څانګې د ۱۷ ديپارټمنټ مشروټاکل شو] [ د ۱۹۸۱زکال د مې د مباشتې د پينځمې نېټې په خپل ۱٦٦۹ شميره تيلګرام کې] په خپل نوښت د فعاله اقداماتو د پلي کولو لپاره يو وړانديز رامنځ ته کړ. نوموړی دغې بې لارې کوونکې پايلې ته رسيدلی وو چې : ددې لپاره چې د ببرک کارمل رژيم په افغانستان کې د واک پرګدۍ ژوندی پاتې شي نو د هند او پاکستان ترمنځ جګړه به د شوروي اتحاد په ګټه وي او هغوی بايد همداسې يوه لور ته راوکاږل شي. ديپارټمنټ نه يوازې دا چې په بهر کې خپل ميشت غړي ته د هغه ددغسې يوې خړسرۍ په ځواب کې د هغه غوږونه ور تاو نه کړل بلکه د نوموړي وړانديز يې د کې جي بي د ايف سي دي جغرافيوي ديپارټمنټ او د شوروي اتحاد د بهرنيو چارو وزارت ته ورولېږه .

د فعالو اقداماتو په اړه د هر عملياتي مأمورد هر نوښت پلي کېدل را وهڅول شول. د موضوع يا سکالو په تړاو د بهرميشت څارکښ ليدتوګه اود کړنې څرنګوالی وروسته د وړانديزونو په ډول له مرکزه نورو بهرميشتو څانګو ته په اسلام آباد او تهران کې وليږل شوه. د [الف] خدماتي څانګې له خپلو غړو څخه د هندوستان � پاکستان د اړيکو د لا خرابيدا د څرنګوالي په اړه پوښتنې کړې وې. په تهران کې د [شابروف] په نامه يو ټيليګرام وليږل شو او له هغه "د ايران � پاکستان د خړو پرو اړيکو په اړه د نظر غوښتنه شوې وه چې دا به په خپله کې جي بي ته د ايران او پاکستان د اړيکو په لا خړپړولو کې او يا هغو ته د لارو چارو د موندلو په تړاو بله لاره پرانيزي ان تر دې کچې چې دواړه هېوادونه د اړيکو د خړپړتيا له چاپيرياله د دښمنۍ تر کچې د يو بل په وړاندې را ودروي. د تيلګرام په پای کې د ديپارټمنټ مشر تورنجنرال م. ک. پولونيک لاسليک کړی وو. د ۱۹۸۲زکال د جنورۍ د مباشتې په ۱۲ نېټې همدې ته ورته غوښتنه د اسلام آباد په پته چې د اوولسم ديپارټمنټ مشر تورنجنرال نيکيشچوف (کاري نوم يې: ميشين وو) لاسلېک کړی وو، ولېږل شوه. له دغو خبرو څخه يو بل وړانديز را وزيږېد :" د پاکستان او ايران ترمنځ اړيکې ښايې په ډېر حساسو ټکو کار وکړي او کېدلای شي دغه اړيکې ددوې ترمنځ ډېرې خړې پړې شي ان تر دې کچې چې له يو بل سره بربندېې دښمنۍ ته را ووځي، او دا به په خپله په سيمه کې زموږ د خدماتي موخو د ترسره کولو لپاره ګټورې را پريوځي ".

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



د دواړ و تیلیګرامونو لومړني بنه د [الف] د څانګې مامور [الکسین] لیکلي وه .

په ډیلي او کولمبو کې د کې جي بي د میشتو څانګو د څارګرو له لارې دغې څانګې وکولای شول د ایف سي دي د [الف] د خدماتي څانګې مالومات په هندوستان کې په لوړو پوړو کې د کې جي بي د ځای پرځای شویو چارواکو غوږونو ته ورورسوي. په ډیلي کې یوه څارګر(چې پټ نوم یې "وانو") او خبریال وو، دغه مالومات یې سروزیرې میرمن اندیرا ګاندهي ته ورسول .

د ۱۹۸۱زکال د سپتامبر په مباشت کې نوموړی پاکستان ته واستول شو.د [الف] خدماتي څانګې هغه ته د افغان د لانجې پرسر مالومات وربرابر کړل، او هغه باید د پاکستان د ادارې استازو ته رسولي وای اودنده ورکړل شوې چې له راستـنیـدلو وروسته تر لاسه شوی پیغام دې د هندوستان مشرتابه ورسوي او بیا دې د هند په رسنیو کې را خپور کړي. مرکز اجازه ورکړه چې رالیږل شوي مالومات دې لږ نور هم سم کړلای شي او د جاسوس د کتنې د سفر په رڼا کې دې سمونې پرې ورزیاتې شي، خو دا داسې بریښېدل چې شخصي اړخ پکې برلاسی ولري او له پاکستاني ادارې څخه په ځانګړې توګه له ضیاالحقه د هندوستان د مشرتابه کرکه ډیره تر سترګو کېدله. ددې لپاره چې خبریال په راتلونکې کې پاکستان ته د خپلو شونو سفرونو په وړاندې خنډونه رامنځ ته نه کړي نوموړي د خپل کار په خپرو شوېو برخو کې له ډیرې پام لرنې او هوښیارۍ څخه کار اخیستای وو او رمزونه یې په قاعدوي او نه سپړېدونکې بڼه جوړ کړي ول .

د اکتوبر په مباشت کې له پاکستانه د خپلو راستنیدلو پر مهال نوموړي څارګر له میرمن ګاندهي سره غونډه درلودله او هغې ته یې د افغانستان د سکالو په اړه د کې جي بي ګامونه په تفصیل وویل .

]،، [هغه څه چې پاکستاني مشرتابه وویل او که په څیر ورته وکتل شي نو په پاکستان کې د افغان کډوالو شتون د ضیاالحق ادارې ته ګټور ول ځکه هغه ته یې دا وسه وربخښله چې له امریکا، چین، سعودي عربستان او نورو څرګندو هیوادونو څخه د هغوی په نامه لا زیات مرستندویه توکي او وسلې ترلاسه کړي. خو ددې ترڅنګ افغان کډوال د اسلام آباد لپاره د یوه سرباري تاو تریخوالي سرچینه وه ځکه د پاکستان بومي اوسېدونکو په خپله له هغو کوم توپیر نه درلود چې د هغوی ایلبندونه او پووندې او د پووندې ځمکې، د هغوی اوبه او خوراکي دانه باب کډوالو کارول.د یو شمیر پوځیانو د لېد توګې پربنسټ د پاکستان � افغان د پولو ترمنځ به تاو تریخوالی تر هغه وخته دوام وومي چې پاکستان په بشپړ ډول خپل پوځ له سره سمبال او له سره یې په ډیرو پرمختللو وسلو وپنځوي. داسې نښې نښانې را څرګندې شوې چې د ۱۹۸۲زکال د جنوري له مباشتې وروسته به امریکا اسلام آباد ته د ایف � ۱٦ جنګي الوتکو لومړنې ډله او د ګزمې کوشني بیړۍ چې په ایم - ۱۱۳ " هاوک" توغندیو به سمبال وي ورکړي. له دې امله سرې کولای شي د وخت او د سیمې د سیاسي تومنې په پام کې نیولو سره و انګیري چې د پوځ په وسلو له سره پنځول هیواد پوځي کولو "میلیتاریزم" ته په بیړه را کاږي او د هغه تر څنګ دغه هیواد په خپله په یوه تیري کوونکي هیواد

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



اوړي چې د امريکا، چين او نورو اسلامي ارتجاعي رژيمونو د ګټو او موخو په پلي کولو کې به ورځخه ګټه واخيستل شي]....،[

په کولمبو کې د کې جي بي د بهرميشتې څانګې يوه څارګر د سريلانکا د خبرياالنو په منځ کې په سريلانکا کې د هندوستان له عالي کمشنر تي. سيري ابراهام سره اړيکه درلودله. هغه د ايف سي دي د [الف] د خدماتو د څانګې مالومات ابراهام ته ورسول او نوموړي وروسته په دې تړاو خپله نه ناکامېدونکې ليوالتيا ورڅرګنده کړه. له دې امله د ۱۹۸۱زکال د جنوري د مباشتې په لسمه نېټه په يوې عادي غونډې کې دغه څارګر نوموړي ته د هندوستان د ګټو د راڅرګندولو لپاره په هندي سمندر کې د امريکا د يوه شل کلن پلان په تړاو مالومات ورکړل او ورته په ډاګه يې کړه چې امريکا غواړي په هندي سمندر کې برلاسی راخپل کړي. ابراهام وويل چې د جنوري په ۱۲ نېټه د هندوستان د بهرنيو چارو د وزارت سکرتر اي. ګونسالويس سريلانکا ته د يوه سفر لپاره راځي او دغه مالومات به هغه ته په لاس ورکړي .

ددغه ډول مالوماتو ور تيرېدا ته " د ځانګړو مثبتو اغيزو د شيندلو تګلاره " وايي. په دغه ډول تګلارې کې کارېدونکي مالومات هم ګډون لري او کېدای شي د مالوماتو بڼه او تومنه له هر ډوله وي، او يا کېدای شي بې لارې کوونکې مالومات وي، دغه ډول مالومات په دې بڼه جوړ شوي دي چې پر دولتونو، ګوندونو، ځانګړو سياسي څېرو، پر يوې ټولنې او دولتي چارواکو د اغيزو د ور شيندلو لپاره د خبرو اترو په مهال د څارګرو، د بهرنيو پټو اړيکو، څارګرو مأمورينو، د شوروي اتحاد د تابعيت لرونکي يوه څارګر او يا د شوروي اتحاد د يوه شرکت له لارې ورسول کيږي. د " ځانګړې مثبتې اغيزې" تګلارې مخکې له مخکې خپلې فرضيې سنجولې وي او د خپل کار لپاره په پرله پسې ډول فرضيې را سپړي، په پرله پسې توګه د هغو پايلې او د راپورته شويو ګامونو په وړاندې د غبرګونونو راڅرګنديدل په ځير څيړي .

کې جي بي له هنګريانو سره په ګډه چې د هندوستان له يوه نامتو خبريال سره يې په ويانا کې اړيکه درلودله د فعاله اقداماتو عمليات تر سره کړل؛ هغوی نوموړي ته د کې جي بي، بې لارې کوونکي مالومات په لاس ورکړل چې په رسنيو کې يې تر خپل نامه لاندې خپاره کړل .

د " اوټو پالما" تر پټ نامه لاندې يو بل هنګري څارګر په کار واچول شو چې د لوېدېزو هېوادونو کړيو ته کارېدل کړل شوي مالومات ور تير کړي. د [ الف] د خدماتي څانګې د پام وړ مالومات د هنګري د څارګرې ادارې د بې لارې کوونکو مالوماتو د څانګې مشر[جوسان] ته د پلي کولو لپاره ور وليږل شول .

په پاکستان، ايران او هندوستان کې د کې جي بي ميشتو څانګو ته لارښوونه وشوه چې د رسنيو د هر ډول ګزارش په وړاندې چې د کولمو د ناروغيو د راپارولو په اړه وي کلک غبرګون راڅرګند کړي اود " تاراکاني " [ ورږو � د ورږو مورينه� ګرندی � کيک يو ډول خزنده ده- مادر کيک] تر نامه لاندې د پيچلو فعاله اقداماتو يوې برخې

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



په توګه دي د امریکا د بې اعتباره کولو لپاره خپلې لېد توګې مرکز ته راولیږي. دا د لاهور له طبي مرکز سره نښتې د یوې امریکايي کمپنۍ او د هغې د کارکوونکو د بې اعتباره کولو لپاره په پام کې نېول شوي ول او عمیات ددې لپاره پلي کېدل چې د کمپنۍ کار له ناتو او امریکا سره د کیمیاوي او بیولوژیکي وسلو د جوړولو په تړاو را ونښلول شي. د ۱۹۸۱ او ۱۹۸۲زو کلونو په اوږدو کې وخت په وخت د هندوستان، ایران، بنګله دیش او لبنان په رسنیو کې مواد را څرګندېدل اوویل کېدل به چې د امریکايي کارپوهانو په مرسته او ښکېلوالي په پاکستان کې د باکتریالوژیکي وسلو د جوړلولو لپاره چمتووالی تر لاس لاندې نېول شوی چې د افغانستان، ایران او هندوستان په ورانولو کې به ورڅخه کار را واخیستل شي. [،،] د انساني کولمو د ناروغیو پیښې د پشین، سرخاب، مسلم باغ او افغانستان ته په ورڅیرمو سیمو کې او د څارویو د وُبا او لیږدېدونکو یا ساري ناروغیو پیښې د هندوستان په لویدیزه برخه ( د پنجاب د ولایت د هرنایه او په جمو او کشمیر او راجستان کې) له پاکستانه د را کډوال شویو او را کوچیدلو انسانانو او څارویو په منځ کې ولېدل شوې او ټول یې د امریکايي کارپوهانو له پلوه په پاکستان کې په دغو ناروغیو اخته شوي ول. ډیري وختونه د څارویو د روزلو لپاره یو شیمر څاروي روزونکي توکمونه له یوې سیمې څخه بلې سیمې ته په افغانستان، ایران او هندوستان کې په کلنۍ او موسمي توګه کډوال کیږي چې له ځان سره د لیږدېدونکو نارغیو نوي ډولونه راوړي او دغه راوړل شوې ناروغې په هغو ځایونو کې خپروي چې هلته دَمه کیږي ، خو له همدغې پېښې څخه د امریکایانو او پاکستانیانو موخه دا وه چې دا به په همدغو هېوادونو کې اله ګوله، ګډ وډي او ډول ډول پریښانۍ را وپاروي .

]،، [په ایران کې ډنډوري راخپرې شوې چې امریکایان په پاکستان کې شیعه ګان د ګینايي خوکانو په څیر په کیمیاوي لابراتوارونو کې تر ازموینو لاندې نیسي چې له مخې یې پر انسانانو باندې د کیمیاوي او باکتریالوژیکي جوړو شویو توکو اغیزې وڅیړي او له امله یې د هغوی یو ګڼ شمیر یا مړه شوي او یا ګوزڼ وهلي دي. ډنډورو به ویل چې دا د پاکستاني رژیم پریکړه وه او امریکایان یې پریښودل چې پر انسانانو دغسې ازموینې تر سره کړي او دا څرګندوي چې پاکستانی مشرتابه په ښې هوښیارۍ د شیعه له را پاریدونکې ویرې څخه خبر دی او دغه ویره سیمه یزو شیعه ګانو مشرتابه ته لا وختې ورڅرګنده کړې ده نو له دې امله مشرتابه پریکړه وکړه چې د خپل کورني پیاوړي دښمن له سرخوږاوي څخه ځان را خلاص کړي] .،،[

]،، [په همدغو هېوادونو کې داسې ګامونه را پورته شول چې د نړیوالې روغتیا اداره پرې را خبره کړي او ټینګار کېده هغه امریکايي کارپوهان چې پاکستان ته تللي دي د هغو د فعالیتونو په اړه دې پلټنې وشي او په دې تړاو دې یو کمیسیون ته دنده ورکړل شي چې پرانسانانو او څارویو دې د آزموینو هغه لابراتوارونه را وپلټي چې د کیمیاوي او باکتریالوژیکي وسلو د فابریکو په توګه ورڅخه کار اخیستل کیده .

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



]،،[په کابل کې رسنيو، راډيو او ټلويزيون خپرونې تر لاس لاندې ونيولې او په هغو کې يې د پاکستان له خاورې څخه په ګټه اخيستنې نوموړو هڅو ته نغوته کوله او ټينګار يې کاوه چې په پاکستان کې د افغانستان، ايران او هندوستان په وړاندې د باکترياالوژيکي وسلو د جوړولو لپاره ويرونکې ازموينې تر لاس لاندې نيول شوي دي] .،،[

]،، [په ډاکه کې د ورځپاڼو يو شمير ليکنو د ډاکې او د نوروښارونو په روغتونونو کې د نس ناستې يا اسهال او د نړيوالوناروغيو د څيړنې د نړيوال مرکز تر سيوري لاندې په هيواد کې د امريکايي کارپوهانو د ازموينو په اړه د رښتونو پلټنو پرغوښتنې ټينګار وکړ]،،[

کې جي بي په دغو هېوادونو کې د امريکايي باکترياالوژيکي خدماتو په تړاو بريالې شوه چې ټولنيز نظر په سمبال شوې توګه د امريکايانو په وړاندې را وپاروي. له پاکستانه د باکترياالوژيکي لابراتور مشر وشړل شو. د هندوستان دولت د هندو- امريکا د روغتيا ساتنې ګډ کميسيون او د کولمو د نارغيو په اړه د آسيايي کنفرانس چارې چې تابيا يې په هندوستان کې په پام کې نيول شوې وه وتړلې.

د ۱۹۸۲زکال د فبرورۍ د مياشتې په ۱۱ نېټې په کراچۍ کې خپرېدونکې ورځپاڼې " ډيلي نيوز" په واشنګټن کې د خپل خبريال له خولې د پاکستاني چارواکو د هغې پريکړې په اړه ګزارش خپور کړ چې له مخې يې يو امريکايي ډاکټر د ماريليند د پوهنتون سيانس پوه ډاکټر ديويد نيلين چې د لاهور له طبي مرکز سره يې تړاو درلود له هېواده وشاړه. نيلين وويل چې دده د شړلو لامل د هغه د پاکستاني ملګرو د دروهو يا دسيسو له امله رامنځ ته شوی دی.امريکايانو وويل چې د ډاکټر نيلين د بدغوښتونکو او بې لورينو کسانو په ډله کې پوهاند سلام خان او برېډ جنرال م. الف. چوهدري ګډون لري. کې جي بي د پاکستاني طبي پوهانو له خوا د بربنډو راڅرګندو شويو غندنو اود امريکا يي ضد ليکنو پربنسټ چې د امريکايي کړنو غندنه يې د نړۍ د ډېرو هېوادونوپه رسنيو کې په ترخې ژبې کـرلې وې ، ټولې يې د روغتيا د نړيوالې اداري مرکزونو ته د غاولېکونو (احتجاجيه لېکونو) په توګه ور وليږلې.

د ۱۹۸۲زکال د فبرورۍ په مياشت کې د شوروي ادبي مجلې " ګزيت" د [زه اندروپوف] تر لوی سرلېک لاندې يوه لېکنه خپره کړه او تر سرلېک لاندې لېکل شوي ول: " د مرګ زيږونې ماشين". دا د لاهور د څيړنيز مرکز په اړه د کې جي بي د بې لارې کوونکو مالوماتو پرځای يو ځواب وو.

د ۱۹۸۲زکال د فبرورۍ د مياشتې په ۲۷ نېټه " پراودا" ګزارش ورکړچې هندي چارواکو د هندو- امريکايي د ورغتيا ساتنې د ګډ کميسيون غونډه او د کولمو د نارغيو په اړه آسيايي کنفرانس را فسخ کړ. هغوی دغه فسخ کول په پاکستان او بنګه ديش کې د امريکايي کارپوهانو د هغې څيړنې په کړس کې وکړل چې د باکترياالوژيکي وسلې د جوړولو په اړه يې د يو شمير توليد شويو تجربوي توکو څيړنه تر لاس لاندې نېولې وه. د "پتريوت " د ورځپاڼې د ګزارش پربنسټ د هندوستان د کورنيو چار وزير په پام کې درلودل چې په هندوستان کې د امريکايي پوهانو او ډاکټرانو په اړه ځانګړې پلټنې ترلاس لاندې ونيسي. د بنګله ديش چارواکو هم په خپل هېواد کې غوښتل د تش په

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



نامه د نړیوالو څیړنو د انستیتیوت د چاروپه اړه چې بیلګه یې په لاهور کې د ډاکټرنیلین ترمشرۍ لاندې یو څیړنېزمرکز وو ، پلټنې راپیل کړي. [یاددښت: 'پټریوټ' اونیزه ژورنال، په ډیلي کې د کې جي بي د میشتې څانګې له خوا څارل کېده] .

د ۱۹۸۲زکال د فبرورۍ په ۲۳ نېټه پاکستانۍ ورځپاڼې [ډان] د امریکا د ملي روغتیا د انستیتوت داستازو پاول احمد اودګلاس ویلیام او د پاکستان د روغتیا وزیر ډاکټر نصیرالدین جوګي زي ترمنځ دغونډې ګزارش ورکړ .

ددغې غونډې په اړه رسنیو داسې ولېکل :

"له پاکستانه د ډاکټر د. نیلین د شړلو په اړه چې د لیږدېدونکو نارغیو د خپرولو په تړاو یې ویروونکې ازمېښتونه ترلاس لاندې نیولي ول یو امریکایي طبي پلاوی په بیړه اسلام ته ولاړ اوغواړي د هغې اشواینې یا رسوایې پر خولې برغولی کښیږدي چې خپته یې په ناڅاپه ډول د لاهور د طبي پلټنو د مرکز پرسرړا وچاودېدله او هم غواړي پرپاکستان زور واچوي چې ددغه مرکز له پلوه د ټولوترسره شویو پلټنو کارپایلې چاته ورڅرګندې نه کړي. د امریکایي پلاوي مشري پاول احمد او دګلاس ویلیام کوي. په پاکستان کې د امریکا د طبي کارپوهانو نابېره راڅرګندیدنه په خپله د واشنګتن دا ویره منې چې د ډله ییزې وژنې باکتریالوژیکي وسلې د نویو اجزأ وو د جوړولو په اړه به د تر سره شویو ازمېښتونو مختوروالی را بربنډ شي او په خپله په دې پایلې د منښتې ګوته ږدي چې ګنې پاکستان په خپله امریکایانو ته اجازه ورکړې چې ددوی په خاوره کې ویروونکې تجربې ترلاس لاندې ونیسي او شوني به نه وي چې دغه وسله به د ایران، هندوستان او افغانستان پرضد وکارول شي " .

د ۱۹۸۲زکال د مې په مېاشت کې په پاکستان کې دامریکا د کیمیاوي اوباکتریالوژیکي وسلو د ځای پرځای کولو په اړه له اسلام آباده په نیټه بیز ډول راخیستل شوي ګزارشونه د هندوستان په رسنیو کې را خپاره شول .

"د ګزارشونو پربنسټ چې له سیمه یزو پوځي سرچینو څخه موږ ته ترلاسه شوي دي څرګندوي چې په تیرو نیږدو وختونو کې د امریکا د کیمیاوي وسلو جوړولو له فابریکو څخه چې په جاپان او د پاسیفیک په سمندرکې په جانستون اتول کې ځای پرځای دي پاکستان ته کیمیاوي [ري ایجنټونه] [څرګندوونکي : هغه کېمیاوي ماده ده چې د نورو کیمیاوي توکو سپیڅلتوب را څرګندوي او ازمویل کیږي- ژ] راوړل شوي دي؛ په پام کې ده چې دا توکي به په اسلام آباد، کراچۍ، لاهور، کویټې او پیښاور ته په ورځیرمو سیمو کې را زیرمه شي. د سرچینو په وینا هغه څه چې د دغو ري ایجنټونو په ځانګړتیاوو پورې اړه نیسي، هغو توکو ته ورته دي چې پخوا امریکایانو د ویتنام په جګړه کې کارولي ول. د همدغې سرچېنې په وینا، په پاکستان کې د امریکا د کیمیاوي او باکتریا لوژیکي زیرمو را جوړونه په دې موخه ډیزاین شوې چې امریکا په بیړنۍ توګه غواړي خپل ځواکونه د آسیا په سویل او سویل لویدیز کې په یوې پراخې سیمې کې په شوني توګه را پلي کړي .

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



د پاکستان په خاورې کې د کیمیاوي او باکتریالوژیکي وسلو د جوړونې په اړه د واشنګټن او اسلام آباد ترمنځ د دوه اړخیزه پوهاوي پیلینزه نېټه د ۱۹۸۰زکال د اګست مباشت ته ورګرځي اودا هغه مهال دی چې په پاکستان کې د امریکا د باکتریالوژیکي خدماتو فعالیتونه په رسمي ډول د یوه تړون له مخې راوغځول شول. د همدغه تړون د پینځمې مادې دویم بند امریکایانو ته په ځانګړې توګه په څرګنده دا حق ورکوي چې د امریکا د نړیوال پرمختګ د اداري یا ایجنسۍ (یو ایس ایډ ایجنسي) له لارې کولای شي په ټاکلو او په پرله پسې وختونوکې د کارپایلې وڅېړي او د هغو د بیا او لا سماونې لپاره خپل وړاندیزونه ورجوړ کړي. په عملي ډګر کې، دا په دې مانا ده چې امریکایان د پاکستان په خاوره کې ځان ته دا حق را ګټلی چې په پاکستان کې د کیمیاوي، باکتریالوژیکي او بیولوژیکي وسلو د جوړولو په اړه د څېړنو په ټولو اړخونو څار او واکمنۍ ولري.

ددغه ډول تړون جوړښت امریکا ته په یوه اړخیزه دا شوني وړتیا وربخښي چې د پاکستان په خاورې کې کیمیاوي ري ایجنټان زیرمه او و یې کاروي. ددغې خبرې د څرګندې منښتې نښې د لاهور په طبي مرکز کې په هغو پيژندل شویو حقایقو او فعالیتونو پورې تړنه لیدل کېدای شي چې په هغو کې امریکایي کارپوهان د باکتریالوژیکي او کیمیاوي وسلو په جوړولو کې ښکیل ول ".

دغه ډول خپاره شوي توکي تاس راغونډ کړل او د شوروي اتحاد په رسنیو کې یې راخپاره کړل؛ درسنیو د مخپاڼو سکښتې د بې لارو کوونکو مالوماتوپه په کره یا اصلي بنو را ډکې شوې ول.[د اخبارونو پرمخ په حواشیو کې دفعاله اقداماتو اصلي شکلونه خپاره شوي ول]. تریوې کچې خو رسنیود افغان وګرو په وړاندې د شوروي د پوځ د کېمېاوي وسلې د کارَونې په تړاو له لوېدیزو ورځپاڼو او ګزارشونو څخه اخیستنه کړې وه. د شوروي د پروپاګند او تبلیغاتو خدماتي څانګو دغسې ګزارشونه وغندل او په لېکنو کې یې تینګار کاوه چې د لویدېزرسنۍ د امریکا ترپخور یا فشار لاندې دي او پر امریکایانو یې تور ولګاوه چې دوی پر افغانانو کیمیاوي وسلې کارَولي دي.

په پاکستان د کې جي بي میشت څارکښ ، اکیم ته د کې جي بي د مشر یوري اندروف له پلوه د " تاراکاني" د فعالو اقداماتو د بریالیو پلې کولو په ویاړ یو مننلیک د سوغات په ډول ورکړل شو .

له ۱۹۷۷ تر ۱۹۸۱زکلونو پورې په کولمبو کې د کې جي بي د میشتې څانګې د فعالو اقداماتوکار چې د کارمند ګرینویچ په خپل نوښت ترلاس لاندې نېول شوی وو، مثبتې پایلې یې له څېړنې وروسته را وزیږولې: کارمند په ټولې هوښیارۍ د څارکښې ټول اړین اوزار وکارول، د څانګې ټول اړوند کارکوونکي یې راښکیل کړل او ددوی د جاسوسانو د کار ګټه خورا زیاته وه. د " لنکا" او " ترایبون" نوبتي خپرونې چې د څانګې تر څارلاندې وې د ستاینې وړ وګرځېدلې .

په ۱۹۸۰زکال کې د کې جي بي مشرتابه ته د ترسره شویو فعالو اقداماتو له ډلې څخه د ۱۳ په اړه یادونه شوېده. دا ډیر پیچلې ګامونه ول او موخه یې دا وه چې د افغانستان د ډیموکراتیک جمهوریت د دولت درېز په نړیوالې کچه

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



را پیاوړی کړي او هڅه کېدله چې د سیریلانکا په دولت او وګړو کې د کارمل خیره د یوې مثبتې څېرې په توګه را واړول شي. د غو عملیاتو دومره وکولای شول چې د شوروي اتحاد د سیوسیالیستي جمهوریتونوپه وړاندې د سیریلانکا استازي له خپلو پخوانیو ګوت نیونو څخه را واوړي او یو منځمهالی دریز را خپل کړي او همدا شان پرافغانستان د شوروي د یرغل په اړه رسنۍ په خپل دریز کې نرمښت را څرګند کړي.

په ۱۹۸۰زکال کې د "ځوانو مسلمانو د ټولنې" تر دروغي "جعلي" نوم لاندې په کولمبو کې ۵۰۰۰ شپې پاڼې خپرې شوې چې د کارمل د دولت ملاتړې کاوه او د افغانستان په وړاندې يې د امریکا او د چین د وګړو د ولسي جمهوریت اقدامات غندل. همدې ته ورته ګامونه د غونډو، سیمینارونو، پریکړو او د خبرو اترو له لارې د اغیزو د شیندلو په بنه کې را پورته شول .

د "سوترا" د ټولنې له لارې د سیریلانکا د ملي مرکز د آسیا د بودایانو د سولې د کانګرس له لارې د چین او پاکستان د سیاستونو د غندنې په موخې یوه غونډه را وبلل شوه او په ترڅ کې يې د غیراتومي نړۍ د ترون پر پراخیدا زور واچول شو .

یو بل فعاله اقدام تر لاس لاندې ونیول شو چې په سیریلانکا کې د چین د وګړود ولسي جمهوریت " اومریکون" وغندل شو او غندن لیکونه د علمیاتو په ډول په سیریلانکا کې د چین د وګړو د ولسي جمهوریت سفارت ته ولیږل شول او په همدې ډول د چین او البانیا ترمنځ د بیلتون د پراخولو ، د امریکا ضد غندن لیکونه او د هند په سمندر کې د سولې د یوه زون د جوړولو لپاره دغوښتنې په تړاو د شپې پاڼو د شیندلو لړۍ ترلاس لاندې ونیول شوه .

د یوه ځارکښ د مرستې له لارې د سیریلانکا � افغانستان د همکارۍ کمېټه راجوړه شوه: ددغې کمېټې له جوړولو څخه موخه دا وه چې د افغانستان په ډیموکراتیک جمهوریت کې د امریکا، د چین د وګړو د ولسي جمهوریت او د پاکستان لاسوهنې د ډله ییزو غونډو له لارې وغندل شي او په هیواد کې له انقلابي ریفرومونو څخه ملاتړ وکړي. کمیټې د ولسمشر ضیاالحق او د پاکستاني دولت د ورځپاڼې (ډان) پروړاندې د غاو لېکونو (احتجاج لیکونه) د راسمبالولوچارې هم ترلاس لاندې ونیولې. په دغو لیکونو کې په پاکستان کې د سي آی اې فعالیتونه او د افغانستان په ډیموکراتیک جمهوریت کې د امریکا، د چین د وګړو د ولسي جمهوریت او د پاکستان لاسوهنې وغندل شوې .

]،،[په کولمبو او کیندي [ د سیریلانکا یو مرکزي ښار- ژ] کې په افغانستان کې د پانګوالو ځواکونو د غندنې په تړاو سیمنیارونه را جوړ شول او ډیرې کړې اړول شوې [له مخکې ورښوول شوې] خبرې اترې تر لاس لاندې ونیول شولې چې افغانستان ته د ګاونډیو هېوادونو له پلوه د جنایتکارو او په پیسو اخیستل شویوجنګیالیو ډلو په وړاندې ولسمشر جې آر جېواواردین او سر وزیر راناسینا پریماداسا اود واکمن ګوند مخورې کړۍ او د بهرنیو چارو وزارت را وهڅول شي. په سیریلانکا کې د سیاستپوهانو، دولتي چارواکو او مخورو ټولنیزو کسانو له پلوه د خبرو اترو له لارې د اغیزو د شیندلو خبرې اترې ترلاس لاندې ونیول شولې چې موخه يې د افغانستان او دهغه د ګاونډیو پرلور د جېواواردین

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



پر دریزد اغیزو را شیندل ول. د جاسوسانو له لارې پر سوداګریزو او ګروهینزو (مذهبي) ټلوالو او ډلو د اغیزو د شیندلو عملیات تر لاس لاندې ونیول شول او وهڅول شول چې د پریکړو او خبرتیاوو له لارې په افغانستان کې د شوروي اتحاد د سوسیالیستي جمهوریتونو له پالیسیو څخه ملاتړ وکړي. د افغان د سکالو په اړه د کې جي بي د ایف سي دي د [الف] د خدماتي څانګې له پلوه د " تریبیون"، لنکا ګاردین" او د سیریلانکا د مرکز د بودایانو د سولې د دکانګرس په خپرونه کې لیکنې خپرې شوې] .،، [

د ۱۹۸۰زکال د جون په مباشت کې په کولمبو کې لاندینې بې لارې کوونکي مالومات پاکستاني ډیپلوماتانو ته وروړسول شول :

]،، [فرانسي ډیپلوماتان د افغانستان په وړاندې د ضیاالحق سیاسي تګلارې ته له یوه ویرونکي اور سره د لوبې په توګه ګوري. د کابل له نوي رژیم سره د نیغ په نیغه اړیکو په ټینګولو کې ډېرې ځنډونې په اسلام آباد کې غملړلې پایلې را زیږولې دي. هندوستان په اسلامي نړۍ کې د ضیاالحق سیاسي تګلارې ته د یوه مخکښ مشر خو له زړه نا زړه او شکمنې ډکې تګلارې په سترګه ګوري او په پاکستان کې درژیم د بدلون په اړه به خنډونه رامنځ ته نه کړي. امریکا د دغه رژیم پر پایښت ګروهنه نه لري او د رژیم له مخالفینو سره یې د ټېو اړیکو راټینګولو ته ملا را تړلې ده] .،، [

]،، [په همدې ترڅ کې په ډیلي کې پاکستانیانو ته وړاندیز شوی دی چې د تش په نامه د دیورند د کرښې پرسر د افغانستان او پاکستان ترمنځ د اړیکو درښتوني ښه والي شونیوالی لیدل کېده او د اړیکوپه ښه والي کې د ځنډ د شیبې له لاسه ورکول دغه شونتیا تر سیورې لاندې راوستله] .،، [

]،، [په افغانستان کې د شوروي اتحاد د سوسیالیستي جمهوریتونو او د شوروي د سرتیرو په وړاندې د سیریلانکا د نرم دریزو استازو او د رسنیو د منفي چال چلند په پام کې نیولو سره؛ ټول، دولت او په هېواد کې سیاسي کړې دې ته را وهڅولې چې په افغانستان او د آسیا په سویل لویدیزې سیمې کې د حالاتو او شخړو د حلولو په پلوي د شوروي وړاندیزونو ته لیواله شي او له هغو پلوي وکړي] .،،[

| | |
|---|---|
| د لاسوندي راټولونکی | د میتروخین آرشیف |
| جوړونکی | واسیلي میتروخین |
| د لاسوندي بڼه | یادښت لیکونه |
| | افغانستان، پوځي څواکونه، افغانستان: په افغانستان کې سیاسي چاپیریال، په افغانستان کې ټولنیزې ستونزې، هغه ته د شوروي مرسته، امریکایي ضد، دولتي ضد ګامونه، د شوروي � عرب اړیکې، پټ عملیات، سایروس وینس، ټېرنې تګلاره، |

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



| | |
|---|---|
| | گلبدين حكمتيار، پانګوالي، هندوستان، څارکښيزه عمليات، منځنی ختيز، د غير اتومي نړی ترون، شوروي لښکرې، د |
| سکالو : دغه لاسوندی دغه<br>سکالو رانغاړي | امريکا لاسوهنې، د شوروي بهرنی تګلاره، د شوروي موخې، د شوروي څارکښيزه کړنې، په افغانستان کې د شوروي لاسوهنه، ډنډورې، د شوروي امريکا اړيکې، پرافغانستان د شوروي يرغل، په افغانستان کې د شوروي پرمختګ، شوروي اتحاد، د شوروي بهرنی سياست، له افغانستان سره د شوروي اړيکې، له هندوستان سره د شوروي اتحاد اړيکې، شوروي اتحاد، له شوروي اتحاد سره د امريکا اړيکې، شوروي اتحاد، د امريکاپه وړاندې ستراتيژی، يوري اندروپوف |
| ښکېل هېوادونه | د افغانستان ډ يموکراتيک جمهوريت، هندوستان، ايران، عراق، منځنی ختيز، پاکستان، پلستين، شوروي اتحاد، د انګلستان شاهي دولت، د امريکا متحده ايالات |
| اړيکې | |
| په رسنيو کې د لاسوندې خپره | |
| شوې ژبه | انګريزي |
| خپرندويه ټولنه | د سړې جګړې د نړيوال تاريخ پروژه |
| خپرندويه حق | د سړې جګړې د نړيوال تاريخ پروژه |
| خپرنيزه ژبه | انګريزي |
| د لاسوندې پيژندونکې شميره | 3FF29963-ABFA-30E0-344EE1596C121EDF |
| ژباړه | اصل متن : روسي: له روسي انګريزي ته او له انګريزي پښتوته |
| ژباړونکی | سپتامبر ۲۰۰۸ رحمت آريا |
| اخځ: | http://www.wilsoncenter.org/index.cfm?topic_id=1409&fuseaction=va2.document&identifier=3FF29963-ABFA-30E0-344EE1596C121EDF&sort=Subject&item=Gulbuddin%20Hekmatyar |

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



**د ۱۹۸۰ � ۸۲ زو کلونو په اوږدو کې په سویل لوېدیزه آسیاکې د کې جې بي فعاله اقدامات**

پر افغانستان د روس له پوځي یرغل وروسته د کمونیست گوند د سیاسي بیرو لومړۍ غونډه

د سیاسي بیرو غونډه

پښتو ژباړه:رحمت آریا

جولای ۲۰۰۸

]په لاس لیکل شوې[

پ.۱۷۹

ترټولو محرم [ټاپه]

له محرمېته وتلې [یوازې کاپې]

کاري لیکبڼه

د شوروي اتحاد د کمونیست گوند د مرکزي کمېټې د سیاسي بیرو غونډه

جنوري ۱۷,۱۹۸۰

]النډیز[

دغونډې مشر : ل.الف.برژنیف

گډونوال ملگري: اندروپوف، یو.وي. گریشین، وي.وي.گرومېکو، الف.الف.کریلینکو،

الف.پ.پیلشي،الف.لا.سولوسوف، م.الف.تخنیکوف ن.الف.، اوستینوف.د.ف، چرنینکو. ک.ی،

گرباچف.م.س،دیمیشف.پ.ن، کورینځوف.وي.وي، پونوماریف.ب.ن، سولیمنځوف.م.س، کپیتانوف.آی.وي، دولگیخ.وي.آی

۸ .سکالو : په افغانستان کې داړوپیچ ستونزه

برژنیف: تاسو غړو او ملگروته څرگنده ده چې څو مباشتې مخکې مو د افغانستان د پېښې په تړاو یو کمیسیون جوړکړچې ملگري اندروپوف، گرومېکو،اوستینوف او پونیماریف یې غړي ول چې د اړتیا په وخت کې دې د اوچت شویو گامونو په اړه لاسوندي چمتو اوهغه دې سیاسي بیرو ته وسپاري .

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



باید څرګنده کړم چې کمیسیون خپل کار ښه پرمخ یووړ. په تیرډیرلنډوخت کې د پریکړه لیکونو لړۍ ومنل شوې او پربنسټ یې په پام کې نیول شوي ګامونه پلي شول .

ماته خو داسې ښکاري چې د افغانستان اکر یاحالات لاتر اوسه هغه وخت نه دی رارسیدلی چې هره ورځ یې وڅارو اویا د اړوپیچ پربنسټ اړین ګامونه اوچت کړو. ماته بریښې چې د بل کمیسیون جوړولو ته اړتیا نه لیدل کیږي؛ اوهمدغه کمیسیون دې لکه څنګه چې پخوا یې کارکاوه په وَرته ډول دې خپل کار پرمخ یوسي .

په دې تړاو نیوکې او وړاندیزونه لرئ؟ نه!

نو چې داسې ده، موږبه د سیاسي بیرو د نوموړي کمیسیون غړي ومنو اوخپل کاردې پرمخ یوسي .

ګرومېکو: په افغانستان د ځواکونو یووالی پرمخ ځي. ګڼ وختونه له موږڅخه سلا او مشورې غواړي. موږ یې ورکوو. هغوی انګروزي " اعلامیې" خپروي. په پوځ کې د پام وړ بدلونونه نه دي راغلي. خو له بده پسې بدتر شوي هم نه دي. دا ترټولو دپام وړ خبره ده. پوځ د افغانستان له مشرتابه څخه ملاتړ کوي .

د افغانستان ګرد چاپیره نړیوال اړوپیچ له بده پسې بدتره شوی دی. هغه چیغې اوبغارې چې په ځانګړې ډول د امریکې په متحده ایالاتوکې راپورته شوې وې داسې برېښې چې مخ به سړېدو دي.

په ناټو کې د شوروي اتحاد په وړاندې د اقداماتو د نیولو په اړه یووالی نه لېدل کیږي. هرګوره لوېدېځو هېوادونو په ځانګړي ډول ایف.آر.جي (د جرمن فدرالي دولت- ژ)،ایتالیا،ترکېې او نورو هېوادونو د امریکا وړاندیز ونه مانه، او له هغو بندیزونو سره هغږي نه دي چې امریکا یې غواړي پلي کړي .

د[ملګروملتونو � ژ]عمومي اسامبله پای ته ورسیدله. د دریو ورځو په اوږدو کې ډیرو استازو خبرې وکړې. د یادولو وړ خبره دا ده چې د پریکړه لیک په اړه له ۱۴۰ استازو رایه ورکوونکو څخه ډیرو په پټو سترګو رایه ورکړه ،۴۸ هېوادونه پښه بیرته وایستله او دهغې پرضد یې رایه ورکړه. دا په بشپړ ډول یو پر دریمه برخه ده. په دې ډول امریکایانو وکولای شول چې یو شمیر په شاتلونکي ارتجاعي رژیمونه سره راټول کړي او اړ یې ایستل چې د پریکړه لیک لپاره رایه ورکړي. زه ګومان کوم چې د امریکا او نوروهېوادونو په رَسَنیو کې به یو ناڅاپي خوځښت را وپاریږي. خو یو شمیر هېوادونه لکه ارجنتاین او برازیل له امریکایانو سره همغږي نه دي، د بیلګې په ډول ، پر شوروي اتحاد دغَلو دانو خرڅلاو. کاناډا هم په همدې ډله کې راځي .

برژنیف: وینس داولمپیک په لوبو کې د امریکا د ګډون پرضد راووت. (وینس: په فرانسه کې د یوه ښارګوټي اوټولنې نوم دی چې د پیس دې لا لوریې په سیمې کې په سارتي دیپارټمنت کې پروت دی �ژ)

ګرومیکو: وینس! هو، رښتیا ده، په غیررسمي ډول یې ویلي دي. خوانګریزان په ټولو اقداماتو کې ډیرپرځان غَـرَه دي. ګیسکارد دې ایستنګ هم یو پیغام ورلیږلې دي. (والیري ماري ګیسکارد دې ایستنګ له ۱۹۷۴ تر ۱۹۸۱زکال

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



پورې دفرانسې ولسمشر وو. ژ-). دا ډېره ښه ده. په اسلام آباد کې د اسلامي کنفرانس غونډه جوړېږي. ک. ببرک له موږ څخه سلا (اجازه- ژ) غوښتې چې آیا دی کولای شي دغه کنفرانس ته ورشي که نه. موږ ورته سلا ورکړه چې ده به ښه دا وي چې د هېواد له لېکو دې دباندې ونه وځي .

اندرپوف: په تیرو لسو ورځو کې د دولت او ګوند د مشرتابه ټولې څانګې جوړې شوې. ان یوه وکالتي شورى هم نومول شوې. افغان مشران په زړه ورتوب پیل کړي (یوه یا دوې کرښې له اصلي لاسوندي څخه ورکې دي � د لاسوندي رالیږونکی). له دغو ټولو سره سره د خلق او پرچم د ډلو ترمنځ تاو تریخوالی د پام وړ دی. البته چې موږبايد د ګوند په منځ کې ټولې چارې د یووالي د سلا په ورکولو په احتیاط وڅارو. هغوی د شوروي اتحاد د سیاسي بیرو لېک د افغانستان د خلق ډیموکراتیک ګوند د مرکزي کمیټې په پولینوم کې په پام کې نیولی او د لېک د لارښوونو په رڼا کې یې د ګوند لومړنیو کرښو ته لارښوونه ورکړې چې پلې یې کړي .

توکمونه هلته ډېره ستره ونډه لوبوي. موږ ته اړینه ده چې دهغوی زړونه د ګوند خواته راواړَوو. درو (۳) مخورو توکمونو د ببرک د رژیم د ملاتړ خبرتیا ورکړه. ببرک د یوالي په لاره کې ډېر ښه کار کوي. په ځانګړي ډول له مذهبي برخوسره د کار په اړه څرګند بدلون رامنځ ته شوی .

اوستنیوف: د افغانستان له ګڼ شمیر سیمو څخه د پوځي حالت په اړه پراخ ګزارش ورکوي؛ هغه وايي: په ټولیزډول پوځي اکر د قناعت وړ دی، دیاغیانو د مقاومت څو تاوده او پاخه مورچلونه شته .

پونیمارییف: دهغو اقداماتو په اړه خبرې کوي چې د ګوند د جوړولو اود یووالي د منځ ته راوستلو په اړه پورته شوي. هغه ګزارش ورکوي چې زموږ د کارپوهانو یوه ١٦ کسیزه ډله د ملګري ګریکوف ل. آی. تر مشرۍ لاندې افغانستان ته ولیږل شوه. ببرک کارمل زموږ د ملګرو سلا مشورو ته په ډېر ځیر او پاملرنې غوږ نیسي. ګوندي مشرتابه اوس د خپلې ملا ستنه لري .

برژنیف: ددغې سکالو په اړه دملګرو ګرومېکو،اندروپوف، اوستنیوف او پونیمارییف د مالومات پربنسټ یو وړاندیز شته چې باید په پام کې ونېول شي .

ملګرو ګرومېکو،اندروپوف، اوستینوف او پونیمارییف ته دنده ورکول کېږي چې دافغانستان د اړوپیچ په تړاو د اړوندو موادو په څېړنې او چمتوالي، خپل کار ته دوام ورکړي. هغه سکالو چې د پریکړې نیولو ته اړتیا لري سیاسي بیرو ته دې وسپارل شي .

ټولو: ومنله

اخځ :

http://www.gwu.edu/~nsarchiv/NSAEBB/NSAEBB57/r12.pdf

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



## د شوروي اتحاد د کمونیست گوند د مرکزي کمیټې د سیاسي بیرو پریکړه

پښتو ژباړه: رحمت آریا

جولای ۲۰۰۸

د ژباړونکې یادونه :

ښاغلو لوستونکو!

په لاندني لاسوندي کې رانغاړل شوې سکالوپرافغانستان د شوروي لښکر له یرغله وروسته د شوروي د کمونیست گوند د مرکزي کمیټې او د شوروي د دولت د بهرنۍ او کورنۍ تگلارې د راخپلولو ټوله اډانه راځرگندوي چې پربنسټ یې دخلق او پرچم لاسپوڅو رژیمونو خپله کورنۍ او بهرنۍ تگلاره وټاکله. د افغانستان د اکربکر سیاسي شنونکو او د هیواد د اوسمهالي تأریخ لیکونکو لپاره دغه لاسوندی کیدای شي هغه تیاره اړخ رابنډ کړي چې یو وخت د خلق ډیموکراتیک گوند د خپلواکه سیاسي او ولسي تگلارې ډنډوري وهلې حال دا چې دغه لاسوندی په رانه ډول څرگندوي چې دوی ته هم په کورنۍ او هم په بهرنۍ تگلاره کې لا دمخه ځانگړې اډانه ټاکل شوې وه. هېښنده خو لا دا ده چې ددغې تگلارې هېنداره لا نن مورږ له بل اړخه په وَرته توگه په سترگو وینو.زما د ټولو خبرو موخه یو ټکی دی او هغه له بهره لارښوونه او دولسي تگلارې نشتوالی دی. د همدغه لاسوندي په پای کې څرگندیږي چې روسانو خوارځواکي خلقیان او پرچمیان یوازې په دې او هغې پلمې د خپلو موخو د پلي کولو لپاره کارولي او موخه یې له لومړیو څخه څرگنده وه چې ددوی له لارې به پر افغانستان تیری کوي. د تره کي تیلفوني سناریو ددغسې تیري لپاره یو بشپړ لاسوندی نه شي گڼل کېدای ځکه د همدغه لاسوندي پربنسټ مخکې له مخکې هېڅ ډول تړون نه دی لاسلیک شوی او روسان له تیري وروسته د خپلې پاتې کېدنې لپاره د تړون د لارو چارو د موندلو په لټه کې کیږي .

غواړم پرې راغبرگه یې کړم چې ددغه لاسوندي ژبه ډیره سیاسي او دیپلوماتیکه ده، ښایي د عادي لوستونکي لپاره دومره د پام وړ نه وي.

زه هېله لرم چې تأریخ پوهان اوسیاسي شنونکو ته د پام وړ وگرځي .

د شوروي اتحاد د کمونیست گوند د مرکزي کمیټې د سیاسي بیرو پریکړه

۱۹۸۰ز کال د جنوري ۲۸: د اندروپوف،گرومېکو،اوستینوف او پونیمارییف د ۱۹۸۰ کال دجنورۍ د ۲۷ نېټې له گزارش سره جوخت

ټرټولو محرم

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



شمیره: پ.۳۴/۱۸۱

ملګرو برژنيف، اندروپوف،ګروميکو،سولوسوف،اوستينوف،پونيمارييف او روساکوف ته:

د شوروي اتحاد د کمونيست ګوند د مرکزي کميټې د سياسي بيرو د ۱۹۸۰ کال د جنورۍ د مپاشتې د ۲۸ نېټې د ۱۸۱ شميرې پريکړې لنډيز :

سکالو: د افغانستان د اکربکر اړوند د شوروي اتحاد د ملي امنيت لپاره د نورو اقداماتو نېول

دملګرو ګروموکو الف.الف، اندروپوف ايو.وي، اوستنيوف د.ف، پونيمارييف ب.ن له يادداښت لېکونو سره جوخت چې ستاسو ترمخ پراته دي، ټول ملګري نېول شوې پريکړې مني

د شوروي اتحاد دبهرنيو چارو وزارت، د دفاع وزارت، د شوروي اتحاد کي.جي.بي. د شوروي اتحاد د کمونيست ګوند د مرکزي کميټې د بهرنيو اړيکو څانګې ته لارښوونه ورکول کيږي چې په افغانستان کې دې د لاندنيو ټکيو په پام کې نيولوسره دې خپل کارپلی کړي .

دويمه کاپي: سکرتريت

]مل لاسوندی[

سکالو: ۳۴ ټکی ۱۸۱ شميره پريکړه (پروتوکول)

ترټولو محرم

ځانګړې دوسيه

د شوروي اتحاد د کمونيست ګوند مرکزي کمېټې ته

د افغانستان په اکربکر اړوند، د شوروي اتحاد د ملي امنيت لپاره د نورو اقداماتو نېول

افغانستان ته د شوروي اتحاد د سوسياليستي جمهوريتونو څو اړخيزو مرستو، د پوځي او د ببرک کارمل د نوي واک ته رسيدلي حکومت ته د مرستو په ګډون، د افغانستان په ډيموکراتيک جمهوريت کې د اکربکر د ټېنګښت لپاره د پام وړ پرمختګونه رامنځ ته کړي اوپه منځني ختېځ کې يې دهغوپرمختګونو پرمخ د پای ټکی کښيښود چې زموږ لپاره يې ويرې را زيږولې .

د پېښو د پرمختګ ترڅنګ،څرګند شواهد ښيي چې د امريکا متحده ايالات، د هغې د ټلوالې ملګري او د چين ولسي جمهوريت په ټول واک او ځواک خپلې موخې ټاکلې او د افغانستان د پېښو په اړه د شوروي ضد (انتي سويتيزم) چاپيريال په رامنځ ته کولو غواړي خپلې بهرنۍ اوږد مهالې تګلارې په داسې بڼه پلې کړي چې مخه يې د شوروي

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



اتحاد په وړاندې له دښمنۍ ډکه يوه تګلاره وي او ستنه يې په (نړيوال �ژ) واک کې د داسې يوه بدلون پر رامنځ کولو ولاړه وي چې ددوی په ګټه پای ته ورسيږي. لوېديځ او د چين ولسي جمهوريت افغان انقلاب ضد ډلو ته د مرستو د پراخولو له لارې غواړي په افغانستان کې د جګړې لمنه پراخه کړي چې دوی په ګروهنې په پای کې به يې شوروي اتحاد په دغه هېواد کې ستړی او د شوروي اتحاد پرنړيوال مخورتوب او پرستيژبه منفي اغيزې وشيندي .

د پراخو ګټورو بهرنيوتګلارو رامنځ ته کول اود شوروي اتحاد ټپکاو له موږ غواړي چې د افغانستان د پېښو په تړاو د راتلونکو ګامونو په خټه کې د يرغليزې يا متهاجمې تګلارې تومنه خوندي وساتو. د دغې تګلارې د پلي کولو لپاره موږ د لاندينيو ټکيو وړانديز کوو:

-د کارترد ادارې د پاروونکو ګامونو په وړاندې او له امريکا سره د خپلو اړيکوپه تړاو،بايد سرله اوسه د نړيوالو چاروپه کرښه کې خپل ټينګ دريزلا پياوړی وساتو. له دې سره سره چې واشنګټن به په راتلونکي کې د شوروي- ضد کمپاين راپيل کړي او هڅه به وکړي چې د خپلې ټلوالې د اقداماتو له سمبال شوي کرکترڅخه ګټه پورته کړي، هڅه به وکړي چې زموږپه وړاندې د غبرګون په ښودلو د ناوړو ګامونو دخړپړتيا په لا خړولو به د شوروي او امريکا ترمنځ ټولې څواړخيزې پيچلې اړيکې لا خړې پړې کړي .

-ددې لپاره چې په ناټوکې دامريکا د ټلوالې پر ګڼ شمير هيوادونو په ځانګړې ډول پر فرانسې او ايف آر جي ( دآلمان فدرالي دولت) خپلې اغيزې لا پياوړې کړوبايد له هغو اختلافاتو څخه تر وسې وسې ګټه پوره کړوچې د دوی او د امريکا تر منځ را بربنډې شوې او د دغو اختلافاتو مخه بايد هغه لور ته نيغې شي چې په افغانستان کې د شوروي اتحاد له اقداماتو څخه د ملاترلپاره لاره ومونډل شي .

-بايد په ياد ولرئ چې فدرالي آلمان او امريکا د خپلو اړيکو د نيږدې کولو لپاره د افغانستان پېښه د شوروي اتحاد پروړاندې د يوې وړ پلمې په توګه کاروي؛ د فدرالي آلمان ، امريکا او جاپان نومبرلې درې څنګېزه ټلواله به، د پيکېنګ او واشنګتن داړيکو د پيچيلې کولو لپاره د اوږد مهالو تګلارو تابياوې ونيسي .

-د شوروي اتحاد د سرتيرو د پلي کېدلوسکالو بايد د پانګوالو او د پرمختلونکو هېوادونو د کمونيستو ګوندونو د مشرتابه او کارګري پاړکې 'طبقې' په منځ کې دې د افغانستان ډيموکراتيک جمهوريت او افغان انقلاب ته د وروری دمرستې ترنامه لاندې د يوه پراخ کمپاين په توګه په پام کې ونيول شي. برسيره پردې داسې غيررسمي لارې چارو دې ولټول شي چې نورې ټولنيزې ډلې ، رسنۍ او نور دغه کمپاين ته را وهڅوي .

-دناپيیلتوب د غورځنګ په منځ کې، د کيوبا، د ويتنام سوسياليستي جمهوريت اود ناپيلتوب د غورځنګ د پرمختلونکو هېوادونو دډلې له سرچينوڅخه په ګټه اخيستنې، د افغانستان د دولت د ملاترلپاره دې لارې چارې ولټول شي، شوني ښکاري چې چين او لوېديځه نړی به هڅه وکړي چې غورځنګ د شوروي اتحاد د کړنو غندونه ته

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



ولمسوي، ددې کار لپاره به د افغانستان دريز ګوښي کړي او له اوسني مخ په ودې حالت څخه په ګټه اخيستنې به دغورځنګ په منځ کې د پرمختلونکو هېوادونو څانګه کمزورې کړي .

-په منځني او نيږدې ختيز په ځانګړې توګه پاکستان او ايران اوپه آسياکې د نورو مخورو هېوادونو لکه هندوستان کې دې د اسلامي هېوداونو په وړاندې د امريکاد کړنو پرمخالفو څانګو دې ډيره کلکه پاملرنه وشي . امريکا غواړي د لوېدېځې نړۍ اود يوشميرڅرګندو اسلامي هېوادونو په ګډون يو ګډ مورچل راجوړکړي او اسلامي تنګ الواکې ډلې بيا له سره له يو بل سره سمبال کړي، موږ ته ښايي چې ددغسې يوې تګلارې په وړاندې په ټېنګه ودرېږو او دغه مورچلونه دړې وړې وکړو .

-چين او امريکا دواړه په نه ستړې کېدونکې توګه هڅه کوي چې له پاکستان څخه ګټه واخلي، په دې ډول چې دافغاني ياغي ډلو ټپلو جوړونه د همدغه هېواد په خاوره کې ترسره کيږي؛ دوی د ځانګرو لارو په ګډون غواړي ضياالحق ددې منلو ته اړباسي چې د پاکستان له خاورې څخه دې د ياغيانو د کړنواو فعايتونو د لړۍ لمنه ور لنډه کړي. [داغوندېله لنډه شننه غواړي. هغه دا چې : روسان غواړي په پام کې ونيسي چې له امريکا سره په لوبه کې يې دې خبرې ته پام دی : امريکا غواړي نوروته څرګنده چې ګنې د مجاهدينو ډلې د افغانستان په خاوره کې په خپله خپل ځانونه سمبالوي او دغه غورځنګ يو هراړخيزولسي غورځنګ دی چې له بهره يې ملاتړ نه کيږي او دپاکستان ونډه يوه خړه او تياره ونډه ده. ژ]

-د پانګوالۍ او امريکا ضد، د زيرمه شويو تدابيرو بيا راژوندي کول او د ايران په بهرني سياست کې د داسې عناصروکارول چې د ايران � امريکا اړيکي له کړکېچ سره مخامخ اود هڅولړۍ دې ترهغې کچې ورسول شي چې په اسلامي نړۍ کې دافغان ياغيانو په ملاتړد خميني د رژيم د پاروني وړتيا ورشنډه کړي .

-بايد په پام کې ولرو چې په افغانستان کې دوګرنيز ، ښه سبمال شوې او اغيزمن سياسي مخالف نشتوالي، د چين او امريکا د موخو د ترسره کولو لړۍ سوکه کړې، ددې لپاره چې د افغان کډوالو په منځ کې د هغوی ټولنيزې ډلې بې زړه او بې موراله او مشران يې بې اعتباره کړو نو موږته اړينه ده چې د خپلو اقداماتو او موخو پرپلې کولو په ځانګړې توګه هغه موخې چې بيل ماهيت او تومنه لري، ډيره ټينګه او لا پاملرنه وکړو.

-بايد د ملګروملتونو په عمومي اسامبلې کې تش په نامه 'دافغانستان د ستونزې' ترپوښښ لاندې د دامريکا، دهغه د ټلوالې او همدارنګه د چين، شوروي- افغان ضد ميکانيزم هڅو ته نيغه پاملرنه وشي، او ددغې غونډې هغه پريکړې دې شنډې شي چې د شوروي او د افغانستان د ډيموکراتيک جمهوريت په ګټه نه وي .

-د بهرني سياست د پلي کولو او د تبليغاتي تګلارې د راخپلولو په اړانه کې دې د داسې لارو چارو پرلټولو ټينګاروشي چې د امريکا د پاروونکوهڅو په لړ کې افغانستان ته د شوروي اتحاد د پوځي مرستو برابرونو د يوازېنۍ ګوښه شوې سکالو په توګه نه کتل کيږي، ځکه له اوږدو مودو راهيسې دغسې پاروونکې هڅې په هغو سيمو کې تر لاس لاندې

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



نېول شوې چې امریکا پکې خپلې پوځي برلاسۍ ته پراختیا ورکړې او دغه سیمې له ستراتیژیکي اړخه شوروي اتحاد ته ډېرې زیاتې د ارزښت وړ دي .

-د افغانستان په ډیموکراتیک جمهوریت کې د کورنیو سیاسي � اقتصادي ستونزو او په هېواد کې د شوروي ضد مخ په ودې اړوپیچ په پام کې نېولو سره چې له یوې مودې راهیسې د امین او د هغه د کړی د جنایاتو له امله په افغان وګړو کې رامنځ ته شوي، څرګنده ده چې بیا رغاونه او عادي حالت ته راګرځېدنه یې وخت ته اړتیا لري .

-په راتلونکو څو کلونو کې په هېواد کې د ولس د ځواک پیاوړتیا او په افغانستان کې د اقتصادي او سیاسي حالت ټېنګښت له خپلو ټولوننګونو او پراخوالي سره په دې اړه لري چې د ګوند د کړیو په ټولو پوړیوکې یو رښتونی یووالی رامنځته او ټول پرمختلونکي ولسپاله او ولسپالیاله ځواکونه د یوه یوموټي مورچل په اډانه کې راټول کړای شي .

-د دغو په پام کې نېولو سره د مرستې د چمتو کولو د لړۍ د غځولو لپاره ، د (۱۹۷۸) کال د اپریل د انقلاب په رڼا کې د افغانستان خلق ډیموکراتیک ګوند ته د ملاتړ د ورکولو، د ګوند د بنسټیزو سکالو په اړوند زموږ دسلامشورو د پلي کولو، د هېواد د رغاونې او داقتصاد د پرمختګ لپاره ،موږ یو بنسټیز وړاندیز وړاندې کوو چې په لاندېنیو ټکیو کې رالنډ شوی دی :

-د ګوند د یو موټي والي لپاره د ګوند په ژوند اود ګوند په جوړونه کې د همغږو اوپرله پسې سلا مشورو پلي کول چې افغان ملګروته د شوروي اتحاد د کمونیست ګوند د مرکزي کمېټې له پلوه د افغانستان د خلق ډیموکراتیک ګوند مشرتابه ته ورکړل شوي دي. په مرکزي او سیمه یزه کچه دهغو کسانو پېژندنه او ګوښې کول چې له دغو کرښو سره همغږي نه کوي او په دې توګه به د ګوند په بې موراله کولو کې د هغوی داغیزو لمن ورلنډه شي .

-دافغانستان د خلق ډیموکراتیک ګوند تر مشرۍ لاندې، په سوسیالیستو هېوادونو لکه (چکوسلواکیا، بلغاریا او نورو) کې د ترلاسه شویو تجربو د پلي کولو په رڼا کې د یوه هوښیار او استازي پراخ کین اړخه مورچل رامنځ ته کول. د سپورتي، فرهنګي او دغو ته وَرته ټولنو له لارې د کمسومول د ډلګیو رامنځ ته کول او پرافغان ځوانانوباندې د ګوند د اغیزو شیندل په ځانګړې توګه د ښوونځیو پر زده کوونکو .

-د افغانستان د ډیموکراتیک جمهوریت د پرمختلکونو ټولنیزو - اقتصادي بنسټونو ډېرزښت ټینګښت،د نوي اساسي قانون بیا جوړولو ته د هلوځلوچټکوالی ،د توکمونو او ولسي لړکیو استازو ته د داسې لار چارو او امکاناتو موندل چې دخپلو ټولو حقونو په خوندیتوب په جرګو او سیمه یزو شورى ګانو کې استازیتوب وکولای شي .

-د افغانستان په ډیموکرتیک جمهوریت کې د جنګپـَلـَوو توکمونو له لارښودو مشرانو اوسپین روبو سره د اړیکو ټینګول او خبرو اترو ته کښېنستل او دداسې بیړنیو لارو چارو موندل چې هغوی د دولت پروړاندې له خپل مخالفت څخه لاس پر سرشي . د نرموالي د ښودلو، له ډول ډول توکمونو سره د ډول چال چلند په راخپلولو او د سیاسي �

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



اقتصادي پلمو او چـلونو له لارې د توکومو دغبرګون ښووني د اړخونو موندل او پر دغو اړخونو کرارکرار اوګام پرګام يرغل .

-له اسلامي دينپالو سره ديوې اوږد مهالي تګلارې را خپلونه او پرهغې کار کول چې منځلارې دين ګروهن په نښه او له چاړواکوسره يې کارکولو ته را وهڅوي، د ديني بنسټپالوکړيو داستازو رټل،له شيعه ديپوهانوسره د اړيکو ټينګول، د شيعه ډلې په وړاندې د (اقتصاد په ګډون) د هېڅ ډول توپيرپالنې نه منل .

-په هيواد کې د عادي منځمهالي اقتصادي ژوند جوړول، په ځانګړې توګه کارګرانو ته د کليو او ښارونو په کچه د کارمونديې د لارو چارو پرمختګ. د دولت او شخصي سکتورونو ترمنځ د دوه اړخيزې ګټورې برابرې همکارۍ لپاره د کار کولو د اډانې جوړول .

-کورنۍ او بهرنۍ سوداګرۍ ته د پراخو امکاناتو برابرول،د دولت تر څارنې لاندې د منځنيو، په ځانګړې توګه کوشنيو پانګوالو کړيو ته د توليدي اسانتياو برابرول .

ددغو ټکيو ترڅنګ، زموږ له اړخه :

-د افغانستان د خلق ډيموکراتيک ګوند ته اوږه ورکول چې پر خپلې بهرنۍ تګلارې کاراو د افغانستان د بهرني سياست په لاټپنګښت کې هلې ځلې تر سره کړي .

-د روزل شويو،چټکو، منظمو او په وسلو سمبال پوځيانو په پام کې لرلو سره د پوځ په جوړونه کې هر اړخيزه مرسته. دپوځي بولندويانو دکړيو په منځ کې د افغانستان دخلق ډيموکراتيک ګوند د درېز دټينګولو لپاره د لارو چارو موندل، د افغانستان د ولسي ځواک د سيوري په اډانه کې پوځي روزنې ته چټکتيا ورکول .

-په ياد ولرئ چې د افغانستان د څارکښې يا استخباراتي څانګې د پيچلي کارستونزه دې هرو مروحل شي، دهغې تابيا يا پروګرام د پلي کولو چټکتيا ته دې لا اوږه ورکړل شي چې د دولتي امنيت د ارګانونو، د کورنيو چارو د وزارت، ولسي اربـکـيو يا مليشودڅانګو له لارې په مرکزي او سيمه يزو کچو ورسره مرسته کيږي .

-بايد په ياد ولرئ چې د ۱۹۸۰ کال په پسرلي کې به دياغيانو د غورځنګ هلې ځلې ډيرې شي. دا هم بايد په يادولرو چې د افغانستان د تأريخي اوملي ځانګړتيا په پام کې نيولو سره دې ، دافغانستان د ډيموکراتيک جمهوريت او ددفاع له وزارت سره دې په سلا او مشوره کې دداسې يوه مناسب او وړ ترون پر لارو چارو خبرې اترې وشي چې په افغانستان کې د شوروي اتحاد د پوځي ډلګيود پاتې کېدنې د مهال او قانوني شته والي اړخونه را څرګند کړي .

موږ ستاسو کتنو ته سترګې په لار يو.

الف. ګروميکو

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



د. اوستينوف

ايو.اندروپوف

ب.پونيماریيف

جنوري ۲۷، ۱۹۸۰

پخه سرچينه

Source: Cold War International History Project Bulletin, Issues 8-9, Winter 1996/1997, pp. 163-165.

{Source: TsKhsD, f,89, per, 34,Dok,3; provided by: M.Kramer}

د ژباړې سرچينه:

http://www.gwu.edu/~nsarchiv/NSAEBB/NSAEBB57/r13.pdf

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



## د شوروي اتحاد د کمونيست گوند د مرکزي کميټې د سياسي بيرو پريکړه

په افغانستان کې د شوروي اتحاد د ځواکونو د بدلېدونکي مأموريت په اړه

]د الکساندرلېاخوفسکې له پلوه، د افغان زړورتيا او غميزه، ماسکو، جي پي آی ايسکون' ۱۹۹۵[

پښتو ژباړه:

رحمت آريا

۲۰۰۸ زکال جولای

غواړم ټينګار وکړم چې د شوروي سوسياليستي جمهوريتونو د اتحاد مشرتابه او زموږ پوځي بولنديانو تر يوه ځانګړي مهاله د مخالفينو له پوځي ډلګيو سره د جګړې په اړه د ببرک کارمل غوښتنې ته د ځواب له ورکړې ډه ډه کوله. د شوروي اتحاد د دفاع د وزارت د عملياتي څانګې مشرانو، دشوروي اتحاد مارشال س.ل. سوکولوف او ډګرجنرال س.ف. اخريموف ټينګارکاوه چې هغوی د افغانستان د ډيموکراتيک جمهوريت په خاوره کې د پوځي ښکېلوالي ليرلېد نه درلود. که له هغوی (سرتيرو) غوښتل شوي وای چې دغسې يوې غوښتنې ته ځواب ووايي نو دياغيانو د ناڅاپه اغيزمن اور ته غبرګون يا زموږ د پوځي سلاکارانو د ژغورنې او خلاصون عمليات يې نشوای کولای ترلاس لاندې ونيسي. خو د ۱۹۸۰زکال د فبروري د مياشتې په پای کې په کابل کې له ډله يز دولتي ضد پاڅون (د کب پاڅون- ژ) اود ب.کارمل له دويمې غوښتنې وروسته چې له پاڅونه ډير سخت ويرېدلی وو، په افغانستان کې د شوروي ځواکونو مشرانو له ماسکوه يو پرېکنده پيغام ترلاسه کړ چې : 'د افغانستان د ډيموکراتيک جمهوريت له پوځ سره اوږه په اوږه د مخالفينو د ډلګيو درې ورې کول پيل کړئ...' څرګنده ده چې دغه امر له لومړني ټاکل شوي پلان سره سمون نه خوړ او له هغه اوښتنګ وو خو امر له دولته راغلی وو او سرتيري اړ ول امرهرومرو پلي کړي .

د ۱۹۸۰زکال د مارچ د مياشتې له پيله د شوروي پوځي لښکر او ل.سي. س.ت (د شوروي محدودو پوځي قطعاتو) د کنړ په ولايت کې خپل پوځي عمليات پيل کړل. هغوی په افغانستان کې خپل ځانونو د يوې غڅ اخيستونکي جګړې په هېنداره کې ولېدل او د ياغيانو د درې ورې کولو د سپارل شوې دندې په تر سره کولو يې پيل وکړ او دا د شوروي سوسياليستي جمهوريتونو په لومړني پلان کې په پام کې نه وو نېول شوي.

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



غوارړم ټينګار وکړم چې د شوروي سوسياليستي جمهوريتونو د اتحاد مشرتابه او زموږ پوځي بولنديانو تر يوه ځانګړي مهاله د مخالفينو له پوځي ډلګيو سره د جګړې په اړه د ببرک کارمل غوښتني ته د ځواب له ورکړې ډه ډه کوله.

د ستردرستيز د عمومي عملياتو د څانګې د لاسوندونو پربنسټ ... د ۱۹۸۰ز کال د فبرورۍ د مباشتې په پای کې د شوروي مشرتابه (د ل. الف. برژنيف په نوښت) له افغانستانه د شوروي پوځ د ډلګيو د بيرته را ايستلو تابيا ترلاس لاندې ونيوله، ځکه په پام کې نيول شوي وه چې د امين په راپرځولواو د ب. کارمل تر مشرۍ لاندې د افغان دولت له ټينګولوو روسته د هغوی دنده پای ته رسيدله. خو هغوی د څو لاملونو له کبله دغه کار ونه کړ. د.ف اوستينوف او يو. وي اندروپوف (او ښايي الف. الف. ګروميکو هم) له افغانستانه د شوروي پوځونو د بيرته راغوښتلو پرضد ول. په بله وينا ، په هغه وخت کې د سرتيرو را ايستل د امريکا يرغلګري پاليسۍ ته د ځانګړې شېبې د په لاس ورکولو مانا درلوده؛ په امريکا او نورو لوېديځو هېوادونو کې يې دشوروي اتحاد په وړاندې د ترخو نظرياتو او استدلالونودريز ته لا اوږه ورکوله، دهغو ترونونو په اړه چې شوروي اتحاد لاسلیک کړي ول او شوروي اتحاد دغو ترونونو ته ځان ژمن ګاڼه دشوروي اتحاد مخورتوب او پرستيژ ته يې تاوان رساوه، د افغانستان په ډيموکراتيک جمهوريت کې يې دګوند، ددولتي کارکوونکو او دپوځ د کمزورۍ په پای کې اړوپيچ لا بې ثباته کېده او په پای کې افغانستان له لاسه تللو،او دشوروي اتحاد د کرښو په څنډو کې د اسلامي بنسټپالو چتکې ودې ته يې لاره پرانيستله. د پورتنيو خبرو په پام کې نيولو سره د سرتيرو درا ايستلو سکالو په دې آړ 'شرط' په پام کې ونيول شوه چې ګوند او دولتي ځواکونه پياوړتيا او په هېواد کې سياسي اړوپيچ ټيکاو وومي. ډيره شوني ښکاري چې د فبرورۍ د مباشتې په پای کې د کابل د حالت کړکيچن کېدلو د هغوی په پريکړې اغيزه کړي وي؛ هرګوره.... له افغانستانه د شوروي د سرتيرو د راايستلو (پريکړه) ناشونې وه او په پای کې سرتيري د افغانستان په کورنۍ جګړې کې راښکېل شول .

خو د ۱۹۸۰زکال د فبروري د مباشتي په پای کي په کابل کي له بله يز دولتي ضد پاڅون (د کب پاڅون- ژ) اود ب.کارمل له دويمي غوښتني وروسته چي له پاڅونه ډير سخت ويرېدلی وو، په افغانستان کي د شوروي ځواکونو مشرانو له ماسکوه يو پرېکنده پيغام ترلاسه کړ چي : 'د افغانستان د ډيموکراتيک جمهوريت له پوځ سره اوږه په اوږه د مخالفينو د ډلګيو درې وړې کول پيل کړئ...

کله چې څرګنده شوه چې دشوروي محدود پوځي ډلګې د يوه اوږده مهال لپاره پاتې کېږي نو پوځ احتياطي سرتيري او افسران راوبلل. د احتياط د سرتيرو او افسرانو د رابللو لړۍ داسې پيل او پای ته ورسېدله:افسران د ۱۹۸۰زکال تر نوامبرپورې، برېدګي او سرتيري ترمارچه پورې. ټول ټال درې ديرش نيم زره کسان را وبلل شول، له هغې ډلې دوزه دوه سوه افسران او يوديرش زره او درې سوه تنه برېدګي او سرتيري. په همدغه وخت کې ټول ملکي موټران او د ليږد وسايل په پوځي ګاډو بدل شول .

سرچېنه :

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



[Lyakhovsky, pp. 176-177]

Translated by Svetlana Savranskaya, The National Security Archive.

سرچینه :

http://www.gwu.edu/~nsarchiv/NSAEBB/NSAEBB57/soviet2.html

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



## د کمونیست ګوند مرکزي کمېټې ته د لېکوال شېدپروف لېک

(پراودا)، د افغانستان د اړوپیچ په تړاو د شوروي اتحاد دکمونیست ګوند مرکزي کمېټې ته د لېکوال شېدېروف لیک، ۱۹۸۱زکال، دنوامبر ۱۲ نېټه:

پښتوژباړه:

رحمت آریا

جولای ۲۰۰۸

د لاسوندي پېژندنه:

دغه لاسوندی په افغانستان کې د شوروي د راښکېلېدلو هغه ریښتونی اړخ را څرګندوي چې دوی له ټول لښکر سره سره بیا هم دپوځ له لړ والي سره مخامخ او مني چې پوځي حل یوازینۍ د حل لاره نه ده .

د لاسوندي پیل:

د ۱۹۸۱ کال د اکتوبردمېاشتې د ګوندي سلاکارانو دغونډې د مالوماتو پربنسټ، دافغانستان دیموکراټېک جمهوریت له خپلو ۳۵ زرو کلیو څخه یوازې پر پینځه زرو کلیو او د ولسوالیو په مرکزونو او پر۲۹ ولایتونو واک لري او بس دا د پینځلس په سلو کې لا لړمانا راښندي. د پروسږکال له دوبي را پدېخوا په ټولیزډول په اړوپیچ کې کوم بدلون نه دی رامنځ ته شوی.

تراوسه هېڅ یو ولایت په بشپړه ډول نه دی آزاد شوی. په کلېوالي سېموکې چې د یاغیانو له پلوه یې خارنه کېږي په هېڅ یوه ګوریلایي ډلګې کې د افغانستان د خلق د دیموکراتیک ګوند، د ولسي جرګې [دوما: -ژ]اویا دافغانستان د ډیموکراتیک جمهوریت پټه تر څمکې لاندې ډلګۍ په سترګو نه لېدل کېږي .

د هغه پراخ عملیات په ترڅ کې چې موخه یې دانقلاب ضد ډلو ترشا د ولاړویاغیانو د ټینګو مورچلونو دړې وړې کول ول اوترسره شول، بیا هم پینځه اتیا په سلو کې ځایونه دیاغیانو په ولکه کې پاتې او عملیاتو هېڅ اغېزه نه درلودله. د علیماتو له بشپړېدلو سره سم افغان � شوروي سرتیري بیرته خپلو پوځي اډو ته راستانه او سېمې بېرته د یاغیانو په ولکه کې را پرېوتلې .

په یو شمیر لیرې سېموکې ددولتي کسانو پرېښودل پرته له دې چې د پوځي ځواکونو پرله پسې ملاتړ ورسره وي، په اړوپیچ کې یې کوم بدلون نه دی رامنځ ته کړی.ددې ترڅنګ په یاغیانو پسې په پرله پسې تلل او دهغوی په سېمو کې د هغوی د ځالګیو له منځه وړل د سېمه یزو وګړو په منځ کې مخ په ودې ګوت نېونې راپورته کړیدي. د دغسې عملیاتو په ترڅ کې کرهینزې سیمې ویجاړېږي، وګړي وژل کیږي او په پای کې هرڅه همداسې په خپل حال پاتې

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



کيږي. ياغيان بيرته راځي او په خپلو سيمو خپله ولکه له سره ټينګوي. دتيرکال تجربو څرګنده کړه چې ددغسې عملياتو په پای کې د افغانستان ډيموکراتيک جمهوريت بيا هم په خپله دولتي ځمکني بشپړتيا واک نه لري او لا تر اوسه همداسې پاتې ده. ددې تر څنګ په ډيري ولايتونو کې دياغيانو ترولکې لاندې سيموڅخه کليوال د ولايتونو مرکزونو ته په پټه راځي او غواړي د انقلاب او د ولسي رژيم په ملاتړ دفاعي ډلګي جوړ کړي خو په يوه آړ يا شرط چې � تر هغه وخته پورې چې ولسي رژيم پياوړی شي او هغوی د ياغيانو له جزائـي حملو څخه وژغورلای شي او له همدې امله (هغوی له موږ غواړي) چې دهغوی ولايتونو ته نيږدې د افغانستان د ډيموکراتيک جمهوريت دايمي وسله وال او يا ګرځنده پوځي ځواکونه ليری کړای شي. د فراه د ولايت تجربې لا وختي مثبتې پايلې رامنځ کړې .

يو څه برعکس بيلګې هم سته. په کندز، شينډنډ او يو شمير نورو ځايونو کې چې د شوروي - افغان لويي پوځي اډې او ډلګي ځای پرځای اواغزن مزي ترې را تاو دي، له همدغو پوځي اډو څخه يو شميرډلګي د ياغيانو د ټينګو مورچلونو د ځپلو لپاره په دوديز پوځي تاکتيک پراخو سېمو ته ورننوځي، رښتيا خبره خو دا ده چې دودې له پوځي اډو څخه دد يوه يا دوه کيلومترو په واټن کې سيمې په بشپړ ډول د ياغيانو تر ولکې لاندې دي او کله چې شپه راشي او ان د ورځې له پلوه له ډيرو نيږدو ځايونو څخه د جګړو د ډزو غږونه راځي. يو خنډ دکابل � پغمان بېلګه ده چې لا تر اوسه د ياغيانو په ولکه ده.

په افغانستان کې جګړه يوه ځانګړې تومنه لري، دا داسې يوه جګړه ده چې د نړيوالو ځواکونو له وګړنيز غبرګون سره جوخت، يوه نا اعلان شوې جګړه ده. په بل اړخ کې دا يوه کورنۍ جګړه هم ده، د انقلاب � ضد ډلو نوي چلونه راخپل کړي، هغوی له يرغلګردريز څخه اوس د ځان او د خپلې سيمې د ساتنې چل ته ملا تړلې ؛سره له دې چې د پوځي ډلګيو ټوليزه شمير هماغه شميره ده خو د افغان- شوروي ځواکونو پر وړاندې پراخې جګړې نه ترسره کيږي.

چاڼ شويو پوځي عملياتو چې موخه يې د ياغيانو د ډلګيو تـَـکـَـونه،او يادهغوی د پياوړو مورچلونو له منځه وړنه وي، د دښمن تر ولکې لاندې سېموکې هيڅ پايلې نه رازيږوي. اوس په بشپړ ډول څرګنده ده چې په هرحالت کې ان زموږ د خوښـې وړ د حالت په ګډون، د دېرو اغيزمنو ستراتيژيو او تاکتيکونو په لرلو سره سره د انقلاب ضد ډلو له منځه وړل کلونه کلونه غواړي او ښايي له پينځو کلونو لا نوره هم پسې وغځيږي. دغه خبره ماته ب.کارمل او س.الف کشتمند د مرکز اود ګڼ شمير ولايتونو مشرانو او زموږ سلاکارانو کړې ده.

د انقلاب ضد ډلې اوس داسې چلونه کوي چې ګڼې هغوی ملکي وګړي دي او هغوی د وګړو په منځ کې ژوند کوي. ياغيان نه يوازې په فعاله توګه ترهګري تر سره کوي بلکه پروپاګند هم کوي،پراخه سېمه يې په ولکه کې ده او د ځمکوالۍ او توکميزې ټولنې د پخوانيو دودونوپه ډول ژوند کوي .

چاڼ شويو پوځي عملياتو چې موخه يې د ياغيانو د ډلګيو تـَـکـَـونه،او يادهغوی د پياوړو مورچلونو له منځه وړنه وي، د دښمن تر ولکې لاندې سېموکې هيڅ پايلې نه رازيږوي .

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



اوس په بشپړ ډول څرګنده ده چې په هرحالت کې ان زموږ د خوښې وړ د حالت په ګډون، د دېرو اغیزمنو ستراتیژیو او تاکتیکونو په لرلو سره سره د انقلاب ضد ډلو له منځه وړل کلونه کلونه غواړي او ښایي له پینځو کلونو لا نوره هم پسې وغځیږي. دغه خبره ماته ب.کارمل او س.الف کشتمند د مرکز اود ګڼ شمیر ولایتونو مشرانو او زموږ سلاکارانو کړې ده.

اصلي سرچینه:

[from the Center for Preservation of Contemporary Documentation, Moscow, Fond 5, Opis 84, delo 855]

Translated by Svetlana Savranskaya, The National Security Archive.

دژباړې سرچینه

http://www.gwu.edu/~nsarchiv/NSAEBB/NSAEBB57/soviet2.html

د لاسوندي شمیره ۱۵

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



## د افغانستان د ديموکرايتک جمهوريت خاورې ته د يوه امريکايي د ننوتل

اخيستل شوې د شوروی اتحاد د کې جې بې او د ستردرستيز له گزارش څخه د ۱۹۸۲زکال دديسامبر ١٦

پښتو ژباړه:

رحمت آريا

اگست ۲۰۰۸

سرچينه: اکلساندرلياخوفسکي، د افغانانو زړورتيا او غميزه، ايسکون، ماسکو ١٩٩٥ پ.٢٦٣، د سوتيلانا ساورانسکايا ژباړه

١١ .د افغانستان د ديموکرايتک جمهوريت خاورې ته د يوه امريکايي د ننوتلو په اړه له واشنگتن څخه د ملگري الف. ف.ديميترين د مالوماتو پربنسټ :

الف: موږ د پراودا او ايزويستيا ورځپاڼو ته د افغانستان په کورنيو چارو کې دامريکاد لاسوهنو په اړه لیکنه چمتو کوو(يوه لیکنه چې د امريکا دادارې دمشرانو په ورانکارو کړنو نيغه وي، افغان انقلاب ضد ډلو ته وسلو او مهماتو د برابرولو،خپلو ترهرگرو ته د پيسو د برابرولو، د قانوني چارواکوپه وړاندې داقداماتو د پورته کولواو د افغانستان ديموکراتيک جمهوريت خاورې ته د يوه امريکايي د راننوتلو په اړه سکالو روښانه کړي )- ورځپاڼې او رسنۍ دې په دغه ډله کې راودانگي،

ب:د ترکوو(د ترکمن پوځي سېمه) د ځواکونوبولندويانو اود افغانستان په ديموکراتيک جمهوريت کې لويو سلاکارانو ته دنده ورسپارل شوې چې امريکايي تبعه چې د افغانستان په خاوره کې له انقلابي ضد ډلو سره بوخت دی، ونيسي .

ج:هغه څوک چې د ياغيانو په ډله کې نېول کيږي، هڅه وکړئ وموميئ چې په پاکستان کې د خپلې استوگنې په موده کې چا د امريکا د څارکښې ادارې له چارواکو سره تړاو درلود. له هغوی سره وړ چال چلند وکړئ. له هغه وروسته،د افغانستان په کورنيو چارو کې د امريکا د لاسوهنو په اړه په کابل کې يوه خبري غونډه جوړه کړئ .

د شوروي اتحاد د کې جې بي او د وسله ځواکونو د ستردرستيز له دفتر څخه

د ۱۹۸۲ کال، ديسامبر

Source: Alexander Lyakhovsky, Tragedy and Valor of Afghan, Iskon, Moscow 1995, p. 263, Translated by Svetlana Savranskaya]

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



## له کودتا څخه څلورکاله مخکې خلقیانو او پرچمیانو ته د روسانو فرمان

دغوايي له کودتا څخه څلورکاله مخکې خلقیانو او پرچمیانو ته د روسانو فرمان

پښتو ژباړه:

رحمت آریا

آگست ۲۰۰۸

سریزه:

د بینوا د ویب پاڼې ښاغلو لوستونکو!

ما دلاسوندو د رابربندولو په لومړۍ سریزه کې نغوته کړې وه چې د خلق ډیموکراټیک گوند هیڅکله یو یوموټې گوند نه وو او تل په خپلمنځي شخړو او جگړو او ټېرنیو ناخوالو کې یوه

ډوبه سیاسي ډله وه. بشپړ ډاډ لرم چې ددغو ډلو مشران دغه کرښې لولي. زه هغوی ته هغه شيبې اود دوی ډنډورې ورپه یاد راولم چې ویل به یې موږ له چا فرمان نه اخلو او نه مو دی اخیستای. اوس ورته ټینگ شي!!!.

کله چې ارواښاد شهید سردار محمدداوؤد خان د سپینې کودتا له لارې شاهي رژیم په جمهوري رژیم راواړاوه د روسانو غوږنو دوه بنسټیزو سکالو ته نیغ شول. لومړی: جمهوري رژیم دافغانستان په سیاسي کورني ډگر کې نوې سا رامنځ ته کړه. دویم: د همدغه نوي چاپيريال پربنسټ دخلقیانو اوپرچمیانو تر منځ له رژیم سره د همکاري کولو یا نه کولو پرسر بوږنونکې شخړې رابرسیره شوې. دغه اکر د خلق ډیموکراتیک گوند ددواړو لویو ډلو ترمنځ د بیلتون کرښه لا پسې اوږده کړه. خبره دې کچې ته ورسیدله چې روسانو د گوند پریووالي او له رژیم سره د همکارۍ فرمان ورولیږه. دا دی ددوی د خانواک فرمان :

دشوروي اتحاد دکمونیست گوند د مرکزي کمېټې فرمان � د ۱۹۷۴ کال د جنوري په اتمه نېټه د دافغانستان دخلق د ډیموکراټیک گوند د خلق او پرچم له مشرانو غوښتنه

نېټه

۱۹۷۴/۰۸/۰۱ سرچېنه:

RGANI (formerly TsKhSD), f. 89, op. 46, d. 103, ll. 31. [Not for publication].

پېژندنه :

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



دغه لاسوندی د افغانستان په سياسي ډلو کې د خپلمنځي جگړې په اړه د ماسکو ويره رانغاړي او په منځني ختيځ کې د شوروي د راښکلېدېلو پايلو ته نغوته کوي ..

١ .وپتيل شوه چې په کابل کې د کې جي بي دسوريو له لارې دې د شوروي اتحاد د وزيرانو د شورى غوښتنه دې په کابل کې د (خلق) او(پرچم) د ډلو مشرانو ته وليږل شي. (مل پاڼه ملگرې ده)

٢ .په افغانستان کې دشوروي سفيرته دې دغوښتنې دلېکلې بڼې په اړه مالومات ورکړل شي.

]لاسلیک[

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



د رائـیو پایلې:

]ټول ۷ لاسلیکونه، د ټولو رائـیې ریکارډ شوي دي[

]دپاڼې په پای کې:' اخیستل شوي برخې ملګرو اندروپوف او پونیماریيف ته لیږل شوې' لاندې،' ملګري ب.ن.پونیماریيف ته: ۱۵/۵/۸۷ (ملګري ک.م.بوګولیوبوف ته لارښوونه) نیټه په کیڼ اړخ کې:'۱۹۷۴/۱/۳': په پای کې:' ویشل شوي: ۱۹۷۴/۱/۸. خالتورینا[

]له روسي څخه انګریزي ته د ژباړن یادښت: دلاسوندي په کښتنیو دوه پاڼو کې په هرکالم کې وروستنی ۸-۱۰ وییکي پریکړل شوي؛ هغه وییکي چې نه لوستل کیږي د (ایکس ایم) په نښه ورښودل شوي او د وییکي په اړه ګومان نه شم وهلای [.

کابل

له ک.ببرک او ن.م.تره کي سره په جلا جلا توګه وګوره او هر یوه ته لاندیني سکالو جلا جلا ورکړه .

'له کابله د ورکړل شویوغوربوڅونکو ګزارشونو پربنسټ په ماسکو کې هغوی د 'خلق' او 'پرچم' د ډلو دمشرانو د پرله پسې خپلمنځي جګړو په تړاوپه ژوره اندیښنه کې دي. په خواشینۍ چې دغه خپلمنځي شخړې [ایکس ایم] دهغوی له اوږدمهاله تومنې سره جوخت، دواړه خواووې د کمزورۍ لورته راکاږي، اوپه ټولیز ډول دا دپرمختلونکو ځواکونو اودیموکراتیک [غورځنګ] د پوړیو په منځ کې یو بیلوالی رامنځ ته کوي .

رامنځ ته شوی اړوپیچ د افغانستان په جمهوریت کې یوازې کورني [او] بهرني دښمنان چې دروهې 'دسیسې'، سبوتاژ او نورې بد لـَوربنې [ایکس ایم]جوړوي، خوښوي، او هغه کسان خوښوي چې د زاړه رژیم د بیا راژوندي کولولپاره هڅه کوي. په دې [اړه] په دغسې یوه پیچلې اړوپیچ کې ټولو پرمختلونکو ځواکونو ته لارښوونه کیږي چې د خپل هیواد او وګړو د ګټو لپاره دې خپلمنځي [ایکس ایم] یوې خواته پریږدي او جمهوري رژیم ته دې په ګډه د خپلو هڅوله لارې پراخه مرسته ورکړي چې (نوی رژیم �ژ) خپل ټولنیز بنسټ پیاوړی کړي او د بهرنیو او کورنیو ارتجاعیونو[ایکس ایم] مخه دې ونیسي. یوازې د ټولو پرمختلونکو او هیوادپالو ځواکونو ګډه [ایکس ایم] کولای شي دافغانستان په دغسې یوې حساسې شیبې کې، بریا رامنځ ته کړي'.

په افغانستان کې دشوروي سفیرته دې دغوښتنې دلیکلې بڼې په اړه مالومات ورکړل شي.

ګزارش راکړئ چې دغه کار مو کله ترسره کړ.

۲وي ژ[ لاسلیک[

د شوروي اتحاد دکمونیست ګوند مرکزي کیمټه

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



د افغانستان د خلق ډیموکرایتک ګوند د 'خلق' او'پرچم' له مشرانو غوښتنه

د شوروي اتحاد دکمونیست ګوند دمرکزي کمیټې د۱۹۷۳زکال د فرمان په اړه [ایکس ایم] د کمونیست ګوند د مرکزي کمیټې د نړیوالو اړیکو څانګې د [ایکس ایم] د شوروي اتحاد د وزیرانو له شورى سره یو ځاى منلي چې د افغانستان د خلق ډیموکراتیک ګوند د پرچم دډلې مشر کارمل ببرک او د خلق د ډلې مشر نور محمد 'تره کي' ته دې دغه فرمان ولیږل شي او له هغوى دې غوښتنه وشي چې خپلې ټولې هڅې دې د [ایکس ایم] د دولت اود هغه د ټولنیز دریز په ملاتړ [ایکس ایم] او ارتجاعي ځواکونو سره د جګړې لورته دې نیغې کړي .

دغوښتن لیک یوه یوه کاپي دې ک. ببرک او ن.م. تره کي ته [ایکس ایم]

دغه خبره د شوروي اتحاد د وزیرانو د شوري د کي.جي.بي د څانګې (ملګري ف.ک. مارتین) سره د همکارۍ لپاره ګډه شوېده.

ښه به وي ددغې غوښتنې لیکښه دې په افغانستان کې د شوروي له سفیرسره هم ګډه شي .

دشوروي اتحاد د کمونیست ګوند د مرکزي کمیټې د فرمان مسوده له دغه لیک سره ملګرې ده .

د شوروي اتحاد د کمونیست ګوند د مرکزي کمېټې د نړیوالواړیکو د څانګې مرستیال

]لاسلیک[

۱۹۷۴ /جنوري ۲

شمیره: ۲۵- ایس- ۲

دژباړې سرچینه:

http://www.wilsoncenter.org/index.cfm?topic_id=1409&fuseaction=va2.document&identifier=5034D659-96B6-175C-940B9213249667B8&sort=Collection&item=Soviet%20Invasion%20of%20Afghanistan

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



# ماسکو ته د داؤد خان سفر

پښتو ژباړه:

رحمت آریا ، آگست ۲۰۰۸

| | |
|---|---|
| شوروي اتحاد ته د محمد داؤد د سفرد پايلو په اړه دافغان پرمختلونکو ځواکونود 'پرچم' او 'خلق' دډلو مشرانو ته د شوروي اتحاد دکمونیست گوند د مرکزي کمېټې معلومات | |
| نېټه: ٦/٢١/١٩٧۴ | سرچينه: |
| پېژندنه: دغه لاسوندی د افغان د سياسي گوندونو ترمنځ خپلمنځيو جگړو ته نغوته کوي او څرگندوي چې په پای کې به يې هېواد بې ثباته شي. دغه گزارش شوروي ته د محمد داؤد له سفره وروسته ورکړل شوی دی. | |

د افغانستان د پرمختلونکو سياسي ټولنو مشران ببرک کارمل (پرچم) او نورمحمد تره کی (خلق) چې په غيررسمي توگه په کابل کې د ميشتې کې جي بي ځانگې او د شوروي اتحاد د وزيرانو د شورى له لارې د شوروي اتحاد د کمونيست گوند له مرکزي کميټې سره اړيکې ساتې، د ۱۹۷۳ زکال د جولای په مباشت کې د جمهوري رژيم له رامنځ ته کېدلو سره سم د جمهوري نظام د وزيرانو په شورى، دولت او پوځ کې د روڼ اندو د کارَونې له لارې په هېواد کې د (کمونيست گوند د حق تر نامه لاندې) دخپلو دريزونو د پياوړي کولو او د خپلې ډلې د اغيزو د غښتلي کولو لپاره يوه وژونکي جگړه ترلاس لاندې نېولې ده. په عين وخت کې د چين د پلويانو او ولسپاله ډلو په شان يې ددولت په بيروکراسۍ او پوځ کې فعاله سياسي کار پيل کړی چې دافغانستان ولسمشر او سروزير محمد داؤد ته يې ژورې انديښنې رامنځ ته کړې دي .

محمد داؤد په ځانگړې توگه د ځارکښوادارو له هغو مالوتو څخه په سخته انديښنه کې دی چې هغه ته يې دچپي ځواکونوله خوا ديوه زيږول شوي فرضي پلان په اړه ورکړې او په پلان کې نغوته شوې چې که دی (سردار محمد داؤد-ژ) د افغانستان ټولنيزه او اقتصادي جوړونه په چټکۍ او په داسې لاره پيل نه کړي چې موخه يې د ناپانگوالا اقتصاد پر لور نيغه نه وي او په پای کې د سوسياليستي پرمختگ لور ته ونه درومي، نو دی به له واکه بې واکه کړې .

د ۱۹۷۴زکال د فبرورۍ او مارچ په مباشتو کې م. داؤد يو شميرگامونه پورته کړل چې موخه يې د پرمختلونکو ځواکونو پرځېلو نېغه او د 'پرچم' او د 'خلق' ډلې يې له سياسي فعاليتونو څخه منع کوي .

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



د ۱۹۷۴زکال د جنوري په مېاشت کې د (س.ت ۳۱/۱۰۹ � جي ايس د ۸/۱/۱۹۷۴) لارښود لېک ک. ببرک او ن. تره کي ته ورکړل شو چې د يو بل ترمنځ خپلمنځي وژونکي جګړې و دَرَوي دواړه ډلې دې سره يو شي او يو يوموټې ګوند دې جوړ کړي، او په هېواد کې د جمهوري رژيم د ملاتړلپاره دې خپلې ګډې هڅې سمبال کړي.

يو ځل بيا دواړو ډلو ته ددغه لارښود لېک ويل اړين بلل کيږي؛ له دغه لارښود لېک سره کېدلای شي له شوروي اتحاد څخه د م.داؤد د وروستني سفرپايلې هم مل کړئ. په کابل کې د شوروي سفيردې هرومرو ددغو مالوماتو په اړه خبر کړای شي.

دشوروي اتحاد دکمونيست ګوند د مرکزي کمېټې د فرمان مسوده له دغه لارښود لېک سره مل ده

د شوروي اتحاد د کمونيست ګوند دمرکزي کميټې د مشر مرستيال [لاسلېک]

د نړيوالو اړيکو څانګه ر.يو. يانوفسکسي

۱۹۷۴زکال جون ۲۱

شميره: ۲۵- س- ۱۱۸۳

د ژباړې سرچېنه:

http://www.wilsoncenter.org/index.cfm?topic_id=1409&fuseaction=va2.document&identifier=5034D649-96B6-175C-9E98082C2D1E6186&sort=Collection&item=Soviet%20Invasion%20of%20Afghanistan

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



# د داؤدخان دسفرپه اړه خلقیانو او پرچمیانو ته د روسانو بل فرمان

پښتوژباړه:

رحمت آریا آگست ۲۰۰۸

| | |
|---|---|
| دشوروي اتحاد دکمونيست گوند د مرکزي کمېټي فرمان �د ۱۹۷۴زکال د جون په ۲٦ شوروي اتحاد ته د محمد داؤد د سفرد پايلو په تړاو افغان سياسي پرمختلونکو ړولنو 'پرچم' او 'خلق' ته مالومات | |
| سرچېنه :<br>RGANI (formerly TsKhSD), f. 89, op. 46, d. 113, ll. 61. [Not for publication]. | نېټه<br>٦/٢٦/۱۹۷۴ |
| دلاسوندي پيژندنه:<br>دغه لاسوندی د افغانستان د پرمختلونکو سياسي گوندونو مشرانو ته د مرکزي کمېټي د ټاکنو پايلې را څرگندوي | |

]اخځ[

شميره س ت � ۱۱/۱۲۹ س د ٦/٢٦/۱۹۷۴ ځانګړې دوسيه

دشوروي اتحاد دکمونيست گوند د مرکزي کمېټي

فرمان

شوروي اتحاد ته د محمد داؤد د سفر د پايلو په اړه د افغان سياسي پرمختلونکو ټولنو 'پرچم' او'خلق' مشرانو ته معلومات

]د لېکل شوي لېک په سر کې په لاس لېکل شوي چې :' ملگرو: سولوسوف، کريلينيکو او پونيمارييف['

۱ .منل کيږي چې شوروي اتحاد ته د م. داؤد دسفرپه اړه په کابل کې د کي.جي.بي د چينلونو له لارې دې (مل معلومات د يوه تيليگرام له لارې د افغان د پرمختلونکو دسياسي مشرانو ټولنو 'پرچم' (ک. کارمل) او 'خلق' (ح. تره کي) ته په ورکړل شوې پته ولېږل شي .

۲ .په کابل کې د شوروي سفير پرې خبر کړئ .

]دوه لاسلېکونه [

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



دټاکنو پایلې

دمرکزي کمیټې د سکرتریت د ۶/۲۶/۱۹۷۴ نېټې په غونډه کې منل شوي. پ ر. ۱۲۹ پ. ۱۱.س

]دمرکزي کمېټې سکرتران په دې ډول یو بل ته مسوؤلیت لري- ژ[

د مرکزي کمېټې سکرتران : ملګری م.الف. سولوسوف ملګري

وي. آی. دولګیخ ته، ملګری

ک.ف. کپیتانوف ملګري

ک. ف. کتوشیف ته، ملګری

الف. پ. کیرلینکو، ملګري

ف.د.کلاکوف ته، ملګری

ب.ن.پونیماریف ملګري

ف.د. اوستینوف ته، ملګری

الف. یا. پیل شي �

]په لاس لېکل شوي � نه لوستل کیږي[

د مرکزي کمېټې پیکه ټاپه

۱۴۹ اخځ ملګرو اندروپوف او پونیمارییف ته

۱۵,۵,۷۸ [ایس. ای. سي.] ملګري ب. ن. پونیمارییف ته (ملګري ک [م] بوګولیوبوف ته لارښوونه)

۱۹۷۴/۰٦/۲۱

ویشل شوې : ۱۹۷۴/٦/۲۷ خالتورینا

ځانګړې دوسیه

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



د ژباړې سرچينه

http://www.wilsoncenter.org/index.cfm?topic_id=1409&fuseaction=va2.document&identifier=5034D62A-96B6-175C-96E106BAD17715EE&sort=Collection&item=Soviet%20Invasion%20of%20Afghanistan

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



## د شوروي له سفير پوزانوف سره د تره کي د خبرو ريکارډ شوې برخه

پښتو ژباړه:

رحمت آريا آگست ۲۰۰۸

| | |
|---|---|
| د شوروي د سفيرالف.م. اندروپوف او تره کي سره د مرکې ريکارډ | |
| نېټه<br>٦/١٨/١٩٧٨ | سرچينه:<br>Notes of O.A. Westad, TsKhSD, f. 5, op. 75, d. 1181, ll. 22-27 |
| دلاسوندي پيژندنه :<br>د مرکې ريکارډ برخه- شوروي سفير الف.م. پوزانوف له تره کي سره د مرکې په ترڅ کې د افغان دکمونيست گوند د شوني بيلتون په اړه خبرې کوي خو تره کی د هغه خبره نه مني او وايي چې گوند يو موټی دی. | |

دغه غونډه د وي اي خرازوف تر مشرۍ لاندې کابل ته د شوروي د گوندي سلاکارانو ديوه پلاوي له را رسيدلو وروسته ونېول شوه .

[سفېر] کابل ته د جولای په ۲۷ نېټه د شوروي د سلاکارانو د لومړي پلاوي د راتگ په اړه ن.م تره کي ته خبرورکړ چې له افغان وزارتونو او دولتي څانگوسره کار وکړي .

[...]وروسته تره کي وغوښتل چې يوازې شوروي سفير او وي اي خزاروف دې پاتې شي او ويې ويل چې کارمل راغلی او غواړي يوشمير سکالو را څرگندې کړي.

کارمل دفتر ته ننوځي او دغه خبرې کوي :

په وروستيو وختونو کې ډيري وختونه ويل کيږي چې د افغانستان د خلق په ديموکراتيک گوند کې يوموټی والی نشته. پرته له شکه چې دغه خبرې په خپله پرگوند، پرپوځ، دولتي کارکوونکو، انقلاب، د شوروي اتحاد پرمخورتوب ناوړه اغيزې شېندي او ښايي سختې پايلی راوزيږوي. ډول ډول خلک دي، او دغه توپيرپالنه ښايي د پاروونکو موخو لپاره وکارول شي. په خواشينۍ په گوند، ددولتي کارکوونکو او په پوځ کې زموږ دريز (دپرچم ډله) د يو شمير پارووونکو هڅو تر يرغل لاندې راغلی. تر هغه ځايه چې زه ډاډه يم او پرته له دې چې پر انقلاب شک ولرم د ن. م. تره کي او د (سروزير) ح.(حفيظ الله) امين تر مشرۍ لاندې گوند،دولت او پوځ د شوروي د ستري مرستې په مټ په هېواد کې سوسياليزم جوړوي، زه نه غواړم لانجې را وپاروم، نه غواړم چې هېڅ يو ملگرى او يا دښمن زما له حالت څخه ناوړه گټه پورته کړي. د افغانستان د خلق ډيموکراټيک گوند د مرکزي کمېټې د سياسي بيرو د جون د ١٧ نېټې د پريکړې په اړه چې يو شمير ملگري دي بهرنيو هېوادونو ته د سفيرانو په توگه واستوي، زه او ن. الف. نور ..... غوره

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



ګڼو چې بهر ته د سفيرانو په توګه ولاړشواو يا د ناروغۍ په پلمې يوې خواته ولاړ سو،چې په پای کې به يې د صادقو او شريفو کسانو په وړاندې د پارووڼکو کسانو د پارونو لمنه را لنډه شي. په دې ډول به ن. م. تره کی او حفيظ الله امين وکولای شي چې دغسې يو پروګرام پلی کړي. کارمل وويل، په خواشينۍ چې زه په ګوند او پوځ کې ځانته داسې ځای نه وينم چې له خپلو نظرياتو دفاع وکولای شم --- ډيره ګرانه به وي چې د مې د مباشتې د ۲۴ د ګوندد سياسي بيرو دپريکړې په اړه لارښوونې پلې شي، يوازې د کاغذ پرمخ پاتې کيږي، تر هغه پورته بل څه نسته .

[....] وروسته کارمل په ډير هيجاني حالت دغه خبرې وکړې:

له ن.م.تره کي وروسته زه په ګوند او دولت کې دويم دريز لرم. له دې سره سره، زه خبر نه يم چې په هيواد کې څه تيريږي � زه يې ګوښې کړی يم، ماته نه دکورني سياست او نه دبهرني سياست په ډګر کې ځای راکول کيږي، زه په قفس کې د راګيرپاتې شوي په شان ژوند کووم. ماته د يوه کمونيست په توګه، دا ستره غميزه ده. هغه د ن.م. تره کي، د خلق ډيموکراتيک ګوند د سياسي بيرو غړي ح. امين تر مخې وويل ګوند ته يووالی راولـئ اوډيره اړينه ده چې کوټلې ګامونه اوچت کړئ. ن. م. تره کی د زړه له کومې غواړي چې په ګوند کې يووالی راشي. خو ددې لپاره چې يووالی راشي نو په زرګونه صادقه کمونيستان دې لومړی قربانی شي، ودې وهل شي،او په نومونو دې تور ولګول شي.زه په خپله په ويره کې ژوند کوم چې نن يا سبا به بندي شم. په پای کې کارمل ټينګار وکړ چې ګوند د بيلتون پر لور درومي، هر څه د دولت او پوځ په ولکه کې ورننوځي .

ن.م.تره کي وويل چې ټولې سکالو دافغانستان د خلق ډيموکراتيک ګوند د واکمنو ارګانونو له لارې پرمخ ځي اوټولې پريکړې دډيموکراتيک مرکزيت تر سيوري لاندې نيول کيږي او هيڅوک څوک نه ويروي. په ګوند کې بيلتون نسته، يووالی مو ټينګ دی، خو يوشمير څرګند کسان د ګوند ديووالي پرضد دي. که هرڅوک د ګوند ديووالي او انقلاب پرضد ودريږي نو په ګوند کې به تصفيه رامنځ ته شي. وژنه ، ويرونه او ترورپه ګوند کې نشته، خو دا دې ومنل شي چې که دی يا بل څوک انقلاب ته ويره وزيږوي نو په وړاندې به يې کوټلې ګامونه اوچت او جزاګانې به ان تر اعدام پورې ورته ورکړل شي. ددغې خبرې په کولو ن.م. تره کی مرکه و دَروله او ويې ويل چې نور نه غواړي له کارمل سره خبرې وکړي. ب. کارمل وويل. د خدای په امان او ووت. [سفير او خزاروف] کله چې له تره کي سره يوازې پاتې شول، نو يو ځل بيا يې هغه ته د سياسي تشدد او له هغه څخه د راپاڅيدونکو پايلو په تړاو د يوې بلې غونډې د نيولو غوښتنه وکړه. هغوی ټينګار وکړچې بايد دښمن ته اجازه ورنکړل شي چې له دغې تشې څخه د خپلو موخو لپاره کار واخلي. ن.م. تره کي وويل چې ګوند يو موټی دی او ګوند د پياوړتيا پر لور درومي، خو هغه کسان چې د ګوند ديووالي پر وړاندې خپل مخالفت څرګندوي ' موږ به يې په دړې وړې کړو حتی که به بولدوزر هم وي. يوازې دغسې کوټلي ګامونه به په ګوند کې يووالی راولي .

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



کاپي لېږل شوې : کوزیریف سي پي، پونیماریيف ب. ن

د ژباړې سرچېنه:

http://www.wilsoncenter.org/index.cfm?topic_id=1409&fuseaction=va2.document&identifier=5034DB79-96B6-175C-9852BEDFA0D5E1DA&sort=Collection&item=Soviet%20Invasion%20of%20Afghanistan

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



## د شوروي له سفير سره د تره کي د مرکې بله برخه

پښتو ژباړه:

رحمت آريا ، آگست ۲۰۰۸

| | |
|---|---|
| افغانستان ته دشوروي د سفير الف. م. اندروپوف او تره کي ترمنځ د مرکې ريکارډ شوې برخه | |
| نېټه<br>۷/۱۸/۱۹۸۷ | سرچينه :<br>Notes of O.A. Westad, TsKhSD, f. 5, op. 75, d. 1181, ll. 36-40 |
| دلاسوندي پيژندنه:<br>دافغانستان د اړوپيچ په اړه دامريکا د بهرنيو چارو د وزارت له مرستيال ديويد نيوسم سره د تره کي غونډه او افغانستان ته د شوروي سفير الف. م. اندروپوف ته د تره کي گزارش او افغانستان ته ددفاعي جوړښت د وسلو ورکړه | |

[سفير وويل] هغه انديښنې چې د افغانستان د ډيموکراتيک جمهوريت د مشرتابه له خوا دافغانستان د ډيموکراتيک جمهوريت د هوايي حريم د دفاع او د يوه اغيزمن دفاعي جوړښت د لرلو لپاره را وړاندې شويدي د شوروي اتحاد د ستردرستيز دپوځي ځواکونو له خوا په ډيرځيرځيرل شوي، او که د افغانستان ډيموکراتيک جمهوريت ته هرډول هوايي ويره رامنځ ته شي نو په اړه به يې کوټلي او اړين گامونه را اوچت شي. سر بيره پر هغې بايد په ياد ولرو چې له ځمکې څخه هواته ددفاعي بنسټونو نور جوړښتونه هم د اوس او هم د راتلونکي وختونو لپاره ځيرل شويدي. د وسلو د راليږلو سکالو به د يوه تړون له لارې وروسته له لاسلېک کولو راپيل شي او د تړون د لاسلېک کولو لپاره به د ډگرجنرال وي. اي کوزنيتسف تر مشرۍ لاندې يو پلاوی نن راورسيږي. تره کي سفير ته خبر ورکړ چې هغه د هېواد د اړوپيچ په تړاو د جولای په ۱۳- ۱۴ نېټه د امريکا د بهرنيو چارو د وزارت له مرستيال ديويد نيوسم سره ولېدل. تره کي وويل، د بهرنيو چارو مرستيال د خپلې غونډې په ترڅ کې ماته د امريکا ددولت د انديښنو په تړاو وويل چې افغانستان يو اړخيزه بهرنۍ تگلاره لري او هم يې د افغانستان � امريکا سړو اړيکو ته گوته ونېوله. ديويد نيوسم له ما څخه پارونکې پوښتنې وکړې � او ويې ويل چې که شوروي اتحاد د افغانستان پرديموکراتيک جمهوريت يرغل وکړي تا سوبه څه وکړئ. ن. م. تره کي ددغسې يوې پوښتنې ناوړتيا ته گوته ونېوله.

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



دژباړې سرچینه:

http://www.wilsoncenter.org/index.cfm?topic_id=1409&fuseaction=va2.document&identifier=5034DB89-96B6-175C-9FD69A46836A1D17&sort=Collection&item=Soviet%20Invasion%20of%20Afghanistan

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



## د ک. کارمل په اړه چکوسلواکیاته دشوري وړاندیز

پښتو ژباړه:

رحمت آریا آگست ۲۰۰۸

| | |
|---|---|
| د شوروي اتحاد د کمونیست گوندمرکزي کمېټه دک. ببرک په تړاو د چکوسلواکیا کمونیست گوند ته اندیښنه څرگندوي | |
| نېټه ۱۱/۰۹/۱۹۷۸ | سرچینه: |
| دلاسوندي پيژندنه: په دغه لاسوندي کې هغه مالومات رانغاړل شوي چې په پراگ کې د افغانستان د ډیموکراتیک جمهوریت پخواني سفیرببرک کارمل په چکوسلواکیا کې سیاسي پناه غواړي او له هېواده دباندې د ژوند په غوره کولو دافغانستان دډیموکراتیک جمهوریت په وړاندې دښمنۍ ته دوام ورکوي، دشوروي اتحاد د کمونیست گوند مرکزي کمېټه له ببرکه د ورانکاریو د بندولو غوښتنه کوي. | |

په کابل کې د شوروي اتحاد د استوگنې دامنیت ډلې څانگه موږ ته خبرراکوي چې په پراگ کې د افغانستان د ډیموکراټیک جمهوریت پخوانی سفیر کارمل ببرک چې د چکسلواکیا ملگرو ورته سیاسي پناه ورکړې، د سفارت له دندې څخه له گوښه کېدلو وروسته نه غواړي بیرته هېواد ته ستون شي، دی غواړي له بهره د خپلې ډلې پرچمیانو په منځ کې په افغانستان اوپه بهرکې (په سوسیالیستو اوپانگوالو هېوادونوکې میشتوپرچمیانو) کاروکړي او هغوی هڅوي چې دافغانستان د اوسني رژیم، دافغانستان دخلق ډیموکراتیک گوند او د افغانستان د ډیموکراتیک دولت په وړاندې ټینگه جگړه وکړي. (له کابله تیلیگرامي شفر، سپتامبر: شمیره ۱۵۳۷ نېټه ۲۵/۱۰/۱۹۷۸)

موږ د شوروي اتحاد مرکزي کمیټې ته د دغه مصلحت وړاندیزکووچې ک. ببرک دې خبرو اترو ته راوغواړي او پرې ودې مني چې د افغانستان د واکمن رژیم په وړاندې دې له دښمنۍ څخه لاس واخلي.

د شوروي اتحاد د مرکزي کمېټې د پریکړې کاپي له لیک سره مل ده

د شوروي اتحاد د کمونیست گوند د مرکزي کمېټې د نړیوالو اړیکو د څانگې مرستیال

[لاسلیک]

ر.یو ای.یانوفسکي

۱۹۷۸ نوامبر ۹

شمیره: ۲۵- س - ۲۱۷۵

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



دلاسوندي سرچېنه:

http://www.wilsoncenter.org/index.cfm?topic_id=1409&fuseaction=va2.document&identifier=5034D678-96B6-175C-9F9372D624CDFA3E&sort=Collection&item=Soviet%20Invasion%20of%20Afghanistan

دوهم لاسوندی

| | |
|---|---|
| د ک. کارمل په اړه د چکوسلواکیا کمونیست گوند ته د شوروي اتحاد د کمونیست گوند د مرکزي کمېټې وړاندیز | |
| نېټه ۱۵/۱۱/۱۹۷۸ | سرچینه: |
| دلاسوندي پېژندنه: شوروي دولت په هېوادکې د یوازېني شوروي پلوي د افغانستان خلق ډیموکراتېک گوند په وړاندي هرډول ورنکارای غندي.د شوروي د مشرتابه د دریز پربنسټ دغسې پارونې په سیمه کې پیاوړې بې ثباتی او سیاسي گډوډی رامنځ ته کوي. | |

گڼ شمیر لاسلېکونه]

[د شوروي اتحاد د کمونیست گوند د مرکزي کمیټې له مل لېک سره)

شمیره: ایس تي � ۱٦/۱۳۴ جي ایس، نېټه ۱٦/۱۱/۱۹۷۸

اخیستل شوی gs 16 � د مرکزي کمېټې د سکرتریت د غونډې له خبرو څخه له شمیرې ۱۳۴

---

د ک.ببرک په اړه د چکوسلواکیا له کمونیست گوند څخه غوښتنه

د تیلگرام لیکل شوی لېک له (مل لېک) سره منظور شو او د چکوسلواکیا په سوسیالیستی

جمهوریت کې دې د شوروي سفیر ته واستول شي.

دویمه کاپي: سکرتر ته

---

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



ولیږل شول: ملګرو ګرومېکو، پونوماریف ته

کاملأ محرم

مل لېک

١٦ جي ایس د ان ١٣۴ ټکیو ته

پراګ

د شوروي سفیر!

د چکوسلواکیا د کمونیست ګوند د مرکزي کمیټې د نړیوالې پالیسۍ له څانګې سره وګورئ ، هغوی ته د شوروي اتحاد د کمونیست ګوند د مرکزي کمېټې لارښوونې ورونښیاست او [هغه] ته لاندیني ټکي وواياست.

په پراګ کې د افغانستان د ډیموکراتیک جمهوریت پخواني سفیر ببرک کارمل چې اوس د چکوسلواکیا په سوسیالیستي جمهوریت کې اوسیږي، په سوسیالیستو اوپانګوالو هېوادونو کې د میشتو افغانانو په منځ کې څرګندو کارونو ته ملا تړلې ده. د هغه ټولې هڅې دا دي چې له پرچمیانو(هغه ډله چې لارښوونه یې د ک.ببرک له پلوه کیږي) سره اړیکې ټینګې کړي او د افغانستان د اوسني رژیم، د افغانستان د خلق ډیموکراتیک ګوند او د افغانستان د ډیموکراتېک جمهوریت پرضد ټول د یوې پیاوړې تګلارې یاپلاتفورم ګرد چاپیره راټول کړي. نوموړی دغې موخې ته درسیدلو لپاره غواړي په افغانستان کې له خپلو پلویانو سره چې د افغانستان د خلق په ډیموکراتیک ګوند، افغان پوځ، دولتي اداراتو او نورو ټولنو کې کارکوي اړیکه ټېنګه کړي .

دافغان مشرتابه ته دغسې فعالیتونه څرګند شوي او له منفي غبرګونونو سره جوخت به ناوړه پایلې را وزیږوي.

په افغانستان کې د اوسني انقلابي رژیم په وړاندې دغه چاره، دده مېلمه پال او شوروي ملګري په یو ډېر سخت دریز کې رانغاړي

هغه فعالیت چې په افغانستان کې د واکمن ، دافغانستان د خلق ډیموکراتیک ګوند، د کمزوروالي په لور نیغ شوی وي او هغه هڅې چې د نوي افغانستان د جوړولوخنډ ګرځي، د یوې تیروتنې په توګه ګڼل کیږي او یوازېنی تاوان یې افغانستان ته رسیږي.

ترلاسه شوي مالومات ښیي چې د هغوپرچمیانو په وړاندې چې رژیم ته پالیاله او په دولتي ادارو کې په صداقت کارکوي زورزیاتی نه کیږي او نه د پرچمیانو کورنۍ ځورول کیږي. ک.ببرک دې هرومرو دغه حالات په پام کې ونیسي او له هغوڅخه دې ګټورې پایلې راوباسي: هغه ته نه ښایي چې په دولتي ضد کارونو کې ګډون وکړي او نه دې خپله ډله د چاپه وړاندې راپاروي.

[په بیړه لاسلیک شوې، ښایي د ر. یوي. یانوفسکي وي]

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



۲۱ ف

دلاسوندي سرچينه:

http://www.wilsoncenter.org/index.cfm?topic_id=1409&fuseaction=va2.document&identifier=5034D668-96B6-175C-9251846F7B26E7F4&sort=Collection&item=Soviet%20Invasion%20of%20Afghanistan

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



# دشوروي دبهرنیوچارو وزارت ته دشوروي دسفیرلیک

پښتو ژباړه:
رحمت آریا آگست ۲۰۰۸

| | |
|---|---|
| "د افغانستان د ډیموکراتیک جمهوریت د کورني سیاسي اړوپیچ په تړاو" د شوروي د بهرنیو چارو وزارت ته په افغانستان کې د شوروي اتحاد د سفیر الف. پوزانوف سیاسي لیک (یادښت لیک) | |
| نېټه:<br>۰۵/۳۱/۱۹۷۸ | سرچینه:<br>دغه لاسوندی د معاصرو لاسوندونو د سرچینوپه مرکز کې د اوږ آرنه د اخیستل شویو نوټونو پربنسټ ولاړ دی<br>Center for the Storage of Contemporary Documentation (TsKhSD), fond (f.) 5, opis (op.) 75, delo (d.) 1179, listy (ll.) 2-17 |
| دلاسوندي پیژندنه :<br>"د افغانستان د ډیموکراتیک جمهوریت د کورني سیاسي اړوپیچ په تړاو" د شوروي د بهرنیو چارو وزارت ته په افغانستان کې د شوروي اتحاد د سفیر الف. پوزانوف سیاسي لیک (یادښت لیک) د نوي افغاني دولت د راتېنګولو لپاره د مرستې په اړتیا ټینګار کوي. | |

د یادولو وړ ده چې د [محمد] داؤود د [واکمنۍ - ژ] د راپرځول کېدلو " لومړني اټکلونه" له ۱۹۷۳زکال وروسته هغه مهال را پیل شول چې د هیواد د کورني اقتصاد او سیاست د پرمختیا لپاره د هڅو لړۍ په لاس کې ونېول شوه او پایله یې د ۱۹۷۸زکال د اپریل د مپاشتې پرپېښې را واوښتله. داؤود خپله پاملرنه د متضادو منځنیو ځمکوالو پاړکو ' طبقو ' او ښي اړخو ولسپالو ځواکونو ګټو ته را وګرځوله او له دې امله یې ونه شوای کولای د پراخې کارګرې پاړکې په ګټه " خپل ریفورمونه را پلي کړي چې په لومړي سر کې د کرهنیزو ځمکوسماونیز یا اصلاحي ریفورمونه " ولاړ ول. په هېواد کې د ورانۍ پر مخ د یوه روان اقتصاد په چاپیریال کې او د ۱۹۷۳زکال له خپرې شوې تګلارې څخه اوښتـنګ " د و ګړو د ناخوښیو د مخ په ودې مورچلونو راجوړولو ته لاره را پرانیستله"، د داؤود د پټو تړاونو لړۍ چې ملاتړ یې د " اسلامي مرتجعو رژیمونو " او د" امریکا د پانګوالۍ " له پلوه کېده، " کورنی غبرګون" را وپاراوه، او دغې چارې په خپله رژیم د " شخصي واک د پیاوړي کولو" لورته را وکاږه.

دغسې یوه اړوپیچ " د داؤود د رژیم او د هغه د پاړکیزو یا طبقاتي ملاتړو او د پراخ بنسټې کارګرې پاړکې ترمنځ چې غبر یې د افغانستان د خلق په ډیموکراتیک ګوند کې راغبرګېده " د ناانډولۍ پرکـَندې یوه پریړه کرښه رامنځ ته کړه .

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



د افغانستان د خلق ډیموکراتیک [د مشرتابه � ژ] د نیول کېدلو په اړه د داؤود امر د هغه د رژیم پرراپرځېدنګ را واوښت. د [۱۹۷۹زکال د مې د مباشتې د اعلامېې] پربنسټ د تره کي د دولت تګلاره د افغانستان د خلق ډیموکراتېک ګوند د ۱۹٦٦زکال له راخپل کړل شوې تګلارې سره سم دا دی اوس پرمخ ځي. تر ټولو لوی کار د کارګرې پاړکې د ګټو لپاره د ټولنې د ټولنیزو- اقتصادي جوړښتونو بیارغاونه، او " د نوی ښکیلاک او پانګوالۍ د اغیزو له منځه وړل دي."

د اپریل د مباشتې په ۲۹ تره کي د شوروي له سفیر سره په خپلې یوې مرکې کې وویل چې" افغانستان به د مارکسییزم � لیننیزم د تګلارو په راخپلولو د سوسیالیزم د جوړولو لپاره لاره هوار کړي او په سوسیالیستي بلاک پورې تړلی یو هیواد به سي" خو موږ ته ښایي چې دغه لاره په " ډېرځیر او احتیاط " را پلې کړو او د افغانستان د خلق ډیموکراتیک ګوند به د هېواد وګړي" وروسته " له خپلې اصلي موخې را خبر کړي."

د افغانستان ډیموکراتیک جمهوریت په خپل بهرني سیاست کې د ناپییلتوب دغورځنګ لور ته لېواله دی، خو د شوروي اتحاد له سوسیالیستي جمهوریتونو سره همکارۍ ته به لومړیتوب ورکړي.

د لوېدېيز د غبرګون په اړه: د داؤود راپرځېدنګ " ټول هک پک کړل" او د نوي دولت په وړاندې د لوېدېزو او د " مسلمانومرتجعو هېوادونو" رسنیو د " درواغو د خپرولو کمپاین" راپیل کړ.

له بله اړخه " د هغو مالوماتو پربنسټ چې موږ یې لرو" د امریکا او نورو لوېدیزو هېوادو سفارتونو لارښوونې ترلاسه کړیدي چې په افغانستان کې د پاتې کېدلو لپاره دې ټولې لارې چارې د اقتصادي مرستو د ژمنو د ورکولو په ګډون ، و پلټي.

د افغانستان مشرتابه، د بهرنیو اقتصادي اړیکو په بیا رغاونې کې چې د لومړیتوب اوړه یې د شوروي سوسیالیستي جمهوریتونو او د سوسیالیستي بلاک پَـلـَـو ته کړه ده ، له لوېدیز سره د اقتصادي تړونونو په ترسره کولو کې له" ځانه بیره نه راڅرګندوي "

هغه ګامونه چې په دغې مباشت کې د نوي دولت له پلوه را اوچت شوي د سترګو د لېدلي حال په توګه د دولت په هغو" ټینګو موخو" ټینګارکوي چې کرار کراربه د سوسیالیستي پرمختګ د لارې د هوارولو لپاره په " افغانستان کې" مخکېنې شرایط رامنځ ته شي.

وګړي د نوي واک ته رسیدلي د افغانستان د خلق له ډیموکراتیک ګوند او د هغه له کړنو څخه په ټینګه ملاتړکوي. " په همداسې یوه مهال کې که څه هم " کورني غبرګون" "برالا لاریون" ته لاس نه دی اچولی خو پټې او ترځمکې لاندې هڅې یې راپیل کړې دي " (ډنډورې، د وسلو د راتګ بهیر او کوډلارې ډلې چې د پاکستان له پلوه سمبالیږي).

د خلق اود پرچم د ډلو ګوند او ګوند بازۍ ناوړه اغیزې لري. تر ټولو لویه شخړه د دولت د دریزونویا پوستونو د راخپلولو پرسرده. د خلق د ډلې استازي د پرچم د ډلې د استازېو له مشرتابه سره په لوړو پیاوړو پوستونو په ځانګړې توګه په پوځ کې په کارکولو خوښ نه دي. د پرچم د ډلې مشر[ببرک] کارمل په خپل وار د پوځ په ګټه د انقلابي

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



شورى له پراخېدلو څخه کلکه سرټکونه کړی ده. سفير او " ګوندي سلاکارانو" د خپلو خبرو او مرکو په ترڅ کې په راپاڅېدلې " تاوتريخوالي" د لاس بري کېدلو او د ګونديز مشرتابه او د ګوند د "يووالي پرپياوړي کېدلو" ټينګار کړی دی. په پای کې د ۱۹۷۸زکال د مې د مياشتې په ۲۴ نېټه د افغانستان د خلق ډيموکراتيک ګوند د مرکزي کمېټې سياسي بيرو پريکړه وکړه چې د خلق او د پرچم د ډلو نومونه له منځه يوسي او د افغانستان د خلق د ډيموکراتيک يو موټي ګوند په نامه له يو بل سره سلا شول.

افغانانو د شوروي اتحاد له جمهوريتونو څخه وغوښتل چې د "مشاورينو او سلاکارنو يولويه ډله" دې وروليږي چې له دولتي کارکوونکو او د پنځه کلن پلان د برخو په يو ځای کولو کې ورسره د مرستې لپاره جوګه شي. د شوروي سوسياليستي جمهوريتونو دغه غوښتنې په " ورين تندي" ومنلي.

دا به د شوروي اتحاد د سيوسياليستي جمهوريتونو لپاره لاره پرانيزي چې موږ په افغانستان کې خپل دريزونه لا نور پياوړي او غښتلي کړو.

پايليزې خبرې: حالت په هيواد کې " په ټوليز ډول د هرې ورځ په تيرېدلو" لا پياوړی کيږي، دولت په خپلو ټولو سيمو خپل واک راتينګوي او د " کورني غبرګون او لاريونونو د .... د پريکولو لپاره" اقدامات تر لاس لاندې نيسي.

د نوې واکمنۍ د لا راټېنګولو لپاره ترټولو اړينه خبره د افغانستان د خلق د ډيموکراتيک ګوند او دولت په مشرتابه کې د يو موټي والي راوستل دي. خو " تاو تريخوالی لا تر اوسه له منځه نه دی تللی". سفارت او ګونډې سلاکاران دواړه په ګډه د افغان د مشرتابه د ډلې په منځ کې پراختلافاتو د لاس بري کېدلو په موخه اړين ګامونه را اوچتوي.

اخځ:

http://www.wilsoncenter.org/index.cfm?topic_id=1409&fuseaction=va2.document&identifier=5034DB6A-96B6-175C-91262B384BCC068C&sort=Collection&item=Soviet%20Invasion%20of%20Afghanistan

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



## په افغانستان کې دروسانو د تبلیغاتو د مورچل جوړول

پښتو ژباړه : رحمت آریا

سپتامبر ۲۰۰۸

| | |
|---|---|
| "د افغانستان له ډیموکراتیک جمهوریت سره د رَسَنیو په پیاوړي کولو کې مرسته | |
| نیټه:۰۲/۱۹/۱۹۸۰ | سرچینه: |
| د لاسوندي پېژندنه<br>هغه پلان چې په افغانستان کې شوروي پلوې ، انقلاب ضد رَسَنۍ جوړه شي.<br>په دغه پلان کې په ماسکو کې د باختر آژانس د خبري رَسَنۍ لپاره د عملي زده کړو لارې چارې هم په پام کې شوې دي | |

۱.د افغانستان په ډیموکراتیک جمهوریت کې سیاسي اړوپیچ ته په کتنې د شوروي اتحاد ټولې رسنۍ هڅې کوي چې په افغانستان کې د شوروي اتحاد له کړونو او دریز څخه په کلکه ننګه وکړي او څرګنده کړي چې ټولې هڅې د افغانستان د ملي خپلواکۍ ، ځمکنۍ بشپړتیا ، د ښه ګاونډیتوب د اړیکو او د افغانستان او شوروي د وګړو ترمنځ د همکارۍ او ملګرتوب لپاره دي او موخه یې د شوروي ضد، د پانګوالو هېوادونو او د پیکنګ د زبرواکپالو پالیسیو له مخې د افغان- ضد دریزد څادر لېرې کول دي. د نوي مشرتابه د تګلارو د تبلیغاتي کمپاین په تړاو دې افغانو ټولیزو رسنیو ته ټینګه اوډه ورکړل شي .

۲ .د افغانو ملګرو پام دې په خپرونو کې زیاتـوالي ته را واړول شي چې په ترڅ کې یې په افغانستان کې په کورني ژوندانه کې د ښو بدلونونو د منځ ته راتللو څرنګوالي ته غبرګون ورکړي. د شوروي سیوسیالیستي جمهوریتونو د دولتي تیلیویزیون او د راډیو د خپرونو کمېټه او د " نووستې" خبري ایجنسۍ د خپلو بهرنیو کانالونو له لارې پورتنۍ تبلیغاتي تګلاره خپروي .

۳ .د افغا نستان د ډیموکراتیک جمهوریت ټولیزو رسنیو ته د اوډه ورکولو لپاره :

د شوروي سوسیالیستي جمهوریتونو ګوس- تیلیراډیو :

د شوروي سوسیالیستي جمهوریتونو د مخابراتو د وزارت په همکارۍ دي، د سنجول شویو راډیویي څپو خپرَنیز اوزار د ځانګړې شوې " اختصاصي" بودېجې له لارې په پام کې ونیول شي او د شوروي د راډیو په خپرونو کې دې د پښتواو دري ژبو د خپرونو وختونه دوه ځله نور زیات شي او ډاډ دې تر لاسه شي چې د دغې راډیو خپرونې د افغانستان او پاکستان په څېرمو سیمو کې د اوریدلو وړ رسنیزه ورتیا ولري .

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



د ۱۹۸۰ز کال په دویمه اودریمه څلوریزه کې دې، په یوه درې مباشتني عملي زده کړنیز پروګرام کې د افغان راډیو او تیلیویزیون پینځه تنه کارکوونکي ومنل شي؛

د شوروي اتحاد د سوسیالیستي جمهوریتونو د ګوس- تیلیراډیو لپاره دې په کابل کې په یوې ځانګې کې استازی دفتر او د یوه خبریال او یوه مرستیال کاریزه ځوکۍ هم په پام کې ونیول شي.

د ۱۹۸۰زکال په دوېمه څلوریزه کې دې افغانستان ته د شوروي د تیلیویزون د تیلیګرافۍ یوه درې کسیزه ډله واستول شي ( خبریال، د کمرې چلوونکی او د غږ سمبالوونکی)،

ټیلیویزوني په ځانګړې توګه خبرونه او د پروپاګند ضد مواد دې افغانستان ته واستول شي. " زموږد سترشمالي ګاونډي هېواد" تر نامه لاندې دې یوه نیم ساعته خپرونه چمتو او یوازې په دري ژبه دې د مباشتنۍ خپرونې لپاره دبینګ شي .

تاس :

له "باختر آژانس" سره دې د بهرنیو خپرونو په ځانګه کې مرسته وشي. د دې ترڅنګ تاس او د شوروي اتحاد د سوسیالیستي جمهوریتونو د مخابراتو وزارت دې د کابل � ماسکوترمنځ راډیو -تیلیګرافي چینل پرانیزي چې په پای کې یې له کابله تر عربي، اروپایي او د افغانستان د ډیموکراتیک جمهوریت ترګانډیو هېوادونو پورې خپرنیزه او رسنیزه وړتیا ورلي؛

له " باخترآژانس" سره دې مرسته وشي چې له هندي یو ان آی اینجسۍ سره یو تړون لاسلیک کړي چې له مخې یې نوموړې اینجسۍ د خپلو چینلونو له لارې د افغان وګړو د ژوندانه په اړه مواد خپاره کړي؛

افغان لوري ته دې له اضافي پرزو سره یو ځای د فارسۍ ژبې ۲۰ تیلي ټایپ وړیا ماشینونه او د دوه سوه زرو شوروي روبلو په بیه په شوروي کې جوړ اړوند په لاس چلېدونکي ماشینونه ور ولېږل شي؛

د چارو د سمبالولو لپاره دې یو سلاکار د شپږومباشتو لپاره د افغان "باختر" آژانس په واک کې ورکړل شي؛

د تاس د قانونو په کاري او د ټاکلې کارګري تنخوا په ا ډانه کې د افغان "باختر" آژانس د ایجنسۍ شپږ تنه کارکوونکي دې د درې میاشتـنۍ عملي زده لپاره ومنل شي او د عملي زده کړو پر مهال دې د عملي زده کړو د زده کوونکو لپاره ځانګړي شوي ژمني توکي [ایخـیـپروکا] ورکړل شي؛

د افغانستان ډیموکراتېک جمهوریت ته د ترانسیفرونو د ځای پرځای کولو، همغاړه کولو او د پرسونل د روزلو لپاره د ( " خبري موادو �ژ" د اخیستلو او ورکولو) کارپوهان واستوئ

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



الف پ ن (اي پي ان)

د افغانستان په ډیموکراتیک جمهوریت کې د اي پي ان له لارې دې په پښتو او دري ژبو د " اخبار" د مجلې د هرې گڼې ویشنه شلو زرو ته لوړه شي

سرله ۱۹۸۰زکاله دې د ای پي ان له لارې په پښتو او دري ژبو د ادبي خپرونو کچه را لوړه شي او په هغې کې دې د تیوری ، د شوروي اتحاد د کمونیست گوند د مرکزي کمېټې د کړنو او په شوروي سوسیالیستي جمهوریتونو کې د سیاسي تجربو او توکمیزې پالیسۍ سکالو ته لومړیتوبونه ورکړل شي؛

په دري اوپښتو ژبو دې د [ ناد پیسي] {روسي اصطلاح او نامتو خپرونې � ژ} تر نښې لاندې د انځوریزواخبارونوخپراوي ته سمبالتیا ورکړل شي .

د شوروي سوسیالیستي جمهوریتونو د چاپي خپرونو، چاپـَونو او د کتابونو د سوداگرۍ دولتي کمېټه دې :

د افغانستان د ډیموکراتیک جمهوریت د اطلاعاتو او کلتور له وزارت سره په همکارۍ کابل ته د کارپوهانو یوه ډله واستوئ چې د چاپي تولیداتو د کچې د سمبالولو، د کارکوونکو په روزنې او په چاپیزو چارو کې د کورنیو سیمه یزوکارکوونکو د کارپوهنې لوړاوي ته وده ورکړي؛

د افغانستان د ډیموکراتیک جمهوریت د اطلاعاتو او کلتور له وزارت سره په همکارۍ او د شوروي سوسیالیستي جمهوریتونو د کارپوهانو او کارپوهنیزو یا مسلکي زده کړو له دولتي کمېټې سره په یوځای والي دې د ځانگړ شوې ونډې په اړانه کې د افغان چاپوونکو د روزنې چارې دې سمبال او ترلاس لاندې ونېول شي؛

د شوروي سوسیالیستي جمهوریتونو د نصبولو او ودانولو د چارو له وزارت سره په ملتیا دې یو سلا کار کابل ته واستول شي چې د آفسیت د اخبار چاپولو د شپږ رنگیزه چاپ - ماشین په چالانولو کې مرسته وکړي .

۴ . د شوروي سوسیالیستي جمهوریتونو د منځنیو اولوړو زده کړو وزارت دې له افغان لوري سره په گډه د بشري زده کړو په ځانگه کې د شوروي د لوړو زده کړو په انستیتیوتونو کې شل تنه افغان زده کوونکي غوره او هغوی دې د ورځپاڼو، راډیو او ټیلیویزیون په څانگو کې وروزي او همدا شان د ۱۹۸۰ او ۱۹۸۱ زکلونو لپاره د ژورنالیزم په ښوونځیو کې د شوروي د لوړو زده کړو په انستیتیوتونو کې د افغان زده کوونکو د منلو په اړه دې له افغان لوري سره خپلو خبرو ته دوام ورکړي .

۵ . د شوروي سوسیالیستي جمهوریتونو د سینماتوگرافۍ دولتي کمېټې له افغان لوري سره په درَي او پښتو ژبو د یوه گډ لاسوندیز 'مستند' فیلم د جوړولو لپاره د همکارۍ یوتړون وروستنیو پوړیو ته را رسولی دی چې په هغه کې د افغان وگړو په ژوند کې راغلي بدلونونه را ځرگندیږي او د افغانستان د خپلواکۍ پر وړاندې د پیکینگ او پانگوالو کړیو ورانکارې کړنې ورغندل کیږي؛ په ازبکستان او تاجیکستان کې د ډبینگ په برخه کې له افغان لوري سره د شوروي د څیړې او په لاسوندیزو فیلمونو کې دې مرسته وشي .

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



٦ .د توکو، تخنيکي څانګو اوله افغان لوري سره د ټوليزو رسنيو لپاره د مالي مرستو د برابروني لګښتونه :

د شوروي سوسياليستي جمهوريتونو د ماليې چارو وزات :

د ۱۹۸۰زکال او ورپسې کلونو لپاره له دولتي بودېجې څخه له ځانګړي شوي جلا کړل شوي اختصاصي لګښت څخه دې د تاس او مخابراتو د وزارت لګښت ورکړل شي چې د کابل � ماسکو ترمنځ د راډيو- ټيليګراف د چينل د سمبالولو او له کابله د رارسيدونکو مالوماتو د آخذې آسانتياوې را برابرې کړي؛

کابل ته د کار پوهانو لګښت دې د شوروي سوسياليستي جمهوريتونو د دولتي بوديجې له هغې څانګې څخه چې د بهرنيو هيوادونو لپاره د وړيا مرستو د ورکړې لپاره ځانګړې شوې د شوروي سوسياليستي جمهوريتونو د [ګوسکوميزدات] او د شوروي سوسياليستي جمهوريتونو د[ مينموتاژپيڅستروی] له لارې برابرشي؛

په دَرې او پښتو ژبو د خپرندويه اينجسۍ د خپرونو د پراخيتا لپاره دې د مالي لګښت په اړه له ای پې ان سره په ګډه پريکړه وشي .

د شوروي سوسياليستي جمهوريتونو د مخابراتو وزارت :

د کابل اود هېواد د لسو ولايتونو له مرکزونو سره د باخترآژانس د ايجسنۍ د راډيويي اړيکو د چينلونو لپاره چې ځايونه يې لا د مخه چمتو دي؛ افغان لوري ته دې د سلو زرو روسي روبلو په ارزښت شل دانې د آرايس او- ۳۰۰ او آرايس او � ۳۰ ترانسيفرونه له آنتنا او ګاسولين سره يو ځای وليږل شي؛

د افغانستان ډيموکراټيک جمهوريت ته د کارکوونکو د روزلو او د ترانسيفرونو د سمبالولو او ځای پرځای کولو لپاره دې لس تنه کارپوهان واستول شي .

د مخابراتي توکو د صنايو وزارت دې له خپلې زيرمې څخه په ۱۹۸۰زکال کې د شوروي سوسياليستي جمهوريتونو د مخابراتو د وزارت له لارې دې لس آر ايس او ۳۰۰ ترانسيفرونه ورکړي .

د شوروي سوسياليستي جمهوريتونو د ګاز- پلان اداره دې تاس ته د اسعارو د آزاد بازار په بيې اتيا زره شوروي روبله ورکړي چې د افغان باخترآژانس لپاره پرې توکې ور واخلي .

د باختر افغان خبري آژنس لپاره د بهرنۍ سوداګرۍ وزارت دې په ۱۹۸۰زکال کې تاس ته د توکو د رسونې له لګښت سره يو ځای شل د ټايپ زيمنس ماشينونه چې د فارسي ژبې د لېکلو وړتيا ولري، واخلي .

## د هوايي ملکي ترانسپورت وزارت:

له کابله تر ماسکوه - له ماسکوه بيرته تر کابله د شوروي روبلو په لګښت د تاس د وړانديز پر بنسټ شپږو تنوافغانانو، او د شوروي سوسياليستي جمهوريتونو د ګوس تليراډيو د غوښتنې پربنسټ پينځو تنوافغانانوته دې د تګ او راتګ ترانسپورتي لارې چارې برابرې شي .

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



د شوروي روبلو په بيه د شوروي سوسياليستي جمهوريتونو د مخابراتو د وزارت له مصرفي بوديجې څخه دې ، کابل ته د شلو آر ايس او ۳۰۰ او آر ايس او ۳۰ ترانسيفرونو، آنتنا اود تيلو د جنراتورونو د ليږد چارې تر لاس لاندې ونيسي

د شوروي روبلو په بيه د تاس له مصرفي بوديجې څخه د شلو زيمنس ټايپونو او ورسره ا ضافي پرزو او همدشان تاس ته د اختصاص ورکړل شويو په لاس چلېدونکو ماشينونو ليږد دې ترکابله په پام کې ونيول شي

د وزيرانو د شورى د بهرنيو سيلانيانو لوى رياست دې تاس ته اجازه ورکړي چې په ماسکو کې د افغان مېلمنو زده کوونکود مليمستون لګښتونه دې د شوروي وګړو لپاره د لګښوتونو د ځانګړي شوي ليست له مخې ورکړي .

دوېمه کاپي : سکرتر ته

---

وليږل شوه [ ځاى سپين دى]

33vs

د لاسوندي سرچينه او اخځ :

http://www.wilsoncenter.org/index.cfm?topic_id=1409&fuseaction=va2.document&identifier=5034DA02-96B6-175C-9DF6EBC81C8212F3&sort=Collection&item=Soviet%20Invasion%20of%20Afghanistan

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



## احمدشاه مسعود او روسي سلاکار

پښتو ژباړه : رحمت آريا

سپتامبر ۲۰۰۸

| د احمدشاه مسعود لیک د روسانو لوی سلاکار ته | |
|---|---|
| نېټه<br>۱۲/۲۶/۱۹۸۸ | سرچینه :<br>باریس گروموف، " اوگرانیچیني کونتینجنت" (محمود قطعات)، پروگرس، ماسکو، ۱۹۹۴ |
| د لاسوندي پیژندنه:<br>دغه لاسوندی د احمدشاه مسعود له پلوه یولیک دی چې په افغانستان کې د شوروي پوځیانو د ښکېلوالي په تړاو د هغه چال چلند رابربنډوي | |

### ښاغلی سلاکار!

کله چې ما ستاسو لیک تر لاسه کړ نو تر هغه لا مخکې ما غوښتل چې په ټاکل شوي ځای کې د شوروي له استازي سره وگورم. د لاخرگندولو لپاره باید راغبرگه کړم چې : موږ د لسو کالو په اوږدو کې جگړه او ستاسو شتون زغملی دی. انشاالله د ځورنورو ورځو لپاره به يې نور هم و زغمو. خو که تاسو پوځي عملیات راپیل کړئ نو موږ به یې د مخنیوۍ لپاره غبرگ ځواب ورکړو. بس همدا ده. موږ به سر له ننه خپلو ټولگیو او ډلو ته د عملیاتو لپاره د بشپړه جگړه ییز تیارسی دنده وسپارو.

په درناوي،

احمدشاه مسعود

۱۹۸۸ دیسامبر ۲٦

د لاسوندي سرچېنه:

http://www.wilsoncenter.org/index.cfm?topic_id=1409&fuseaction=va2.document&identifier=5034D290-96B6-175C-9E996A8244FE5265&sort=Collection&item=Soviet%20Invasion%20of%20Afghanistan

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



## احمدشاه مسعود دروسي سترتيژۍ پلي کوونکي ګوډاګۍ

د نجیب الله د واکمنۍ په دَور کې د نجیب یاور جنرال اسحق توخي د ټول افغان له لارې یوه ډیره په زړه پورې لیکنه خپره کړې او په هغې کې یې له یو شمیر حقایقو څخه ځادر لیرې کړی دی. ښاغلی توخي د خپلې لیکنې " ډُکتور نجیب الله و خروج نیرو های نظامي شوروي از افغانستان" په ۱۴ او ۱۵ پاڼه کې د شمالي ټلوالې د بولندوی احمد شاه مسعود په اړه داسې لیکي :

"په هغو شپو ورځو کې چې د شوروي ځواکونو د وتلو لړۍ خپلې بشپړیدا ته نیږدې کېدله د شوروي د بهرنیو چارو وزیر ادوارډ شیواردنازي د یوه پلاوي په مشرۍ کې کابل ته را ورسید. د نوموړي له سفر وروسته ډُکتور نجیب الله ما لیکوال ته وویل ' اوس ورته ځرګنده شوې چې د کابل په ښار کې د خوراکي توکو د زیرمو د تشولو د سبوتاژ په اړه د حسن شرق د مشکوکو کړو وړو تر شا د مسکو د زړو کارپوهانو لاس دی. ډُکتور نجیب الله د خپلو خبرو په دوام وویل ، شواردنازي په پټه راته وویل چې

'ددې تر څنګ چې د ټولو امنیتي چارو څار ته ډیره پاملرنه وکړئ د شوروي د سرتیرو د وتلو د لړۍ تر بشپړیدا پورې د سروزیرې له څوکۍ څخه محمد حسن شرق مه لیرې کوئ ترڅو ستاسو پر وړاندې د شوروي د مشرتابه کړۍ را ونه پاریږي '.

وروسته څرګنده شوه چې د مسکو زاړه کارپوهان د حسن شرق ، ګلابزوی ، شهنواز تنی ، پاچا ګل وفاداراو په احمدشاه مسعود پورې د تړلو کسانو او ستمیانو د ګډولې په راټولو د شوروي د سرتیرو له وتلو سره سم یوه کودتا په لاره واچوي ترڅو نړیوال په دې خبرې ډاډه کړي چې افغانانو خپل برخلیک په خپلواکه توګه په خپل لاس کې واخیست.

په همدې تړاو زما ښه په یاد دي چې له افغانستانه د شوروي سرتیرو د لړۍ له بشپړیدا وروسته د ډُکتور نجیب الله په نامه د هیواد له ولایتونو څخه یو شمیر شفرونه را رسیدلي ول ، ما دغه پاکټونه پرانیستل چې په هغو کې یوه پاکټ زما پام ځانته را واړاوه. دغه پاکټ له هغو پاکټونو څخه توپیر درلود چې د شفرونو د رالیږلو لپاره په کار وړل کیدل. پاکټ مې پرانیست او و مې لیدل چې پر یوې کوشنۍ پاڼې په دري ژبه لیکل شوی لیک د شوروي د سفیر یولي ورانتسوف په نامه لیک وو چې د احمدشاه مسعود له پلوه د شوروي سفیر ته لیږل شوی وو. په لیک کې داسې لیکل شوي ول:

"ښاغلی سفیر! ستاسو پیام مې چې له ما سره مو د لیدلو په اړه را لیږلی وو ، ترلاسه کړ. له دې چې تاسو په خپلې ژمنې چې واکمني به له " دال" څخه " شنه " ته لیږدوئ پالیالي ونه کړه ، نو له تاسو سره د لیدلو څه اړتیا شته ؟ "

ما نوموړی پاکټ په بیړه ډُکتور نجیب الله ته ور ووړ، د شفر په لوستلو په فکر کې ډوب شو او له ما یې وپوښتل تاسو ته د " دال" وییکي څه مانا ښندي؟ ما وویل ، دوې ماناوې ښندي یا " ډیموکراتیک خلق " یا " ډاکټر نجیب" او

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



د " شنه" وييکی په خپله څرګنده ماناښندي ، اخوانيان ، يعنی دی " مسعود" په خپله. ډُکتور نجيب الله وويل پاکټ په هغه بڼه بيرته وتړه چې هېڅ څوک ورباندې پوه نه شي او بيرته يې ماته راوړه " .

سرچينه : وګورئ Dr.Najibullah Wa Khorouj Nairo haie Shprawi :

له دغې ليکنې مخکې ما " ژباړونکي" د وودرو ولسن د مرکزله پلوه خپور شوی لاسوند د بينوا د ويبپاڼې د جنګي جنايتکارانو د ځانګړ شوي برخې له لارې خپور کړی وو چې احمدشاه مسعود د شوروي د يرغلګرو ځواکونو د ځلويښتم لښکر بولندوی جنرال باريس ګروموف ته ليږلی وو. يو شمير کسانو پر نوموړي ليک د وياړ په ترڅ کې ويلي چې مسعود غوښتل د روسانو پښه ورلنډه کړي خو له دواړو ليکونو او لاسوندنو په ډاډ جاج اخيستل کيږي چې روسانو مسعود د خپلو ستراتيژيو د يوې آلې په توګه په کار اچولی وو. شوروي روسانو نه يوازې مسعود ته اقتصادي او پوځي مرسته ورکوله بلکه نوموړی يې د خپلو ستراتيژيکو موخو لپاره د خپل يرغل او له يرغله په وروسته کلونو کې په کار واچاوه. داسې بريښي چې له مسعود سره روسانو پخې ژمنې کړې وې ، د هغو ژمنو له منځه يوه يې مسعود ته د افغانستان د واکمنۍ ليږدول ، او په بد ترينه حالت کې د افغانستان د نهو شمالي ولايتونو بيلول او له تاجکستان سره د هغوی نښلول ول. دغه نهه ولايتونه د هندوکش په لمنه کې پراته دي او هندوکش د روسانو لپاره يو ستراتيژيک دريځ لري او مسکو په افغانستان کې له خپلې بدنامې ماتې وروسته لږ تر لږه د هندوکش په څارنه او کنترول بسنه کوله. دواړه ليکونه او لاسوندونه د همدغې ستراتيژۍ بيلګې دي .

که ښاغلو لوستونکو د " حاجي مراد" په نامه د ليو تولستوی د ۱۹۱۲ زکال ناول لوستلی وي نو هغوی ته به پته ولګيږي چې شوروي کمونيستانو له خپلو تزاري واکمنو څخه په زده کړی د افغانستان د يرغل په کلونو کې دويم حاجي مراد د احمد شاه مسعود په نامه وزيراوه چې د افغانستان د جهاد ملا پر هغه ور ماته کړي او روسان په افغانستان کې خپلو موخو ته ورسيږي. د ليو تولستوی د حاجي مراد د ناول غټ ټکي په لاندې ډول دي :

"حاجي مراد په قفقاز کې د امام شامل د خپلواکۍ غوښتونکې ډلې يو بولندوی دی. مراد له خپلو دوه تنو ملګرو سره يو ځای د شامل له ډلې تښتي او د سادو په نامه د يوه تن په کور کې چې د شامل له ملاتړو څخه دی پناه اخلي. کليوال خبريږي او غواړي شامل ته د هغوی د پټېدا په اړه خبر ورکړي. د مراد د ډلې يو تن په دې بريالی کيږي چې له روسانو سره اړيکه ونيسي او له هغوی سره وګوري. شامل په دې هيله په ولادي واستوکيا کې له روسانو سره ګوري چې د هغوی په مرسته د شامل ځواکونه په شا و تمبوي. په ولادي واستوکيا کې مراد له روسي شهزادګي سيميون ورانتسوف او د هغه له مانديني ماريا سره د ملګرتوب اړيکي ټينګوي او د شهزادګي د لښکر کوټ د بولندويانو زړونه لاس ته راوړي. وارنستوف ، مراد ته خپل لاسي ساعت د نخښې په توګه ورکوي ".

په دې توګه مراد د روسانو د ملاتړ په مټ له شامل سره کورنۍ جګړه پيل کوي ؛ روسان له مراد څخه د شامل د ځواکونو په ټکولو کې ډيره ګټه تر لاسه کوي لکه چې له احمد شاه مسعود څخه يې تر لاسه کړه. مسعود په هېڅ ډول د سالنګ په سويلي څنډو اود شمالي ډنډ په اوږدو کې يې د مجاهدينو هېڅ ډلې ته اجازه نه ورکوله. لاسوندونه

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



په زباد رسوي چې مسعود به په همدغو سیمو کې د میشتومجاهدینو کواردیناتونه روسانو ته ورکول او روسانو به په ناڅاپه د شوبلو او الوتکو غوبل پیل کړ.

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



# احمدشاه مسعود او روسي سلاکار

پښتو ژباړه: رحمت آریا

سپتامبر : ۲۰۰۸

| د ببرک کارمل او د چک د ډیپلوماتیک ټرون د مشر ترمنځ د خبرو د ثبت لنډیز | |
|---|---|
| نېټه<br>۱۹۷۸/۱۲/۰۹ | سرچینه:<br>مرکزي دولتي آرشیف، د شوروي اتحاد د سوسیالیستي جمهوریتونو د کمونیست ګوند د مرکزي کمېټې آرشیف، د هوسک دوسیه، نا زیرمه شوي توکي، د افغانستان بکس. [مورېته] د اولدریچ توما له پلوه را چمتو سوي دي. |
| د لاسوندي لنډیز :<br>د ببرک کارمل او د ډیپلوماتیک ټرون د مشرترمنځ د خبرو اترولنډیز چې کارمل د خپلې سفارتي چارواکۍ د پاي په ترڅ کې په چکسلواکیا کې د سیاسي پناه غوښتنه کوي | |

ببرک کارمل د سپتامبر په ۱۱ نېټه د ماسپښین په دریو بجو د ډیپلوماتیک ټرون له مشره سره وکتل. هغه خپلې خبرې په چکسلواکیا کې د هغه د اړوندو ډیپلوماتیکو چارو په پای موندلو راپیل کړې. د ډیپلوماټک ټرون مشرځواب ورکړ چې د بهرنیو چار وزارت غه خبر په کابل کې د چکوسلواکیا د استوګن سفارت له لارې تر لاسه کړی دی.

کارمل وویل چې هغه پوهېده د هغه اړوندې چارې په چکوسلواکیا کې په رسمي ډول پاې ته رسیدلې خو د خپل ګوند د مشرتابه د یوه غړي په توګه غواړي له ملګري بیلک سره وګوري چې د خپل هېواد داړوپیچ او د خپل ځان په تړاو ورسره خبرې وکړی. همداشان کارمل خبر ورکړ چې د اوسني روان کورني اړوپیچ په اړو دوړ کې نه غواړي خپل مورني ټاټوبي ته بیرته ستون شي خو یوه پانګوال هېواد ته په هېڅ ډول کډوال کېدنې ته لیوال نه دی. هغه خپله موخه رابربنده کړه او د سیاسي پناه غوښتنه یې وکړه.

کله چې کارمل د سفارت له کاره له ګوښه کېدلو وروسته په چکسلواکیا کې د خپل مدني حالت په تړاو پوښتنه وکړه چې مدني حالت به یې څه وي نو د ډیپلوماتیک ټرون مشر ځواب ورکړ چې تاسو د یوه افغان تبعه په توګه د افغان د سفارت تر ساتنې لاندې یاست.

اخځ :

http://www.wilsoncenter.org/index.cfm?topic_id=1409&fuseaction=va2.document&identifier=5034D0DB-96B6-175C-90CF0C4CC31CC1C6&sort=Collection&item=Soviet%20Invasion%20of%20Afghanista

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



# افغانستان ته د شوروي اتحاد د سفير الف. ميم . پوزانوف او د تره كي منځ د خبرو لنډيز

پښتو ژباړه : رحمت آريا
سپتامبر، ۲۰۰۸

| افغانستان ته د شوروي اتحاد د سفير الف. ميم . پوزانوف او د تره كي منځ د خبرو لنډيز | |
|---|---|
| نېټه<br>۰۳/۲۲/۱۹۷۹ | سرچينه:<br>Notes by O.A. Westad in TsKhSD, f. 5, op. 76, d. 1044, ll. 29-30 |
| د لاسوندي د پېژندني لنډيز: افغانستان ته د شوروي اتحاد د سفير الف. ميم. پوزانوف او تره كي ترمنځ د خبرو لنډيز چې په ترڅ يې كې تره کی د پوزانوف له لاري د شوروي له مشرتابه څخه مننه كوي او سفير ته د هغو خبرواترو په تړاو مالومات وركوي چې ده د شوروي له مشرانو سره كړې وې. | |

تره كي پوزانوف ته د خپلو هغو خبرو اترو په اړه خبر وركړ چې نوموړي د پياوړو خوندي څپو لرونكوي (هاى فريكوينسي) راډيو له لاري له برژنيف، كاسيگين، اوستينوف، گروميكو او پونيماريف سره كړې وې. شوروي مشرانو پريكړه وكړه چې كه ايران، پاكستان او نورهېوادونه د افغانستان پرډيموكراتيک جمهوريت بريد وكړي نو شوروي اتحاد به ورسره سياسي او پوځي مرسته وكړي، ددې لپاره چې د هوا له لاري د ليږد چارو ته چټكتيا وركړل شي نو د كريديتونو د نېټې د پاى نيټې دې وځنډول شي، د افغانستان ډيموكراتيک جمهوريت ته دې سل زره ټنه دانه باب وركړل شي او د هغه طبيعي گازو بيه دې لوړه كړاى شي چې شوروي اتحاد له افغانستانه راپيرودلي دي. تره كي د شوروي اتحاد له سوسياليستي جمهوريتونو څخه مننه كړې چې دافغانستان د ډيموكراتيک جمهوريت په كورنيو چاروكې د پاكستان او ايران د لاسوهنې د غندنې په موخې يې اعلاميه خپره كړې ده.

[پاليزه يادښت: د افغانستان د اړوپيچ په تړاو د شوروي اتحاد د كمونيست گوند مركزي كمېټې ته د جوړ كړل شوي گزارش د ژباړې لپاره چې گروميكو، اوستينوف او پونيمارييف د ۱۹۷۹زكال د اپريل په لومړۍ نېټه چمتو كړی او سياسي بيرو ه د ۱۹۷۹زكال د اپريل د مباشتې په ۱۲ نېټې منلاى وو ، د سړې جگړې د نړيوال تأريخ د پروژې دريم بولتن وگورئ (د ۱۹۹۳ زكال منى) ٦٧ � ۷۹]

اخځ :

http://www.wilsoncenter.org/index.cfm?topic_id=1409&fuseaction=va2.document&identifier=5034DBF6-96B6-175C-935A5B274DB250F0&sort=Collection&item=Soviet%20Invasion%20of%20Afghanistan

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



## د امریکا سفیر: د شمالي ټلوالې جنګي جنایات نه شي کنټرولیدای

آرشیف � منځنۍ ، نوامبر ۲۰۰۱
راپورتر : مارک کولوین]1[
ژباړه : رحمت آریا

مارک کولوین: شمالي ټلوالې چې په افغانستان کې د طالبانو د والګي ( ګریپ ) د ماتولو لپاره دومره لوڅې پوڅې وکړې ، آیا اوس پوښتلای شو چې دغه ټلواله څوک کنټرولای شي؟
د بیلګې په ډول د شمالي ټلوالې یو بولندوی جنرال دوستم یو له هغو بې رحم ترینه توپکواکو جګړه مارانو څخه دی چې ډیري افغانان ورته له ویرې درنښت لري. په ځانګړې توګه افغان میرمنې لا تراوسه نه غواړي چې خپلې چادرۍ لیرې کړي ، دا د دې مانا نه ښندې چې ګڼې چادرې د هغوی خوښیږي دا ځکه چې هغوی د شمالي ټلوالې د جنسي تیریو پخوانۍ شپې ورځې په یاد لري او ویره لري هغوی نه غواړي چې د ټلوالې په شتون کې دې پخوانۍ پَیـر بیا را ژوندی شي .
تام شیفر [2] په آسترالیا کې د امریکا سفیر دی. ما نن له نوموړي څخه په مزارشریف کې د رامنځته شویو وحشتونو او بیرحمیو په اړوند پوښتنه وکړه .
تام شیفر: دغه ډول چلند او دې ورته نور کړه وړه چې ترسره شوي --- څرګنده ده چې ناوړه کړه وړه ول او ښکاره خبره ده چې موږ یې ملاتړ نه کوو .
مارک کولوین : خو تاسو د هوا له لارې د هغوی مرسته وکړه ، همداسې نه ده؟
تام شیفر: که په یوه جګړه کې ستا ملاتړ کوونکی وژل کیږي نو ته به هرومرو د هغه د وژل کیدا مخه نیسی. هلته په کلا کې دننه څو تنه را پورته شول ، په لاسونو کې یې بمبونه را واخیستل ، هغوی نه یوازې خپل ځانونه وژل بلکه نور خلک یې هم وژل ، کله چې د کلا د نیولو لپاره هڅې وشوې څرګنده ده چې د نیولو پر مهال خلک وژل کیږي ، او دا هغه څه دی چې پیښ شول .
]د ژباړونکی یادونه : دلته له کلا څخه د ټام شیفر موخه د کندز " قلعه جنګي " ده چې په ۲۰۰۱ زکال کې تسلیم شویو بندي طالبانو پاڅون وکړاو ګڼ شمیر یې ووژل شول. د لا زیاتو مالوماتو لپاره د بینوا ویب پاڼه � جنګي جنایتونه � د مرګ کاروان وګورئ [
مارک کولوین: که تاسو په هغه پړاو کې دومره کنټرول په لاس کې درلود نو ولې مو له هغه وروسته د جنرال دوستم د سرتیرو مخه ونه نیوله ؟
تام شیفر: و ګورئ! زه ګومان نه کوم چې د جنرال دوستم کنټرول به دقیقاً هغه څه نه دي چې موږ یې په خپل کار کې ولرو. زما موخه د هغوی د کړو وړو.....

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



مارک کولوین: ولې به نه وي ، آیا دا د دې لپاره چې ټول په دغه جګړه کې نوموړې خبره د یوې ستونزې په توګه یادوي؟ آیا په ډیموکراسۍ کې به دا مقوله د یوې ښې قاعدې په توګه و ګڼل شي چې زما د دښمن غلیم زما ملګری دی ، همداسې نه ده ؟

تام شیفر: ښه نو! زه ګومان نه کوم چې دا به ښه قاعده وي او زما په باور موږ داسې نه کوو. ګومان مې نه راځي چې موږ دې د پورتنې مقولې پربنسټ خپلې چارې بر مخ بوځو. دلته د جګړو لمنه له پخوا وختونو پراخه وه خو اوس که چا وحشت رامنځته کړی وي نو ښکیل کسان یې هرو مرو پازوالي لري او پازوال کسان دې د خپلو کړنو په ځواب کې عدالت ته را وکاږل شي .

زما په ګومان دا به تر یوې کچې ګرانه وي چې په افغانستان کې د هررامنځته کیدونکي وحشت د پړې بار دې د امریکا پر اوږو کښېښودل شي. موږ هلته نه یو بلل شوي. هلته داسې یو رژیم وو چې په خپله غیږ یې ترهګرو ته د پناه په توګه پرانیستلې وه ترهګر له همدغه ځایه را والوتـل ، په بې ګناه خلکو بار الوتکې یې وتښتولې او له آسمان څکالو ودانیو سره یې و جنګولې .

مارک کولوین: دا چورلټ د پوهیدو وړ ده خو....

تام شیفر: خو موږ غواړو چې نور یې پای ته ورسوو .

مارک کولوین : خو تاسو باید له دیموکراتیکو ارزښتونو څخه دفاع و کړئ نه دا چې هغه دړې وړې کړئ .

تام شیفر: زه خو هلته نه یم چې داسې وکړم ، خو که خبره پر امریکې راځي او که امریکا داسې کوي نو دا بیا امریکا ته ښه نه ده او نه باید داسې وکړي.

مارک کولوین : ځرګنده خبره ده چې همداسې کیږي او همداسې له شمالي ټلوالې سره په همکارۍ کې را منځته کیږي ، شمالي ټلواله د داسې کسانو له ګډولې څخه جوړه یوه ډله چې اکثریت یې بدنامترینه خونړۍ سابقه لري ، دا هغه کسان دي چې ستاسو د مټ او مرستې په زور یې د افغانستان کنترول په لاس کې اخیستی دی .

تام شیفر: موږ ورته د طالبانو د رنګیدا په هینداره کې ګورو او د طالبانو د واکمنۍ ګټه نن خلک ګوري. په بله وینا دلته داسې یو ملت وو چې د لوږې پر ژۍ ولاړ وو. اوس د لوږې پر ژۍ نه دی ولاړ ځکه چې امریکا ور ودانګل .

هلته یو نیم میلیون کسان ول چې خپله ورځنۍ ډوډۍ یې نه درلودله موږ تر ټولو ستره مرسته وکړه ، موږ خوراکي توکي ورکړل ، دا مرستې د جګړې لپاره نه دي شوي دا مرستې موږ له جګړې مخکې کړي. د دې په ویلو تاسو نه شئ کولای چې په افغانستان کې د هرې ستونزې د پازوالۍ پړه زموږ په اوږو را سپره کړې. زه ګومان کوم چې موږ ډیره لویه اجندا لرو .

مارک کولوین : ما خو اوس داسې نه دي ویلې خو دا ډیره ځرګنده ده چې.....

تام شیفر: که ته غواړئ پوه شي چې آیا موږ دې د دې ملاتړ وکړو چې لومړی ولاړ سو د خلکو لاسونه ور وتړو او بیا یې په ډزو ډزو ووژنول ، ځرګنده خبره ده چې موږ د دغسې چلند ملاتړ نه کوو او موږ یې نه کوو .

مارک کولوین : ستاسو خلک خو هلته ول .

تام شیفر: زموږ د کسانو شمیره څومره وه؟ زما موخه دا ده چې تاسو نه پوهیږئ زموږ څو تنه هلته ول ، څوک ول او کنترول د چا په لاس کې وو.

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



مارک کولوین : موږ پوهیږو. موږ د هغوی انځورونه لیدلي دي.
تام شیفر: ستاسو مالومات زما تر مالوماتو ښه دي ځکه زه خبر نه یم....
مارک کولوین : ستاسو د سي آی اې د کسانو انځورونه د ورځپاڼو پر لومړیو مخونو خپاره شوي ول. اوس باید تاسو ته ځرګنده شوي چې تاسو تر یوې کچې کنترول درلود.
تام شیفر: د هغو کسانو انځورونه چې د ورځپاڼو پر لومړیو مخونو خپاره شوي ، پر هغوی تور لګول شوی چې د سي � ای � اې غړي ول ، ګومان کوم هلته یوازې د درو تنو انځورونه ول. اوس نو تاسو ګومان کوئ چې یوازې همدا درې تنه په ټول افغانستان کې د روان وحشت پازوال و بولو؟ تاسو نه پوهیږئ چې دغه درې تنه هلته څه کوي؟ تاسو نه پوهیږئ چې هغوی څه ویلي دي. تاسو نه پوهیږئ چې د هغوی دریځ څه وو او کوم دریځ یې را خپل کړی وو.
آیا هغوی د هوايي ملاتړ غوښتنه وکړه ؟ تاسو باید پوه شئ چې هغوی د هوایی ملاتړ غوښتنه وکړه. پوهیږئ ولې؟ ځکه چې نیږدې ول هغوی ووژل شي. دا د دې مانا نه ښندي چې هر څه دې شمالي ټلواله وکړي د هغې پازوال دې موږ وګڼل شو ځکه چې د شمالي ټلوالې کنترول زموږ په لاس کې نه وو .
مارک کولوین : څه شو د امریکا اوسنې تینګار چې افغانستان به بیا ودان کړي ، ما ته خو داسې بریښي چې ددغه هیواد واګې د داسې کسانو لاسونو ته ور لویږي چې خورا زیات بیخونده کسان دي ، همداسې نه ده؟
تام شیفر: امریکا هڅه کوي چې په سیمه کې پایښت او امن راخوندي کړي. دا د امریکا په ګټه ده. او په هماغه کچه د افغانستان په ګټه هم ده . موږ په سیمه کې یوه ټینګ او له امنه ډک افغانستان ته اړتیا لرو او موږ تر خپلې وسې وسې هڅه کوو چې دغې موخې ته ورسیږو. دا یوه کوربنۍ جګړه ده .
مارک کولوین : دغه خبره ما بیرته جنرال دوستم ته را ګرځوي. دوستم د امن راړونکی دی ، آیا همداسې ده ؟
تام شیفر: ښایي تاسو داسې ګومان وګړئ. خو هلته....
مارک کولوین : خو ډیري افغانان داسې فکر نه کوي لکه چې تاسو یې انګیرئ ، د هغوی په یاد دي چې دوستم او د شمالي ټلوالې نورو جګړه مارو ور سره څه وکړل؟
تام شیفر: موږ باید څه کړي وای؟
مارک کولوین : زه دا پوښتم چې که دوستم له تاسو سره په ټلواله کې وو نو ولې د هغه کړه وړه نه دي کنترول شوي؟
تام شیفر: موږ په افغانستان کې توکمیز مشران نه کنترولوو.
مارک کولوین : تاسو له دوستم سره ټلواله جوړه کړې.
تام شیفر: د کاغذ د کومې پاڼې پرمخ لیکل شوي چې موږ ورسره ټلواله جوړه کړې. زما موخه دا ده چې موږ دغه ډلې له یو بل سره یو ځای کوو.
مارک کولوین : تاسو ورسره ټلواله لرئ ځکه ستاسو هوایي مرستو هغه ته زړه ا و زور ور کړ او دوستم په ځمکني پرمختګ کې وسه او پیاوړتیا وموندله.
ښاغلی مارک ! څه غواړئ؟. تام شیفر:

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



مارک کولوین : آیا دا یوه ټلواله نه ده؟

تام شیفر: ښاغلی مارک! موږ بهرنۍ پالیسي لرو. بهرنۍ پالیسي د نړۍ د امن په لاره کې کار کوي.هلته توکمیز مشران دي. ټوله سیمه د جګړه مارو ډلو په منځ کې ویشل شوې ده. موږ ټینګښت او امن غواړو موږ نه شو کولای هر هغه څوک تر پوښتنې ،حساب او کتاب لاندې نه شوی نیولای چې د طالبانو خلاف دي ځکه بیلابیل خلک د بیلابیلو لاملونو پر بنسټ د طالبانو مخالفت کوي. دا ستونزمنه او خونړې سیمه ده ، دلته [ جوزوف ب. ] [3] نه شي راتلای چې زموږ په ګټه دې زموږ تر څنګ و دریږي او زموږ په خوښه دې سوله راته جوړه کړي .

مارک کولوین : زه دغه پوښتنې له تاسو څخه له دې امله کوم چې د شمالي ټلوالې تګلارې او چلند په ټولنه کې داسې شرایط او حالات رامنځته کړل چې خپله په خپله یې د طالبانو راتګ او د هغوی واکمنۍ ته لاره پرانیستله. او ډاډه اوسئ چې تاسو هماغسې یوې واکمنۍ ته بیا لاره پرانیزئ ، آیا تاسو هماغسې یوه بله لوبه نه رامنځته کوئ چې په زړه کې یې له امریکا سره دښمني او امریکایي ضد احساس وده وکړي؟ آیا تاسو د همداسې قماري معاملې پړی په لاس کې نه دې اخیستی؟

تام شیفر: که تاسو داسې انګیرئ چې طالبان د شمالي ټلوالې په غبرګون کې رامنځته شول او شمالي ټلوالې هغوی واکمنان وګرځول ، ګومان کوم دا سمه نه ده. طالبان یوه مرتجعه اورپکې ډله ده چې د اسلامي نړۍ یوه برخه ده. دا هغه کسان دي چې ښځې د ټولنې د چاپیریال له کړۍ څخه دباندې باسي ، که ښځې پوهنتونونو ته ځي هغوی یې په ډزو وژني .

مارک کولوین : خو کله چې طالبانو د واکمنۍ واګې په لاس کې واخیستې ، د ولس ډیریو پرګنو او وګړو ورته په ورین تندي ښه راغلاست ووایه ځکه چې طالبانو د یوې وحشتاناکې واکمنۍ ځای ونیو او اوس هم په ولس کې ډیر خلک شته چې د هغوی ملاتړ کوي .

تام شیفر: دا به د طالبانو لپاره پیاوړی تبلیغ وبلل شي که ووایو پر طالبانو په غیر عادلانه ډول تور لګول کیږي ، همداسې نه ده ؟ موخه مې دا ده چې له تاسو وښتم ایا طالبان د ډیموکراسۍ یو انځور دی؟ آیا په هغوی کې داسې کسان شته چې زغم ولري ؟

مارک کولوین : دا هغه پوښتنې وې چې ما غوښتل له تاسو یې وپښتم .

تام شیفر: که رښتیا ووایم ، زه نه پوهیږم تاسو څه غواړئ. زه نه پوهیږم چې ستاسو پوښتنې له کومه ځایه سرچینه اخلي. تاسو د طالبانو د راتګ پازوالي د شمالي ټلوالې پر غاړه ور غورځوئ او دې ورته ، زه غواړم ووایم چې دا یوه کورنۍ جګړه ده او ښاغلی مارک دغه جګړه له پخوا روانه وه. دغو ډلو له پخوا له یو بل سره جګړه کوله ، په دې جګړې کې یوازې د جګړې دوې ښکیلې غاړې نه دي په دغې جګړې کې پینځوس ښکیلې خواووې دي. که تاسو د نړۍ په دغه ګوټ کې او په دغسې یوه چاپیریال کې ټینګښت راولـئ دا هر چاته آسانه کار نه دی .

مارک کولوین : ښه نو ستاسو د خبرو مانا دا ده چې تاسو د دغو خلکو په ملاتړ کې هیڅ ډول شونی ګواښ نه وینـئ؟

تام شیفر: زه په افغانستان کې د بې ثباتۍ په لاره کې ستر ګواښ وینم. زه دلته د ډیموکراسۍ هیلې وینم چې دغې سیمې ته به راوړل شي. ګومان کوم دا زموږ ټولو لپاره ستره هیله ده او د دغې هیلې په لاره کې امریکا کار کوي .

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



د سرچنې د لیدلو لپاره لاندنۍ پته و ګورئ :

http://www.abc.net.au/pm/stories/s428962.htm

--------------------------------------------------------------------------------

[1] Mark Colvin

[2] TOM SCHIEFFER

[3] Joseph B = Joseph Ber (Yosef Dov, Yoshe Ber) Soloveitchik 1903-1993

امریکایي یهودي دیني ارتودکس پوه ، تـَلـَمود پاله او معاصره یهودي فیلسوف

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



## افغان مخالفين د ( وحشت ريكارډ)

آدېنه : د اکتوبر ۱۹ ، ۲۰۰۱ ز کال
شمالي ټلواله د طالبانو ډېر څرګند بديل

په افغانستان کې د طالبانو او اسامه بن لادن پروړاندې د امريکا تر مشرۍ لاندې جنګيدونکې ټلواله د افغانستان له پياوړې مخالفې ډلې شمالي ټلوالې سره کلکې همکارۍ او مرستې ته دومره ليواله نه ده ځکه شمالي ټلواله تورنه ده چې له بشري حقونو څخه بې شميره سرغړونې کړې دي .
امريکا او د هغې د ټلوالې ملګري دې له هغو بولندويانو سره مرسته نه کوي چې د هغوی و حشي کرو وړو د هغوی د مشروعيت پوښتنې رامنځته کړي دي.
سيدني جونز : د بشري حقونو د څار ټولنه
په امريکا کې ميشتې او له ملګرو ملتونو سره په همکارۍ کې د بشرى حقونو د څار ټولنې د اکتوبر په شپږمې نېټې اخطار ورکړ چې شمالي ټلوالې ته دې د پوځي ملاتړ مرسته نه ورکوي. دغه ټلواله په ۱۹۹۷ زکال کې رامنځته شوه. د بشري حقونو د څار ټولنې وويل چې د افغانستان په کورنيو جګړو کې ښکيلو خواوو د بې شميرو وژنو ، ړندو بمباريو ، پر ملکي وګړو د بريدونو ، د ډله ييزو وژنو له لارې بې شميره بشري حقونه تر پښنو لاندې کړي دي .
که دا سمه و خيږي نو د شمالي ټلواله به د طالبانو په پرتله په چې د ټول افغانستان د نيولو لپاره يې ملا تړلې وه او له ډيرو پخوا وختونو په جنګې جناياتو کې تورن بلل شوي ، ښايي باالنسبه ښه دريځ کې ودرَوي .
په آسيايي چارو کې د بشري حقونو د څار د ټولنې مشر ښاغلي سيندي جونز وويل چې امريکا دې په خپله ټلواله کې له ډېر احتياط او ځير څخه کارواخلي او پوهه دې شي چې د شمالي ټلوالې له کوم بولندوی سره کار وکړي .
سيندی جونز زياته کړه : " امريکا او د هغې د ټلوالې ملګري دې له هغو بولندويانو سره مرسته نه کوي چې د هغوی و حشي کرو وړو د هغوی د مشروعيت په اړوند پوښتنې رامنځته کړي دي ".
"هر هيواد چې له افغان مخالفينو سره مرسته کوي بايد دا پازوالي هم په غاړه واخلي چې د هغوی مرستې پر کومې لارې لګول کيږي ".
ځورونې او ناوړه چلند
ګزارش د ۱۹۹۹ او ۲۰۰۱ زو کلونو ترمنځ د څلورو مباشتو په اوږدو کې د پښتـانه توکم د وګړو هغو سيستيماتيکو او پراخو ځورونو ته نغوته کوي چې شمالي ټلوالې د سمنګانو د ولايت د نيولو په لړ کې تر سره کړل.
د شمالي ټلوالې يو بولندوی چې نوم يې په ګزارش کې راغلی دی رشيددوستم دی
ويل کيږي چې د شمالي ټلوالې د بولندوی ، احمدشاه مسعود ځواکونو د ۱۹۸۸ز کال د سپتامبر په مباشت کې د کابل په شمال کې د ملکي وګړو ګڼ ميشتې سيمې بمبارد کړې او ۱۸۰ تنه ملکي وګړي يې ووژل.
د ۱۹۹۷ز کال د مې په مباشت کې د طالبانو له يوه ناکام بريد وروسته د جنرال عبدالملک ځواکونو د مزارشريف په ښار کې څه د باندې ۳۰۰۰ تنه بنديان اعدام کړل .

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



پر شمالي ټلوالې د نورو لګول شویو تورنو په لړ کې ویل شوي چې د احمدشاه مسعود د جمعیت ځواکونو د ۱۹۹۵ز کال د مارچ په مياشت کې د هزاره توکم په لړکي برید کړی ، د برید په لړ کې يې پر ښځو ډله ييز جنسي تيري کړي او د وګړو کورونه يې لوټ کړي دي .

شمالي ټلواله او طالبان دواړه پر بلل شوي چې له بندیانو سره نا وړه چلند کوي.

که څه هم جمعیت او جنبش په خپلو منځو کې له يو شمير جګړو وروسته يوه ټلواله جوړه کړه خو ددوې جګړې دې هم باید په کلکه په پام کې و نیول شي .

اټکل شوی چې تر ۱۹۹۴ز کال پورې د کابل د ځواکجګړې او ځواک ويشنې په اخ و ډب کې ۲۵۰۰۰ تنه ملکي وګړي د توغنديو او د توپچي ځواکونو د اور په لړ کې وژل شوي دي .

په افغانستان کې له بشري حقونو څخه د سرغړونې په تور د شمالي ټلوالی هېڅ بولندوی تر اوسه نه دی محکمه شوی او د بشري حقونو نړیواله ټولنه ویره لري چې له هغوی سره د نوې ټلوالې په رامنځته کیدلو او هغوی ته د نويو امکاناتو په ورکولو به د ځورونو او د بشري حقونو د ځپنې يو نوی پړاو رامنځته شي .

سرچينه و ګورئ :

http://news.bbc.co.uk/2/hi/south_asia/1608504.stm

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



## احمد شاه مسعود له هماغه پیله، د افغانستان د ټوټه ټوټه کېدلو پلان درلود

ژباړه : رحمت آریا
۲۰۱۱ ز کال د جون د مياشتې ۳ نېټه
له آرشيفونو څخه : د � لوی تاجیکستان� په لټه کې
لیکوال : بروس ریچارډسن
احمد شاه مسعود له هماغه پیله، د افغانستان د ټوټه ټوټه کېدلو پلان درلود
په افغانستان کې د ځلوېښتم لښکر ستر بولندوی[1] ، جنرال ا. ا. لیاخوفسکي]2 [
د افغان � شوروي د جګړې د کلونو په لړ او له هغه په را وروسته کلونو کې بې شمېره تیوری رامنځته شوي چې هره یوې یې په خپل وار د شوروي له ځلوېښتم لښکر سره د احمد شاه مسعود د مرستې تر شا پټې انګېزې رابنډوي او پر بنسټ یې شمېرو لیدلورو وده کړل شوې ده. په دې لړ کې تر ټولو برلاسه تیوري د شوروي د رسمي آرشیفونو د لاسوندونو پر بنسټ ولاړه ده چې د کې جي بي او جي آر یو (KGB and GRU) د څارګرو رسمي چارواکو، او یا یې هم په افغانستان کې د ځلوېښتم لښکر په لیکو کې د کورناستو لوړ پوړو افسرانو په یادښت لیکنو کې غبرګون موندلی دی، او یا په پېښو کې د تل حاضرو بې شمېرو عیني شاهدانو د سترګو لیدلی حال، اوربدل شوي یادښتونه او یا د یوې ځانګړې پېښې روایتی یادښتونه دي چې د څارګرو ادارو په راپورنو کې د یادښتلیک په بڼه راڅرګند شوي دي؛ دغه ټولې څو اړخیزې ګواهۍ، هغه بې شمېره لاسوندونه دي چې ټول په ګډه، تأریخپوهانو او پلټونکو ته د یوې ډاډمنې ایکې � سکې� ارزښت لرلی او د هغوی په آثارو کې خپاره شوي دي. په دې ترڅ کې یوه تیوري رامنځته شوې چې د احمد شاه مسعود هغه وسواس او روحي عقده په زباد رسوي چې غوښتل یې افغان تاجیکان د هغه وخت د شوروي اتحاد د تاجیکستان له سوسیالیستي جمهوریت سره د اتنیکي تړاو پر بنسټ یو کړي، دا د � لوی تاجیکستان� د جوړولو په لاره کې د مسعود د هغې لېواتیا څرګندویه ده چې غوښتل یې په خپله وربانديې واک وچلوي. مسعود د دغه خوب د رښتني کولو په لاره کې له ځلویښتم لښکر سره د ستراتېژیکې همکارۍ د لارې په غوره کولو غوښتل د شوروي له پیاوړې ځواک څخه په مرستې خپل ټول دایمي میرځمن چې په منځ کې یې د پام وړ لوی دښمن د ګلبدین حکمتیار تر مشرۍ لاندې اسلامي ګوند وو، له منځه یوسي. وګورئ (Misdaq, p : 330N).

د شوروي د ځلوېښتم لښکر لوی بولندوی جنرال ا. ا. لیاخوفسکي په خپل افشا کوونکي یادښتلیک کې چې ] پلامیا افګانا [Plamya Afgana نومېږي داسي لیکي : � احمد شاه مسعود له هماغو لومړیو د افغانستان د ټوټه ټوټه کېدلو پلان درلود�. همدا شان د � لوی تاجیکستان� د طرحی په اړوند د [ مسکو] د [ لاسونو ] The Hand of Moscow] په کتاب کې لاسوند شواهد راغونډ شوي چې پاڼې یې پلټونکو ته سترګه په لاره دي؛ دا شواهد چې د کې جي بي د یوه رسمي چارواکي شخصي یادښت لیکونه هم دي په افغانستان کې د شوروي د جګړې د کلونو په لړ کې د پلیو شویو پټو عملیاتو او ستراتیژیو له مخې څادر لیرې کوي. د کتاب لیکوال د کې جي بي د [ بهرنۍ څارګرۍ د عمومي اداري] د لومړي ریاست رئـیس جنرال لـئـونېد شېبارشین [3] دی چې د کتاب په یوه برخه کې

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



په ډېرو مهمو، او د پام وړ تأريخي يادښتلېکونو باندې خبرې کوي؛ په دې وراشه � بحث� کې لېکوال د دوه وو فکس شويو لاسوندونو پر بنسټېزو ټيکو باندې خبرې کوي چې لا تر اوسه پې پر تندې د لوړ محرميت ټاپه وهل شوې ده؛ دواړه لاسوندونه هغه شرايط او جزئيات شرح کوي چې پر بنسټ پې بايد د مسعود او د شوروي د مرکزي بولنې د مقام تر منځ دې د دښمنۍ تېر ټول او د يوه تړون د ټکيو په اړانه کې دې د تاجيک د نيمه خپلواک � شبه قلمرو� د رامنځته کېدلو او پراختيا لپاره لارې چارې برابرې شي؛ بنسټېز ټکي په لاندې ډول دی :

لاسوند : له احمد شاه مسعود سره د خبرو اترو ټکي

۱ : - د يوموټي افغانستان د مفهوم په اړانه کې په تاجيک ميشتو سېمو کې د خپلواکه تاجک قلمرو لپاره د لارو چارو برابرول ؛په دغو سيمو کې د بدخشان، توخار، کندز، بغلان ولايتونه او د پروان � کاپيسا د ولايتونو يو شمېر برخې رانغاړل کېږي او هم په نومورو سېمو کې د يوه [ خپلواک] دولت رامنځته کېدل .

۲ : - د هېواد � مشرۍ د رياست په چوکاټ کې د تاجيکانو استازيتوب او هغوی ته د ځانګړو مقامونو حق، په ملي پارلمان او د افغانستان د وزيرانو په کابينه کې د تاجيکانو ځانګړی حق او دريز .

۳ : - د يوه خپلواک رسمي ګوند په توګه د [IOA يا ] د رباني، د افغانستان د اسلامي غورځنګ Islamic Movement in Afghanistan]ګوند په رسميت پېژندنه ، او همدا شان دداسې يوه ګوند په توګه چې په افغانستان کې برابر حق ولري .

۴ : - د [IOA يا ] د رباني : د افغانستان اسلامي غورځنګ Islamic Movement in Afghanistan] د جوړښت په چوکاټ کې د منظم تاجيک پوځي ځواک جوړول او په [4] [VSRA] کې د هغوی ورګډېدل. د دغه ځواک د پازواليو/ مسؤوليتونو تعريف د ملي ګټو [ محتملاً د تاجيکستان ملي ګټې � لېکوال] پر بنسټ او د ټولو هر اړخېزو حکومتی دندو پر بنسټ کېږي چې د حيرتان � کابل تر منځ د لويې لارې خوندي ساتل هم په کې ګډون لري .

۵ : - په خپلواک تاجيک قلمرو کې د سولې رامنځته کول او په دې سېمې کې مېشتو وګړو ته د عادي ژوندانه د شرايطو او حالاتو راګرځول او د امکاناتو برابرول .

٦ : - په شمال - ختېزو سېمو کې د اقتصادي ودې سکالو� موضوعات� : په دې اړوند د افغانستان ددولت د همکارۍ برخه په اقتصادي، طبي، او نورو څو اړخېزو مرستو کې رانغاړل کېږي چې د سرحداتو ترمنځ د سوداګرۍ وده هم په کې ګډون لري. هغه ټکي چې ما دلته راپورته کړي زما او د شوروي سفير يوري . م. ورنتسوف[5]، او جنرال . وي. آی. ورنينکوف[6] تر منځ ورباندې سلا شوې او هغوی په خپل وار د [ افغانستان � ژ] جمهوريت له مشرتابه سره يو په يو روښانه او راپورته کړي دي.

] سرچېنه: په افغانستان کې د MO SSSR عملياتي ډله، د څلوېښتم لښکر د بولنې اعلی قوماندانې ، کابل، ۱۹۸۸ زکال.

لاسلېک کوونکي : ډګر جنرال بي . وي. ګروموف. د افغانستان جمهوريت د دفاعي چارو وزير شهنواز تنې او احمد شاه مسعود] [7].(Shebarshin, pp 177-214)] ]

د پروتوکول مسوده:

د دوه اړخېزو اړيکو په اړوند

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



په افغانستان کې د مېشتو شوروي ځواکونو او د پنجشېر د مخالفو وسلوالو ځواکونو (IOAP) تر منځ په افغانستان کې د سولې د ټېنګښت په هېله لاندنۍ لاسلیک کوونکې خواوې دواړه د نېکې ارادې په لرلو لاندنۍ پازوالۍ/ مسؤولېتونه مني : چې
۱ : - د سالنګ په سویل او د کابل � حیرتان د لوېې لارې په ورڅېرمو سېمو کې هر ډول پوځي فعالیتونه په بشپړ ډول دَرَول کېږي، پنجشېري مخالفه وسلواله ډله IOA مني چې د دوی تر ولکې لاندې له هېڅ کلي څخه به هېڅ وسلواله ډلګۍ د هېڅ ډول وسلې اور پر کتارونو، د افغان - شوروي د سرتیرو د ځار پر کلاکوټونو، د تلاښپو پر پوستو، د سرحدي پولو پر ساتونکو او د ځارندوی پر ځواکونو نه کوي .
۲ : - د پنجشیر را بیلې شوې وسلوالې ډلې پر خپل ځان د � تاجیکانو د کلي � او � چاګني � ترمنځ د اړیکو د خوندیتوب پازوالي په خپل ځان په دې موخه مني چې د شوروي او افغان سرتیرو پر وړاندې د توپخانې د ډزو، لوټماریو او نورو ورته کړو وړو مخه دې ونیول شي .
۳ : - د دوه اړخېز تړون پر بنسټ شوروي لورى دنده لري چې ، د پنجشیر د ډلې او د اړوندو ورڅېرمو سېمو د پایښت لپاره چې په پروتوکول کې د لوېې لارې په اوږدو کې د پرتو سیمو په نامه یادې شوې دي د خوراکي توکو په ګډون اړین اکمالات او د بېړنۍ اړتیا پرمهال اړین توکي او نور مواد دداسې یوه مهالیز واټن په اډانه کې برابر کاندي چې دواړه خواوې ورباندې سلا شوې وي .
۴ : - د نورو خواوو هېڅ ډلې او ان رابېلې شوې ډلې ته اجازه نه ورکول کېږي چې په دغه پروتوکول کې یاد شویو سېمو ته پر افغان- شوروي کتارونو باندې د اور د ګوزار په موخه ننوځي یا ترهګر کړه وړه تر سره او یا راغځېدلې نللکیه سبوتاژ کاندي. که د بلې هر ډلې غړي د داسې کړو وړو لپاره هلې ځلې وکړي شوروي اړخ هېله لري چې د پنجشیر وسلوالو ډلو ته دهغوی د غوښتنې پر بنسټ د ملاتړې توپخانې اور او د هوایي ځواک مرسته برابره کړي.
۵ : - په پروتوکول کې د یادو شویو سېمو په چاپیریال کې د شوروي او افغان اتباعو د تري تم شویو کسانو په اړوند د مالوماتو تبادله او د هغوی د موندنې لپاره د هر اړخېزو همکاریو پلې کول .
٦ : - د دباو � فشار� او ترینګلتیا د ډېرېدلو په صورت کې او په ځانګړو زونونو کې د سولې د ټېنګښت او د نویو پوځي اقداماتو د مخنیوي په موخه، دوه اړخېزې سلا مشورې، د غونډو او لېدنو کتنو له لارې تر سره کېږي .
۷ : - ددغه پروتوکول د مفرداتو اغېزې د اړیکو د کرښې د دواړو غاړو په اوږدو کې د دېرش کېلومترو په واټن خپرې دي چې د � تاجیکانو د کلي� او � چاګیني � ترمنځ د جغرافیوي چاپیریال سېمه رانغاړي. هره هغه وسلواله ډله چې په هرګوند پورې اړه ولري او ان که ددغه جغرافیوي چاپیریال له کرښو دباندې د تړونوالو خواوو پر وړاندې پوځي خوځښتونه و نه دَرَوي، شوروي سرتېري او د پنجشیر وسلوالې ډلې حق لري چې د هغوی د درېې وړې کولو په موخه پوځي عملیات ترسره کاندي.
۸ : - دا پروتوکول د لاسلیک کولو له شېبې وروسته د اعتبار وړ دی .
]سرچېنه: په افغانستان کې د MO SSSR عملیاتي ډله، د ځلوېښتم لښکر د بولنې اعلی قوماندانې ، کابل، ۱۹۸۸ زکال.

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



لاسلېک کوونکي : ډګر جنرال بي . وي. ګروموف. د افغانستان جمهوریت د دفاعي چارو وزیر شهنواز تنې او احمد شاه مسعود.(Shebarshin, pp 177-214) ]]

د افغان � شوروي د جګړو د کلونو په پړاو کې چې لړۍ يې په ۱۹۷۹ ز کال کې پيل او تر ۱۹۸۹ ز کال پورې دوام وکړ، احمد شاه مسعود د ۱۹۸۰ ز کال له پيل وروسته له شورويانو سره تړونونه لاسلېک او ژمنه يې وکړه چې د سالنګ د حياتي لويې لارې په اوږدو کې به د شوروي د اکمالاتو له کربښو څخه ساتنه او دفاع وکړي. د ګډې همکارۍ د همدغو تړونوالو اړيکو پر بنسټ ول چې احمد شاه مسعود به د مجاهدينو پر هغو ډلګيو وردانګل چې غوښتل يې د شوروي د اکمالاتو پر کتارونو او د کاروانونو د ساتنې پر پوستو او کلاکوټونو باندې وسلوال ګوزارونه وکړي. اکثراً وختونه به مسعود ته د هغه د تړونوالو مسؤولېتونو د پلي کولو په لاره کې د توپخانې د اور مرسته برابرېدله. داسې وختونه هم راتلل چې د مسعود او شوروي تر منځ د شوي تړون نېټه به پای ته رسېدله، خو مسعود به ان په همدغه وخت کې د پخوانې تړون د شرايطو او مفرداتو ژوندي ساتلو ته تر هغه مهاله دوام ورکاوه چې نوی تړون به دده او د شوروي خوا تر منځ لاسلېک شو. جنرال لياخوفسکي په دې اړوند په خپل کتاب کې لېکي : � تر هغه مهاله چې موږ په افغانستان کې وو ، مسعود په ټولې دغې مودې کې هغه څه وکړل چې موږ ورته ويل �. (Liakhovskii, pp 462-485).

لاسوند : د شوروي د څلوېښتم لښکرد څارګرۍ د عمومي رياست [8] له خوا، کابل :

�ډګرمن اناتولي تکاچيف[9] د شوروي اتحاد د سوسياليستي جمهوريتونو د څارګرۍ د رياستونو د عمومي رياست د ستر مشر جنرال پ. آی. ايواشوتين [10] په لارښونې له احمد شاه مسعود سره اړېکې ټېنګې کړې دي، هماغسې چې ډګرمن تکاچيف وايي له احمد شاه مسعود سره دغه اړېکي له ډېر پخوا ټېنګ شوي ول. ددغو اړېکو تأريخي لنډېز په لاندې ډول دی:

د منځګړو کسانو د اړيکو پر بنسټ موږ د احمد شاه مسعود د اېښودل شويو شرايطو تر سيوري لاندې د ټاکل شوي ځای او وخت پر سر له يو بل سره سلا شولو : ځای : پنجشير، هغه دره چې د مجاهدينو له پلوه کنټرولېدله ، وخت : د � ۱۹۸۳ زکال� د نوي کال له لومړۍ ورځې يوه ورځ مخکې [11]. موږ بايد د نوي کال په شپې ځانونه د لېدنې کتنې ټاکل شوي ځای ته رسولي وای. همدا شان موږ د غونډې ځای ته بايد له ګارډ او وسلې پرته تللي وای. کله چې لمر کېناست د خپل ژباړونکي ] مکس [ Max په ملتيا د ] رُخې له کلي / قشلاق [ Kishlak Rukha ووتلو او ډېر ژر ټاکل شوي ځای ته ورسېدلو، دا هغه ځای وو چې موږ ته د تاج الدين تر مشرۍ لاندې د وسلوالو مجاهدينو د ډلې له خوا ښه راغلاست وويل شو؛ تاج الدين د احمد شاه مسعود د جاسوسۍ ضد ډلې مشر وو. د ګهېځ له سبا ناري وروسته زه، زما ژباړونکی مکس، احمد شاه مسعود او د هغه يو تن اعتمادي په کوټه کې يوازې پاتې شولو. خبرې پيل شوې. زموږ په وړاندېز کې کليدي ټکي په پنجشير کې پر دوه اړخېزو پوځي اقداماتو باندې اوربند او دداسې دوه اړخېزو پازواليو � مسؤوليتونو� په غاړه اخېستل ول چې په ترڅ کې يې په سېمه کې مېشتو وګړو ته د خوندي او بسيا ژوندانه شرايط او امکانات برابر شي. احمد شاه مسعود وويل چې په زړه کې د شوروي اتحاد پر وړاندې د دښمنۍ احساس نه لري. په حقيقت کې د رښتونو دښمنيو پای، د اوربند د څار [ نظارت] لړۍ او د نېږدې همکاريو د شراېطو برابرول د همدغې او نورو ورته غونډېو د پايلو زېږنده وه [.

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



د مسعود په اړوند د کي جي بي په سايکولوژيکي دوسېې کې ( زمرى) په دغو رواني اوصافو ستايل او پيژندل شوى دى : [ په ځان مين ، ځان منلی خيالمن، ټګ / مخادع، لوړوالي او برم ته تږى؛ د همدغه لوړوالى او برم د خوب تر سيوري لاندې مسعود د تاجيک د خپلواکې سيمې له رامنځته کېدلو سر سم ځان په داسې يوې هېنداري کې ويني چې ډېر ژر به د همدې سېمې د امير په نامه وپيژندل شي، شورويان د يوه پياوړي دريز له لارې د مسعود د فکري شخصيت ځانګړتيا ته ورننوتل او پر همدغه بنسټ يې مسعود د خپلو غوښتنو منلو ته چمتو کړ.] (Shebarshin, pp 177-214).

شوروي لوري ته له تکتيکي اړخه تر ټولو غوره لار دداسې يوې لېوالتيا تر لاسه کول ول چې پايله يې د اوربند په تر لاسه کولو واوړي. شورويانو ته بنسټيز � کلېدي� ټکی د سالنګ د تلنځ � معبر� له منځه له خنډ او ځنډ پرته د اکمالاتو د يوه دالان رامنځته کول ول چې د پنجشير د خطرناکو او ستوغو غرونو په ګـرَنګونو کې د هر ډول پوځي ښکېلوالي مخه ډب کړي. په افغانستان کې د شوروي د څلوېښتم لښکر بولندوى جنرال باريس ګروموف په ستوغو غرنيو ګړنګونو کې د ګوريلايي جګړو د ښکيلوالي په اړوند پراخ مالومات لري او ډېريو لېکوالانو په دې اړوند د هغه له مالوماتو څخه اخځ اخيستی دى، باريس ګروموف په خپله په دې اړوند وايي : [ مسعود کولای شواى يوازې د کانو او ډبرو په راښويولو سېمه د شوروي سرتېرو په هډ- اېرې بدله کړي.] (Gromov, pp 188-197).

هماغسې چې هېله يې کېدله، له شورويانو سره د مسعود تړونونو، د مقاومت د ډلو کلک او له پيغوره ډک غبرګونونه له ځان سره بدرګه درلودل : په دې اړوند [ په افغانستان کې جګړه] 12 [] د [ مارک اربن] لېکنه داسې وايي :

]يو شمېر بولندويانو به په تراخه پيغور ويل چې مسعود د شوروي لښکر پر وړاندې هغسې چې اړينه ده، فعاله او کلکه جګړه نه کوي. د نېږدې دوه وو کالو په لړکې هيڅ داسې نښې نښانې نه لېدل کېږي چې مسعود دې د شورويانو پر وړاندې په رښتوني توګه خپل جنګيالي د زړه له کومې کارَولي وي، که هر څه شوي هم وي يوازې خپلمنځي جګړې شوي دي چې بېلګې يې په کندز کې د ۱۹۸۹ زکال د اپريل د مېاشتو په لړ کې دي . له بلې خوا ځرګندې نښې نښانې او لاسوندونه شته چې مسعود له شورويانو سره د اوربند يو ډول تړون لاسليک کړى دى. ظاهري نښې نښانې په ډاګه کوي چې شورويانو غوښتل د شمال � ختيځ افغانستان د چارو واګې او د هغو سېمو کنترول د نظار شورا ته وسپاري. لاس ته راغلي ګزارشونه وايي چې روسانو ددغې چارې د پيل لپاره مسعود ته د پريمانه پېسو او وسلو وړاندېز کړی دى. د اور بند تړونونو د مقاومت د کړېو په منځ کې ترخې شخړې او ناندرې راپارَولي دي. د ګلبدين حکمتيار د ګوند غړي د مسعود دا ډول چلند ځان پلورنه بولي او مسعود په ملنډو د � پنجشير د پاچا� په نامه يادوي. ددغې ژمنې په بدل کې چې له پنجشيره به د شورويانو پر وړاندې بريد نه کېږي، شورويانو له دَرې څخه د خپل لښکر ستره برخه را اېستلې او هغه يې د هېواد سوېلي خوا وو ته لېږلې چې هلته د شوروي ځواکونو پر وړاندې کلک مقاومت دوام لري(Urban, p 229) ].

بريتانوي لېکوال مايک مارتين د ۱۹۸۰ او ۱۹۸۳ ز کلونو په لړ کې د مقاومت له ډلو سره د سلګونو مايلو په واټن مزلونه وهلي دي، ددغو سفرونو له پايلو څخه يو په زړه پورې او ډاډمن کتاب جوړ شوى چې [Afghanistan, Inside a Rebel Stronghold.]نومېږي. د مايک مارتين پياوړی قلم او شننه د پېښو پر شرحې باندې لا نوره رڼا اچوي چې د پلټونکو لپاره يوه بنسټېزه سرچينه کېداى شي.

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



مارتین : ما په پنجشیر کې د مسعود د ونډې په اړوند هماغه یوه خبره په ځو ځو ځله او په تکرار اورېدله. له شورویانو سره د هغه لنډ مهاله اوربند نه دی فسخ شوی. د مسعود د جمعیت جنګیالي له پنجشیر وړاندې نورو کلیو ته لېږل شوي ول چې د حزب تر ولکې لاندې کلي ونیسي. د حزب د جنګیالیو د ځېلو لپاره روسان مسعود ته وسلې، مهمات او نور لوژیستیکي اکمالات برابرول ځکه روسان د حزب جنګیالي خپل تر ټولوسخت � زړي او نه پخلا کېدونکي جنګیالي بولي(Martin, p 198) .

پایله : د افغانستان د تجزیې په اړوند د کې جي بي د توطـئې شرحه د لمر په شان روښانه ده. په منځنۍ آسیا کې د شورویانو د قومي تجزیې ستراتیژي بریالۍ وه او همدغه تجربه په افغانستان کې ددوی په عملیاتي تګلارې بدله شوه. په شوروي ګرډود / لهجه کې د کسکد د عملیاتو نوم په ښه ډول پېژندل شوی دا په حقیقت کې د هغه پلان یوه مسوده وه چې پر بنسټ به یې یا هېواد ټوټې ټوټې او یا د شمالي ډېرو په بېلولو افغانستان تجزیه کېده؛ په پام کې ول چې احمد شاه مسعود به په تجزېه شوې برخې کې ان د محدودې کورنۍ خپلواکۍ په لرلو واکمني وچلوي. جنرال لیاخوفسکي په خپل کتاب کې لیکي چې مسعود د � لوی تاجیکستان� د جوړولو د ټولیز مفهوم تندې پسې اخېستی وو او د جګړې د ټولې لسېزې تر پایه پورې یې په دې لاره کې په سرښندنې کار وکړ.
(Liakhovskii, pp 485-486, Richardson, pp 22-23).

سرچېنې:

لاندې مو د یو شمېر سرچینو د نوملړ یادَونه یو په یو کړې ده، ددغو سرچېنو په سلګونو پاڼې پلټونکو ته سترګه په لاره دي. مستند لاسوندونه ، د عیني شاهدانو ګواهۍ، روایات او متناوب شواهد ټول د لوی تاجیکستان د جوړولو د خوبونو په اړوند د احمد شاه مسعود د تخیلي او روحي وسواس تائـید کوي. په دغو کتابونو کې د مالوماتو یوه ستره پانګه پرته ده او په افغانستان کې د شوروي د مرکزي قوماندې له مرکز سره د مسعود د بې شمېرو تړونونو او اوربندونو له مخې ښادر لېږي کوي. د لاندنیو لیکوالانو لیکنې په زباد رسوي چې د مسعود اخلاقي چال چلند شورویانو ته دا شېبه په لاس ورکړه چې روسي سرتیري له پنجشیره ووځي او د هېواد سویل ته د مقاومت د ځپلو لپاره ولاړ شي خو له دې سره سره د شوروي د نېواک پر وړاندې مقاومت کې هېڅ ډول کمښت هېڅکله رامنځته نه شو. هماغسې چې له شوروي وسلوال ځواک سره د مسعود د اوربند په تړونونو کې ټینګار شوی وو، شورویانو مسعود ته د هوایي بمبارد او د توپخانې د اور مرسته د هغه د غوښتنې پر بنسټ هغه مهال برابروله چې دی به د سالنګ په اوږدو کې د حزب او د مقاومت د نورو ډلو پر وړاندې جګړو کې ښکېل شو او یا به یې پر هغو وسلوالو ډلو وردانګل چې غوښتل یې د شوروي پر اکمالاتي کتارونو باندې برید وکړي. ددې تر څنګ بې شمېره شواهد دا ادعا په زباد رسوي : له دې چې د شوروي اکمالاتي کتارونو ته د سالنګ د تلنګ � معبر� له لارې اجازه ورکول کېده نو د سالنګ له تلنګه د خوندي تېرېدنې پایله د جګړې پر غځېدا او دوام واوښتله-Liakhovskii, pp 462]) [(485).]

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



*A.A Liakhovskii, Plamya Afgana, Moscow, Iskon, 1999, translated for Cold War in History Project, CWIHP, Washington, D.C. by Gary Goldberg.
*Main Intelligence Directorate (MID) of the General Headquarters, USSR Armed Forces, title: Lion of the Panjsher, Article no. 18, (No. 882/83-3-5-77, Fond 80, Perechen 14, Document 77, translation of excerpts by Elena Kretova, Information Services, Moscow.
*Boris V. Gromov, Limited Contingent, Moscow, Progress Press, 1994, translated by Professor Ian Helfant, Department of Slavic Languages and Literature, Harvard University.
*Leonid Shebarshin, The Hand of Moscow, Moscow, Progress Press, 1992, translated by Professor Ian Helfant, Department of Slavic Languages and Literature, Harvard University.
Bruce Richardson, Afghanistan, A Search for Truth, Free Forum, ME, 2009.
Bruce Richardson, Afghanistan, Ending the Reign of Soviet Terror, Maverick Publications, OR, 1996
Mike Martin, Inside a Rebel Stronghold, LBS, UK, 1984.
Nabi Misdaq, Afghanistan, Political Frailty and External Interference, Routledge, NY, 2006.
Mark Urban, War in Afghanistan, Macmillan, UK, 1990.
Pardes Mosafir, the Red Army in Afghanistan, Peshawar, 1997 (Pashto)
*S.E. Grigor�ev, the Pandzhsher from 1975-1990, Saint Petersburg University Press, 1997.
*Publications by Russian authors are available from East View Press, Minneapolis, MN.

یادَونه : په ژباړل شویو لیکنو کې د ځایونو او کسانو د نومونو لیکنېزه لیکبڼه کټ مټ په هغه بڼه لیکل شوې چې په بومي ژبه کې ویل کېږي.

بروس ریچارد سن

پای

------------------------------------

[1]قوماندان

[2] General A.A. Liakhovskii, Chief of Staff, Soviet 40th Army Afghanistan

[3] General Leonid Shebarshin

[4]د ژباړونکي یادونه: د برېښنا لیک له لارې مې له لیکوال څخه د VSRA د اصطلاح سپیناوی وغوښت او په ځواب کې يې راته داسې ولیکل:

VSRAد شهنواز تنې او د نورو کمونیستو پوځي افسرانو تر مشرتابه لاندې د افغان کمونیست وسله وال ځواک لپاره د څو وییو/ لغاتو د پیلنېزو تورو ګډوله او یوه شوروي اصطلاح ده

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



[5] Juri M. Vorontsov

[6] General V.I. Varennikov

[7] The Operations Group of the MO SSSR in Afghanistan�Headquarters of the Fortieth Army, Kabul, 1988. Signatories: Lieutenant General B.V. Gromov, RA Minister of Defense, Shah Nawaz Tanai, and Ahmad Shah Massoud

[8] Main Intelligence Directorate (MID)

[9] Lieutenant Colonel Anatoly Tkachev

[10] General P.I. Ivashutin

[11]یادونه: د ګریګوري د کالهېنداري پر بنسټ په ټولو عیسوي هېوادونو کې دا ورځ د هرکال د دسامبر له ۳۱ نېټې سره سمون چې په دې توګه د نوي کال شپه بلل کېږي. ددې ورځې نمانځنه د نوي کال د ورځې له نمانځنې څخه توپیر کوي. دا ورځ چې د دسامبر ۳۱ نېټه کېږي د New Year Eve د ورځې په نامه یادېږي. چې په عربي کې یې لیلة رأس السنة المیلادیة بولي .

[12] War in Afghanistan, by Mark Urban

Download from: ketabton.com

Get more e-books from www.ketabton.com
Ketabton.com: The Digital Library